



پروفیسور رسول امین
د ژوند په بېلابېلو پراوونو کې

منته او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه له ښاغلي قدرمن (اټل امین) څخه د پرهٔ منته کوي او کور ودانی ورته وایي، چې نه یوازې ددې کلیاتو د چاپ مالي لګښت یې پر غاړه واخیست، بلکې د ګڼو نورو فرهنګي کارونو په بشپړتیا او ترسره کولو کې یې هم وخت پر وخت خپله ونډه اخیستې ده.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پروفیسور رسول امین

کلیات

(لومړی ټوک)

ترتیب او تدوین

ضیاءالرحمن ضیاء ساپی

۱۴۰۱ل کال

zia_zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پروفیسور رسول امین کلیات

لیکوال: پروفیسور رسول امین
ترتیب او تدوین: ضیاءالرحمن ضیاء
خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه
چاپکال: ۱٤۰۱ل/۲۰۲۲م
چاپشمیر: ۱۰۰۰ توکه
چاپ وار: لومړی
د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱٦۰)
برېښنایي پته: www.zhwandoontv.com

ددې کتاب د چاپي، کاپي، انلاین او بل هر ډول خپراوي حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.

zia_9zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولیک

کتنه سرلیک مخ

د افغانستان یو خدمتګار امین..... ۸

ویناوې..... ۱٤

په افغانستان کې مېشت قومونه..... ۱٥

ټول افغانان دي..... ۱٥

یو باثباته حکومت د کوکنارو د کر..... ۱۹

مخنیوی کولای شي..... ۱۹

د افغانستان په روانه شخړه کې د لوېې جرګې وونده..... ۲۲

د افغانستان سوله د کاوندیو هېوادونو او سیمې په کتنه هم ده..... ۲۷

مسایل په احساساتو نه، بلکې په مفاهمه حلېږي..... ۲۸

جګړه ماران باید د جنګي جنایتکارانو په توګه محاکمه شي..... ۳۰

د افغانستان روانه غمیزه او افغانان..... ۳۳

هغه څوک چې ځانونه په افغانستان کې مشران ګڼي، دوی..... ۳٦

افغانها باید بجای مسایل گروهی و منطقه یی در باره افغان..... ۳۹

جوانان ما از رخداهای جهانی بیشتر آگاهی داشتند اما از..... ٦٤

په افغانستان کې دې داسې یو ملي او اسلامي حکومت..... ٦۸

افغانستان په څلور لارې کې؛ د هغه علتونه او علاجونه..... ۷۰

اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد موسسه ایست ازاد و..... ۷۳

د لوی احمدشاه بابا سیمینار ته د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې..... ۷٥

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان برای عملی شدن و موفقیت طرح پلان صلح..... ۸۱
مرکز مطالعات افغانستان کشایش یافت و به کارش آغاز کرد..... ۸۳
د افغانستان د مطالعاتو مرکز په پرانیستونکي غونډه کې..... ۸۵
طالبان باید برای تدویر لویه جرگه و..... ۹۱
مسله افغانستان در یک مرحله نهایت حساس و ۹۷
روان مردم افغانستان با دکتاتوری، استبداد و سلطه..... ۱۰۰
د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې لسمه کالیزه..... ۱۰۷
د افغانستان په کلتور کې راغلي بدلونونه او بیا رغاونه یې ۱۰۹
د افغانستان د مسلې سیاسي حل او په راتلونکي ۱۱۲
د افغانستان مسله او د هغې حل ۱۱۳
د افغانستان د سولې په لاره کې پراته خنډونه ۱۱۷
لویه جرگه د ستونزو د حلولو د یو مهم میکانیزم په توګه ۱۲۱
د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو وروستی..... ۱۳۱
مرکې ۱۳٤
د تنظیمونو او د دوی د حامیانو ټولې هلې ځلې..... ۱۳۵
ځینې تنظیمونه د خپلو باندنیو پلویانو په لمسون ۱٤۰
د هرات غونډې مثبتې او منفي خواوې دواړه درلودې ۱٤۳
د ملګرو ملتونو هڅې ناکامې نه دي، یوازې ځینو..... ۱٤٦
د پخواني پاچا اساسي هدف افغانانو ته د خپل..... ۱٤۹
افغانان حق لري چې د خپل هېواد سیاسي زعامت ۱۵۷

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په باب نړيواله متضاده پاليسي ١٦٤
د مجسمو ورانول د افغانانو کار نه دی ١٧٥
هيڅ شخص، ګروه و حزب حق تغير دادن ١٨١
د عشق اباد په کنفرانس کې د افغانستان د ١٨٦
له جنګي ډلو سره بهرنۍ مرستې، افغانستان ١٩٣
تنظيمونو ولې او څنګه له يو بل سره جګړې پيل کړې؟ ٢٠٢
د افغانستان په حقوقي موسساتو کې د لوبې ٢٠٥
د برچې به زور پر افغانانو حکومت نه کېږي ٢١٠
افغاني ټولنه يوه مسلمانه، مساوات طلبه او ٢١٧
مصاحبه پروفيسور عبدالرسول امين با هفته نامه کابل ٢٣٣
ازاد، مستقل او پر خپلو پښو ولاړ افغانستان ٢٤١
افغانان هيله لري، چې زمونږ ګاونديان بايد د ٢٤٤
د افغانستان د مسلې د سياسي حل صلاحيت ٢٤٩
افغانها از حمله موشکی امریکا قلباً متاثر اند ٢٥٣
زما په نظر په سياسي لحاظ ازاد مطبوعات د ٢٥٦
د افغانانو اکثريت د خپل هېواد په هکله اندېښمن دي ٢٦٢
مردم افغانستان از جنگ خسته شده اند جنگسالاران ٢٦٤
هر څوک چې د افغانستان د کشالې نظامي حل ٢٦٦
د کوټې د مشورتي مجلس په فيصلو کې راغلي ٢٧١
ځينې کسان غواړي چې قومي او ژبنيو تعصباتو ٢٧٣

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل کې روان جنګ د افغانانو نه دی، بلکې ۲۷۶
لیکنې ۲۸۵
تعصبهای قومی، نژادی و زبانی خطری به وحدت ۲۸۶
مسکو د مجاهدینو غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړ ۳۴۶
د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې ستونزې ۳۵۲
ایا تجزیه افغانستان امکان پذیر است؟ ۳۷۱
افغانستان از خم و پیچ خطرناک تاریخ میگذرد ۳۷۹
اعلامیه اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد ۴۷۳
د نولسمې پیړۍ په اواخرو او د شلمې په اوایلو ۴۷۶
په افغانستان کې د سیاسي کوندونو رول ۴۸۹
افغاني ټولنه، ارزښتونه او د جرګې موسسه ۵۰۰
اعلامیه اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد ۵۴۱
ژباړې ۵۴۴
د ځناورو فارم یا د روسي کمونیزم هپنداره ۵۴۵

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان یو خدمتګار امین

پروفیسور رسول امین د افغانستان په اوسني تاریخ کې هغه لیکوال، سیاستوال، سیاستپوه، ادبپوه او ټولنپوه شخصیت و، چې نړدې پنځه لسیزې یې په منظم او متواتر ډول د علم، ادب او سیاست په ډګر کې افغانستان ته داسې خدمتونه ترسره کړل، چې جانبي عوارض یې نه درلودل؛ د کوم شخص، ګوند، سیاسي بهیر په امحاکې یې خپله بقا نه غوښتله او د یوې معتدلې، سوله ییزې لارې او تګلارې پلوی و. پروفیسور رسول امین تر لوړو زده کړو وروسته په کابل کې د پښتو ټولنې غړی او د کابل پوهنتون استاد شو، دا دندې یې په ښه ډول ترسره کړې، پر (۱۳۵۷ل) کال د سیاسي افکارو او د وخت د حاکمیت د مخالف لیدلوري د درلودو له امله له هېواده مهاجرت ته اړ شو.

د شوروي اتحاد د یرغل په کلونو کې یې قلمي جهاد ته ادامه ورکړه، په هېواد کې د شوروي یرغل له امله رامنځته شوې خونړۍ خپې یې په خپل رسنیز فعالیت کې منعکس کړې او د هېواد واقعیتونه یې تر نړیوالو ورسول. ده پر دې مهال هم په افغانستان کې د شتو واقعیتونو او سیاسي شخړو حل په سوله ییز فورمول کې لټاوه او جګړه یې د حل وروستۍ لاره نه ګڼله. د جهاد تر اختتام او د تنظیمي جګړو پرمهال یې بیا هم د روغې جوړې او سیاسي حل لارې پر تګلارې ټینګار کاوه. له افغانستانه د روسانو د وتلو په وروستیو وختونو کې یې په پېښورکې فرهنګي کارونو ته زور ورکړ؛ د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه (وفا) یې جوړه کړه، د (خپلواکۍ) مجله یې تاسیس او وروسته یې بیا د (وفا) په نامه یوه ډېره معتبره اوونیزه هم پیل کړه. د تنظیمي جنګونو پرمهال یې د بېلابېلو تنظیمونو ترمنځ په مستقل ډول او هم په پېښورکې د تفاهم شورا له لارې د روغې جوړې ډېرې هلې ځلې وکړې، خو کومه غوځه نتیجه یې ور نه کړه. کله چې د طالبانو د اسلامي تحریک او مخالفو تنظیمونو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمنځ جګړې پیل شوې، نو بیا هم امین صیب او څو ملګرو یې د خپلمنځي خبرو اترو او سولې لاره غوره وبلله، د مخالفو ډلو ترمنځ یې پر روغې جوړې ټینګار وکړ، بېلابېلو ډلو سره یې د خبرو لپاره اړیکي ټینګ کړل، د سولې لپاره یې علمي سیمینارونه جوړ کړل، خو دې ستړیاوو هم کومه غوښه پایله ور نه کړه. د طالبانو د لومړي حاکمیت په بهیر کې یې د دې تحریک له مشرانو سره څو څو واړې وکتل او دا خبره یې ورته واضح کړه چې په یوازې ځان حکومت نه شئ کولای او افراطي نظریات د دې وطن په کټه نه دي. کله چې د طالبانو تېر نظام د نړیوالو په مستقیم پوځي یرغل ړنګ شو او د بن کنفرانس د طرحې او پرېکړې پر اساس یوه موقته اداره رامنځته شوه، نو څو موده وروسته امین صیب د پوهنې د سرپرست وزیر په توګه غوره شوه. دا مهال نو د افغانستان په تعلیمي برخه کې کوم واحد نصاب نه و، د ډاکټر نجیب د وخت نصاب، د مجاهدینو په نوم د استاد رباني (جمعیت) تنظیم حکومت او په پېښور کې د بېلابېلو تنظیمونو او انجیوګانو تعلیمي نصابونو څخه کار اخیستل کېده. په کار دا وه چې په موقت ډول یو واحد تعلیمي نصاب جوړ او وروسته بیا پر یوه منظم تحصیلي نصاب کار پیل شي. د امریکا متحده ایالاتونو پرمختیایي اداري (USAID) د دې کتابونو د چاپ لګښت پر غاړه واخیست. د تعلیمي نصاب د کتابونو دا شمېر دا مهال ټولټال(۱۱۷) عنوانونو ته رسېده. د امین صیب پر زیات ټینګار او څار دا ټول کتابونه د بېلابېلو متخصصینو له خوا ایډیټ او چاپ ته تیار شول او کله چې امین صیب د پوهنې د وزیر په توګه عملاً خپله دنده پیلوله، نو دا (۱۱۷) عنوانه تعلیمي اثار چې په ملیونونو ټوکه چاپ شوي وو، هم د زده کوونکو د کتې لپاره تیار شول.

امین صیب شېږ میاشتې په پوره صداقت د پوهنې د وزیر په توګه خپله دنده ترسره کړه، بیا په هېوادکې حکومت نوې بڼه خپله کړه او له واکمن دربار سره د ده مناسبات هم پسې سړه شول، ده خپل پخوانی دفتر له پېښوره

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل ته انتقال کړ، (د افغانستان د مطالعاتو مرکز) په نوم يې نوی دفتر جوړ کړ، خپله بډايه کتابتون يې هم کابل ته ولېږداوه او دلته يې پر ټولنيزو او فرهنګي خدمتونو لاس پورې کړ.

د ژوند تر پايه يې بيا په حکومت کې رسمي دنده وانه خيسته او د حکومت د يوه منتقد او ټولنيز خدمتګار په توګه يې د خپل ژوند وروستي کلونه تېر کړل. امين صېب د (۲۰۰۹م) کال د د اکتوبر پر (۳۱)مه نېټه له وطنه لرې په استراليا کې د خپل ژوند پور پرې کړی، په دې ډول يې د ژوند هغه سفر چې ده پر (۱۳۱۸ل) کال په کونړ کې له خپل کلي (وټپور) څخه پيل کړی و، پايته ورساوه. جنازه يې وطن ته راوړل شوه او د کونړ په مرکز کې يې خپل ابدي کور خپل کړ. بډايه کتابتون يې، چې ده په ډېر زيار او زحمت په پېښور کې جوړ کړی و، د ده د يوه ستر معنوي امانت په توګه وروسته د کونړ پوهنتون ته وسپارل شو، چې اوس د ياد پوهنتون محصلين او استادان ترې علمي ګټه پورته کوي.

پروفيسور رسول امين د خپل عمر په نيمه پېړۍ کې پر ټولنيزو او سياسي فعاليتونو سربېره ګڼ شمېر فرهنګي خدمتونه هم ترسره کړي دي. ژباړې، متفرقه ليکنې او څو عنوانونه مستقل اثار يې چاپ شوي دي. په ګنو کورنيو او بهرنيو علمي سيمينارونو، ورکشاپونو او غونډو کې يې ګډون کړی او د هېواد د نن او راتلونکي په باب يې ويناوې کړي او د دې ترڅنګ يې په رسنيو کې ګڼ شمېر ليکنې او مرکې هم خپرې شوې دي.

اوسنی اثر (د پروفيسور رسول امين کليات) چې ستاسو په لاس کې دی، د ده د ژوند د ببلابېلو پراوونو، په تېره بيا په هېواد کې د دېرشکلنو خونړيو پېښو او حالاتو په باب د ده د ويناوو، متفرقه ليکنو، مرکو او همدارنګه مستقلو اثارو او ژباړو يوه لويه ټولګه يا کليات دي، چې ښاغلي ضياءالرحمن ضياء راټول، ترتيب او تدوين کړي دي. زمونږ هيله دا وه چې د امين صېب ټولې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکنې او ویناوې باید راټولې شي او د کلیاتو په بنه چاپ شي، خو دا ټولګه یا کلیات چې سړی ګوري، نو ورته ښکاري چې د امین صیب ټولې لیکنې په کې نه دي راټولې شوې، البته د لیکنو زیاته برخه په کې خوندي شوې ده. د امین صیب ځینې هغه لیکنې چې تر دېره بریده یې علمي بنه لرله او پر خپل وخت په وړمې، کابل او نورو مجلو کې چاپ شوي، هغه هم په دې کلیاتو کې نه شته او د دې ترڅنګ چې ده د خپلو علمي او تحصیلي پوړیو لپاره کوم علمي اثار لیکلي، هغه هم په دې کلیاتو کې نه تر سترګو کېږي. که هغه لیکنې او اثار هم راټول شــي، نو همدومره یو بل اثر تر جوړېدی شــي. د افغانســتان ملي تحریک چې د ده د کورنۍ له غړو په تېره بیا د امین صــیب د قدرمن زوی (اتل امین) ســره یې په ګډه د دې اثر د راټولولو او تدوین پروګرام جوړ کړی و، دې نتیجې ته ورسېدل چې د امین صیب د (دیارلسم) تلین په مناسبت اوس د دې کلیاتو چاپ ضــروري دی. د دې اثر تر چاپ وروســته به لوستونکو، څېړونکو او د امین صیب د کورنۍ غړو ته بنــه پته ولګي چې د امین صــیب کوم اثار او لیکنې پاتې دي، د هغو راټولولو لپاره باید هم یو پلان جوړ شي او د امین صیب د کلیاتو د دویم ټوک په توګه باید چاپ شي. په یو ټوک کې د ټولو لیکنو چاپ هم شــونی نه و، په دې ډول به د هېواد د یو خدمتګار امین حق ادا شي.

دا اثر چې سړی ګوري، نو سړي ته د امین صیب فکري لیدلوری او تګلوری په بنه ډول څرګندېږي. امین صیب په دې نظر و چې د افغانستان ټول قومونه ســره ورونه او ټول افغانان دي، هېڅ ډول توپیر یې باید په منځ کې ونه شــي. هغه د خپلې ټولنې د یو ټولنپوه په توګه په دې نظر و چې د افغانســتان د شخړې حل په لویه جرګه کې نغښتی دی. که څه هم د امین صیب د هیلو یوه برخه په وروستیو څو لویو جرګو کې افاده شــوه، خو بیا هم لکه څنګه چې د هغه هیله وه یادو جرګو په پوره ډول هغومره خپلواکي نه درلودله، لکه څنګه چې د امین صــیب او ټولو افغانانو هیله وه. امین صــیب په دې نظر و چې په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کې سوله او ثبات د ټولې نړۍ او په ټبره بیا د ګاونډیو په ګټه دی او د هغو د ثبات مانا ورکوي. پاکستاني چارواکو ته یې څو ځله مخامخ دا خبره کړې وه چې افغانستان کې د ګډوډۍ د جوړونې پر ځای سولې او ثبات ته کار وکړئ، داکار هم ستاسو او هم زموږ د هېواد په ګټه دی. امین صیب د عدالت د تامین په خاطر د جنګي جنایتکارانو د محاکمې غوښتونکی و، خو په خواشینۍ سره چې نړیوالې ټولنې جنګي جنایتکارانو ته د مجازاتو پر ځای مکافات ورکړل؛ په واک یې شریک کړل او په نتیجه کې د هېواد د بې ثباتۍ او د نړیوالې ټولنې د بدنامۍ او ناکامۍ سبب شول.

امین صیب د یوه ډیموکرات شخص په توګه د زورواکۍ مخالف و، دیکتاتوري نظامونه یې نه خوښول او دا یې د خپل ملت د فکري خپلواکۍ، روح او روان مخالف حالت ګانه او په دې نظر و چې د زور وروستۍ نتیجه مثبته نه وي. ده ولس د خپل هېواد د برخلیک ټاکلو اصلي مالک ګانه او د دې ترځنګ یې د افغانستان په باب د نړیوالو د دوه ګونې متضاد سیاست غندنه کوله. ده د یو شمېر هغو ډلو ټپلو هغه ناوړه هیلې او غوښتنې هم غندلې چې دلته او هلته به یې کله کله د هېواد د تجزیې په موخه پټې او کله هم ځرګندې چیغې وهلې، د ده په نظر افغانستان داسې یو طبیعي هېواد دی او جوړښت یې داسې مستحکم دی، چې هېڅکله تجزیه کېدلای نه شي، نو هغه ډلې چې دا ډول هیله لري هغوی باید پر خپل فکر له سره کتنه وکړي.

زه نه غواړم دلته د امین صیب د فکر پر ببلابېلو خواوو او لیدلوړو اوږد بحث وکړم، ځکه خپله دا اثر د امین صیب د فکر ښه ځرګندونه کوي.

زه په پای کې د امین صیب دکورنۍ له غړو، په ټبره بیا د هغه د قدرمن زوی (اتل امین) څخه ډېره مننه کوم چې دا ټبر دولس دیارلس کاله یې په متواتر ډول د امین صیب تلین ورځې په درنو غونډو سره یادې کړې دي. د امین صیب مقبره یې جوړه کړې، د قران کریم ختمونه یې کړي، د دې ترځنګ یې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امین صیب په نوم خیریه بنسټ هم جوړکړی او له دې لارې یې د بېوزلو هېوادوالو لاسنیوی کړی او کوي یې او دا دی اوس یې د امین صیب د (دیارلسم) تلین په مناسبت د دې اثر د چاپ مالي لګښت ته هم اوږه ورکړه. قدرمن ورور ضیاءالرحمن ضیاء څخه هم مننه کوم چې د امین صیب دا لیکنې یې راټولې، کمپوز، ترتیب او تدوین کړې، په همدې هیله چې د امین صیب د لیکنو دکلیاتو په دې لومړي ټوک پسې د هغه دویم ټوک هم ترتیب او چاپ شي. له ټولو هغو دوستانو څخه هم مننه په کار ده چې په ټپرو لسو کلونو کې یې د امین صیب تلین غوندې جوړې کړي، په هغو کې یې ګډون کړی، ویناوې یې کړې او د امین صیب په باب یې لیکنې کړې دي.

د امین صیب د روح د ارامتیا په هیله

په درنښت

محمد اسمعیل یون

کابل– افغانستان

د ۱۴۰۱ل کال د تلې ۱۸مه

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويناوې

zia_2zia@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې مېشت قومونه

ټول افغانان دي

دا وینا د وفا جریدې په (۸۵) یمه ګڼه کې د (۱۳۷۲ل) کال د سلواغلې میاشتې پر شلمه نېټه خپره شوې ده.

د (۱۹۹٤) میلادي کال د فبروري پر دویمه نېټه د پېښور پوهنتون استادانو د اتحادیې له خوا د افغانستان د ستونزو او روانو حالاتو په باب یوه د بحث او خبرو غونډه یا په اوسني تعبیر یو سمپوزیم جوړ شوی و. غونډه د مازیګر پر درې بجو او شلو دقیقو د قران عظیم الشان پر تلاوت پیل شوه. په بحثونو کې برخه اخیستونکي او پوښتنو ته ځواب ویونکي دغه لاندې ښاغلي وو:

د پېښور پوهنتون پخوانی رییس پروفیسور ډاکټر محمد انورخان، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور عبدالرسول امین، باچا صاحب، پخوانی افغان ډیپلومات او سیاستپوه حکیم اریوبي او د افغانستان د سولې او بې وسلې کولو د سازمان مشر امیر بهلول. دوی هر یو په خپل وار سره د افغانستان د تاریخ او روانو کشالو په باب خبرې وکړې، چې دا دی د دوی د ویناوو ځینې برخې د وفا جریدې د ګرانو لوستونکو د معلوماتو د زیاتولو په خاطر راوړل کېږي.

د پروګرام په سر کې د پروګرام د ستیج سکرتر د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال، شاعر او محقق او د پېښور پوهنتون د پښتو اکېډمۍ مشر علمي غړی ډاکټر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

راج ولي شـــاه خټک پوښـــتنه وکړه، هغه کوم عوامل و، چې افغانســـتان يې تراوسه يو موټی او متحد ساتلی و؟

د ډاکټر راج ولي شاه خټک ددې پوښتنې ځواب د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې مشر پروفيسور رسول امين داسې ووايه:

په دې سيمه کې يو قوم پروت و، چې په مختلفو نومونو بللی شوی دی، خو ده ځان ته پښتون ويلی دی. د معاصر افغانستان په جوړوونکو کې د ميرويس خان نوم هم راځي او لوی احمدشـــاه بابا هم راځي، لوی احمدشـــاه بابا په ځلميتوب کې داســـې نبوغ درلود، چې هم په جنګ پوهېده او هم د خپلې ټولنې په نبض. د ده لوی بری په دې کې و، چې د افغانانو هرې قبيلې ته يې په درنښت سره کتل، په همدې نبوغ سره يې لويه امپراتوري جوړه کړه، چې تر هند او کشمیره رسېده. دا امپراتوري د ده تر مرګ وروسته د ده زامنو او لمسيانو ته پاتې شوه.

ډاکټر راج ولی شاه خټک: که د افغانستان شمال له افغانستان څخه جلا شي، د افغانستان به څه حال وي؟

پروفيســور رســول امين: د افغانســتان جهاد او جنګ له روســانو ســره د افغانســـتان ټولو قومونو په کډه پيل کړی او ټولو قومونو قربانۍ ورکړې دي. دې جګړو او قربانيو اول ځل د افغانســـتان قومونو ته دا وښـــوده، چې موږ افغانان يو. د روســانو پر ضــد د افغانانو د يو مخيز قيام جګړو او جهاد څخه مخکې به د افغانستان نورو قومونو يوازې پښتنو ته افغان ويل، مګر د شلمې پېړۍ په جريان کې افغاني حکومتونو (پرته له کمونيستي واکوالو څخه) دا زيار وويســـت چې د افغانســـان هر اوســـېدونکی ځان افغان وبولي، په زياته کچه ځوارلس کلن جهاد دغه بهير لا پسې ګړندی کړ. د روسانو پرضد د افغانستان

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو قومونو قیامونو مجاهدو او جګړو د افغان نوم ډېر وځلاوه، د افغانستان د هر قوم اوسېدونکي ځان افغان وباله او د افغان پر نوم یې ویار کاوه.

دکمونیستان او روسانو پرضد د افغانستان مجاهدې، جګړې او قیامونو د افغانانو د خپل وطن د ازادۍ او د خپلو دیني، عقایدو او عنعنو د ساتلو لپاره پیل کړې او بري ته یې ورسولې.

زه ویلای شم چې د افغانانو دا جهاد د دین او وطن د دوو مقدسو نومونو له یوځایوالي جوړ شوی و. دا چې له ځینو خلکو سره د افغانستان د تجزیې سوالونه پیداکېږي. زه به د علامه اقبال دا شعر راوړم:

اسیا یک پیکر آب و گل است

ملت افغان در ان پیکر دل است

از فساد او فساد اسیا

از کشاد او کشاد اسیا

دا یو حقیقت دی چې که په افغانستان کې ارامي او خوشالي وي، ټوله اسیا به خوشاله او ارامه وي او که خدای دې نه کوي فساد راغی دا به بیا داسې توپاني فساد وي چې نه به هند ورته ټینګ شي او نه پاکستان، نه ایران او نه منځنۍ اسیا. زه دومره ویلای شم چې افغانستان په ایډیالوژیو نه جوړېږي، دلته دکمونیستانو ایډیالوژي، په نړیواله سویه ناکامه شوه. زما ځینو دوستانو چې ځانونه اسلامي بنیادګر بولي، ویل به یې چې مورِ افغانستان په یوه نوي اسلامي شکل جوړوو. ما ورته ویل چې د پاکستان په څېر، ایران په څېر او که

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام د مرکز سعودي عربستان په شان. دوی به ویل چې نه دا یو شکل هم ښه نه دی، مورږ یې په داسې بڼه جوړوو چې ټولې نړۍ ته یو مثال وي.

زما مطلب دا دی چې په افغانستانکې که هر ډول حکومت راځي، باید د افغانستان ټولو قومونو او اوسېدونکو ته حق ورکړي. اوس خو ټولو قومونو د افغانستان په تېر اوږده جهادکې وینې تویې کړي، کلي اوکورونه یې ړنګ شوي.

هېڅ ایډیالوژي حق نه لري، چې افغانستان یوازې او یوازې په خپله خوښه او یا د خپل ګوند په خوښه د ځان لپاره جوړ کړي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو باثباته حکومت دکوکنارو دکر مخنیوی کولای شي

دا وینا د وفا جریدې په (۱۰۵) مه ګڼه کې د (۱۳۷۳ل) کال د چنګاښ میاشتې پر پنځلسمه نېټه خپره شوې ده.

تر هغې چې په افغانستان کې د خلکو په خوښه باثباته حکومت نه وي رامنځته شوی، دکوکنارو دکرنې مخنیوی ګران دی، ملګري ملتونه باید د افغانستان د بحران حل ته پاملرنه وکړي.

د (۱۹۹٤) میلادي کال د جون د شپږ ویشتمې په مازیګر د افغان مهاجرینو د عالي کمېشنرۍ له خوا د نشه یي توکو د مخنیوي اوکنترول نړیواله ورځ د کچه ګړۍ په مهاجر کمپ کې ونمانځل شوه. دې غونډې ته د صوبه سرحد مشر وزیر ښاغلی افتاب احمدخان شېرپاو هم راغلی و. د UNDCP د موسسې کارکوونکو او مشرانو د افغان کمېشنرۍ مشر رستم شاه مومند او نورو هم په غونډه کې برخه اخیستې وه. د دې غونډې ترتیبات کمېشنرۍ د UNDCP او د نشه یي توکو د مخنیوي اوکنترول د نورو موسساتو په همکارۍ نیولي وو.

دغه مبلغین په باقاعده ډول خپل ورسپارل شوي کارونه پرمخ بیایي. نومورې د خپلو خبرو په پای کې دکچه ګړۍ په کمپ کې د افغان مهاجرو موجودې ستونزې هم یادې کړې. ورپسې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور عبدالرسول امین خبرې وکړې. دوی لومړی د جون د شپږویشتمې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارزښت په باب مطالب څرګندکړل، بیا یې په اسلامي لحاظ د مخدره او نشه یي توکو د بندیز په باب خبرې وکړې او د خپلو خبرو په ترڅ کې یې په افغانستان کې د کوکنارو د کرنې په ارتباط خپل نظر داسې څرګندکړ:

تېرکال د ملګرو ملتونو له خوا د خپرو شویو احصایو له مخې د کوکنارو د کرنې له پلوه افغانستان تر (برما) وروسته دویم هېواد و، خو راغلي معلومات دا ښیي چې سږ کال افغانستان تر (برما) هم دمخه دی. په افغانستان کې د نشه یي توکو د تولید ورځ پر ورځ زیاتېدنه خپل عوامل لري. د دې مسلې اساسي عامل جنګ او په هېواد کې د یوه باثباته قانوني حکومت نه موجودیت دی. که څه هم په افغانستان کې پخوا هم کوکنار کرل کېدل، خو د ثور تر کودتا دمخه د مخکښو حکومتونو د ممکنو طریقو له لارې د کوکنارو د کرنې د مخنیوي لارې چارې سنجولي او مورډ خپله په کونړ او ننګرهار کې لیدل چې د کوکنارو کروندې به په بل مخ واړول شوې. تر کمونیستي کودتا وروسته چې په هېواد کې جنګ پیل شو، کمونیستي رژیم د افغانستان په اطرافي سیمو او زیاترو ولایاتو خپل تسلط له لاسه ورکړ. په افغانستان کې د کوکنارو د کرنې یو بل پراو پیل شو او هم په دې وروستیو شپږ سو کلونو کې له یو کال څخه بل کال ته پراختیا پیداکوي او نړدې ده چې په ځینو سرحدي ولایاتو کې ټولو ځمکو کې کوکنار وکرل شي. کوکنار او له هغو څخه راوتلي مرکبات له افغانستان څخه پاکستان ته راوړل کېږي او هم له افغانستان څخه تاجکستان او ازبکستان ته وړل کېږي او له دې ځایونو څخه د نړۍ نورو سیمو ته انتقالېږي، تر لاسته راغلي پیسې د څو تنو بانفوذه ټوپکوالو جیبونو او حسابونو ته ورځي او بالمقابل ازار او افت یې د نړۍ ځوانانو ته ور رسېږي. دغه بانفوذه ټوپکوال هېڅکله هم دې ته نه حاضرېږي چې له دې ناوړه ګټو لاس په سر شي. دوی اخلاقي توصیو ته توجه نه کوي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهترینه لاره دا ده چې ملګري ملتونه تر ټولو دمخه د افغانستان سیاسي مسلې ته پاملرنه وکړي او دا زیار وباسي چې هلته د ټولو افغانانو د منلو وړ یو داسې حکومت جوړ شي، چې هم قانوني حیثیت ولري او هم وکړای شي چې پر ټول افغانستان خپل حاکمیت ټینګ کړي. په هغه صورت کې کېدلای شي، د کوکنارو د کرنې مخنیوی وشي او د افغانانو ملي حکومت به د نویو لارو چارو په اختیارولو او خلکو ته د کار د زمینو برابرولو له امله له دې کار سره مبارزه کوي. د ملګرو ملتونو مالي مرستې به هغه صورت کې ګټورې واقع کېدای شي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په روانه شخړه کې د لوبې جرګې ونډه

دا وینا د (افغانان) جریدې په (۲–۳) یمه ګڼه کې د (۱۳۷۹ل)کال د سرطان میاشتې پر (۷)مه نېټه خپره شوې ده.

د (۲۰۰۰م)کال د جون د میاشتې په نولسمه نېټه په پېښور کې د افغان ځوانو محصلینو له خوا، د افغانستان د روانې شخړې په سیاسي حل کې د لوبې جرګې ونډه، تر سرلیک لاندې یو ورځیني سیمینار جوړ شو.

په دغه سیمینار کې د افغاني سیاسي، علمي شخصیتونو، سپین روبو او ځوانانو څخه علاوه ځینو بهرنیو ډیپلوماتانو هم ګډون کړی وو. سیمینار د سهار پر لسو بجو د عظیم الشان قران د څو مبارکو ایتونو پر تلاوت پیل شو، وروسته د افغاني ځوانو محصلینو د ټولنې مشر اجمل سهیل راغلو مېلمنو ته هرکلی ووایه او د دغه سیمینار په جوړونه کې یې له هغو خلکو څخه مننه څرګنده کړه، چې دوی سره یې په دې هکله مرسته کړې وه. اجمل سهیل د افغانستان په روانو ستونزو خبرې وکړې.

د سیمینار بل وینا وال پروفیسور رسول امین د خپلو خبرو په پیل کې وویل: د لوبې جرګې په ټولو اړخونو علمي بحث وشو، خو زه دلته یو ټکی ویل غواړم، هغه دا چې د پخواني پاچا وړاندیز لویه جرګه نه، بلکې اضطراري لویه جرګه ده. په دې کې شک نه شته چې د جهاد په دوره کې یو شمېر دوستو او مخصوصاً دوو ګاونډیو هېوادونو؛ پاکستان او ایران زموږ سره هر راز نظامي،

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي او ډيپلوماتيکي مرستې کړې دي، که چېرې د دوستو هېوادونو له خوا نظامي، اقتصادي او ډيپلوماتيکي مرستې نه واى او زمونږ کاونډيو هېوادونو پاکستان او ايران راته په خپلو خاوروکې ځاى نه واى راکړى، نو په دې صورت کې افغانانو ته د شوروي اتحاد د وحشي نظامي ماشين ماتول او د سور پوځ د افغانستان څخه ويستل ډېر ګران کار و. ټول افغانان د دوستو او مخصوصاً د کاونډيو هېوادونو له دغو مرستو څخه د زړه له کومي مننه کوي. خو افغانان په دې واقعيت هم ډېر ښه پوهېږي چې ځينو دوستو او مخصوصاً زمونږ کاونډيو هېوادونو د افغانستان په ارتباط خپلې پاليسۍ د افغانانو د ملي ګټو پرځاى يوازې د خپلو ملي ګټو لپاره جوړې کړې وې او تراوسه د کاونډيو هېوادونو د ملي ګټو په ارتباط دوام لري او د افغانانو او افغانستان ملي ګټې هېڅ په نظر کې نه نيول کېږي. که چېرې زمونږ دوستان او کاونډيو هېوادونو د خپلو ملي ګټو ترڅنګ د افغانستان ملي ګټې په نظر کې نيولې واى او افغانانو ته يې د خپل زعامت د ټاکلو حق ورکړى واى، زما په نظر زمونږ ملي غميزې دوام نه کاوه او د افغانستان مسله به افغانانو لا د وخته حل کړې واى. په لنډ عبارت کې د يوې خوا زمونږ دوستانو او مخصوصاً کاونډيو هېوادونو د افغانانو سره نظامي، اقتصادي او ډيپلوماتيکي مرستې کړې دي، له بلې خوا همدغو هېوادونو د افغانانو څخه سياسي واک اخيستى دى او په سياسي ډګر کې يې له پيله تراوسه افغانان هېڅ واک نه لري.

ښاغلي امين وويل: په افغانستان کې درې ډلې وجود لري؛ يوه ډله د طالبانو نهضت او بله ډله د شمال اتحاد دى. درېيمه ډله د افغانستان در په در خاورې په سر افغان ولس دى. دغو دوو جګړه مارو ډلو د افغانستان بېچاره ولس چې په سلوکې اته نوي د افغانانو شمېر تشکيلوي، د توپک په زور يرغمل نيولى دى او د هر راز بدبختيو، مرګ ژوبلې، اواره ګۍ، سپکاوي،

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحقیر او غیر انســـاني کارونو ســـره یې مخامخ کړي دي او حتی د افغانانو ناموس او د هېواد موجودیت یې په خطر کې اچولی دی. بنـاغلي امین وویل: پوښـتنه دا ده چې اضـطراري لویه جرګه د څه لپاره دایرېږي؟ ایا یوازې جرګه د جرګې لپاره او که دغه اضطراري جرګه د یو خاص هدف لپاره دایرېږي؟ که جرګه یوازې د جرګې لپاره وي، نو بیا خو به یو شـــمېر افغانان راټول شـــي، تقریرونه به وکړي، ډوډۍ به وخوري او بیا به هر یو په خپله لار ځي. او که جرګه د یو هـدف لپـاره وي، نو بیـا خو ټولو افغـانانو تـه بـایـد چې د دغې اضـطراري لوېې جرګې اسـاسـي هدف او دې هدف ته د رسـېدو ټول اسـاسـي وسـایل معلوم وي. د پخواني پاچا د سـولې پروسـه یو مشـخص هدف لري او دغه هدف د افغانانو د حق خود ارادیت حاصلول دي. افغانان د نړۍ د نورو اسـلامي هېوادونو د ولسـونو په شـان پوره حق لري، چې د خپل جنګ ځپلي هېواد روانه ملي غمیزه د توپک، توپ، طیارې او وینو تویولو پرځای د خپلو رایو لـه لارې حل کړي او دا د افغانانو پوره حق دی، چې خپـل زعـامت او حکومت د رایو له لارې وټاکي، نه د برچو په زور د ټولې نړۍ د اســـلامي هېوادونو ولسـونه - پاکستان، ایران، مصـر، ترکیه، مالیزیا، اندونیزیا او نور - د زعامت او حکومت په اړوند خپلې رایې استعمالوي، ولې افغانان د دې مسلم حق څخه محروم شـــي؟ د حق خود ارادیت د اعادې کولو لپاره اضـــطراري لویه جرګه او په خپله د پخواني پاچا وجود دده موثره وسـایل دي. لویه جرګه د افغانانو تاریخي موثره وسـیله ده او دوی تل د دې موثرې وسـیلې له لارې خپلې داخلي او خارجي لانجې او مســـلې حل کړي دي او ضـــطراري لویه جرګه د افغانسـتان د روانې ملي غمیزې د پای لپاره یوازینۍ اسـاسـي او ملي وســیله ګڼل کېږي. همداشـــان د افغانانو لوی اکثریت او ځینو باندنیو دخیلو حکومتونو، ګوندونو او موســـســـو ته دا واقعیت جوت شـــوی دی، چې د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان په تېرو دوه ویشت کلونو کې یو داسې شخصیت، ګوند یا تنظیم منځته نه دی راغلی، چې هغه دې د ایډیالوژي، ګوند، تنظیم او یا د محلي، ژبني او نژادي مسایلو پرځای په افغان او افغانستان فکر وکړلای شي او د افغانستان د ملي هویت او ملي ګټو لپاره دې ملا وتړي. اوس د افغانانو لپاره د افغاني ګوندونو او تنظیمونو ټول مشران، ګوندونه او تنظیمونه تجربه شوي واقعیتونه دي او افغانان یې پېژني، چې څوک څوک دي؟ او چا د افغانانو او افغانستان لپاره څه کړي دي، څه کوي او په راتلونکي کې ترې څه توقع کېدای شي؟ د افغانانو د ترخو تجربو په نتیجه کې د افغانستان د خلکو د امید مرکز پخوانی پاچا ګرځېدلی دی، پخوانی پاچا په افغانستان کې د سلطنت اعاده کول نه غواړي او یوازې د یو سپین ږیري په توګه په افغانستان کې د سولې د راوستلو لپاره رول لوبول غواړي. پخواني پاچا څلوېښت کاله په افغانستان حکومت کړی دی، هغه د هېواد په داخلي او خارجي مسایلو پوره پوهېږي او هغه د افغانستان د درې سوه کلنې پاچاهۍ موسسې غړی دی او تراوسه د یوې موسسې حیثیت لري.

ښاغلي امین وویل: د افغانستان ستراتیژیک موقعیت او د قومونو ترکیب یو ګاونډي هېواد ته دا اجازه نه ورکوي چې هغه دې د خپلې خوښې لاسپوڅی حکومت په افغانانو او نورو ګاونډیانو تحمیل کړي او نه یو ګاونډي هېواد هم دا توان لري چې د بین المللي قوانینو، د افغانانو د خپلواکۍ او د نورو ګاونډیانو د ملي ګټو خلاف دې په ټول افغانستان خپته واچوي. د افغانستان موقعیت د افغانانو د قومونو ترکیب او سالم سیاسی فکر دا حکم کوي چې په افغانستان کې دې د خلکو په رایې یو دوست حکومت منځته راشي او دغه دوست حکومت به حتماً د خپل هېواد د ګاونډیانو، حوزې او بین المللي ټولنې په ملي ګټو فکر کوي او د افغانستان له ستراتیژیک موقعیت څخه په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

استفاده به د جنوبي، مرکزي او لويديزې اسيا ترمنځ د تجارتي لويې لارې لوی رول لوبوي.

پروفيسور رسول امين وويل: پخواني پاچا هېڅکله دا نه دي ويلي چې دی به خپل ټيم جوړوي او دغه ټيم به افغانستان ته د حکومت کولو لپاره لېږل کېږي. د پخواني پاچا د سولې فورموله ډېره ساده ده. د هغه په نظر د افغانانو اضطراري لويه جرګه به په افغانستان کې دايرېږي، دغه جرګه به موقتي زعامت او حکومت ټاکي او دغه زعامت او حکومت به د نورو مسايلو سره په افغانستان کې د انتخاباتو لپاره کار کوي. د اضطراري لويې جرګې د دايرېدو لپاره د افغانانو، ګاونډيانو، ملګرو ملتونو، اسلامي کنفرانس او نورو دخيلو هېوادونو ګډه همکاري ضروري خبره ده.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان سوله دکاونډيو هېوادونو او سيمې په کتې هم ده

دا وينا د (افغانان) جريدې په (۹-۱۰) مه ګڼه کې د (۱۳۷۹ل) کال د سنبلې مياشتې پر (۲٤)مه نېټه خپره شوې ده.

د (۲۰۰۰م) کال د سپتمبر مياشتې پر نهمه نېټه د افغانستان د تفاهم او ملي يووالي شورا په نوښت د افغانانو د مختلفو قومونو يو شمېر استازو، جهادي قوماندانانو او روښانفکرانو په اسلام اباد کې د پاکستان د سرحدونو د چارو وزير عباس سرفراز خان سره چې په عين حال کې د کشمير د چارو او د سفران وزير هم دی، ليدنه کتنه وکړه، په دغه ليدنه کې د صوبه سرحد افغان کمېشنر او يو شمېر نورو چارواکو هم برخه درلوده.

جرګه د ورځې په يوولسو بجو د عظيم الشان قران د څو مبارکو ايتونو پر تلاوت پيل شوه، په سر کې د تفاهم او ملي يووالي شورا رييس حاجي حيات الله د جرګې غړي ورمعرفي کړل.

پروفيسور عبدالرسول امين هم ددې جرګې غړی و، هغه په خپلو خبرو کې وويل: زمونږ غوښتنه دا ده چې تاسو خپله يو ځلې د افغان مهاجرينو کمپونو ته ولاړ شئ او د هغوی نظر معلوم کړئ، چې څه غواړي، بله خبره داده چې په کمپونو کې افغانان له ډېرو مشکلاتو سره مخ دي، له افغانستان څخه خلک اوس له جنګونو او وچکالۍ څخه نوي رامهاجر شوي، هغوی له ډېرو سختو ستونزو سره لاس اوګرېوان دي، بايد چې له هغوی سره مرسته وشي، ځکه که د دوی ستونزې ډېرې شي، بيا نور مشکلات پيداکېږي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسایل په احساساتو نه، بلکې په مفاهمه حلېږي

دا وینا د (افغانان) جریدې په (۲۷) مه ګڼه کې د (۱۳۸۰ل)کال د جوزا میاشتې پر (۹)مه نېټه خپره شوې ده.

د پاکستان د بشري حقونو د کمېسیون له خوا د افغان مهاجرینو په اړه جوړ شوي سیمینار ته د پروفیسور رسول امین وینا:

د (۲۰۰۱م)کال د مې میاشتې پر دېرشمه نېټه د پاکستان د بشري حقونو د کمېسیون له خوا د ((Afghan Refugees Responding to Humanitarian Crisis)) تر سرلیک لاندې د پېښور په ((سپرینګ نایټ هال))کې یو سیمینار جوړ شو، چې ګڼ شمېر ټولنیزو او سیاسي شخصیتونو، د ملګرو ملتونو ځینو استازو او خبریالانو ګډون په کې کړی و. په سر کې د پاکستان د بشري حقونو د کمېسیون مشر افراسیاب خټک او ګڼ شمېر نورو خلکو وینا وې وکړې.

په پای کې پروفیسور رسول امین، چې د سیمینار په بهیر کې یې د انانسر دنده هم درلوده، خپله وینا داسې پیل کړه:

درنو حاضرینو! تاسو ټولو ته معلومه ده چې دلته افغانان دوه ویشت کلن شوي دي، په دې مانا چې دلته پیدا او رالوی شوي دي. دوی په حقیقت کې د دې ځای سفیران دي، سوچ په کار دی، ولې دغو سفیرانو ته تکلیف پیدا شي او خوږه وروروڼي یې په ترخو بدله شي؟ هېڅ مسله په احساساتي ډول

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه حل کېږي، مسـایل په مفاهمه حل کېږي، ز په دې عقیده یم چې مهاجرینو له مسلې سره دې سم برخورد وشي. په هر هېواد کې حکومتونه او سیاسي ځېرې بدلېږي رابدلېږي، اما د دغه هېواد ملت تل ژوندي وي او هر ملت د بل ملت په اړوند د بنـــو یا خرابو خاطرو تاریخ لري. د یو ملت هوښـــیار چارواکي د خپل ملت لپاره د نورو ملتونو سره دوستۍ او خو خاطرو ته وده ورکوي. زما په نظر د پاکستان اوسني ځینې چارواکي په دې نه پوهېږي چې د افغان مهاجرینو په اړوند د دوی روانه پالیسي په اینده کې خپله پاکستاني ملت ته تاوان رسوي او د جهاد له دورې څخه تراوسه د افغان او پاکستان د ملتونو نږدېوالی او دوســتي په ترخو خاطرو بدلوي. افغانان په دې پوهېږي چې له دښمن سره څه وکړي اما دا چې د دوستانو سره څه وکړي، له دې پرو ځوررولو وروســته تصــمیم نیســي. زه د افغانانو په نمایندګۍ کې د پاکســتان د بشــري حقونو د کمېسیون د مشر او ټولو غړو څخه مننه کوم چې په داسې حساس وخت کې یې د مظلومو افغانانو غږ اوچت کړ.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړه ماران بايد د جنګي جنايتکارانو په توګه محاکمه شي

دا وينا د (افغانان) جريدې په (۲۸) مه ګڼه کې د (۱۳۸۰ل) کال د جوزا مياشتې پر (۲۵)مه نېټه خپره شوې ده.

د (۲۰۰۱م) کال د جون د مياشتې پر اتمه نېټه د پېښور په افغان ايورګرين هوټل کې د افغانانو د ځينو مسايلو د حل په باب يوه غونډه رابلل شوې وه.

غونډه د يو ځوان وطندوست افغان شاهي سعادت په مالي لګښت، د دې مقصد لپاره جوړه شوې وه، چې افغان پوهان، سپين ږيري او ځوانان د خپل هېواد په روانه غميزه او د هجرت په چاپېريال کې افغانانو ته په ورپېښو مسايلو خبرې اترې وکړي.

غونډه د مازيګر په ځلورو بجو د عظيم الشان قران د ځو مبارکو ايتونو پر تلاوت پيل شوه. وروسته افغاني هنرمندانو له خوا ملي ترانه (ای زما وطنه د لعلونو خزانې زما– ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما) واورول شوه.

د غونډې د لومړۍ برخې په پای کې پروفيسور رسول امين ته بلنه ورکړل شوه چې د غونډې نتيجه ګيري وکړي، پروفيسور امين وويل: په غونډه کې د افغانستان او د افغانانو په مختلفو ستونزو باندې خبرې وشوې، ځينې ماضي ته ولاړل او په ماضي کې چې موکومې ستونزې لرلې، په هغو يې رڼا واچوله، ځينو د افغانانو پر اوسنيو ستونزو رڼا واچوله. خو دغه ټول مسايل په ځلورو ټکو کې مطرح کېدلای شي:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی دا چې دا د افغانستان مسله ده، په افغانستان کې باید سړی پوه شي چې افغانستان څه شی دی؟ افغانستان خپله جغرافیه لري، افغانستان خلک لري، افغانانو د تاریخ په اوږدو کې حکومتونه لرل او د افغانانو حکومتونو د تاریخ په اوږدو کې خپلواکي لرله. اوس چې موږ ګورو، د جغرافیې په لحاظ افغانستان موجود دی، د خلکو په حیث، هلته افغانان اوسېږي، خو اساسي خبره دا ده چې افغانستان کې دوه شیان نه شته، یو د افغانانو حکومت نه شته، لکه مخکې چې اشاره ورته وشوه، د امیر عبدالرحمن خان، یا امیر حبیب الله خان او نورو امیرانو حکومتونه د امارت په نوم موجود وو، خو کله چې امان الله خان راغی، د امارت نوم یې پر مستقل افغانستان کې بدل کړ او د افغانانو جنجال په دې خبرو کې وو، چې هلته حکومتونه وو، خو هغه حکومتونه د بل چا د لاس لاندې وو، اوس هم موږ وینو چې نه د شمالي اتحاد له خوا اعلان شوی حکومت د افغانانو حکومت دی او نه د طالبانو حکومت د افغانانو حکومت دی، بلکې هر لوري ته په غاړو کې یو څو توپکي اچول شوې دي چې دوی د افغانانو د کتو لپاره نه، بلکې د پردو د کتو لپاره په خپلو کې سره جنګېږي. نو باید ووایو چې موږ حکومت نه لرو، فلهذا کله چې حکومت نه شته، نو افغانستان خپلواکي هم نه لري.

ورونو! اساسي خبره دا ده چې تر څو افغانان نه شو، نو افغانستان نه شو کټلای، افغانستان نه د پښتون په نامه کټل کېدای شي، نه د تاجک په نامه، نه د ازبک په نامه او نه د هزاره، ترکمن او نورو په نامه، یوازې او یوازې د افغان په نوم یې کټلای شو. موږ ګورو چې اوس د افغانیت د ختمولو لپاره هغه خلک راپاڅېږي او ماته وایي چې مسلمان شه چې د هغه پلار او نیکه ما مسلمانان کړي دي، چې دا د افغانانو توهین دی، ځکه چې کله موږ د افغان خبره کوو، نو دا هم مسلمان دی، هم پښتون دی، هم تاجک دی، هم هزاره

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، هم ازبک دی او هم ترکمن او نور دي اوکوم خلک چې بېلتونونو ته لمن وهي، دا ټول افغانستان ته غله دي. علامه اقبال وايي:

اسیا یک پیکر اب و گل است

ملت افغان در ان پیکر دل است

از کشـــاد او کـــشـــاد اســیا

از فـــســاد او فـــساد اســیــا

دا عظیم او متفکر شخصیت د افغانستان پر اهمیت پوهېده، چې افغانستان ته داسې د زړه حیثیت ورکړي. نو دغه خلک چې د افغانستان لپاره ډېره غلطه او ناقصه پالیسي پر مخ وړي، هغوی ته به ښه دا وي چې افغانستان کې په یو دوست حکومت فکر وکړي. ځکه چې په افغانستان کې دوست حکومت، هم د افغانستان په ګټه دی، هم د پاکستان په ګټه دی او هم د ایران، مرکزي اسیا او نورو په ګټه دی. دغه دوست حکومت هغه وخت منځته راتلای شي، چې لویه جرګه جوړه شي او افغانانو ته حق خود ارادیت ورکړ شي.

د غونډې دویمه برخه مشاعرې ته وقف شوې وه، چې ځوانو شاعرانو په وار سره خپل شعرونه واورول او ورپسې د غونډې درییمه برخه، موسیقي وه چې د افغاني ځوانو هنرمندانو له خوا چې مشري یې (بریالي) کوله، په پښتو او دري ژبو سندرې واورول شوې.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان روانه غميزه او افغانان

دا وينا د (وفا) جريدې په (۹-۱۰) مه ګڼه کې د (۱۳۷۵ل) کال د حوت مياشتې پر (۲۵)مه نېټه خپره شوې ده.

د (۱۹۹۷م) ميلادي کال مارچ د مياشتې په يوولسمه نېټه د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د کنفرانسونو په تالار کې د افغانانو او د پېښور د سيمې د شاعرانو، ليکوالو، پوهانو، سياسي او اجتماعي شخصيتونو په ګډون يوه غونډه جوړه شوې وه. په غونډه کې د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې په رغنده کارونو خبرو سربېره د افغانستان د روانې غميزې په باب هم ډېرې خبرې وشوې. غونډه د ټولنې د رهبري هيئت، د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې له مشر پروفيسور رسول امين سره د خدای پامانی او د ټولنې د نوي رهبری هيئت د معرفی لپاره راباللی و. د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې مشر پروفيسور عبدالرسول امين د ۱۹۹۶م کال د اکتوبر پر شپاړسمه نېټه له يوه اوړده سفره بېرته پېښور ته راغی او د ټولنې د کارونو په سمبالتيا او د افغانستان د روانې کشالې په اړه يې د خپلو ملي مکلفيتونو د سرته رسولو لپاره کار پيل کړ او اوس د ځينو صحي معاذيرو له امله بېرته استراليا ته روان دی. پروفيسور امين په پېښور کې د خپلې څه دپاسه پنځه مياښتنی استوګنې په دوران کې د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د پروژو د فعال ساتلو لپاره هلې ځلې وکړې؛ د افغانستان د روانې غميزې د حل د لارو چارو د لټون لپاره له نورو منورو افغانانو سره يوځای کابل ته ولاړ؛ د افغانستان د ملي يووالي او تفاهم شورا په غونډو کې يې فعاله برخه واخيسته؛ د ملګرو ملتونو له خوا د افغانستان لپاره د مرستو جلبولو په هغه سيمينارکې يې ګډون وکړ،

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د روان‌کال په جنوري کې د ترکمنستان مرکز عشق اباد کې جوړ شوی و. د جنرال عبدالرشید دوستم په بلنه یې مزارشریف ته سفر وکړ؛ په پېښور او اسلام اباد کې یې له ډېرو افغاني او پاکستاني موثرو شخصیتونو سره ملاقاتونه وکړل او په پای کې یې د افغانستان د لیکوالو ټولنې د چارو د پرمخ بیولو لپاره د رهبري او مشاورانو هیئتونه وټاکل چې په جوړه شوې غونډه کې یې حاضرینو ته معرفي کړل. د غونډې په پیل کې د ټولنې مشر پروفیسور امین ټولو راغلو میلمنو ته ښه راغلاست ووایه او بیا یې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې پر کارونو لنډې خبرې وکړې او د ټولنې اوسنی صورتحال یې وخېړه.

پروفیسور امین وویل: په اوسنیو شرایطو کې چې د افغانستان مساله په یوه حاده مرحله کې واقع ده او د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې کارونو ته زیاته اړتیا لیدل کېږي، خو له بده مرغه چې زمونږ ځینې پروژې په روان کال کې د بودیجې د نه موجودیت له امله ودرېدې او څه چې لرو، پر هغو مو د ټولنې ټول کابروبار روان کړی دی.

د اخبار لپاره سږکال تراوسه له مونږ سره چا مرسته نه ده کړې، خو مونږ اخبار نه دی ودرولی او د پخوا په شان په میاشت کې دوه ځله چاپېږي، ده زیاته کړه: د ټولنې د رهبري هیئت تاسو ته ځکه دلته د راتلو تکلیف درکړی دی، چې له یوې خوا د موسسې په مشکلاتو خبر شو او له بلې خوا زه د دې ټولنې د مشر په توګه له تاسو ښاغلو مننه وکړم، چې په خپلو قلمي همکاریو، مشورو او هر اړخیزو مرستو مو دا موسسه تراوسه ژوندۍ ساتلې ده. زه له تاسې څخه د مننې په ترڅ کې د وفا له غړو او د ټولنې د پخواني رهبري هیئت څخه مننه کوم، چې زما د یو نیم کلن قیادت په دوران کې یې دا موسسه وچلوله او څه چې یې په وس پوره و، هغه یې له افغانانو ونه سپمول، د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحديد، تخويف او د مرګ د اخطارونو ترڅنګه يې خپله دنده پربښـــودله په مېرانه او هســـکه غاړه د خپلو خلکو ترڅنګ ودربدل. اوس چې زه د خپلو ځينو روغتيايي معاذيرو له امله په عارضي ډول له تاسو او له دې ټولنې بېلېږم، د ټولنې دکارونو د پرمختګ لپاره يوې ډلې ته واک سپارم، چې زما تر راتګه به دا واک له دوی ســـره وي او د ټولنې لپاره به د مرســـتو جلبولو ترڅنګ، خپل روان کارونه پرمخ بيايي:

۱- د رهبرۍ ډله: دوکتور محمد رحيم پښـــتونيار د موقتي مشـــر په توګه، پوهاند دوکتور ودېر ســـاپی او بنـــاغلی ســـيد محمد ميوند د غړو په توګه، ســـرمحقق زلمی هېوادمل د رهبرۍ هيئت د غړي او د ټولنې د ټولو علمي پروژو او د وفا اخبار د علمي او تخنيکي چلوونکي په توګه.

۲- د مشـــاورانو ډله: د ټولنې د رهبرۍ هيئت لپاره د مشـــاورانو يوه ډله هم ټاکل شـــوې ده، چې په هغوکې مېرمن نينســـي دوپري، اوتريشـــي ډاکتره پېغله ايولن او- شامل دي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څوک چې ځانونه په افغانستان کې مشران کڼي، دوی افغانانو نه دي ټاکلي، بلکې نورو پر افغانانو تحمیل کړي دي

د (۱۹۹۷م) کال د مارچ د میاشتې پر څلورویشتمه نېټه د مازیګر پر څلورنیمو بجو د صوبه سرحد کورنر ریټایرډ جنرل محمد عارف بنګښ د افغانانو په هغه غونډه کې ګډون وکړ، چې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د کنفرانسونو په تالار کې جوړه شوې وه. په دې غونډه کې منورو افغانانو، لیکوالو، شاعرانو (چې ښځې لیکوالې او شاعرانې هم په کې شاملې وې) د افغانستان د تفاهم او ملي یووالي شورا د مشرۍ هیئت، قومي مشرانو او پخوانې قومندانانو او د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د رهبرۍ هیئت او غړو په کې ګډون کړی وو.

له کورنر جنرل بنګښ سره صوبه سرحد چیف سکرتر ښاغلی رستم شاه مومند، د صوبه سرحد هوم سکرتر د افغان مهاجرینو کمیشنر او ځینې نور موظفین هم راغلي وو.

د غونډې په پیل کې مې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د مشر په توګه راغلو مبلمنو ته ښه راغلاست ووایه او خپله وینا مې داسې پیل کړه:

ما دمخه هم د صوبه سرحد له ښاغلي کورنر سره لیدلي و او دا مې هیله وه چې دی په پېښور کې د مېشتو افغانانو د اقشارو له نمایندګانو سره وګوري او

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان پر مسله ورسره خبرې وکړي. ښاغلي ګورنر زمورې دا غوښتنه ومنله او دا دی نن يې د افغانانو د مشرانو، لیکوالو، شاعرانو، منورینو او د ځینو نورو فرهنګي او سیاسي موسسو د مشرانو او منصوبینو په غونډه کې برخه اخیستې ده.

تاسې ته معلومه ده چې افغانستان د اسیا په زړه کې یو داسې هېواد دی چې ستراتیژیک موقعیت د خلکو اجتماعي او رواني جوړښت يې هر چاته ښکاره دی. ددې هېواد موقعیت داسې دی، چې هېڅ بېګانه قوت پرې قبضه نه شي کولای او که څوک دا هوش وکړي، نتیجه يې هغه څه راوځي چې د پېړیو په اوږدوکې د غاصبانو او متجاوزو لښکرو له تجاوزه راوتلې ده او د خلکو رواني خصوصیات يې دادي، چې دا خلک لاسپوڅی حکومت نه مني. په داخل او خارج کې مېشت افغانان حکومتونه په دریو کټګوریو وېشي:

۱- دوست حکومتونه

۲- مخالف حکومتونه

۳- لاسپوڅي حکومتونه

په افغانستان کې د یو داسې حکومت منځته راتګ چې هغه له ګاونډیانو سره په مخالفت کې وي، هغه نه د افغانانو په ګټه دی او نه افغانان د مخالفت توان لري او نه يې غواړي.

دغه راز لاسپوڅی حکومت افغانان په هېڅ صورت نه مني، ځکه چې داسې حکومتونه نه خپلو خلکو ته څه ورکولای شي او نه په افغانستان کې سوله او ثبات ټینګولای شي، افغانان یو دوست حکومت غواړي، داسې حکومت چې هغه د بین المللي نورمونو پر اساس د ګاونډیانو او د نړۍ له دولتونو سره

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

روابط ټینګ کړي، له ګاونډیانو سره دوستي او ورورۍ ولري، خو د ډېرې خواشینۍ خبره ده، چې زمونږ ګاونډیان د دوست حکومت په مفهوم ځان نه پوه کوي، د دوست او لاسپوڅي ترمنځ توپیر نه کوي.

همدا علت دی چې دوی خپلې روزلې ډلې افغانستان ته لېږي او د دوی په اصطلاح غواړي د دوی په وسیله حکومت جوړ کړي، چې دا به ګواکې یو دوست حکومت وي، حال دا چې دا خلک د افغانستان خلک پېژني، د دوی ماهیت او صلاحیتونه ورمعلوم دي او په دې پوهېږي چې دوی دوست حکومت نه شي جوړولای.

پاکستان له افغانانو سره په دې اتلسو کلونو کې ډېرې مرستې وکړې، پناه یې ورته ورکړه او د همدې انساني مرستو له امله افغانانو وکولای شول، چې د مقاومت صفونه پیاوړي کړي او د نړۍ یو ستر قدرت ته ماتې ورکړي، خو د افغانانو ګیله دا ده چې د جهاد او مقاومت له بریالیتوب وروسته افغانان خپل اختیار ته پرېنښودل شول، چې د خپلو منلو عنعنو له مخې خپل مشر او خپل سرنوشت وټاکي. مونږ له تاسو هیله لرو، چې د افغانانو دا اواز پاکستاني مشرانو ته ورسوئ او افغانانو سره دوی ته د دوی د مشروع حق ورکولو کې مرسته وکړي. اوس زه نوبت نورو افغانانو ته ورکوم، چې دوی خپلې خبرې وکړي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانها باید بجای مسایل گروهی و منطقه یی در باره افغان و افغانستان باندیشند

دا وینا د (وفا) جریدې په (۱–٤) مه ګڼه کې د (۱۳۷٦ل) کال د ســلواغلې میاشتې پر (۱۱) مه نېټه خپره شوې ده.

د ایران د اصفهان په کنفرانس کې د پوهاند رسول امین وینا:

بسم الرحمن الرحیم

مجاهدین بزرگ، برادران عزیز!

از همه اولتر بحضور برادرم کوشکی صاحب به عرض میرسانم: جلسه راکه شــما در باره اعاده صــلح در افغانســتان دایر فرموده اید، قابل تحســین و ستایش فراوانی بوده. درست زمانی دایر شده است که مسله افغانستان و ضعیت غیر عادی را به خود اختیار نموده است. همینسان ازکشور همسایه ما - ایران– که در تدویر این سیمینار دست پیشی نموده - اظهار سپاس قلبی میدارم.

طوریکه ازگفته های مجاهدین بزرگ و علمای کرام اشــکارگردید، نه تنها مجاهدین، بل همه افغانها تشنه صلح و خواهان هر چه زود تر، تامین صلح سراسری درکشور شان استند. این که چرا درکشور جنگ زده ما صلح تامین نمیشــود عوامل گوناگون مانع برقراری صــلح می گردند و من نمی خواهم در این کوتاگفتار به همه این عوامل پیچیده اشــاره کنم. همانســان که

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جناب ایت الله محسنی در بیانیه شان به ان اشاره کرده اند، مجاهدین و سران آن از دوران جهاد گرفته تا هم اکنون به سهوه شان و به خطاهای شان اعتراف نمیکنند. اما مردم دیگر اگر جلسه را دایر مینمایند به ارزیابی آن می پردازند، پهلوی های خوب و کاستی های آن را نشان میدهم، ولی ملت ما که جهاد حماسه سازی را براه انداخت ابر قدرتی را به زانو در اورد و جهاد را جانبازانه به پیروزی رساند، متاسفانه کسی به ارزیابی این جهاد قهرمانانه نه پرداخت و تا امروز ارزیابی درست نشد. ولی بالمقابل بدگوی ها و دشنامهای زیاد رد و بدل گردیده اند، کتاب ها و برگ های رسانه های گروهی مملو از این گونه ناسازاگفن ها است. درست به یاد دارم در سال ۱۹۸۰م در دنمارک سیمینار فرامون مسله افغانستان -که تازه مورد تجاوز قیشون سرخ قرار گرفته بود- دایر شد. در این گردهمایی متخصصان افغانستان و مسایل افغانی از چهار گوشه جهان حضور به هم رسانیده بودند و من هم در این سیمینار اشتراک داشتم. اشتراک کننده گان خارجی سیمینار همه باورمند بودند که از افغانستان باید دست بشویم، این کشور جز خاک شوروی گشت، چون انها از روان مردم ما، از ساختار اجتماعی کشور و ارزش های ملی و عنعنه یی مردم ما آگاهی کافی نداشتند، با تجاوز یک ابر قدرت به یک کشور کوچک این مسله را مسلم میپنداشتند که افغانستان دیگر هویت و حیثیت اش را از دست داد و حتی تصور آن راکرده نمیتوانستند که یک مملکت فقیر با یک ابر قدرت و نیروهای آن مقاومت خواهد کرد. اما من با باور کامل در همان کنفرانس اظهار داشتم که این جنگ تنها جنگ بین افغانها و شوروی ها نیست، بل این جنگ، جنگیست بین دو ساختمان اجتماعی و دو اندیشه افغانی و کمونیستی. من در گفته های خود افزودم- انچه را به حیث یک شاگرد جامعه افغانی از مردم خود از روان شان

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

و خواسته های شان اموخته ام - به شما به عرض میرسانم و آن اینکه: مردم ما مسلمان استند، اسلام و ارزشهای اسلامی در رگ و پوست شان جا گرفته، اساسات این دین مقدس با ارزشهای ملی و عنعنی شان چنان امیزش یافته است که در بسی موارد ارزشهای عنعنه یی را از رهنمود های اسلامی تمیز کرده نمیتواند. افغانها که به خداوند واحد عقیده دارند، کمونیزم او اندیشه های کمونیستی را بنام ائین الحادی میشناسند و هرگز آن را نمیپذیرند، از سوی دیگر ویژه گیهای روانی و ساختار آن ها با دیکتاتوری استبداد سلطه بیگانه گان سازگاری نشان نمیدهد. انانکه از ساختار روانی و اجتماعی افغانها آگاهی دارند، میفهمند که افغانها دیکتاتوری خانواده ها، ملک روستا، خان منطقه و رهبر را نمیپذیرند، حکمران که به زور سر نیزه بر انها حکومت میکنند، در باره اش قیام میکنند. تاریخ افغانستان گواه است، اگر شهزاده بی زور شمشیر خود را بر مردم افغانستان تحمیل نموده، خیزشهای در برابر او سر بالا کرده اند.

نکته دیگری که با روان و ارزشهای ملی افغانها بسته گی دارد این است که افغانها از سلطه بیگانه و دست نشاندگان اجنبی نفرت دارند.

برادران عزیز!

ایا ما این موضوع را به بررسی گرفته ایم که چرا ملت ما علیه سلطه تره کی، امین و کارمل– که یکی شان روس نبودند– به پا خاستند و خیزشهای سرتاسری را در سراسر کشور قوام دادند. ملت ما به خاطری تره کی، امین، ببرک و نجیب را نپذیرفتند، که انها یک ساختار حکومتی بیگانه، سلطه بیگانه گان و یک ایدیولوژی بیگانه را به ملت ما تحمیل میکردند.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

با دریغ باید یاداوری کرک که وضع سیاسی درکشور ما طوری تکامل نمود که با شرایط کشور ما سازگار نبود، سیاستی که بار نخست چهره افروخت بازیگران آن چپیها بودند، چپیهایی که نه به خدا(ج) عقیده داشتند و نه به ارزشهای ملی و عنعنی و نوامیس ملی به ارزشی قایل بودند و باورمند بودند که ایدیولوژی کارگری یگانه ره گشاییست که سراسر جهان را تسخیر میکند و سیاه بختان جهان را از بد روزی نجات میدهد.

در همان دورانی که استبداد کمونستی درکشور ما بیداد میکرد در جبهه مقاومت نیز احزابی عرض وجود نمودند و پرچم مبارزه را علیه بیدادگران کمونست و حامیان خارجی شان و نیروهای متجاوز بلندکردند، اما به صراحت باید گفت که در این احزاب نیز حزبی عرض وجود نکرد که اندیشه ها و کارکردهایش از ویژه گیهای اجتماعی افغانها و ارزشهای ملی مردم آن مایه گرفته باشد.

احزاب و گروههای کمونیستی، سران قومی و روحانیون را به نام فیودالان و کهنه پرستان؛ درسخوانده گان و منورین را به نامهای مرجعین و غربزده گان و ملیگراها را به نام تنگنظران و کوتاه اندیشان میکوبیدند. کوتاه این که میگفتند کسی با ما است از ماست و اگر کسی با ما نیست دشمن ماست و جنگی را به نام طبقه و ایدیولوژی علیه همه یی مردم افغانستان به راه انداختند.

افغانها ارزو داشتند که روشهای به گزینش گرفته مجاهدین و برخوردهای انان با مردم افغانستان باید عکس روش گزیده کمونستها باش، اما متاسفانه در عمل دیده شد که مجاهدین نیز سیاستهای شان را چنان عیار کردند که عملکرد شان در بسی جهات با روشهای کمونستها همسویی نشان میداد.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانها مجبور بودند و از این مجبوریت انها کشورهای کمک دهنده سودهای فراوان برداشتند و این روش کمک دهنده گان ویا حمایتگران روشن ساخت که هیچ کشوری بالای گروهی یا گروههای عندالله و عندالرسول سرمایه گذاری نمیکند، بل چیزی راکه میدهند استفاده دو چند از ان را توقع دارند. انچه در این ارتباط در این جا ایران– و ان جا - پاکستان– رخداده است عیان به همه گان است و نیاز به بیان بیشتر ندارد، ما از دور و برون نگاه میکردیم و شما از درون گواه این همه رخدادها بودید.

خوب به یاد دارم چند سال پیش در ان زمان نجیب الله درکابل حاکم بود– کنفرانس بزرگ از علمای اسلامی در اسلام اباد دایر شد و اموضوع ان این بود که چگونه حکومت اسلامی در افغانستان به وجود بیایید؛ ویژه گیهای ان چه خواهد بود؟ من در همان روز نقشه پاکستان را روی دیوار گذاشتم و به دوستان گفتم: محمد بن قاسم تا این منطقه سند– غرض پخش و نشر دین مقدس اسلام– امده بود. شمار لشکریان و تجهیزات جنگی اش را برشمردم و افزودم: محمد بن قاسم تنها تا همین محدوده رسید، در مطباقی هندوستان پخش و نشر اسلام از سوی افغانها صورت پذیرفته است. از دوران سلطان بزرگ غزنه گرفته تا دوران احمدشاه ابدالی در مدت حدود بیش از هشت صد سال افغانها برای نشر و پخش دین اسلام در سرزمین پهناور هند روی اوردند، هزاران کشته و زخمی دادند تبلیغ تلقین و کار خسته گی ناپذیر صوفیایی افغان بود که دین اسلام در سراسر شعبه قاره هند پخش شد. افزون بر آن ما شخصیت های اداری به هند داده ایم. نیاکان مسلمانان امروزی هند و پاکستان و بنگله دیش از سوی افغانها مسلمان شده اند. انانکه نیاکان شان را افغانها مسلمان کرده اند امروز حق خواهند داشت با ما اسلام باموزانند نمونه های حکومت اسلامی را با ما توصیه نمایند؟ همه افغانها بخاطر دارند

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمدشاه د افغانستان سیاسي، عسکري، اقتصادي او اداري سمون ته ملا وترله. ده د حکومت کولو چارې په مشوره او جرګه سرته رسولې، د مختلفه قومونو مشرانو ته یې لوړ منصبونه ورکړل، د هر قوم مشر په خپلو داخلي چارو کې ازادي درلوده او په واقعیت کې احمدشاه په مساوي خلکو کې د لومړي شخص حیثیت درلود چې په نتیجه کې د احمدشاه دکورنۍ حیثیت، د هغه فطري قابلیت، د قوم په روحیه پوهېدنې، د خلکو په مشوره او ملاتړ خپل سیاسي او عسکري چارو ته پراختیا ورکونې، د یو پوځ صوفي مسلمان افاقي نظر او د قوم او وطن سره د ژورې مینې په وجه زلمی احمد خان،

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمدشـاه شـو، د احمد شـاه نه لوی احمدشـاه او د لوی احمدشـاه څخه د احمدشاه باب لوړ مقام ته ورسېد.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان برای عملی شدن و موفقیت طرح پلان صلح ملل متحد اماده گردیده است

دا وینا د (وفا) جریدې په (٦٦) مه ګڼه کې د (١٣٧٢ل)کال د میزان میاشتې پر (٣)مه نېټه خپره شوې ده.

(فلکس ارمکورا) نماینده خاص ملل متحد برای ارزیابی وضع حقوق بشر در افغانستان به هیئت معیتی اش به تاریخ ١٧ سپتمبر سال (١٩٩٣) میلادی با عده از افغانان در مقر اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد ملاقات نمود. در این مجلس منورین، تعلیمیافته گان، مشران قومی وعلمای افغان اشتراک نموده بود، قبل از اغاز مجلس پروفیسور عبدالرسول امین رئیس اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد شاملین مجلس را به پروفیسور ارمکورا و همراهانش معرف کرد.

پس از معرفی شاملین مجلس و سخنان خوش امدید پروفیسور امین فلکس ارامکورا نخست همراهانشان را به حاضرین معرفی داشت و به ادامه آن افزود: من از پروفیسور عبدالرسول امین اظهار سپاس و قدردانی مینمایم، که زمینه ملاقات به منورین، نویسنده گان، موسفیدان، مشران قومی و علماء افغانی را برایم مهیا ساخت. من خوشنود هستم، که اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد، منورین، نویسنده گان و مشران قومی بادرد را دور خود جمع نموده و با احساس نیک افغانی در باره وطن شان مشغول کار و فعالیت هستند.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

در پاسخ به پرسشهای طرح شده پروفیسور فلکس ارامکورا، پروفیسور عبدالرسول امین رییس اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد چنین گفت: به نظر من طرح سابق ملل متحدکه در آن زمان از سوی بازی ها سبتوتاژ گردید و زمینه عملی شدن نیافت، علت اش این بود، که بازی ها گمان میکردند تنظیمهای مجاهدین وضع را در افغانستان بهبود خواهد بخشید، وصلح سراسری را تامین خواهد نمود، اما انها طوریکه حدس میزدند همانسان نشده حکومت نجیب سقوط کرد، تنظیمها به کابل و سایر مناطق افغانستان چیره گشتند اما طی مدت یکسال و نیم وضع از بد بدتر گردید، افغانها و افغانستان همه هست و بود خود را از دست دادند. آکنون بعضی از تنظیمهای جهادی نیز واقعیتهای موجود و حاکم بر جامع را درک نموده اند و میفهمندکه به تنهای کاری از تنظیمها ساخته نیست. اقای حکمتیار ضمن بیانیه شان در مراسم افتتاح پوهنتون کابل گفت: حکومت فعلی افغانستان حکومت نیست، صدراعظم باید استعفی بدهد. تصورات حامیان، تنظیمهای جهادی نیز در مورد افغانستان، و موقف تنظیمها در آن کشور تغیر یافته است. بنا بر دلایل بالای و دها دلیل دیگر طرح ملل متحد در باره صلح افغانستان آکنون زمینه عملی شدن دارد و ملل متحد باید با درنظرداشت. احوال و اوضاع موجود و نافذ درکشور برای عملی ساختن طرح خود با قوت اجرایی و حمایت شورای امنیت و ارد صحنه شود.

پس از سخنان پروفیسور امین بعضی از شرکت کننده گان چشم دیده های شان را به ارتباط انچه در افغانستان جریان دارد، با پروفیسور را ارامکورا ارایه کردند و مجلس در فضای صمیمیت ساعت دوی بعد از ظهر ختمه پذیرفت و در اخر پروفیسور ارامکورا از تمام شرکت کننده در مجلس ابراز امتنان و تشکر کرد.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکز مطالعات افغانستان کشایش یافت و به کارش آغاز کرد

دا وینا د (ازاد افغانستان) جریدې په (۱) ګنه کې د (۱۳۷۷ل) کال د وري یا حمل میاشتې پر (۷)مه نېټه خپره شوې ده.

شام روز ۱۸ حوت سال ۱۳۷۶ هـ.ش مطابق ۹ مارچ ۱۹۹۸م مرکز مطالعات افغانستان طی محفل در هوتل پرل کانتیننتل پشاور گشوده شد.

در این محفل شماری از دانشمندان، استادان، نویسنده گان، شاعران، شخصیت های اجتماعی و سیاسی افغان، سردار مهتاب احمدخان وزیر اعلی صوبه سرحد، بناغلی رستم شاه مومند چیف سکرتر حکومت صوبه سرحد و گلزار خان کمیشنر مهاجرین افغان در پیشاور و همینسان شماری از دانشمندان شخصیتهای اجتماعی، سیاسی و فرهنگی پشاور شرکت ورزیده بودند.

پروفیسور عبدالرسول امین رئیس مرکز مطالعات افغانستان بیانیه مفصلی ایراد کرد. پروفیسور امین در بیانیه خود درباره دشواری های حالات غم انگیز امرزین افغانستان و مردم آن گفته های داشت. پس از آن در باره با میان امدن اتحادیه نویسنده گان افغانستان سخن گفت و از موسسات ابراز سپاس نمود که این اتحادیه را طی دوران فعالیت اش تمویل مالی نموده بود. همینسان او نیازمندی ها و اهداف مرکز را بیان داشت و درباره حل مسایل امروزین افغانستان نیز اشاره های داشت. در جای از بیانیه پروفیسور امین

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

امده اســـت. اکنون باشـــنده گان هر کشـــور پیش از همه پیرامون حق تعین سرنوشت کشور شان می اندیشند. مردمان کشورهای گوناگون با همسایه گان شان خواهان روابط دوستانه اند، نه اینکه روابط شان متکی با چال بازی و فریب باشند.

پروفیسور امین در پایان بیانیه از کشورهای ایران و پاکستان خواست تا در راه استقرار صلح پایدار در افغانستان با افغانها همکاری صادقانه نمایند.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د مطالعاتو مرکز په پرانیستونکې غونډه کې د مرکز د مشر پروفیسور امین وینا

دا وینا د (ازاد افغانستان) جریدې په (۱) ګڼه کې د (۱۳۷۷ل) کال د وري یا حمل میاشتې پر (۷)مه نېټه خپره شوې ده.

ډېر محترم جناب سردار افتاب احمدخان د صوبه سرحد وزیر اعلی، درنو مېلمنو، خویندو او ورنو السلام علیکم!

مورِ د ازاد افغانستان د لیکوالو د ټولنې (وفا) غړو او مشرتابه لپاره ډېر د ویار ځای دی چې جناب وزیر اعلی او تاسو ټولو خپل قیمتي وخت د افغانستان د مطالعاتو د مرکز د پرانیستو د نن ورځې غونډې ته اختصاص کړ. لازمه ده چې ووایو زمورِ هېواد د خپل تاریخ د یو ستراتیژیک پراو ځخه تېرېږي. د ۱۹۷۸م کال د اپریل راپدېخوا مورِ افغانان د چپیانو او بیا وروسته د شوروي ځواکونو او د هغو د پردیو ایډیالوژۍ او اشغال په مقابل کې وجنګېدو. د دې سختو اوږدوکلونو په جریان کې افغانان د کین او بښې افراط قرباني شول او مورِ افغانانو پرته له تراژیدیو بل هېڅ ونه لیدل، چې داسې پېښې د بشر په تاریخ کې ډېرې لږ لیدل شوي دي. د جنګ په کړکېچنو شرایطو کې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه (وفا) د ۱۹۸۵م کال د مارچ په میاشت کې جوړه شوه. دا مهال د افغانانو ستر جهاد روان و. وفا د ډېر مشکل دوران له غوښتنو سره مخ شو. دا وخت ځینې افغاني روښانفکران له دیکتاتورۍ، سیاسي انحصار، بهرني اشغال او تبعیض پر وړاندې ودرېدل. د کین او بښې ارخ افراطیونو یو ځای د هر ډول اواز د خاموشه او خفه کولو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره مشترکه اجنډا درولوده. په داسې سختو او له وېرې څخه ډکو وختونو کې دا د لیکوالو ټولنه وه چې ویې کړای شول، حرفه یې کسان، متخصصان او سکالران د سولې، پلورالیزم، وندې اخیستنو، دموکراسي، د بشري حقونو او د بیا جوړونې د عالي هدفونو د تحقق لپاره سره راغونډ کړي او د یو ګډ پلاټ فورم لاندې د شخړې بېلابېل اړخونه تر بحث او تحلیل لاندې راونیسي او د افغاني لانجې د غوټې د خلاصولو لاره وموميي. د دې هدف لپاره د لیکوالو ټولنې ګڼ ملي، سیمه ییز او نړیوال سیمینارونه، کنفرانسونه او سمپوزیمونه دایر کړل، دوه - دري میاشتنی مجلې Wufa په انګلیسي ژبه، خپلواکې په پښتو او دري ژبو، د وفا اوونیزه، په پښتو، دري او انګلیسي کې کتابونه او برشورونه نشرول. له دې سره سره د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې غړو په زیاتو نړیوالو سیمینارونو کې چې په ګڼ شمېر هېوادونو کې دایر شول، ګډون وکړ، له ملګرو ملتونو له استازو، بهرنیو سکالرانو، ژورنالیستانو او ډیپلوماتانو سره یې د افغانستان د وضعې په اړوند د فاکټونو او ارقامو په راټولولو کې مرسته وکړه.

د وفا ټول فعالیتونه د یوې بې طرفې، ازادې، غیر انتفاعي او ثبت شوې موسسې په توګه په پخواکې د امریکې د متحده ایالاتو د NED ، د امریکې د متحده ایالاتو د اطلاعاتو د خدماتو د مرکز د USIS ، د المان د KAF، د ډنمارک د DCA او د پېښور د صوبه سرحد د افغان مهاجرینو د کمېشنرۍ له خوا په مالي لحاظ تامین شوی دی. اوس NED د کتابونو او بروشورونو د نشر له پروژې سره مرسته کوي، د وفا د ټولو فعالیتونو لپاره مالي مرسته په تدریج سره ودرېدلې ده. د وفا منشور چې د کابل د ګوډاګي رژیم او د شوروي د اشغال پر ضد جوړ و، د جهاد له غوښتنو سره یې سمون درلود. اوس چې شورویان ډېر پخوا تللي دي او د شوروي ګوډاګي رژیم هم سقوط

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی دی، نو اوس د دغه منشـــور یوه زیاته برخه زړه شـــوې ده او نور له موجوده وضـعې سـره تطابق نه لري، نوې وضـعه نوي اهداف رامنځته کوي، څو چې د افغانســتان او حتا به پراخه پیمانه په ســیمه کې د ســترو مســلو او جریاناتو لپاره نوی تفکر ترســره شـي. همدا اســاسـي وجه ده چې وفا باید په نوي نوم یانې د افغانسـتان د مطالعاتو د مرکز په نامه ونومول شـي، څو چې د افغاني ټولنې د راتلونکو کلونو د نویو غوښتنو او تقاضـو سـره سـمون ولري. اجازه راکړئ چې د افغانستان د مطالعاتو مرکز اساسي استقامتونو او دندو په اړوند په لنډه توګه څو کلیمې عرض کړم.

اساسي هدف دا دی چې یو داسې مطالعاتي او د ریفرنس مرکز جوړ شي، چې په هغه کې افغاني اکاډمیسنان، سکالران، ماهران او متخصصان د یوګډ فلاټ فورم ګډې اجنډا لاندې راغونډ شـــي، څو چې د ســـولې د ویجاړو ټولنیزو، اقتصـادي، فرهنګي اوسـیاسـي موسـســو او بنیادونو د بیا جوړونې د واقعي دموکراتیک ســیســتم لپاره - چې په افغاني عنعناتو او دودونو ولاړ وي–کار وکړي. د افغان د مطالعاتي مرکز (ا.م.م) نور ستر استقامتونه دا دي:

- د مختلفو پرمختیایي ســاحو او د اکاډمیکو او فرهنګي فعالیتونو د تبادلې لپاره د ټریننګ د تازه اسانتیا رامنځته کول.
- د خپل هېواد او نورې نړۍ د پرمختیاوو په هکله ځوان نسل آګاهي او خبرتیا.
- د افغانســتان په اړوند د ملي او نړیوالو سـیمینارونو، کنفرانســونو او نورو غونډه انعقاد.
- د افغاني ټولنې د ښلابښلو اړخونو په اړوند د ریســرچ دکار ســرته رسول.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په یو مشـــورتي چوکاټ کې له راتلونکو ضـــرورتونو ســـره ســـم، پرمختیـایي پروګرامونو لپـاره پـه ببلابېلو برخو کې، د کومـک ورکوونکو فعالیت.

ډېر محترم وزیر اعلی، خویندو او وروڼو!

تاســو ټول له هغو ډراماتیکو بدلونونو څخه خبر یاســت، چې له ســاړه جنګ څخه رامنځته شــوي دي. دا بدلونونه د مرکزي اسـیا او هغو ســره د جوخت پرتو هېوادونو لپاره پرته له شکه دورنمایي عواقب لري. دا بدلونونه د نړۍ د دې برخې او همدغه شــان د نورو ســیمو د ســکالرانو او پوهانو لپاره نوې تقاضاوې او غوښتنې رامنځته کوي.

لومړنی مسـله چې ورسـره مخامخ یو، هغه دا ده چې زمونږ د هېوادونو واقعي ستونزې څه دي؟ هغه به څنګه په هوښیارۍ سره په کومو لارو او طریقو سره حل شـي؟ کله به د منځنۍ اسـیا ولسـونه او نور د خپلو هېوادونو پرابلمونه او مسلې حل کړای شي؟ تر دې وروسته به مونږ د دې توان ولرو، چې د هغو د حل لپاره ســم فارمول ومومو. د دې مقصــد او هدف لپاره د ســیمې روښـانفکران باید په سـمه لاره خپل د پوهې طاقت په کار واچوي. دا اوس د سکالرانو مسولیت دی، چې په دې پوه شي چې زمونږ منفردکار، ځانګړې او ګډې ســتونزې کومې دي او څنګه کېدلای شــي چې د دې ســتونزو د حل له لارې زمونږ ملتونه راغوندکړای شــي، هغه قومونه چې لا تراوســه هم په انفرادي ډول د خپلو ملي هدفونو لپاره د نورو ملي ګټې تر پښو لاندې کوي. په اوســني دوران کې ایډیالوژیکي، فرهنګ یاو مذهبي قیودات زاړه او وخت پرې تېر شوی دی او مونږ باید دې پوهې ته چمتو شو چې نن څه پېښېږي او ســبا ورځ بـه څـه عواقب او حالات رامنځته کېږي؟ مونږ په ډېره چټکه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بـدلبـدونکي نړۍ کي ژونـد کوو او د مـداخلي، ډامښنشـــن، محکومیـت، دیکتاتوري، تبعیض، تفنن او اســتعمار وخت اوس تېر شــوی دی. اوس د هر هېواد خلک تر پخوا څخه زیات د خپل هېواد د سـرنوشـت د ټاکنې د حق په اړوند فکر مند دي. د بېلابېلو هېوادونو خلک له خپلو ګاونډیانو ســره نېک او دوســتانه اړیکي غواړي، نه دا چې د تظاهر او د چل او فریب اړیکي وي. دا زمونږ د پوهانو لپاره یو تحرک دی چې د ګډو ګټو او ښــه والي لپاره خپلې جوړونکي هلې ځلې په کار واچوي. دغه جوړونکي هلې ځلې باید زمونږ د ټولنو د اصلي اړتیاوو او ټولنیزو سایکالوژۍ سره سمون ولري. ریفورمونه او بدلونونه هر ځای او په ځانګړي ډول زمونږ په ســیمه کي د پاملرنې وړ دي او د دې لپاره د ټولو هغو کســانو مرســته ضــروري ده، څوک چې د ســولې، همکارۍ، ترقۍ، ســوکالۍ او د ګاونډیانو ســره د دوســتانه اړیکو مفکورې ته قایل دي.

د مرکزي اســیا د ټولو هېوادونو او نورو لپاره زیات امکانات اوس رامنځته شوي دي. په تېره بیا د سوداګرۍ، ټکنالوژۍ، ښوونې او روزنې او فرهنګ په ډګرونو کې. زه فکر کوم چې د راتلونکي همکارۍ محتوا بـاید د ســولې، دوستانه اړیکو د ټینګښت او د خلکو د ژوند د معیار د پورته کولو پر اساس ولاړه وي. هغه نکات چې په راتلونکي وخت کې به د افغانســتان د مطالعاتو مرکز خپل فعالیت وربانديِ متمرکز کړي، دا دي:

الف: د سیمې د هېوادونو، د ځمکنۍ تمامیت او ملي حاکمیت پوره احترام.

ب: د مرکزي اسیا د هېوادونو ترمنځ د فرهنګي، ټولنیزو، اقتصادي، تجارتي، تعلیمي او ټکنالوژي همکاریو پراختیا.

ج– همکاري او د یو بل په کورنیو چارو کې عدم مداخله.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د– په يو بل باندې د سياسي او سياسي سيستم عدم تحميل او..

هـ: مذهبي، ايډيالوژيکي او فرهنګي عدم تحميل.

دا به پرځای وي چې د دې يادونه وکړم، چې ګاونډي مسلمان هېوادونه دا دنده او مکلفيت لري، چې په صادقانه توګه له افغانانو سره د دوی په جنګ ځپلي هېوادکې د امنيت او سولې په راوستلو کې بې درېغه مرسته وکړي. په افغانستان کې بايد سولې ته ارجحيت ورکړل شي، د پاکستان او ايران خلک بايد په افغانستان کې د سولې د قوام او ټينګښت لپاره راپورته شي، لکه چې د بهرني اشغال پر ضد زموږ په جهادکې دغه کار ترسره کړی دی. نو په دې توګه به يو سوله ييز او دوست افغانستان په واقعي ډول خپلې سرحدي پولې د ټولو سره د همکارۍ او دوستانه اړيکو لپاره خلاصې کړي. د افغانستان د مطالعاتو د مرکز د انعقاد په مناسبت په دې غونډه کې ستاسو له ګډون څخه د زړه له کومې مننه کوم.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبان باید برای تدویر لویه جرگه و تشکیل حکومت ملی ابتکاری از خود نشان بدهند

دا وینا د (ازاد افغانستان) جریدې په (٦) ګڼه کې د (١٣٧٧ل) کال د وړې پر میاشت خپره شوې ده.

جریده ازاد افغانستان به منظور ارزشیابی رخداد های که در یکی دو ماه اخر در افغانستان بوقوع پیوستند و همینسان تحلیل وضع سیاسی، نظامی کشور در شرایط کنونی، بشماری از شخصیت های سیاسی، اجتماعی افغانستان دعوت داد، تا در این زمینه ها نظر شان را ابراز نمایند.

درکروه دعوت شده: پروفیسور عبدالرسول امین، رئیس مرکز مطالعات افغانستان نیز شرکت کرده بودند.

پروفیسور عبدالرسول امین:

مساله افغانستان را در این برهه زمان ما میتوانیم به دو بخش از هم جداکنیم، یکی بخش نظامی و دیگری هم بخش سیاسی. چنانکه به همه ما و شما اشکار است پیش از ظهور طالبان در دوران سلطه تنظیم ها در هر ده و روستا، در هرکوچه و بازار و در علاقه داری، ولسوالی بلاخره در همه اطراف و اکناف کشور هزاره ها مرجع قدرت وجود داشت و به اصطلاح قومندان سالاری، تفنگدار سالاری بر تمام کشور حکم میرند.

تحریک طالبان برای از بین بردن این همه مراجع قدرت و اعمال نفوذ و مرکزیت بخشیدن به افغانستان، کارهای انجام داد و به سر رساندن این معمول جز از کزینش نظامی چاره دیگری نداشت. همه ما و شما اکاهی

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

داریم که ملل متحد، چندین بار برای حل سیاسی قضایای افغانستان طرح ها و برنامه های را به پیش کشید. اما این همه طرح ها و برنامه ها عملی نشدند و صد راه عملی شدن آن انانی بودند که قدرت دولتی در اختیار شان بود و به حل نظامی قضیه باورمند بودند. به بیان دیگر انانکه به جنگ و ستیزه جویی باور دارند انها جنگ را یگانه وسیله حل قضایا میدانند و زبان دپلوماسی و حل سیاسی قضایا را نمیدانند. همانسان که دوکتور بورگی در سخنان شان به آن اشاره کرد، ظهور طالبان عکس العمل بود، در برابر اعمال ناشایسته، اداره تنظیم ها، اکثریت افغانها در بخش نظامی کارکردهای اداره طالبان را تائید میدارند، و میگویند اگر طالبان در این شرایط مواجه به شکست شوند افغانستان دچار خانه جنگی مدهشی خواهد گردید. و اما در بخش سیاسی بایستی با توجه و دقت ویژه مسله را ارزشیابی قرارداد. همه افغانها آگاهی دارند که طالبان در اغازین روزهای ظهور شان میگفتند که ما مامور تامین امنیت، گرداوری سلاح ها و باز نمودن راهها و شهراه ها و دفع شر و فساد استیم و پس از ختم ماموریت ما دوباره به مدرسه ها میرویم. اما طوریکه در عمل دیده شد، پس از پیشرفتها و زیر تسلط اوردن شهر ها طالبان وعده های پیشین شان را فراموش کردند، انها اکنون خود مدعی حکومتداری و حکمرانی استند و دوباره به مدارس نمیروند. اگر شیوه حکومتداری طالبان نیز مانند رژیم های پیشین– متکی به ایدیالوژیها چپ و راست– بر اساس اعتماد بر اعضای حزب استوار باشد و اینان نیز همه کار ها را به طالب بسپارند و از مردم افغانستان و کارمندان دولتی افغانستان کار نگیرند و از صلاحیتهای شان سود نبرند، اینان نیز با مقاومت مردم رو برو میشوند و حتماً روبرو میشوند.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اگر احیاناً فکر شـودکه طالبان از نرمش کار خواهندگرفت. در این صـورت پرسش که در ذهن ادمی سربالا میکند این خواهد بودکه طالبان شریعت را به حیث سیستم پذیرفته اند، ایا در دایره این سیستم ازادیهای فردی، اجتماعی، سـیاسـی، ازادی بیان، برنامه های رشـد اقتصـادی، اجتماعی و فرهنگی همینسـان برنامه اموزش و پرورش و تحصـیلات عالی دختران و پسـران و جوانان گنجایشـی دارد، ایا به گروههای سـیاسـی و نهاد های اجتماعی - فرهنگی اجازه فعالیت ازاد داده خواهد شد؟ بنا بر آن و دشواریها را به مردم وکشور افغانستان ایجاد نکند و از خاک افغانستان برای اموزش تروریستها کار نگیرند.

پروفیسور امین:

زمانی روسـها برکشـور ما یورش اوردند و افغانها علیه تجاوز شـوروی ها با مقاومت اغازکردند، در آن دوران امریکا یگانه سیاست راکه به پیش گرفته بود ضربه زدن به روسها واضمحلال آنان بود. امریکا برای براورده سازی این هدفت گروههای عرب و عجم را با افغانسـتان داخل نمود و امریکا با افغانها تا سـرحدی جنگ به روسـها علاقمندی نشـان داد و به حل سـیاسـی مسـله افغانسـتان تا هم اکنون علاقه نگرفته اسـت و نه کمکی به انان نموده است. همین عدم علاقه مندی امریکا - با مسایل سیاسی افغانستان - بودکه مسـله افغانسـتان در اختیار بنیادگراها قرارگرفت، احزاب وگروههای که در پاکستان و ایران ساخته شده بودند برنامه یکی از آنها از روان مردم و ساختار اجتماعی - فرهنگی مردم افغانستان مایه نمیگرفت به همین اساس اشخاص و افرادی مانند اسامه به افغانستان امدند و جاگزین شدند.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

آگر امریکا واقعاً به پهلو های سیاسی مسله افغانستان فکر میکرد و در تشکیل یک حکومت ملی افغانها را یاری میرساند، دشواری های از این ناحیه امروز وجود نمیداشتند. این‌که امریکه بیدون نظرداشت به روحیه و عنعنه افغانها، خاک افغانستان را هدفت موشک های خود قرار دارد، موشک پراکنی راه حل قضیه نیست و افغانها با اینگونه حملات موشکی عکس العمل نشان میدهند. افغانها حمله و یورش بیگانه را به‌کشور شان نمیپذیرند ولو این یورش از سوی هرکشوری باشد. افزون از اسامه، ما دیدم‌که پس از سقوط‌کمونستها رژیم های‌که در افغانستان به وجود امدند همه شان افراطی بوند، جنگهای عرب و عجم را به‌کشور ما اوردند و به خاطر منافع بیگانه خون هزاران هزار هموطن ما را ریختاند و گروههای جنگی و اجیر شان را بخاطر جنگ و ادم‌کشی با اذربایجان و بوسنیا فرستادن. نبود یک سیستم سالم سیاسی اینگونه نا بسامانیها را به بار میاورد. افراد و بنیادگرای منشا تروررزیم و قاچاق مواد مخدر است. تنها و تنها یک سیستم سالم سیاسی و پایدار میتواند جلو تروررزیم و قاچاق و مواد مخدر را بیگیرد.

پروفیسور امین:

آگر ما مسله سیستم و یا نظام اینده افغانستان را مورد بحث قرار میدهم، پرسش در ذهن ما سربالا میکندکه چرا مردم افغانستان خواهان برگشت شاه سابق استند؟ در پاسخ به این پرسش بایستی‌گفته شودکه نظام شاهی خود حیثیت موسسه یی را داشت، و این موسسه بالاتر از مناسبات حزبی، ایدیولوژیکی و مسایل قومی و زبانی بود. همه ساکنان این‌کشور آگر پشتون بودند یا تاجک، ازبک، هزاره، بلوچ و ترکمن خود را افغان میگفتند و افغانستان خانه مشترک شان بود و در این خانه خودشان را مصون حس میکردند. اما بدختانه چپی ها در بین اقوام ساکن درکشور تنشاها و تفرقه ها

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایجادکردند و تعصبها را دامن زدند. اما تجربه نشان دادکه مردم ما طی بیست سال گذشته از خلقیهاگرفته تا دوران سکانداران تنظیمان تسلیم انحصار و دیکتاتوری تک حزبی نشدند. پس ازکودتای ثور افغانستان با کشورهای همسایه اش روابط نیک و حسنه داشت و مسله مداخله مطرح نبود، حکومت افغانستان در امور داخلی کشورهای دیگر مداخله نمیکرد و به دیگران نیز حق نمیدادکه درکشور ما مداخله کنند و در مسایل بین المللی نیز افغانستان سیاستهای مشخص داشت. اگر ما در باره نظام اینده افغانستان می اندیشم به صراحت باید بگویم که در شرایط موجود افغانستان یک حکومت وسیع النظر میتواند بر این همه دشواریها و ناملایمات فایق اید. حکومت وسیع النظر از ساختار داخلی کشور خود آگاهی میداشته باشد و همسایه گان خود را نیز میشناسد و برای رشد اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی کشور برنامه همگون با شرایط طرح ریزی کرده میتواند. شماری از همسایه گان ما وکشورهای ذیعلاقه دیگر همواره از حکومت با پایه های وسیع سخن میگویند و اگر این حکومت از سوی چند تنظیم وگروه تشکیل میشود؟ اعضای این حکومت منافع احزاب وگروههای شان را نسبت به منافع افغانستان مرجع میپندارند و نسبت به افغانستان به رهبرگروهش بیشتر وفادار میباشند، تجربه حکومت تنظیمی در افغانستان این حقیقت را به همه ما و شما روشن ساخت. ما باور داریم هر حکومتی که از سوی خارجیان بالای افغانها تحمیل میشود، موقعیت کسب کرده نمیتواند و نه هم صلح سراسری و پایدار درکشور استقرار یافته میتواند. پاکستان، ایران، عربستان وکشورهای غربی باید این واقعیت را درک کنند، نخست اینها باید بین هم جور اینند و با ملل متحد همکاری نمایند تا از مجاری ملل متحد به همکاری افغانها حکومت قابل پذیرش به مردم، در افغانستان تشکیل شود. این

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت منافع ملی خود و دیگران را در نظر خواهد داشـــت و به همه کشورهای همجوار در شرایط صلح و دوستی به روابط وکارش ادامه خواهد داد.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسله افغانستان در یک مرحله نهایت حساس و جدی قرار دارد

دا وینا د (ازاد افغانستان) جریدې په (۷)مه ګڼه کې د (۱۳۷۷ل)کال د تلې پر میاشت خپره شوې ده.

چهارم میزان سال (۱۳۷۷هـ.ش) مرکز مطالعات افغانستا به شماری از فرهنگیان افغان دعود داد، تا پیرامون مسایل کشوری و فرهنگی با هم تبادل نظر کنند.

پیش از اغاز نشست پروفیسور عبدالرسول امین رئیس مرکز مطالعات افغانستان، فرهنگی نامدار و غزلسرای چهره دست کشور بناغلی محمد صدیق پسرلی را به بحیث رئیس مجلس تعین کرد و مجلس زیر ریاست او به کارش اغاز نمود. نخست پروفیسور امین به شاملان نشت خوش امدید گفت و از تمام فرهنگیان که با اخبار مرکز همکاری کرده اند ابراز سپاس گذاری نمود و پس از آن کوتاه گفتاری پیرامون کتابخانه مرکز داشت.

پروفیسور امین به فرهنگیان گفت: ارزومندم در سال روان کتابخانه مرکز را مجهز و غنی بسازم، در قدم اول کتابهای راگرداوری میکنم که از افغانستان بیرون شده اند و در بازار های پشاور و کویته بفروش میرسند و در قدرم دوم کتابهای راگرد میاوریم که به زبان های خارجی در باره افغانستان نگارش یافته اند. افزون بر ان ما برای سهولت مراجعین، کتابها نه را باکمپیوتر،

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشین فوتوکاپي مجهز و فنی میسازم و کتابدار فنی و کارفهم را نیز استخدام خواهیم نمود.

پروفیسور امین در ادامه سخنانش مسایل افغانستان را به بررسی گرفته افزود. مسله افغانستان در یک مرحله نهایتی حساس و جدی قرار دارد. انکشاف وضع سیاسی– نظامی کشور در ارتباط با پیشرفتهای اخری طالبان به تعمق ویژه یی نیاز دارد. از نظر من پیشرفتهای نظامی گروه طالبان قابل تائید است، اما در بخش سیاسی مایه اندیشه و نگرانی، زیرا طالبان پیرامون مسایل سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی کشور سیاست روشن ندارند.

پروفیسور امین:

اکنون در کشور ما شرایط جنگی نافذ است، اگر ما این همه مسایل را با طالبان مطرح میسازم انها بهانه تراشی میکنند و میگویند شرایط جنگی است و یا به شنیدن اینگونه سخنان و نظرهای فرصتی ندارم. به نظر من در شرایط کنونی روشنفکران و اهل دانش و فرهنگ بایستی موقف واحدی داشته باشند و در رابطه به کاربرد مفاهیم وحدت ملی نظر پیداکنند، از هرگانه گیها بپرهیزند. مسله دیگری راکه من در رابطه یاد اوری میکنم موضوع احراز کرسی های دولتی است. هر شخص که کرسی را احراز میکند چیزی را بدست خواهد اورد، اما ازادی فکری خود را از دست خواهد داد. من فکر میکنم که دانشمندان، فرهنگیان و روشنفکران به گونه گروه فشار کار نمایند و زمینه ها را برای به میان امدن شرایط بهتر کار تحمیل، اموزش و پرورش بازسازی نهادها تدارک ببیند و اگر به کرسی روی بیاورند، کاری مثمر به سود مردم و میهن انجام نخواهند توانست.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروفیسور امین: تمام حکومت ها و اداره های که پس از کودتای ثور ۱۳۵۷ هـ . ش به میان امده اند نقاب از چهره همه شان را نویسنده گان، شاعران و دست اندرکاران فرهنگ برداشته است، تا این که زمینه برای ظهور طالب اماده شد. در شرایط کنونی باید مسله افغان و افغانستان در راس همه اندیشه ها و گرایش های ما قرار داشته باشد.

پروفیسور امین: تفرقه ها و تنش های ناشی از برتری جویی قومی، گروهی و زبانی را چپي ها دامن میزنند. ما شاهد استم که چپی ها مبارزه طبقاتی شان را با مبارزه قومی و نژادی عوض کردند و اکنون نیز از مردم ما درست بردار نیستند و در کشورهای اروپایی با تفرقه افگنی مصروف استند.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان مردم افغانستان با دکتاتوری، استبداد و سلطه بیگانه‌گان سازگار نیست

دا وینا د (ازاد افغانستان) جریدې د لومړي کال په (۷) گڼه کې د (۱۳۷۷ل) کال د تلې په میاشت کې خپره شوې ده.

مرکز مطالعات افغانستان مساله اموزش و پرورش جوانان افغان را به روحیه افغانی شامل برنامه کارش ساخته است. با نظرداشت به همین اصل ساعت دو (ی) پس از ظهر روز اول میزان شماری از محصلین پوهنتونهای افغانی و شماری از متعلمین مکاتب افغان در پاشور به مرکز مطالعات افغانستان امده بودند و در کتابخانه مرکز مطالعات افغانستان گفته ها و سخنان پروفیسور عبدالرسول امین رئیس مرکز مطالعات افغانستان را در ارتباط به افغانستان و مسایل امروزین کشور شنیدند.

پروفیسور امین در آغاز گفتارش موقعیت ستراتیژیک افغانستان را به شاگردان توضیح نمود:

تاریخ نویسان و سیاستمداران ناموری که در باره کشورهای اسیای مرکزی صاحب مطالعه و پژوهشهای وسیع استند. افغانستان را باداشتن موقعییت حساس جغرافی و ستراتیژیک آن از مناطق بسیار پُر ارزش اسیای مرکزی وانمود میسازند و این کشور راگذرگاه فاتحان و کشورگشایان، دروازه شبه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاره هند حلقه اتصال کشورهای منطقه نام داده اند و هم کشور ما را با ظرفی مانند کرده اند که اقوام گوناگون در آن ذوب شده است.

گروههای اتنیکی و اقوامی که به سرزمینهای وسیع شبه قاره هند سر ازیر شده اند، اکثر شان از کشورها وارد شبه قاره گردیده اند.

به شما جوانان خاطر نشان میسازم که مردم ما در بهنای تاریخ قربانی موقعیت ستراتیژیک کشور شان شده اند، جنگها و یورشهای جنگاوران را متحمل گشته اند، نهادهای فرهنگی کهنسال آن زیر نام ستوران فاتحان لگدمال گردیده است و هزاران هزار مصیبت والام دیگر را مردم ما متقبل و متحمل شده اند، اما با وصف این همه همین موقعیت ستراتیژیک افغانستان در درازنای تاریخ مجودیت این کشور را نگهداشته است.

موقعیت حساس و ستراتیژیک افغانستان و روحیه افغانها با هم روابط کسب بایدیری دارند. افغانها روحیه قربانی را از موقعیت ستراتیژیک کشور و ارزشهای عنعنی و تاریخی شان اموخته اند. با نظرداشت به ساختار اجتماعی قومی، اتنیکی و زبانی مردم افغانستان، در نوده های وسیع ملت ها تعصب به انواع و اقسام آن وجود نداشت. مردم با هم روابط، علایق و بسته گیهای فراوانی دارند. تعصبها را عناصر راستگرا و چپ گرا دامن زدند، محض به خاطر طولانی ساختن منطقه شان. اما ما در عمل دیدم که منت ما از این گونه گراینهای مسمی سخت بیزاراست. چپیها و هم راستیها نتواستند از این حربه کهن استعماری به نفع شان سود برند.

ویژه گیهای روانی و ساختار مردم افغانستان با دکتاتوری، استبداد و سلطه بیگانه گان سازگاری شان نمیدهد.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

انانی که از ســـاختار اجتماعی و روانی افغانها آگاهی دارند به این حقیقت پی برده اند که افغانها دکتاتوری خانواده ها، ملک روســـتا، خان منطقه وهیچ رهبری را نمیپذیرند، حکمرانی که نه روز سـر نیزه بر انها حصـومت میکنند، در برابرش به ما میخیزند. در برابر سـلطه هر دکتاتور خیزشـهای در سـراسـر کشور سر بالا کرده اند.

با تاسف فراوان بایستی یاد اور شد که در دو دهه پسین در کشور ما همه یی حکومتها چه چپی و چه راســتی از روحیه مســاوات طلب مردم افغانســتان آگاهی نداشـتند، انها به روز سـریزه خودشـان را بر کشـور و مردم آن تحمیل کردند، شعارها و ایدیولوژي و برنامه های کاری انان از فرهنگ کشور ما مایه نمیگرفت، بل دکته شــده از ســوی دیگران بود. گروههای چپی و راســتی از چشمه های دیگران سیراب میشدند، بیگاه گان را رفیق و برادر میگفتند، اما بالمقابل افغانها را به توب و تفنگ میبســتند و یا هم زنده به گور مینمودند وی ا زیر انک میکردند.

پروفیســور امین در پایان گفته های خود موضــوع را به بحث گذاشــت و از جوانان خواهش نمود، اگر پرسشی دارند میتوانند طرح بسازند.

چند جوان پرســشــهای داشــتند که ما برخی از این پرســشــها را با پاســخهای پروفیسور امین در این جا به گزینش میگیریم:

جوانی به نماینده گی از اتحادیه جوانان افغانستان: از این اقدام مرکز مطالعات افغانستان ابراز خوشنودی و سپاس کرد و پس از آن پرسش را اینگونه مطرح ساخت:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شما در سخنرانی خود در جایی گفتید چپیها و راستیها از روحیه، ساختار و روان مردم افغانستان آگاهی نداشتند ویا به بیان دیگر افغانستان را نمیشناختند، پس کیها افغانستان را میشناختند؟

پروفیسور امین: به صراحت میتوان گفت که چپیها و راستیهای ما از کشورهای دیگر و از جنبشهای کشورهای بیگانه آگاه بودند، اما متاسفانه از کشور خود و مردم آن اطلاعی نداشتند، اگر اطلاعی میداشتند این همه خدادهای گجسته و تامیمون دو دهه پسین در کشور ما به وقوع نمیپیوستند.

در نصاب اموزش و تحصیلی کشور ما افغانستان شناسی جایکه ویژه یی نداشت، از ساختار اجتماعی و سایر ویژه گیهای ملی و عنعنه یی فرهنگ افغانی به طور عام و از اقوام گوناگون به گونه خاص ارج گذاشته نمیشد.

افزون بر آن سطح زنده گی مردم ما در شهرها و روستاها از اسمان تا به زمین از هم تفاوت داشت، کابل و فرهنگ حاکم بر آن مانند کشورهای اروپایی بود، بالمقابل روستاها وضع بهتر از فقیرترین کشورهای افریقایی داشت. روشنفکرانی که گرویده ایدیولوژیهای اجنبی بودند، الگوی شان در تحلیهای اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی کشور، شهر کابل و چند شهر دیگر بود. انها از روستاهای دور دست افغانستان و وضع زنده گی مردم آن روستاها آگاهی نداشتند.

محصل از پوهنتون احمدشاه ابدالی: دیکتاتوری راستیها و چپیها از همدیگر فرقی دارد یا خیر؟

پروفیسور امین: گروههای راست و چپی که در دوران بیست سال گذشته بر مردمان ما حکومت کردند، همه شان دیکتاتور بودند، مایه و پایه یی از ملت

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نداشتند. هر دو گروه برای تحکیم قدرت شان از هیچگونه تلاش مذبوحانه دریغ نکردند و ملت در دوران سلطه شوم آنها در اتش و دود بارود زنده گی کرد، خون ناحق ریختند و صدها هزار انسان این سرزمین را به نابودی کشاندند. در نهایت دیکتاتوری هر دو گروه تنها تفاوت سلیقه یی داشت ور نه هر دو گروه معتقد به دیکتاتوری، جبر، ظلم، ترور، اختناق و دهشت بود.

محصل از پوهنتون هیواد: در این روزها از حکومت وسیع البنیاد حرفهای زیادی شنیده میشود اگر درباره این گونه حکومت روشنی انداخته شود، بد نخواهد بود؟

حکومت وسیع البنیاد باعث دشواریها و مشکلات زیادی به میهن و مردم ما گردیده است. حکومت تنظیمی کابل الگوی خوبی از حکومت وسیع البنیاد بود وزرای حکومت به جای این که از صدراعظم مملکت دستور بگیرند، تابع اوامر او باشند و یا هم خود را پابند قوانین و مقررات دولتی بدانند، از رهبری حزب و گروه شان امر میگرفتند از سران گروهی شان اطاعت میکردند و دستورهای رهبرش را میپذیرفتند.

حکومت وسیع البنیاد تنظیمها درکشور از ازمونگاه زمان ناکام برون شد. بایستی از این روش در اینده دوری گزینیم. به فکر من عوض وسیع البنیاد حکومت وسیع النظر میتواند دشواریها و مسایل کشور را خوبتر حل نماید، زیرا این گروه تابع اوامر رهبر نبوده، به میهن و مردم آن میاندیشندو منافع ملی را در نظر میگیرند.

متعلم یکی از مکاتب افغانی: چرا شما اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد را بستید و به جای آن مرکز مطالعات افغانستان را بنیانگذاری نمودید؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروفیسور امین: اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد زمانی تاسیس شده، که کشور ما از سوی ارتش بیگانه اشغال شده بود و رژیم دست نشانده کمونستی در کابل حکومت میکرد، ما به اتحادیه همگون با شرایط آن وقت اسانامه و برنامه کاری درست نموده بودیم. پس از گذشت چهارده سال شرایط کشور ما و منطقه تغییر یافته بود. ما مجبور بودیم که همسان با شرایط امروزی کار ها و برنامه خود را طرح ریزی کنیم، با نظرداشت به این گونه دشواریها هیئت رهبری اتحادیه فیصله به عمل اورد که به جای اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد مرکز مطالعات افغانستان تاسیس شود.

دختری از اتحادیه جوانان افغانستان: شما در دفاع از حقوق زن چه کاری انجام داده اید؟

پروفیسور امین: کار و برنامه کاری ما با نشر کتاب، مجله و اخبار ارتباط میگیرد. ما در نشرات خود و برنامه کاری خود به زنها سهم میدهیم، چندین کتاب و رساله در باره حقوق زن در جامعه به نشر سپرده ایم. در مجله ها و اخبار ما در باره زن، موقف او در جامعه و حقوق بشری زنان مطالب فراوان به نشر رسیده اند.

جوانی از پوهنتون سید جمال الدین افغان: برای ایجاد پوهنتون واحد افغانها در پشاور چه کاری باید صورت بگیرد؟

پروفیسور امین: چهار سال پیش طرحی در باره ایجاد یک پوهنتون واحد اما با داشتن معیارهای بین المللی رویدست بود، مجالس ابتدایی آن در پوهنتون پشاور دایر گردیدند و شماری از دانشمندان و استادان میهن ما در آن شرکت جستند.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دو سه مرجع به‌کمک به این‌کانون علمی اماده‌گی نشان داده بودند، اما متاسفانه‌که اداره استاد ربانی مانع تاسیس آن پوهنتون‌گردید. زمانی طرح تاسیس آن پوهنتون ناکام‌گردید، از این سو و آن سو پوهنتونهای تاسی گردیدند، که مشکل امروزین شما مداخله بی جای اداره استاد ربانی ناشی میشود.

گفت و شنودها تا سه ساعت ادامه پیداکرد و ساعت پنج خاتمه پذیرفت. محصلین و متعلمین در عصریه یی اشتراک‌کردندکه از سوی مرکز مطالعات افغانستان تهیه گردیده بود.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې لسمه کالیزه ونمانځل شوه

دا وینا د (وفا) جریدې په (۱۱-۱۲) ګڼه کې د (۱۳۷۷ل) کال د وري میاشتې پر (۱۰)مه نېټه خپره شوې ده.

د (۱۹۹۸) د مارچ پر ۲۱مه نېټه د پېښور پوهنتون د استادانو د اتحادیې د کلوپ په تالار کې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د جوړېدو لسمه کالیزه د یوې غونډې په ترڅ کې ونمانځل شوه. د نمانځنې د دې غونډې مشر مېلمه د پېښور پوهنتون پښتو اسحق کیلاني و. د نمانځلو په مراسمو کې ګڼو افغاني پوهانو، لیکوالو، روښانفکرانو، مخورو، ملي، سیاسي شخصیتونو، په پېښور کې مېشتو بهرنیو ډپلوماټانو، د خیریه موسسو مسوولینو یا غړو، او پاکستاني مېلمنو برخه واخیسته. غونډه د قران کریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه، بیا د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر ښاغلي پروفیسور امین د افتتاحیه وینا وار راورسېد، خو دوی دمخه تر دې چې خپله وینا پیل کړي، د غونډې ټول برخه وال یې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشر حقوقو د ځانګړي راپورتر پروفیسور ارمکورا د مرینې له امله یوې دقیقې سکوت ته وبلل او تر دې یو دقیقه یې سکوت وروسته یې خپله وینا واوروله. پروفیسور امین د خپلې وینا په ترڅ کې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د جوړېدو پر تاریخچه څه وویل او هم یې هغه ستونزې یادې کړې چې د تېرو شپاړسو، اوه لسو کلونو په جریان کې افغان تعلیمیافته ورسره مخامخ وو.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده د خپلې وینا په ترڅ کې د لیکوالو ټولنې پر اهدافو هم خبرې وکړې او د خپلې وینا په یوه برخه کې یې وویل:

((تاسې ټول د افغانستان په مساله کې له بهرنیو هېوادونو سره د ځینو تنظیمونو په سیاسي معاملو خبر یاست، د دغو معاملو له نتایجو هم ښه خبر یاست او په دې هم پوهېږئ چې دغو عواملو زمونږ د هېواد په روان کړکېچ څومره بده اغېزه پرېښې ده، خو زه په ډاډ سره دا وایم چې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې تراوسه پورې له هېڅا سره د افغانستان د ازادۍ او زمکنې تمامیت پر سر معامله نه ده کړې، نه یې کوي او نه به یې تر دې وروسته وکړي.

وفا لکه څنګه چې د افغانستان د ورونو قومونو د اتحاد پلوي کړې، داسې د نورو هېوادونو د قومونو اتحاد پلوی هم دی، وفا به تر هغې خپل فعالیت ته دوام ورکړي، څو په افغانستان کې د افغانانو په خوښه یو ملي اسلامي حاکمیت جوړ شي...)).

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په کلتور کې راغلي بدلونونه او بيا رغاونه يې

دا وينا د (وفا) جريدې د لومړي کال په (۲) يمه ګڼه کې د (۱۳۷۰ل) کال د قوس مياشتې پر (۲) يمه نېټه خپره شوې ده.

د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې ((وفا)) د (۱۳۷۰ل) کال د عقرب پر اتلسمه نېټه د سيمينارونو څانګې د خپلو سيمينارونو په لړ کې د افغانستان په کلتور کې راغلي بدلونونه او د هغوی بيا رغاونه يې، تر عنوان لاندې سيمينار د وفا په دفتر کې پرانيست. په دې سيمينار کې چې يو شمېر افغاني او پاکستاني پوهانو او ليکوالو ګډون کړی و، په پيل کې د قران مجيد څو مبارک ايتونه ولوستل شول، ورپسې د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې مشر پروفيسور عبدالرسول امين پرانيستونکې لنډه وينا وکړه وې ويل: لکه چې تاسو ته معلومه ده چې د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنه وخت پر وخت څه لوی او واړه سيمينارونه جوړوي، د سيمينار لويوالی او کوچنيوالی په دې معنا چې لږ او ډېر خلک ورته راغونبستل شوي دي، خو ننني سيمينار په معنوي لحاظ ډېر لوی ځکه دی، چې موضوع يې ډېره مهمه ده په دې معنا چې افغان مهاجرينو د هجرت په دې اوږده موده کې د پاکستان او يا نورو ټولنو څخه څه زده کړل او څه يې هېر کړل او پاکستانيانو له مورږ څخه څه زده کړل او څه به ورسره پاتې شي.

د دغه سيمينار په پای کې د وفا مشر پروفيسور امين اختتاميه وينا وکړه او وې ويل: د افغانانو او روسانو ترمنځ جنګ د دوو اجتماعي ساختمانونو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمنځ جګړه ده، افغاني ټولنه يوه مسلمانه او مساوات طلبه ټولنه ده او د خارجيانو د اجنټانو څخه کرکه کوي.

۱- روسانو يوه بې خدايه، د کارګرو په نوم ديکتاتوري او خپل اجنټانو په افغاني ټولنه تحميلول غوښتل، چې په پای کې د افغاني ټولنې ساختمان د کمونستانو د ايډيالوژۍ او د روسانو د راتګ ځای نه درلود.

۲- د ټولې اسلامي نړۍ د هېوادونو په تناسب افغانانو د اسلام او د خپل هېواد هويت د ساتلو لپاره له هر چا څخه ډېره قرباني ورکړې ده، چې د سلطان محمود غزنوي څخه نيولې تر احمدشاه ابدالي پورې د اته سوه کلونو تاريخ د دې پوځ ثبوت دی. د عربو پوځ د محمد بن قاسم په مشرۍ تر سند پورې راغلی و او د اوسنې بنګله دېش د هند او د پاکستان د ولسونو په مسلمانېدو کې يوازې د افغانانو د جهاد برکت دی او په ويار سره ويلای شم، هغه ځانګړي کلتوري خصوصيات چې زمونږ د دين پروره او ازادي غوښتونکو ولسونو په خپه کې اغېزل شوي، د نړۍ په ولسونو کې په دومره اندازه نه شته، په دې معنا چې د افغانستان مسلمان ولسونه د بل هر ولس څخه په خپل اسلامي کلتور کې تر ټولو زيات متحد او يو موټی دي. تاريخ شاهد دی چې د افغانستان بېلابېلو قومونو او قبيلو د هر يرغلګر او تېري کوونکي قوت پر وړاندې پرته له کومې سازماندهۍ څخه د ازادۍ په ويارلي سنګر کې په اتحاد او اتفاق سره راټولېدل، زمونږ د دې خبرې څرګند ثبوت دی. چې په افغاني ټولنه کې د اسلامي کلتور با ارزښته او ځانګړي خصوصيات ګڼلی شو. د افغانانو بل مهم کلتوري خصوصيت دا دی، چې هېڅکله د پردیو ايډيالوژۍ او کلتور ته غاړه نه ږدي او دا يې هم کلتوري توافق و، چې د اسلام سپېڅلی دين يې ومانه، په داسې حال کې چې د اسلام مبين دين چې له عربو څخه راخپور شوی دی، خو حتا داسې عرب شته چې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانان نه دي لکه، په لبنان او ځينو نورو ځايونوکې خو چېرته چې افغان وي مسلمان به هم وي، چې دا لوړ ارزښت د افغانانو په اسلامي کلتورکې نغښتی دی.

بل مهمه ټکی چې د يادولو وړ دی، هغه دا دی چې د ټور دکرغېړنې کودتا څخه راوروسته دوو ګاونډيو او مسلمانو وروڼو هېوادونو اسلامي اوکلتوري اړيکو ټينګ پيوند وموند او يو پر بل يې زياتې کلتوري اغېزې پرې ايستې، ببلګې په توګه دري ميليونه مهاجرينوکه يو يو پاکستانی دوست پيداکړی وي، نو دري ميليونه دوستان شو. او په دې دومره اوږده موده کې داسې کومه پېښه سره له دې د دومره وسلو د دواړو ولسونو ترمنځه هم نه ده پيدا شوې چې خدای مه کړه د مرګ او ژوبلې سبب شي، چې دا بل د اسلامي کلتور لوړ ارزشت بللی شو.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د مسلې سیاسي حل او په راتلونکي کې د افغانستان او پاکستان اړیکي

دا وینا د (وفا) جریدې د لومړي کال په (۷)مه ګڼه کې د (۱۳۷۰ل) کال د کب میاشتې پر (۱٤)مه نېټه خپره شوې ده.

د (م۱۹۹۲م) کال د فبروري پر درویشتمه د یکشنبې پر ورځ د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا د افغانستان د مسالې په اړه او په راتلونکي کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکي تر عنوان لاندې د پېښور په انترکانټینټل هوټل کې یو سیمینار جوړ شوی و. په دې سیمینار کې چې د پاکستان ټولو سیاسي ګوندونو ته بلنه ورکړل شوې وه، یو شمېر افغاني پوهانو، لیکوالو، سیاستوالو، قومي او جهادي شخصیتونو، کورنیو او بهرنیو ژورنالستانو هم ګډون کړی و. د سیمینار په پیل کې له هغې وروسته چې د قران عظیم الشان څو مبارک ایتونه تلاوت شول. د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور عبدالرسول امین د افغانستان دکشالې او په راتلونکي کې د افغانستان او پاکستان د ولسونو ترمنځ د ښو علایقو په باب لنډه پرانیستونکې وینا وکړه، وې ویل: مورږ د پاکستان له ولس او حکومت څخه مننه کوو چې زمورږ په دیارلس کلن جهاد کې یې نه یوازې دا چې افغان مهاجرینو ته یې ځای ورکړی دی، بلکې مالي او ځاني کومکونه یې هم پر غاړه اخیستې دي، زه باور لرم چې پاکستان، ایران، د مرکزي اسیا اسلامي هېوادونه او نور مسلمان هېوادونه او ملګري ملتونه به زمورږ د مسلې د سیاسي حل په رابطه د هېڅ راز هلو ځلو څخه ډډه ونه کړي. او د افغانستان د ازادۍ، امن، یووالي او سلامتیا په خاطر به خپل ټول امکانات د دردېدلو افغانانو او ژوبل هېواد څخه ونه سپموي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان مسله او د هغې حل

دا وینا د (وفا) جریدې د لومړي کال په (۲٤) ګڼه کې د (۱۳۷۱ل) کال د عقرب میاشتې پر (۹)مه نېټه خپره شوې ده.

د (۱۹۹۲م) کال د اکتوبر د میاشتې پر یوویشتمه نېټه چې د میزان د میاشتې له نهه ویشتمې نېټې سره برابره ده، د چهارشنبې پر ورځ د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې ((وفا)) له خوا ((د افغانستان مسله او د هغې حل)) په نامه یو ورځینی سیمینار د پېښور پوهنتون د مرکزي اسیا د مطالعاتو په مرکز کې جوړ شوی و. په سیمینار کې دوو سوو په شاوخوا کې کسانو ګډون کړی و. سیمینار ته، د کابل، کندهار، ارزګان، هلمند، ودرګو او کوښې څخه هم ځینې مشران افغانان راغلي وو. به سیمینار کې ځینو پاکستان او بهرني خارجي پوهانو هم ګډون کړی و، چې یاد سیمینار د پروفیسور امین پر لاندې وینا پرانیستل شو:

بسم الله الرحمن الرحیم

درنو مشرانو، خویندو، وروڼو!

ویاړم چې تاسو زمونږ په سیمینار کې ګډون کړی دی. تاسو ته پته ده چې زمونږ د وطن مسله تراوسه پورې پوره حل ته نه ده رسېدلې.همدا وجه وه چې مونږ فیصله وکړه، چې په دې لنډ وخت کې تاسو ته تکلیف درکړو. زمونږ سیمینار د افغانستان د مسلې او د هغې د حل په باره کې دی. مونږ له تاسو څخه هیله لرو چې خپل ګټور نظریات، د افغانستان د مسلې د حل په اړه وړاندې کړئ. زه نه غواړم چې ستاسو ډېر وخت ونیسم، ځکه چې د افغانستان مسله ټولو ته معلومه ده، ډېر کسان وروسته غږېدلي دي، صرف زه دومره عوض کوم

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دې سیمینار ته زمونږ ځینو ورونو له کابل څخه تشریف راوړی دی او ځینې له کندهار، هلمند او ارزګان څخه تشریف راوړی دی. زه ستاسو په استازیتوب هغوی ته د زړه له تله ښه راغلاست وایم. هغوی تر ډېرو اوږدو او سترو مزلونو وروسته دلته رارسېدلي دي، د دوی په دیدن زمونږ سترګې خوږې شوې دي. زمونږ لپاره د ډېر ویاړ ځای دی، چې مونږ خپل افغاني ورونه څوارلس کاله وروسته وینو. له دوی سره د زړه خواله کوو، دوی ته یو ځل بیا په ډېره مینه او د زړه له کومې ښه راغلاست وایو.

که څوک داسې فکر کوي چې د افغانستان مسله حل ته رسېدلې ده، ربنتیا هم چې ډېرو خلکو داسې فکر کاوه چې د روسانو تر تګ وروسته د نجیب له راپرځېدو وروسته به په افغانستان کې سوله راشي او د افغانستان څوارلس کلنه تراژیدي به پایته ورسېږي او خواره واره افغانان به خپل وطن ته راستانه شي، خو بدبختانه چې داسې حوادث منځته راغلل، چې یوازې زمونږ هغه خوږ ارمان، چې د افغانستان د مسلې د حل پورې ترل شوی و، پوره نه شو، بلکې نورې ستونزې یې هم منځته راوړې. په دې تکلیفونو باندې زه فکر کوم چې د هر افغان په کورکې، د هر افغان په هوجره او جومات کې، که دوه افغانان سره کښې، نو د خپل وطن د مسلې په باره کې به فکر او خبرې کوي. ټول افغانان دا غواړي چې دا مسله باید څنګه حل شي؟ مونږ پروګرام داسې نیولی دی، هغه محترمام چې په سیمینار کې یا خبرې کوي او یا مقاله لولي مونږ له هغوی څخه هیله کوو،چې له نیم ساعت څخه زیات وخت ونه نیسي. مونږ غواړو هغو خلکو ته هم وخت ورکړو، چې د سیمینار د مقالو په باب یا د افغانستان د مسلې په باره کې غوښتنې، پوښتنې او وړاندیزونه لري. له هغوی څخه هم هیله لرو، چې زیات وخت ونه نیسي. هغه څوک چې د مسلې په باب تبصره کوي، د هغوی لپاره پنځه دقیقې دي او هغه څوک چې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال کوي، د هغوی لپاره درې دقیقې دي، زه پوهېږم چې ستاسو د ټولو زړونه ډک دي، تاسې ټول پوښتنو او وړاندیزونو ته ترې یاست او دا ځکه چې دا مسله زمو د وطن مسله ده. ډېره مهمه ده خو زه یې یو ځل بیا له تاسې هیله کوم چې ډېر وخت به نه نیسئ. هغه څوک چې پوښتنې لري هغوی دې مخکې تر مخکې خپل نومونه د پروګرام انانسر ښاغلي عادل ته ورکړي، چې هر پوښتونکی په خپل وار سره خپلې پوښتنې وکړي او په خپل وار سره ځواب ورته وویل شي: د وخت دکم والي پر اساس یو ځل بیا تکراروم چې د نظر لپاره لس دقیقې دي، د تبصرې لپاره پنځه دقیقې دي او د سوال لپاره درې دقیقې دي.

د سیمینار په وروستیو شېبو کې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې غړي ښاغلي حکیم اریوبي صاحب د سیمینار پرېکړه لیک ولوست، د پرېکړه لیک تر لوستلو وروسته د ازاد افغانستان د ټولنې مشر پروفیسور رسول امین د سیمینار په پای کې یوه اختتامیه وینا وکړه. ده دا وینا په پښتو او انګلیسي ژبو وکړه، د دې اختتامیه وینا پښتو متن دا دی– کرانو مشرانو او کشرانو!

زه د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا او د خپل ځان له خوا ستاسو درنو مشرانو او مېلمنو له راتګ څخه د زړه له کومې مننه کوم، چې تاسو زمونږ سیمینار ته تشریف راوړ او تاسو په ډېره حوصله باندې زمونږ د سیمینار مقالې او ویناوې واورېدلې. زه له هغو ورونو چې له کابل، کندهار، هلمند، ارزګان، ننګرهار او وردګو څخه تشریف راوړی دی، ډېر ستړی او اوږد مزل پې کړی دی، ډېره زیاته مننه کوم، زه د پېښور پوهنتون له رییس ډاکتر صاحب انور خان څخه واقعاً مننه کوم، چې دوی په خپل علمي مرکز کې مونږ ته د سیمینار د جوړېدو لپاره ځای راکړ. زه د اریا ستدي سنټر له ټولو غړو څخه او مخصوصاً د عبدالله جان خلیل څخه ډېره زیاته مننه کوم. همدارنګه د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

عظمت حیات خان څخه هم ډېره مننه چې په ډېر لنډ او تنګ وخت کې يې زمونږ د سیمینار لپاره مقاله تیاره کړه، ستاسو ټولو مبلمنو یو ځل بیا مننه کوم، زمونږ سیمینار پایته رسېږي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د سولې په لاره کې پراته خنډونه

دا وینا د (وفا) جریدې د لومړي کال په (۲٤) مه ګڼه کې د (۱۳۷۱ل) کال د عقرب میاشتې پر (۹)مه نېټه خپره شوې ده.

دا چې افغانان په څه طریقه غواړي خپل مشکلات حل کړي، په دې اړه باید ووایم چې مونږ د مرکزي اسیا د مسلمانانو په څېر هم نه یو، چې هلته د کلیسا او جومات ترمنځ شخړې پیدا شوې دي، مونږه کلیسا نه درلوده او نه یې لرو، په افغانستان کې خلک ټول مسلمانان وو او دي. مونږ د پاکستان په شان هم نه یو، ځکه چې دلته هم د دوی او هندوانو ترمنځ شخړې وې، په افغانستان کې زمونږ افغانان څه نوی او اوسنی ملت نه دی، بلکې دېر زوړ ملت او زوړ اسلامي مملکت دی، خو بدبختي دا ده که څوک د افغانستان نوم واخلي، نو وایي چې دا خو نشنلست دی، که څوک ووایي چې افغانستان ملت دی، نو بیا وایي دا خو کافر دی. زه د افغانستان د جامعې او د دوی د ټولنیزو خصوصیاتو د مطالعې یو وړوکی شاګرد یم، ما د خپلې مطالعې پر اساس په افغانستان کې څلور اساسي اصول پیدا کړي دي.

اول د افغانستان ټولنه یوه مسلمانه ټولنه ده، هېڅوک باید په دې کې شک ونه کړي او نه دا حق لري چې شک وکړي، لیکن دغه مسلمانه جامعه د ایران په څېر مسلمانه جامعه نه ده، ځکه چې په ایران کې په خپله هغوی یو مذهبي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتیب لري ، چې په افغانستان کې هغه موږ نه لرو، له هندوانو سره هیڅ شخړه نه وه، موږ خپله مسلمانان یو، ځینې خلک داسې وایي چې د سلطان محمود غزنوي څخه واخله تر احمدشاه درانې پورې تقریباً ټول (۸۱۰) کاله کېږي، تاسو ټول په خپلو ذهنونو فکر وکړئ، نعوذ بالله څوک چې په مکه باندې حمله کوي، نو د یو مسلمان مقاومت به څومره وي؟ دغسې کله چې د افغانستان مسلمانانو د هندوانو پر مقدس مرکز یانې په سومنات باندې د سلطان محمود غزنوي پر وخت حمله کوله، تاسو فکر وکړئ چې په هغې حمله کې به هندوانو څومره مقاومت کړی وي او دا هم اصول دي، څوک چې مقاومت کوي هغه ناست وي او څوک چې حمله کوي، نو هغه حمله اور ډېر مړه کېږي. دغه څومره شهیدان چې موږ ورکړي، څومره جګړې چې موږ د اسلام د خدمت لپاره په دې حوزه کې کړي، ما داسې وویل چې د بنګله دېش، پاکستان او هندوستان مسلمانان دا د افغانستان مسلمانان دي، دا د عربو نه دي، موږ چې په دې حوزه کې د اسلام لپاره خدمتونه کړي، هېڅا هم نه دي کړي.

مهمه خبره دا ده چې افغانان یو خصوصیت لري، د مشرانو احترام کوي، د پلار د قوم د مشر د کلي مشر احترام کوي، د سیاسي مشر احترام کوي، لیکن دیکتاتوري نه مني. ولو که دا دیکتاتوري د ده د پلار شي، یا د کلي مشر یا په افغانستان کې زموږ سیاسي مشر وي، امیر عبدالرحمن خان دوره موږ ته معلومه ده، هغه داسې نه چې ګوندې کافر یا کمونست و، هغه مسلمان و، شهزاده و، لیکن کوم وخت چې ده دیکتاتوري شروع کړه، د افغانستان ټولو قومونو د هغه پر ضد قیام وکړ، دا په افغانستان کې یو واقعیت دی.

درېیمه خبره داده چې په افغانستان کې زما د مطالعې پر اساس هر قوم چې په هره منطقه کې پروت دی، یو قوم نه غواړي چې د بل قوم مشرتوب ومني، دا

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی د مساوات طلبی هغه خصوصیات دي، چې یو د بل حاکمیت نه مني. او ځلورمه خبره دا ده چې افغانانو د خارجیانو اجنټان نه مني، دا چې هر څوک په هر نامه راشي، لوی مثال یې د احمدشاه دراني لسمی شاه شجاع دی. اوس هم چې کله مورږ د احمدشاه نوم یادوو، نو بابا ورسره وایو او د احمدشاه مقام نه دی راکښته شوی، لیکن د هغه لسمی نه یوازې دا چې افغانانو نه مانه، بلکې مړ یې کړ. دا زما ایمان دی چې په افغانستان کې د خارجي اجنټانو لپاره ځای نه شته دی او د دیکتاتوران لپاره په افغانستان کې ځای نه شته. افغانان په خپله یو میکانیزم لري، ما عرض وکړ چې مورږ سره پاکستان، ایران، امریکا، عربو حتی چین کومک کړی دی، خو مورږ د دوی له کومکونو څخه ډېر مشکور یو، ځکه چې کومک کومک دی او دا د افغان ځانګړنه ده، چې په سخته کې دې ورسره کومک وکړ، نو هغه نه هېروي، اما د کومکونو معنا دا نه ده، چې هر سړي یو خپل ګوډاګی په ترخ کې نیولی وي او ووایي چې دا زما درواخله، ماته یوه ټوکه یاده شوه. کوم وخت چې اورنګزېب خپل پلار شاه جهان ونیو، نظر بند یې کړ، نو یوه ښځه وه چې شاه جهان له به یې ګلونه راوړل، شاه جهان ورته وویل، چې ته ما له یو ښکلی ماشوم راوله، نو د هغې ښځې یو تور ماشوم و، هغه به یې ورله راوست، خیر شاه جهان ورته وکتل، بله ورځ یې بیا ورته وویل یو ښکلی ماشوم راوله، بیا به یې ورته هماغه راوست، په درېیمه ورځ یې بیا د یو ښکلي ماشوم غوښتنه وکړه، بیا یې هغه خپل تور ماشوم راوست، نو شاه جهان ورته وویل چې ما درته وویل یو ښکلی ماشوم راوله، هغې وویل چې شاهنشاه که زما په سترګو دې ورته ولیدل، نو له ده ښکلی ماشوم په دنیاکې نه شته، نو دا چې هر یو خپل ماشوم په ترخ کې نیولی او ووایي دا واخله دا هېڅکله هم افغانان نه مني، بل دا چې دوی تاسو ته راځي او ووایي چې صاحب ټول افغانستان

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو مشکور دی. دا به ټول دروغ او دوکه وي. افغان هغه څیز غواړي کوم چې د افغانانو امن پرې راځي، افغانان سره یو موټی کوي، کاونډي هېوادونه پاکستان، ایران، سعودي او نورو څخه مړ یوه هیله لرو، هغه دا چې مړ سره دې د افغانستان په روغه جوړه کې کومکونه وکړي، نه دا چې په ورانولو کې.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه جرګه د ستونزو د حلولو د یو مهم میکانیزم په توګه

دا وینا د (وفا) جریدې د لومړي کال په (۲٤) مه ګڼه کې د (۱۳۷۱ل) کال د عقرب میاشتې پر (۹)مه نېټه خپره شوې ده.

اول– د لویې جرګې منشا او جوړښت:

۱– منشا:

په افغانستان کې له ډېرو پخوا زمانو څخه بېلابېلو قومونو، قبیلو، نژادي، ژبني او مذهبي اتنیکي ګروپونو سره یوځای ژوند کړی دی. د دغه ګډ ژوند په اوږده تاریخ کې، دغو ټولنیزو ګروپونو، نه په ځانګړې توګه او نه د یو ملت په حیث تر ۱۹۲۳م کال پورې نه لیکلي قوانین درلودل او نه مرکزي حکومتونو د دوی د حقوقي قضایاوو په حلولو کې کوم رول درلود. نو یې خپلې حقوقي قضایاوې او د ټولنیز ژوندانه نورې چارې لکه، خپل منځي شخړې او ورانی، د اسلامي (حنفي یا جعفري) فقهې په څنګ کې په مشخصو شوراګانو کې په سلا مشورو او پرېکړو حلولې. د زمانې په تېرېدو سره د خپل ټولنیز جوړښت او روابطو له مشخصاتو سره سم، د مشخصو یا سره ورته قضایاوو او پرابلمونو د تشخیص او حلولو لپاره یې دودونه اوکودونه رامنځته کړل، چې دوی د فرهنګ د یو مهم تشکیلوونکي عنصر په توګه له یوه نسل څخه بل نسل ته د ټولنیز میراث په توګه منتقلېدل او له شرایطو سره سم یې تحول او تکامل موند. څرنګه چې د شورا او سلا مشورې له لارې د قضایاوو او

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرابلمونو حلول د اسلام د سپېڅلي دين يو مهم اساس هم دی، نو ځکه د افغانستان په مسلمانو خلکو کې د شورا او سلا مشورې ټینګښت او پایښت ومونـد. اصـول، معیارونـه او میتودونـه یې تثبیت شـول او تر ننـه پورې راورسېدل. د دغه ډول سلا مشورې غونډه او په هغې کې د قضایاوو څېړنه او په کې د پرېکړو صـادرول، د افغانسـتان په ټولو ژبو کې ((جرګه)) وبلل شـوه، چې دغه کلیمه اصلاً ترکي ریښـه لري او اوس زمونږ د ټولو بېلابېلو ژبو مشـترکه او منل شـوې پانګه ګرځېدلې ده او د شـکل او محتوا جوړښـت او دندې په مفاهیمو باندې هم ټول خلک پوهېږي او هم یې جوړېدو او پرېکړو ته د درنښـت او اعتماد په سـترګه ګوري او عمل پرې کوي. جرګه د بحث د موضـوع او د جوړښـت او ترکیب له نظره دوه ډوله وي: عادي او محدوده جرګه، او لویه جرګه.

۲- جوړښت:

هغو کسـانو ته چې د افغانانو کلتور او د دوی کلتوري ممیزات معلوم وي، هغوی په دې بنـه پوهېږي، چې د افغانسـتان د خلکو په هر قوم، هره قبیله، هره کورمه او هر کلي ولس کې د جرګو خلک او غړي معلوم دي. جرګې د بېلابېلو اهدافو د سـرته رسـولو په خاطر په مختلفو سـطحو باندې جوړېږي، کله چې به قومونو، قبیلو، خپلونو، کورمو او کلیو او ولسـونو کې شـخړې او لانجې پیدا شي، د جرګو خلک ورته راځي او پېښه شوې مسله حل کوي. د کلیو په جرګو کې د کلي مشـران، بانفوذه سـپین ږیري، د کلیو ستانه، روحاني خلک او علما ګډون کوي، کله چې بیا لانجه د قومونو او قبیلو ترمنځ وي، د دغسې جرګو له پاره هم د هر قوم له مرکچیانو او جرګه مارو څخه ډېر درونـد او محترم شـخص په جرګو کې ګډون کوي. او که بیا جرګه لویه او د مملکت

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کچه وي، بيا يې هم غړي معلوم وي، له هر قوم، هرې قبيلې او هر ولس څخه هغه ســړي راځي، چې ټول قوم، ټولې قبيلې او کرد ولس ته منلي وي. زمونږ پخوانۍ لويې جرګې چې جوړې شــوې دي، پــه ټولو کې د قومونو مشــرانو، با نفوذه اشــخاصــو، قوم ته منلو ســپين ږيرو، علماوو او روحاني شــخصــيتونو په کې ګډون کړی دی. دغه ډله اشــخاص د افغاني جامعې هغه اقشار دي، چې افغانان د خپلو اخلاقي–ملي اوکلتوري ارزښتونو او معيارونو له مخې ورته احترام لري او په دغســې مهمو مســلوکې دغه اشــخاصــو لويو جرګو ته بلل کيږي، قومونه، قبايل او ولســونه يې په جرګوکې له ګډون ســره موافقه لري، نه انتخابات غواړي او نه بل څه، ځکه دا خلک معلوم خلک دي او قومونه، قبايل پرې باور لري.

د نولسمې پيړۍ په اواخرو او د شلمې پيړۍ په جريان کې چې زمونږ په هېواد کې لويې جرګې د منظمو دولتونو له خوا جوړې شــوې، نو په دغو جرګوکې له لوړو يادو شــويو قشــرونو ســربيره، د وخت له غوښــتنو ســره ســم، دولتي بانفوذه ارکانو او تعليميافته ګانو او مفکرو خلکو ته هم په لويو جرګوکې د شرکت حق ورکړل شوی دی. خو وروسته تر ۱۹٦٤م کال په اساسي قانون کې د لويې جرګې د غړو د جوړښــت لپاره د انتخابي او انتصــابي وکيلانو د ســره رغونډبدو يو نوی طرزالعمل ومنل شــو، چې د هغه پر بنا د ملي شــورا، يانې د ولسي جرګې او مشرانو جرګې غړي، د ولايتي جرګو رييسان، د کابينې هيئت، د سترې محکمې غړي او د پاچا له خوا يو ثلث انتصابي کسان د لويې جرګې په جوړښت کې شاملبدل. خو اوس چې زمونږ سياسي– ټولنيز اوضاع بل ډول ده، کېدای شــي چې د لويې جرګې د جوړښــت لپاره د ټولنې له واقعيتونو سره سم قومي مشران، سپين ږيري، علماء، تعليميافته ګان، پخواني باتجربه دولتي ارکان او د نن ورځې د غوښــتنې مطابق د څوارلس کلن جهاد

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومیالي قوماندانان او نور لازم عناصر راوبلل شي، لکه چې دمخه مو وویل دغه خلک زمونږ په ټولنه کې معلوم دي، د افغانستان هر قوم او هره قبیله دغسې اشخاص لري. مونږ کولای شو چې په افغانستان کې د ټولو مېشتو قومونو له مشرانو، سپین ږیرو، علماوو، روحانیونو، تعلیمیافته ګانو او قوماندانانو څخه یوه واقعي او د ټول ملت نماینده لویه جرګه جوړه کړو. دغسې اشخاصو په تشخیص کې هېڅ ډول ستونزه نه رامنځته کېږي.

دویم- د لویې جرګې دنده:

هر ټولنیز جوړښت د ټولنې د ضرورتونو پر بنا منځته راځي او ځانته ټاکلې دندې لري، چې باید سرته یې ورسوي. لویه جرګه هم، د یو ټولنیز جوړښت په توګه ځانته وظایف لري. د لویې جرګې کلي وظیفه داده چې د ملي او هېوادني برخلیک جوړوونکو داخلي او خارجي قضایاوو او مسایلو د حل داسې سمې او مناسبې لارې وسنجوي او عملي یې کړي، چې د هېوادوالو لوړې ښېګڼې په بهترینه توګه تامین او خوندي کړي.

دریم- ځینې تاریخي لویې جرګې:

په افغانستان کې د لویو جرګو تاریخي څېړنه اوږد او مفصل بحث غواړي چې مونږ اوس ورته وخت او فرصت نه لرو، خو کېدای شي چې د هېواد د تاریخ د هغو لویو جرګو نومونه واخلو، چې په وروستیو دریو پېړیو کې ترکمونستي دورې دمخه جوړې شوې دي:

د میرویس نیکه جرګې:

میرویس له پردیو څخه د هېواد تر خلاصون او د یو ملي دولت د تشکیل لپاره، تر ټولو دمخه د ببلابلو قومونو استازي راغونډ کړل او لویې جرګې یې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړې کړې، چې یوه په کې د (کوکران) لویه جرګه وه، چې پر (۱۷۰۵م) کال جوړه شـوه، بله د (مانجې) لویه جرګه وه، چې پر (۱۷۰۷م) کال جوړه شوه. د دې دوو جرګو په نتیجه کې خلک یو موټی شول او د پردیو حکومت یې له منځه یووړ، خو میرویس نیکه تر بریالیتوب وروسته یوه درپیمه بله لویه جرګه په همدې وخت کې جوړه کړه او بېلابېل قومونه یې د هېواد او نوي ملي دولت ساتلو ته راوبلل.

د دغو درېو لویو جرګو نتیجې تاریخونو ثبت کړي دي او دا ښکاره ده چې د دغو لویو جرګو د پرېکړو د عملي کولو پر اسـاس افغانان د پردیو له تسـلطه خلاص او د یو ملي حکومت خاوندان شول.

د شپږ سرخ لویه جرګه:

دا جرګه هم په ډېرو اضـطراري او نازکو حالاتو کې جوړه شـوه. دا جرګه پر (۱۷٤۷م) کال د نادر افشار تر مرګ وروسته په افغانستان کې د یو خپلواک دولت د جوړېدو او د ملي زعامت د ټاکنې پر منظور جوړه شـوې وه. د دې لوېې جرګې په نتیجه کې د افغانستان خپلواکي اعلان شوه، احمدشاه بابا ته د هېواد واکي وسـپارل شـول او ده د خپلو خلکو په ملاتړ د افغانسـتان حدود خپل کړل.

دغه راز پر (۱۸٤۱م) کال کې د نومبر پر لومړۍ نېټه د افغانانو ملي مشـرانو د کابل په عاشـقان او عارفان کې د خارجي یرغلګرو قواوو سـره د مقابلې لپاره یوه لویه جرګه جوړه کړه. د دې لوېې جرګې د تدابیرو په نتیجه کې پردیو لښکرو ماتې وخوړه او له کابل څخه ووتل. امیر شېرعلي خان د خپلې پاچاهۍ په دوارو دورو کې دوه لوېې جرګې جوړې کړې، یوه پر (۱۸٦۵م) کال او بله پر (۱۸۷۳م) کال. په دې لویو جرګو کې ځینې مهمې مسـلې حل

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـوې. کله چې پر (۱۸۷۹م) کال انګرېزانو پر افغانسـتان حمله وکړه، امیر شېرعلي خان مزارشـریف ته ولاړ، خلک او وطن بې سـرنوشـته پاتې شـول. دغه مهال هم د افغانانو مشـرانو یوه لویه جرګه وکړه چې درې زروکسـانو په کې ګډون درلود. د دې جرګې د تدبیر په نتیجه کې یې د (۱۸۷۹م) کال په ډیسمبر کې خارجیانو ته ماتې ورکړه. پر (۱۹۱۵م) کال په افغانستان کې یوه بله لویه جرګه جوړه شوه، چې په لومړۍ نړیواله جګړه کې یې د افغانستان بې طرفي تاییدکړه. دا وخت په افغانستان کې امیر حبیب الله خان پاچا و.

– د اعلیحضـرت غازي امان الله خان د پاچاهۍ په دوره کې هم لویې جرګې جوړې شوې دي، چې مشهورې یې دادي:

د اساسي قانون لویه جرګه، چې د (۱۹۲۳م) کال د فبرورۍ پر ۲۶مه نېټه په جلال اباد کې جوړه شـوه او (۸۷۲) تنو په کې ګډون درلود او د افغانسـتان لومړنی اسـاسـي قانون یې تصـویب کړ. په همدې دوره کې بله لویه جرګه د (۱۹۲٤م) کال په جولای کې جوړه شـوه. دا لویه جرګه چې په پغمان کې جوړه شـوې وه، چې (۱۰۵۲) تنو په کې ګډون کړی و. د دولت د ټولو ټرونونو، روابطو اوکورنیو مسـایلو او نورو موضـوعاتو باندې یې خبرې وکړې. دغه دول د اماني دورې درېیمه لویه جرګه د ځینو هېوادنیو مسـلو د حل او فصـل په منظور د (۱۹۲۸م) کال په اګسـت کې په پغمان کې جوړه شوه او (۲۰۰۰) تنو په کې ګډون درلود.

د اعلیحضـرت محمد نادر شـاه شـهید د سـلطنت په دوران کې هم پر (۱۹۳۰م) کال په سـپتمبر کې د ځینو مهمو ملي او مملکتي مسـلو په باب لویه جرګه جوړه شـوه. د دویمې نړیوالې جرګې په دوران کې د افغانسـتان د بې طرفه دریځ د تایید لپاره پر (۱۹٤۱م) کال لویه جرګه جوړه شـوه. تر دې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لويې جرګې وروسته، په همدې دوره کې دوه نورې لويې جرګې هم وشوې. يوه پر (۱۹۵۵م) کال او بله پر (۱۹٦٤م) کال د اساسي قانون د تصويب لپاره. دغه راز پر (۱۹۷۷م) کال سردارمحمد داود هم يوه لويه جرګه راوبلله چې خپل جوړ کړی اساسي قانون تصويب کړي او جمهور رييس وټاکي.

څلورم- د لويې جرګې نفسياتي اغېزې:

د افغانانو د کلتور مطالعه دا څرګندوي چې دغه خلک د خپلو قبيلوي خصايصو له مخې په نفسياتي لحاظ هم د جرګو او لويو جرګو تر اغېز لاندې دي. څه شی چې جرګه فيصله کړي، دغه فيصلې پر ټولو افغانانو يو ډول روحي اغېز کوي او د هغو فيصلو مطابق چې کوم کارونه سرته رسي، له هغو سره روحي توافق لري او ځان هوسا احساسوي.

پنځم- د لويې جرګې قانوني او حقوقي ارزښتونه:

د افغانانو د کلتور مطالعه دا رابنايي چې د دوی وړې او لويې جرګې داسې نه دي، چې هلته څو تنه سره کېني، څو اخلاقي توصيې وکړي، که چا ومنله هم ښه او که يې و نه منله هم ښه، خبره داسې نه ده، جرګه د افغانانو په کلتور کې يوه داسې موسسه ده چې هم حقوقي ارزښت او هم قانوني صلاحيتونه لري. څوک چې د جرګې په نرخونو خبر وي، نو هغه پوهېږي چې د جرګو له فيصلو سرغړاوی سزا لري، د جرګو په حقوقي او قانوني صلاحيتونو خبرې کول اوږد او په زړه پورې بحث دی، چې زمونږ مشرانو لکه، جناب پژواک صاحب، مرحوم خادم صاحب او نورو داخلي او خارجي پوهانو پرې ډېر کار کړی دی.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم– د لويو جرګو د رابللو طريقې:

د تاريخ له پانو ښـــکاري، هغه وخت چې د افغانانو خپل حکومتونه وو او د خپل ملي حکومت د جوړولو او د پرديو له واکه تر خلاصـــون لپاره دوی کومې لويې جرګې جوړې کړې دي، د بېلابېلو قومونو مشـران خپلو کې سـره ناســت دي، مهمې او تاريخ ســازې فيصــلې يې کړې دي. د مثال په ډول ميرويس نيکه چې کومې لويې جرګې جوړې کړې دي او يا د شپږ سرخ جرګه دغه لويې جرګې همدغه قومي مشـرانو د علماوو او روحانيونو په ګډون خپله جوړې کړې دي. په نولسمو او شلمو پېړيو کې چې کومې لويې جرګې جوړې شــوې دي، په هغوکې ځينې د قومي مشــرانو په بلنه جوړې شــوي او ډېرې دولتونو دعوت کړې دي. په اوســنيو شــرايطو کې چې مرکزي حکومت ډېر ضــعيف او پر اطرافو او ولاياتو واک نه لري، ولايتونه او د ولايتونو محلات، د بېلابېلو قوتونو له خوا اداره کېږي، په دغسې ګډوډو حالاتو کې بهترينه لاره داده، چې د افغانســتان د بېلابېلو قومونو ډېر نومياڼي څو تنــه مشــران، قوماندانان، روحانيون، علما او تعليميافته د لويې جرګې اواز اوچت کړي. د ملګرو ملتونو تر ســرپرســتي لاندې دې د لويې جرګې د جوړېدو لپاره د تدارک يو کمېسيون جوړ شي او داکمېسيون به په ډېرې واقعبيني د هر قوم د جرګې معلوم خلــک دې لويې جرګې تــه راوبلي، دغــه لويــه جرګــه بــه د افغانستان دننه په دغسې يوځای کې چې شرايط په کې مساعد وي، جوړېږي او جرګه به د روانو کشـالو د حل لپاره د ټول ملت په خوښـه پرېکړې کوي او د افغانانو د عنعنو مطابق به عملي کېږي.

اووم– لويه جرګه او د اهل حل و عقد شورا:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اهل حق و عقد شـــورا د شـــورا لفظي ترکیب او د هغې مفهوم او معنا د افغانسـتان خلکو ته بېخي نامفهوم او اشـنا دي. دغه اوږده اصـطلاح زمونږ د جهادي مشـرانو او علماوو له خوا په مکرره توګه اسـتعمالېږي، خو که څوک پوښـــتنه ورڅخه وکړي، چې د هغې په تاریخ باندې رڼا واچوي، یا یې د غږو او ترکیب او د راباللو طریقه او وظیفه راوښـــایي، نو د هغې بېلابېل پلویان بېلابېل توجیهات او تعبیرونه ورڅخه کوي، ځینې پلویان یې له لویې جرګې سره یو شان او ځینې یې بل شان ګڼي، ځینې جهادي مشران او علما شورای حل و عقد د حل و عقد له اهله څخه مرکب ګڼي او د حل و عقد په اهل کې یوازې د اســـلامي ګوندونو امیران او واکداران او له ګوندونو ســـره متعلق عالمان شاملوي او بل هېڅاته په دې شوراکې د ګډون حق نه ورکوي. ځینې مشـران، مثلاً خپل ځان ته د شـورا د ټولو غږو د پنځه فیصـده انتصـاب حق ورکوي او نورو ګوندونو ته هم دغسـې فیصـدي قایلېږي، چې نه د خلکو له خوا، بلکې د ګوندون له مشـرانو یا د ګوندي شـوراګانو له خوا انتصـابېږي. د اهل حل و عقد شورا زمونږ په زمانه کې اسلامي پراخې دنیا په هېڅ کوم هېواد کې وجود او رواج نه لري او که وجود هم ولري، چې مونږ ته نه دي معلوم، نو د شاذ حیثیت لري او هغه نادر ګنلی شي، چې بیا د معدوم په حیث د لیس بشئ بنه غوره کوي. د اهل حل و عقد د شـورا دغه لفظي ترکیب زمونږ لپاره دومره نامانوس دی، چې حتی باسواده خلک یې نه شي تلفظ کولای او نه یې سم لیکلی شي. پوه خلک هم د حل او عقد کلیمې څوک د ((ح)) او ((ع)) په (زبر) او څوک یې په (زېر) تلفظ کوي، نو مونږ څه حاجت او اړتیا لرو چې د تقلید یا اظهار فضـیلت په وجه دغه لفظاً او معناً نااشـنا شـي پسـې دومره ټینګار وکړو. مـا لـه ځینو علمـاوو څخـه اوربـدلې دي، چې د حـل و عقـد ((اهل)) داسـې کسـان وي چې له کبایرو او صـغایرو ګناهونو څخه مبرا او په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقوا او اسلامي فضيلت مشهور او فربنته خويه سړی وي. موږ په خپله بايد وجداناً سوچ وکړو چې دغسې شخصيتونه يو، يا دومره ډېر دغسې شخصيتونه موندلی شو، چې ټول خلک د معصوميت او بې ګناهۍ شهادت پرې وکړي؟ او که بيا دغسې اشخاص، هغه هم د اسلامي ګوندونو له غړو څخه پيدا هم کړو، ايا د افغانستان د ټولو قومونو او قشرونو نمايندګي کولای شي او ټول خلک يا اکثره خلک د دوی پر پرېکړو قانع کېږي. يا ټولنيز عدالت په دې توګه تامينېدای شي؟ برسېره پر دې د لويې جرګې جوړښت، ترکيب او نمايندګي هسې چې په لويو جرګو معمول وي او موږ پېشنهادکړی دی، بالکل اسلامي او عادلانه او خلکو ته د منلو وړ دي او که رعايت يې وشي د هغې له فيصلو څخه هم څوک سرغړونه نه کوي. د دې لپاره چې د لويې جرګې پر ځای د حل و عقد د شورا غوندې د يوې بلې نامفهومې او نا اشنا پديدې ((مجلس موسسان)) خبرې هم اوربدلې کېږي. موږ چې په دې وړاندې د مجلس موسسان خبره واورېده، نو داسې راته وايسېده، چې زموږ دغه وروڼه ګوندې نوی دولت جوړوي او نوی مملکت تاسيسوي. خبره دا ده چې : افغانستان يو مملکت دی. يو دولت دی، د دولت شکل يې بدلېږي رابدلېږي. موږ نوي څه نه جوړوو، بلکې د دولت يو داسې شکل جوړوو، چې ټولو ته د منلو وړ وي، نو ځکه موږ مجلس موسسان ته ضرورت نه لرو. که چاته د افغانستان د خلکو روحيات معلوم وي، هغوی يوازې د لويې جرګې پر پرېکړو قانع کېږي او هغو ته درناوی کوي. حل و عقد او ورسره مجلس موسسان دوه داسې مېکانېزمونه دي، چې زموږ ټولنه او زموږ خلک ورسره بلد نه دي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو وروستی وړاندیز د منلو وړ دی که نه؟

دا وینا د (خپلواکي) مجلې په (٤)مه ګڼه کې پر (١٣٧٥ل)کال خپره شوې ده.

د (١٣٧٥ل)کال د اسد پر ١٢مه د (١٩٩١م د اګست درېیمه) د شنبې ورځې د سهار پر نهو بجو د ازاد افغانستان د ټولنې (وفا) له خوا د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د پنځه فقره یي وړاندیز په باب د پېښور په ګرین هوټل کې یو سیمینار جوړ شوی و. په دغه سیمینار کې د افغانستان د اسلامي موقت دولت مشر محترم پروفیسور صبغت الله مجددي او د افغانستان یو شمېر لیکوالو، پوهانو او ژورنالیستانو ګډون کړی و.

په دې سیمینار کې لومړی د ازاد افغانستان د ټولنې مشر پروفیسور عبدالرسول امین د سیمینار ګډون کوونکو ته ښه راغلاست ووایه او بیا یې خپله وینا واوروله. پروفیسور امین په خپله وینا کې وویل: ((نن ټولو ته جوته ده چې نړیوالو او سیمه ییزو حالاتو په دې وروستیو کلونو کې ژور اوکیفي بدلون موندلی دی. د تېرې لسیزې ترڅو تجربو د نړۍ خلکو ته دا څرګنده کړه، چې د لانجو اوکشالو حل یوازې او یوازې په سوولګوونکو او ورانوونکو شخړو او جګړو کې نه، بلکې په ګډو او سوله ییز تفاهم کې نغښتی دی. اوس د ملګرو ملتونو له خوا د نړۍ د زیاترو سیمو د اوږدو لانجو د حل لپاره سیاسي حلې ځلې روانې دي. د ملګرو ملتونو هڅې او نړیوال بهیر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا په ډاګه کوي چې د افغانستان لانجه یوه انتزاعي او مجرده مسله نه ده، بلکې په نړیوالو او سیمه ییزو جریاناتو پورې تړلې ده. همدا راز د نړۍ او د سیمې د خلکو او قوتونو تمایل او علاقه هم د افغانستان دکشالې د حل لپاره، د دغه نړیوال بهیر په رنا کې زیاته شوې ده.

د ملګرو ملتونو د سرمنشی وروستنی پیشنهاد هم له همدې بهیر څخه الهام اخیستی دی او په داسې شرایطو کې د افغانستان خلکو او نړیوالو ته وړاندې شو، چې زمونږ د هېواد او خلکو سرنوشت، ژوند او د بقا مسالې ډېر ژور اهمیت موندلی دی. دا پنځه فقره ییز وړاندیز د امریکا د متحده ایالاتو، شوروي اتحاد، پاکستان، ایران او سعودي عربستان له خوا هم تایید شوی دی. وفا چې یوه علمي، فرهنګي او څېړونکې ټولنه ده، ننني سیمینار یې د خپلو فرهنګي نو بنټونو په لړکې، د افغانستان د لانجې د سیاسي حل په باب د ملګرو ملتونو د سرمنشي د پنځه فقره یي پیشنهاد په باب د بحث او خبرو اترو په مقصد جوړ کړی دی. تاسو ټولو ته څرګنده ده چې د افغانستان اکثریت خلک د یوې لسیزې څخه د زیاتې مودې راهیسې له یو ستر مصیبت او فاجعې سره مخامخ دی او دا فاجعه د روسانو او دکابل دکمونستانو له خوا زمونږ پر خلکو تحمیل شوې ده، خوکله چې د افغانستان د سیاسي حل موضوع رامنځته کېږي، نو د دغه هدف یوازینی او اغېزمنه وسیله، ډپلوماسي او ګډ تفاهم ګڼل کېږی، او ملګرو ملتونو موسسه چې یوه بې طرفه موسسه ده او د نړۍ د ولسونو ملاتړ یې تر شا دی، په دې برخه کې اغېزمن عمل ترلاسه کولای شي. د افغانستان مطلق اکثریت خلک په افغانستان کې یو اسلامي، افغاني او منتخب حکومت جوړېدل، د هېواد بشپړه خپلواکي، د خاورې تمامیت او د افغانستان ناپېلتوب غواړي. همدا ډول د افغانستان ټول جهادي قوتونه، مهاجر او ټول خلک په دې عقیده لري، چې د افغانستان

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کشالې لومړنی شرط د کابل د رژیم کوښه کېدل او داسې یو سیاسي میکانیزم ګڼي، چې د افغانستان د ټولو خلکو لپاره د منلو وړ وي.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي پنځه فقره ییز پېشنهاد د افغانستان د خلکو ترمنځ بېلابېل انتباهات راوهڅول، چا هغه ګټور وبلل، چا هم مبهم او بې اغیزې وګڼل او چا پرې په مثبتو او ګټورو اړخونو ټینګار وکړ او ځینې برخې یې د اصلاح او وضاحت وړ وبللې. دې لپاره چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د پېشنهاد اساسي او مهم ټکي څرګند شي او په هغو کې د افغانستان د خلکو اساسي غوښتنې او اهداف وڅېړل شي او همدا ډول د دې پېشنهادونو په باب ازاد او بې طرفانه قضاوت وشي، مونږ دغه سیمینار جوړ کړ. د دې سیمینار څخه هدف د افغانستان د مسلې په باب د افغانانو ترمنځ د نظر د یووالي او نږدېوالي او تفاهم رامنځته کېدل دي...))

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکې

zia_2zia@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تنظيمونو او د دوی د حاميانو تولې هلې ځلې د ملګرو ملتونو د سولې د عملیې د شنډولو لپاره دي

دا مرکه د (وفا) جریدې په (۱۰۵)مه ګڼه کې د (۱۳۷۳ل) کال د چنګاښ میاشتې پر (۱۵)مه نېټه خپره شوې ده.

پوښتنه: د اسـتاد رباني د حکومت د شـپږ میاشـتې مودې د اوږدېدو په باب ستاسې نظر څه دی؟

ځواب: زما په نظر که دا موده شـپږ میاشـتې وغځوي، که يې يو کال وغځوي او که يې دوه کاله وغځوي، دا به مشـــکلات نور هم زیات کړي. جګړې به نورې هم پیدا کړي، کابل او شـاوخوا غیر له هغې نه هم توتې توتې شـوی دی. خلک مړه دي، نو زه فکر کوم چې دا د مســلې حل نه دی، بلکې مســلې به نورې هم مشکلې کړي.

پوښتنه: له بله پلوه مولوی صـاحب یونس خالص هم ځان د جمهور رییس په توګه اعلان کړی دی، ســـتاســـو په نظر ایا د هغه په خبره کې به څومره وزن پروت وي؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروفیسور رسول امین: دا خو سړی په کلکه نه شي ویلای چې د دوی جمهور رییس کېدل به څوک ومني او که به یې نه مني، بلکې مسله دا ده چې څوک ځان د څه لپاره اعلانوي، چې زه جمهور رییس کېږم، اصلي خبره دا ده چې د افغانستان مسله په څه شي باندې حل کېږي. د هغې لپاره باید فکر وشي، نه دا چې د قیادي شورا بیا راژوندۍ شي. د دغو خلکو منډې رامنډې زما په نظر باندې دا یوازې او یوازې د ملل متحد د سولې د هغې پلان چې د افغانستان مسله به په سیاسي ډول حل کړي، د مخنیوي لپاره کېږي. بله مسله دا ده چې دوی او د دوی سره څوک کومکوه کوي، دوی نه غواړي چې دغه انحصار چې دې نهو وکسانو ته یې په لاس کې ورکړی دی، دغه مات کړي.

پوښتنه: په خپله د حکومت له لورې او مولوي خالص مورِ ته وویل، چې ملګري ملتونه هڅه کوي، افغانستان کې یو درېمګړی ځواک رامنځته کړي او هغه ځواک به د نورو زیاتو وینو د تویېدو سبب شي. له دې امله مورِ ته د منلو ور نه دی، تاسو په دې باب څه وایئ؟

پروفیسور رسول امین: خبره دا ده چې افغانستان د ټولو افغانانو کور دی. دا افغانان چې په هرځای کې، په هره سیمه کې د هر قوم سره ټرون لري، دا وطن د دوی ټولو ګډ کور دی. په افغانستان کې ټولو افغانانو قرباني ورکړې ده، جهاد یې کړی دی، ځانونه یې وژلي دي. دا نه د چا ټیکه ده، نه د چا انحصار دی، چاته چې چا پیسې ورکړې وي، چې څه ته ما مقرر کړې، چې ته به د دې ګوند یا پارټۍ مشر وې او ټیکه به ستا وي. زه ګومان کوم دا د افغانانو په پرېکړو پورې ارتباط لري، که افغانان دوی غواړي، دوی راتلای شي او که افغانان درېیم قوت غواړي، درېیم قوت راتلای شي. یانې دا د دوی

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

انحصـــار نه دی او نه افغانان چاته دا حق ورکوي چې د دوی راتلونکی دې انحصار کړي.

پوښتنه: امین صاحب ستاسو نظر د OIC د اوسنیو هلو ځلو په باب څه دی؟

پروفیسور رسول امین: زه فکر کوم چې OIC راتګ هم د دې لپاره دی چې د ملګرو ملتونو داکومه پروســه چې ده، دا شــنډه کړي. هغه هېوادونه چې په OIC کې دي، دوی په افغانســتان کې هغه کار کوي چې هغوی به بیا په افغانستان کې انحصار راولي.

پوښتنه: امین صـاحب له بل پلوه تېره شـپه د پاکسـتان د باندنیو چارو وزارت اعلان کړی چې ســر له ننه کوم څه چې په افغانســتان کې کېږي هغه به قانوني حیثیت نه لري، تاسو په دې هکله څه وایئ؟

پروفیســور رســول امین: تاســو ته معلومه ده، دغه خلک چې راغلي وو، د جلال اباد د ټرون له مخې اته ویشــتم جون اخرنۍ ورځ وه، چې پرون تېره شوه. زه ګومان کوم چې اوس به په خپله دا حکومت چې افغانانو ورسره منلی هم نه و، د دی ټرون له مخې غیر قانوني دی.

د امریکا غږ پښـتو څانګې د ازاد افغانسـتان د لیکوالو ټولنې له رییس ښـاغلي پروفیسو امین سره یوه مرکه کړې ده، چې لاندې وړاندې کېږي:

۱- مورِ ټول د دې تریخ واقعیت شــاهدان یو چې د نهه ګوندونو خارجي پلویان همېشه په دې کوښښ کې دي، چې د افغانستان سیاسی انحصار د دغه ګوندونو پورې محدود وساتي.

۲- اوس هم د دغو ګوندونو خارجي پلویان غواړي، چې د ملګرو ملتونو د ســولې هلې ځلې شــنډې کړي. په ظاهر کې دغه هېوادونه د ملګرو ملتونو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هئیت سره د تائید سر خوځوي، خو په واقعیت کې هغوی په افغانستان کې د ګوندونو مشـــرانو ته هدایات ورکوي چې په هره طریقه چې وي، د ملګرو ملتونو د هیئت په لاره کې خنډونه واچوئ او د دوی په خوله د ملګرو ملتونو هیئت او نورو خارجي هېوادونو ته وایي چې د افغانستان مسله داخلي مسله ده او یوازې دغه ګوندونه حق لري چې دوی قیادي شـــورا بیا جوړه کړي. د نهه ګوندونو دغه قیادي شـــورا دې موقت حکومت جوړ کړي. دغه قیادي شـورا دې د شـورا او یا لوېې جرګې په نوم غونډه وکړي او د قیادي شـورا په خوښـه دې، انتخابات وشـي او د ملګرو ملتونو هیئت او د اسـلامي کنفرانس تنظیم دې د قیادي شـــورا او د قیادي شـــورا له خوا د ټاکلي وخت ســـره همکاري وکړي.

۳- د قیادي شـــورا ناکامه فورموله بیا عملي کول غواړي. د قیادي شـــورا له خوا د راولپنډۍ په حاجي کمپ کې حکومت جوړ شـو. د پېښـور د معاهدې له مخې قیادي شـورا حکومت جوړ کړ. د اسـلام اباد او جلال اباد د معاهدو پر اساس قیادي شورا حکومتونه جوړ کړل او دغه ټول حکومتونه نه یوازې له ناکامۍ سره مخامخ شول، بلکې د دغې قیادي شورا حکومتونو د افغانستان مظلوم خلک له مرګ ژوبلې سره مخامخ کړل. د افغانستان پلازمېنه کابل یې له خاورو سره برابر کړ. سلګونه زره ښـځې، ماشومان او نارینه یې ټپښتې او اوارګۍ ته مجبور کړل. د همدغې قیادي شورا له خوا انتخاب شوي کسان او د دفاع وزارت په خپلو خلکو بمباري کوي. په توپونو یې ولي او په زرګونو معصـــوم انســـانان وژني او ټپښـــتې ته یې مجبوروي. د قیادي شـــورا د بیا راژوندي کولو تر شاه دغه اهداف موجود دي:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول: د ګوندونو او تنظیمونو خارجي پلویان غواړي چې د قیادي شـــورا د زړې او ناکامې فورمولې پر اساس د ملګرو ملتونو د سولې هلې ځلې شندې کړي.

دویم: خارجي دخیل حکومتونه غواړي چې د افغانستان سیاسي قدرت د نهه ګوندونو او تنظیمونو په انحصارکې وساتي او افغانستان داسې حالاتو ته ورسوي، چې یا یې د خپل کنترول لاندې راولي او یا یې تجزیه کړي.

دریم: د قیادي شـــورا د بیا راژوندي کولو لپاره هغه خلک کوښـــښ کوي، څوک چې د افغانستان پرځای د وزارتونو، سفارتونو، ریاستونو، تجارت او یا نورو امتیازونو په تمه ناســت دي. دغه ډول خلک فکر کوي چې یوازې د قیادي شـورا له لارې هغوی دغه بې اســتحقاقه حق ترلاســه کولای شـي. که خبره دې ته راشي چې کار دې اهل کار ته وسپارل شي، نو بیا دوی د اهلیت په لحاظ دوی ته څوک دغه امتیاز نه شي ورکولای.

څلورم: اوس د افغانستان مسله داخلي کشاله نه ده. زمونږ دې غملرلې مسلې بین المللي بڼه غوره کړې ده. یوازې بې طرفه د ملګرو ملتونو لوی سکرتر او د افغانســـتان لپاره د ملګرو ملتونو هیئت زمونږ د مســـلې د حل لپاره لاره پیداکولای شي. په دې شرط چې د امنیت د شورا دایمي غړي د افغانستان د سـولې لپاره جدي موقف وښـایي. ګاونډي او نور دخیل حکومتونه په خلوص د ملګرو ملتونو د هیئت ملاتړ وکړي او له ټولو نه مهمه دا ده چې د افغانانو لوی خاموش اکثریت د ملګرو ملتونو د سولې د هیئت تر شاه ټینګ ودرېږي او د خارجیانو له خوا تحمیل شوی انحصار مات کړي او خپل حق واخلي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې تنظيمونه د خپلو باندنيو پلويانو په لمسون د ملګرو ملتونو د سولې د عملیې په لاره کې خنډونه اچوي

دا مرکه د (وفا) جریدې په (۱۰۶) مه ګڼه کې د (۱۳۷۳ل) کال د چنګاښ میاشتې پر (۲۲) مه نېټه خپره شوې ده.

د اسلامي کنفرانس د لوی سکرتر بناغلي دوکتور الفابد سره د افغانستان د تفاهم او ملي وحدت د شورا د غړو دکتنې په رابطه د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور رسول امین د امریکا غړې پښتو څانګې ته وویل: د اسلامي کنفرانس د لوی سکرتر دوکتور حامد الفابد په بلنه د تفاهم د شورا غړو د شیخ الحدیث مولوي تره خیل په مشرۍ له نومورې سره ملاقات وکړ.

په دې غونډه کې مولوي تره خیل، دوکتور حامد الفابد ته وویل: د راولپنډۍ له حاجي کمپ څخه نیولې پېښور، اسلام اباد او جلال اباد د ټرونونو او موافقو پر اساس د افغاني تنظیمونو مشرانو حکومتونه جوړ کړل. اما د دغو تنظیمونو مشرانو ټولې معاهدې ماتې کړې دي او دې مشرانو افغانانو ته د قتل او غارت، تباهۍ او د ښارونو له بربادۍ پرته بل هېڅ نه دي ورکړي. مونږ ټول پوهېږو چې ځینو باندنیو هېوادونو د دې تنظیمونو په مشرانو پولې او مالي سرمایه ګذاري کړې ده او د دوی پلویان تل زیار باسي چې د افغانستان

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراخه پرکنې د خپل سرنوشت له حق څخه محروم وساتي او زمونږ د هېواد د ټولو ولسونو سیاسي انحصار د دې تنظیمونو د مشرانو په لاس کې وي.

د دې تریخ واقعیت ثبوت دا دی چې د دې تنظیمونو مشـران د خپلو باندنیو پلویانو په لمسون د ملګرو ملتونو د سولې د عملیې په لارکې خنډونه اچوی او دغه باندنی هېوادونه په دې کوښښ کې دي چې ستاسو د اسلامي کنفرانس په وسیله د دغو اشخاصو مړه قیادي شورا بیا راژوندۍ کړي او د دغې قیادي شـورا له لارې په افغانانو باندې تحمیل او انحصـار لا ټینګ کړي. که تاسـو د اسـلامي کنفرانس د لوی سکرتر په حیث د ځینو خارجي هېوادونو په خوشـه دغه مړه قیادي شـورا بیا راژوندۍ کړئ، نو مورږ افغانان تاسـو ته په ډاګه وایو چې ستاسو دغه هلې ځلې له ناکامۍ سره مخامخ کېږي او د جګړو د دوام نه غیر بله هېڅ نتیجه نه ورکوي. مورږ د دتفاهم د شورا ټول غړي د افغان مظلوم ولس په نمایندګۍ له تاسو څخه هیله کوو، چې تاسو د هرې نتیجې او فیصلې ترمخه د افغانسـتان د ټولو قشـرونو د نماینده ګانو سـره وګورئ او له افغانانو څخه پوښتنې وکړئ، چې افغانان څه غواړي او د خپلې مسلې د حل لپاره څه وړاندیزونه لري؟

مورږ پوره باور لرو چې د افغانسـتان لوی اکثریت د ملګرو ملتونو د سـولې د عملیې کلک ملاتړ کوي. افغانان د دې مشـرانو د قدرت لپاره د جګړو څخه سـترې شـوي دی. افغانان سـوله غواړي. مورږ د ملګرو ملتونو په همکارۍ د یوې ټاکلې مودې پورې د یو بې طرفه حکومت غوښـتونکي یو او افغانان واقعي نمایـنده لویه جرګه غواړي، چې د ملګرو ملتونو په همکارۍ خپل سرنوشت او خپل راتلونکي زعامت په خپله وټاکي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورِ افغانان له تاسو څخه هیله کوو، چې ستاسو اسلامي کنفرانس او د ملګرو ملتونو د سولې هیئت دې د افغانستان د سولې لپاره خپل فعالیتونه منسجم کړي او اسلامي کنفرانس او ملګري ملتونه دې په ګډه د سولې د یوې داسې فورمولې لپاره کار وکړي، چې د افغانستان د خلکو لوی اکثریت ته د منلو وړ وي او افغانستان د دغو څو اشخاصو له تحمیل او انحصار څخه خلاص کړي. ښاغلي دوکتور حامد الفابد او ورسره هیئت ټولو غړو په ډېر دقت د تفاهم د شورا د غړو خبرو ته غوږ نیولی و او د یو ساعت او پنځلس دقیقو د خبرو په پای کې د اسلامي کنفرانس لوی سکرتر وویل: ((د اسلامي کنفرانس او د ملګرو ملتونو د سولې د هیئت ترمنځ رقابت او مخالفت نه شته. لکه څنګه چې تاسو وایئ، مورِ دواړو هیئتونو خپل فعالیتونه منسجم کړي دي. اسلامي کنفرانس او د ملګرو ملتونو هیئت د سولې لپاره ګډه همکاري کوی او مورِ زیار باسو چې د سولې یوه داسې فورموله پیداکړو چې د افغانسان اکثریت ته د منلو وړ وي او هم د عملي کېدو وي. اسلامي کنفرانس او ملګري ملتونه غواړي چې د باندنیو د لاسوهنې څخه پرته دې افغانان خپل سرنوشت د خپلو نیکونو د عنعنو پر اساس وټاکي...))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرات غونډې مثبتې او منفي خواوې دواړه درلودې

دا مرکه د (وفا) جریدې په (۱۰۹)مه ګڼه ګې د (۱۳۷۳ل)کال د زمري میاشتې پر (۱۲)مه نېټه خپره شوې ده.

د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور رسول امین د (۱۹۹٤م) میلادي کال د جولای د اته ویشتمې پر مانښام د هرات د غونډې په باب له امریکا غږ سره یوه مرکه وکړه، چې غټ ټکي یې دلته وړاندې کېږي:

پروفیسور امین د خپلو خبرو په پیل کې په عام ډول دا وویل چې هر افغان دا حق لري، د خپل هېواد د دې غمیزلې شخړې د خلاصون لپاره لارې چارې وسنجوي او په دې برخه کې هڅه وکړي، څو وطن له دې روان ناورین څخه نجات پیدا کړي، خو اساسي خبره دا ده چې هلې ځلې باید مفیدې ثابتې شي او د افغانستان د لانجې دا غوټه پرانیزي او نه دا چې یوه بله غوټه پرې ور اضافه کړي. د هرات د غونډې په اړه زما مشخص نظر دا دی، چې دې غونډې مثبتې او منفي خواوې دواړه درلودې:

۱- غونډې فیصله وکړه چې د افغانستان د لانجې د حل لپاره دې یوه لویه جرګه جوړه شي، دا پرېکړه یو مثبت انکشاف دی، ځکه بخوا چې به چا ویل چې لویه جرګه دې جوړه شي، نو دغو تنظیمي کسانو به د لویې جرګې د نوم په اوربدو به د لویې جرګې په پلویانو مختلفې ټاپې لګولې، کله یې کمونستان،

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله يې ملحدان اوکله به يې د CIA ایجنټان بلل. نن دوی ته هم معلومه شـــوه چې بې د لوبې جرګې د جوړېدو بله لاره نه شـــته، خو لویه جرګه به شـــرایط لري او هغه دا چې لویه جرګه به د یوې بې طرفه مرجعې له خوا دعوت کېږي او د غړو په تعین کې به يې د تنظیمونو او تنظیمونو ته د منصـــوبو کســـانو څه لاس نه وي.

۲- په غونډه کې خارجي مداخله وغندل شـوه. موږ تل دا چیغې وهلې چې د افغانســـتان مســـله خارجي مداخلو کړکېچنه کړې ده، بېلابېل هېوادونه په افغانستان کې خپلې ډلې لري او دا ډلې د خپلو خارجي حامیانو په اشاره کار کوي، څه چې ورته ویل کېږي هغه کوي، افغان مظلوم ملت او وران هېواد ته جزي ترین نظر او التفات هم نه کوی. دا بنه وشول، چې دوی (تنظیمونو) دا مداخله وغندله، لاکن د مداخلې ماهیت يې نه دی څرګندکړی. د هر تنظیم مشـر او غړی يې فکر کوی چې د دوی خارجي پلویان دوسـتان دي، د دوی د خارجي پلویانو مداخله، مداخله نه ده او د نورو تنظیمونو حامیان مداخله ګرځېل کېږي. حال دا دی چې د ټولو تنظیمونو حامیان مداخله کوي.

۳- بلـه د یـادونې وړ خبره پـه دې غونـډه کې دا هم وشـــوه، چې دوی (تنظیمونو) خپله وویل چې ملت خپل سـرنوشت باید خپله وټاکي. موږ به تل ویل چې د افغانستان مسله باید د تنظیمونو له انحصار او ولکې څخه ووځي او دا دی نن دوی هم دې خبرې ته راغلل چې د افغانستان کشـاله د انحصـار له لارې حل نه مومي. د دغو بنـــو اړخونو ترڅنګ دې غونډې منفی خواوې هم درلودې، چې زما په نظر هغه دا دي:

الف: دا غونډه بې طرفه غونډه نه وه، دا په دې مانا چې د یوې بې طرفې مرجعې له خوا نه وه رابلل شوې؛ ټولې ذیدخله خواوې په کې نه وې شریکې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــوې، همه جانبه نه وه او خپل خاص تنظيمي اړخ يې درلود. د دې غونډې دا پړېکړه چې استاد رباني دې د شپږو مياشتو لپاره نور هم د جمهور رييس په توګه پاتې شي. د تنظيمي غونډې څخه پرته بل هېڅ بنه يې نه درلوده.

ب: غونډې ته په داخل او خارج کې ډېر کسان بلل شوي وو، خو هغه کسان يې په غونډه کې د اشتراک لپاره بوتلل، چې د دوی خوښ وو، هر باصلاحيته افغان ته په جرګه کې د ګډون حق نه و ورکړل شوی.

ج: دريمه عمده نيمګړتيا يې دا وه، چې دوی وويل؛ ملګري ملتونه بايد د لويې جرګې د جوړولو د پولی وجوهاتو په تامين کې له دوی ســـره مرســـته وکړي، دا خبره هم د تاييد وړ نه ده، ځکه د ملګرو ملتونو د منځګړتوب څخه پرته او د دوی له ســـرپرســـتي ماوراکې لويه جرګه د يوه تنظيم او يا تنظيمونو له خوا جوړېږي، هغه هېڅ ګټه نه لری، موضـــوع نوره هم کړکېچنه کوي، هېواد او ملت د تباهۍ پر لوري بيايي، بهترينه لار دا ده چې ملګري ملتونه د يو بې طرفه جهاني ســـازمان په توګه د افغانانو په موافقه او د دوی په مرسته يوه لويه جرګه راوغواړي، دغه لويه جرګه د موقتي دورې لپاره زعامت وټاکي او نور مهم مســـايل چې معمولاً يې لويې جرګې فيصـــله کوي، فيصـــله کړي. زما په نظر د ملګرو ملتونو د مســـتقيمي مرســـتې څخه پرته نورې ټولې تنظيمي غونډې د افغانســـتان کشـــاله د حل پرځای نوره هم پېچلې کوی او نورو جګړو او وينو تويولو ته لار هواروي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملګرو ملتونو هڅې ناکامې نه دي، یوازې ځینو خلکو خندونه په کې پیدا کړل

دا مرکه د (وفا) جریدې په (۱۱۳)مه ګڼه کې د (۱۳۷۳ل)کال د وږي میاشتې پر (۱۶)مه نېټه خپره شوې ده.

د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور عبدالرسول امین د ملګرو ملتونو د خاص هیئت په چارو کې د خندونو د رامنځته کېدو په باب له بي بي سي سره یوه مرکه وکړه، چې متن یې په لاندې ډول دی.

له دوی نه د ملګرو ملتونو د خاص هیئت او د تنظیمونو د غونډې په ارتباط پوښتنه وشوه، پروفیسور امین په دې ارتباط وویل: دا خبره څوک په قاطع ډول نه شي کولی، چې د افغانستان لپاره د سولې د هیئت د مشر بنـاغلي محمود مستیري هڅې له ناکامۍ سره مخامخ شوې دي، زما په نظر که څوک دا ووایي چې دا هڅې ناکامې شوې، دا سمه خبره نه ده، البته له مشکلاتو سره مخامخ شوې دي.کومه غونډه چې د بنـاغلي مستیري او د تنظیمونو ترمنځ باید په اسلام اباد کې شوې وای، هغه ونه شوه او د ځینو تنظیمونو استازو مختلفې بهانې وکړې او پر همدې اساس غونډه جوړه نه شوه.

اصلي خبره دا ده چې د افغانستان خلک سوله غواړي، په څه ډول چې سوله راتلای شي او څوک چې د سولې په راوستلو کې موثریت لري، هغه ته باید حق ورکړل شي او له هغه څخه استفاده وشي. دا خو څه د ټپکې خبره نه ده چې د افغانستان ټول مسایل او هر څه ځینې خلک په خپل ځان تماموي او د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان حق يې بولي، که د اعليحضرت ظاهرشاه خبره راشي، وايي موږ يې نه منو، که د بل چا نوم ياد شي بيا نورې سل بهانې وړاندې کړي، اوس چې د دوستم خبره ده، دوی وايي چې دی کمونست دی، که دی کمونست و، ولې پروسږکال په ارګ کې کښول شو. زما په عقيده هېڅوک دا حق نه لري چې ووايي دا منم او دا نه منم، ځکه هر افغان حق لري د خپل هېواد په سرنوشت ټاکلو کې برخه واخلي او دا چې له ځينو سره غټې ټاپې دي، چې د سولې خبره راشي، نو دوی خپلې ټاپې راوباسي او په هر چا خپله خپله ټاپه ولګوي، وايي پلانی ملحد دی، پلانی کافر دی، پلانی دې وي او پلانی دې نه وي، هغه چې وي ځکه زه سوله نه کوم، به خبرو کې برخه نه اخلم، دا مخصد بهانې، د وخت ضايع کول او جنګ ته دوام ورکول دي. په دې مسله کې ځينې خارجي فکتورونه هم موثر دي، په دوی باندې سرمايه ګذاري شوې ده، دغه خارجي قوتونه غواړي چې د دوی طرفداران بايد هلته په افغانستان کې قدرت ولري. خو خبره دا ده چې دوی د افغانستان مسله نه شي حلولای، که دغو تنظيمونو او د دوی طرفدارانو دا مسله حل کولای شوای، نو په دې دوه نيمو کلونو کې به يې حل کړې وای او دا ځرګنده شوې ده، چې د افغانستان مسله د ملګرو ملتونو څخه پرته بل څوک نه شي حلولای، د افغانستان په جګړه کې ښکېلې ډلې په پوره توګه له ناکامۍ سره مخامخ شوي دي، ملګرو ملتونو چې دسولې کومه پروسه شروع کړې ده، چې کاميابۍ طرف ته روانه ده، تنظيمونو چې کوم کارونه په افغانستان کې وکړل، دا تړې معلومېږی چې هغوی د دې قدرت نه لري، چې د افغانستان مسله حل کړي. دوی غواړي چې په خلکو خپل اقتدار وټپي، خو د دوی دا عمل د افغانستان د خلکو د منلو وړ نه دی، که دا تنظيمونه اوس د ملګرو ملتونو په کارونو کې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خندونه پیداکوي، خو اخر به دا پروسه مني او هغه به دا سې وخت وي چې افغانستان به يې نور هم ټوټه ټوټه کړی وي.

پوښتنه: ځینې خلک اوس د لوېې جرګې خبرې کوي، تاسې دا ډول جرګې څه ډول ارزیابي کوئ؟

پروفیسور امین: په پښتو کې یو متل دی، چې مار خوړلی له پړي هم ډاریږي، ځنګه چې د افغانستان خلک په تېرو شپارسو کلونو کې ډېر ځوریدلي، ربړیدلي او د دغو خلکو له شوراګانو هم ستړي شوي دي، نو ځکه اوس د دوی هر کار ته د شک په سترګه ګوري. که دوی د لوېې جرګې په نامه خپل خلک راوغواړي او خپل خلک بیاکښنوي او بیا ځان پرې ومني، نو د دې کار نتیجه به دا وي چې په افغانستان کې به جنګ جاري وي، زه ګومان کوم چې د افغانستان د خلکو زړه اوس له دوی تور شوی دی، یوازې دومره خبره پاتې ده چې ووایي د افغانستان ټول خلک دې بیدیا ته لاړ شي، افغانستان دې همدوی ته پرېږدي چې دوی یې په پاتې کندوالو حکومت وکړي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پخواني پاچا اساسي هدف افغانانو ته د خپل سرنوشت حق ورکول دي

دا مرکه د (افغانان) جریدې د لومړي کال په (۱) ګڼه کې د (۱۳۷۹ل) کال د جوزا میاشتې پر (۱۵)مه نېټه خپره شوې ده.

د (۲۰۰۰م) کال د مې د میاشتې پر ۱۲ مابنام د امریکا غږ د پښتو خپرونې د خبرو اترو پروګرام ته د افغانستان د مطالعاتو مرکز مشر پروفیسور عبدالرسول امین رابلل شوی و، دلته مورِ ددغو خبرو متن لوستونکو ته وړاندې کوو:

په سرکې د پروګرام کوربه له ښاغلي پروفیسور امین څخه وپوښتل چې په افغانستان کې د سولې د راوستو په هکله د پخواني پاچا اعلیحضرت ظاهرشاه دکوښښونو په لړۍ کې، امریکا کې د افغانستان د چارو څارونکي څوک یو شی وایي او څوک بل شی، یانې په اتفاق نه دي، ځینې خلک وایي چې د ظاهر شاه خان نه بغیر د افغانستان کشاله په بل چا نه جوړېږي او ځینې نور بیا داسې وایي چې د ظاهر خان له دې جرګو او هلو ځلو نه هېڅ شی نه جوړېږي او دلیل هم دا راوړي چې په دې جرګو کې اکثره داسې خلک دي چې د وطن له حال نه هېڅ خبر نه دي، مثلاً له دغو نه یو سړی مایکل روبن نومېږي، چې د ((بن) په پوهنتون کې استاد دی او په دې تازه وختونو کې افغانستان ته تللی و او هلته یې خلکو سره خبرې کړي دي او کله چې بېرته دلته راغلی بیا یې ویلي چې هلته هېڅوک ظاهر خان نه غواړي، دا خبره رښتیا ده که څنګه؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هکله پروفیسور عبدالرسول امین وویل: دا چې ځینې خلک وایي چې ظاهرشـاه په افغانسـتان کې رول لري او ځینې خلک وایي چې رول نه لري، زما په ګومان دا دوه ډوله خلک دي، یو هه خلک دي چې هغوی افغانسـتان کې خپل خلک لري او غواړي چې د دوی په نظر راتلونکی افغانسـتان هم هغه شـان جوړ شـي، ځنګه چې دوی یې غواړي، بلکې په افغانسـتان کې د خلکو د حق خود ارادیت پر ځای غواړي چې هغه خلک مسـلط کړي چې دوی ورته مشـخص ماموریت ورکړی دی. دا اصلاً یو پروګرام دی چې دوی وایي، ظاهرشـاه په افغانسـتان کې نه څوک غواړي او نه یې څوک پېژني، بله برخه د افغانسـتان خلک دي یانې افغان ولس دی چې د دغو جنګي ډلو له خوا نه یرغمل نیول شـوي دي، دا ټول ظاهرشـاه غواړي. ځینې خلک چې له غرب نه راشـي او دلته دوه درې ورځې تېرې کړي، دا خلک دلته د ځینو مشـخصـو ډلو سـره ګوري، زه باید ووایم چې په دغو یوویشـتو کلونو کې چې دلته له غرب نه ځینې عالمان یا ژورنالسـتان یا نور راغلي دي او دلته یې له چا سـره کتلي دي او هغوی ورته یو مشـخص نظر ورکړی دی، بیا نو دوی چې ببرته تللي دي، ځانونه ورته د افغانسـتان متخصـصـین ښـکاري او داسـې فکر کوي چې مورږ نو د افغانستان متخصصین یو او بیا په خپل هغه نظر ټینګ ولاړ وي چې دوی له ځینو ډلو څخه دغه مشخص نظر اخیستی دی.

پوښـتنه: ډېر خلک په دې فکر کې دي چې په دې یووشـتو کلونو کې چې پر افغانستان دغه بده وضعه ربوانه وه، ظاهر خان د کمونستي کودتا نه وروسته یوه ورځ هم د افغانستان د مظلومو خلکو شکایت کوم ځای کې نه دی کړی، کوم ځای ته نه دی تللی، کوم ځای کې یې بیان نه دی ورکړی، کوم داسـې کنفرانس یې نه دی جوړ کړی چې خلکو ته ووایي، چې په افغانانو ظلم کېږي او کله چې روسـان افغانسـتان ته راغلل، نو بیا یې هم ونه ویل چې روسـانو په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانســـتان حمله کړې، په افغانانو يې ظلم کړی؟ په دې هکله تاســـو څه وایاست؟

پروفیسـور امین وویل: زه داسې فکر کوم چې دا هم د هغو تبلیغاتو یوه برخه ده چې ما دلته د دوی په اصـطلاح د ځینو سـرکاري منابعو څخه اورېدلې ده، اما تر هغه ځایه چې په پخواني پاچا پورې ارتباط لري، ده همېشـــه د افغانانو ملاتړ کړی دی، د مثال په توګه څو ورځې مخکې په اســـلام اباد کې زه له چاسره ناست وم، هغه هم همداسې وویل چې پاچا په کال کې یو بیان ورکوي او بس. نو ما ورته وویل چې د پخواني شـــوروي اتحاد د باندنیو چارو وزیر شـــواردنادزي پاچا ته ورځې او هغه ته وایي چې ته راشـــه او قدرت مورِ تاته درسـپارو، همداسـې د نجیب الله اسـتازی ورغلی و او ده ته یې دا خبره کړې وه او ده ونه منله، حتی هغوی دا خبره هم کړې وه چې ســـتا په طرفداری به کودتا وشي او دکودتا له لارې به قدرت تاته درکړل شي، نو دا خبره هم هغه ورســـره نه ده منلې، نو ما ورته وویل چې هغه نه غواړي چې کومه بله جبهه ځان ته خلاصه کړي یا ګاونديو ملکونو ته کومه ستونزه پیدا کړي، نو یو سړی چې د ســتونزې د پیدا کولو مخالف وي او غواړي چې د افغانســتان مســاله د سولې له لارې حل شي، نو تاسو د هغه ا د سولې کوښښونه ولې داسې ګڼئ، چې ګوندې پخوانی پاچا په افغانستان کې عملي ګام نه دی اخیستی، ده په دې یوویشتو کلونو کې یوازې د سولې لپاره کار کړی دی او د پخواني پاچا په نظر ســوله هغه وخت راتللی شــي، چې خپله افغانان او ګاونديان ســره کښې او په افغانستان کې د داسې یو حکومت د جوړولو کوښښ وکړي چې هغه دوست حکومت وي او هغه د وینو تویولو او د قومونو ترمنځ د تفوق نه پرته د وروری فضا رامنځته کړي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: دلته خلک بیا دا خبره کوي چې د پخواني پاچا ترځنګ هغه خلک راټول شوي چې په افغانستان کې ماموران وو او په افغانستان کې یې لوړ لوړ مقامونه لرل، حتی ځینې خلک دا هم وایي چې دا افغانستان چې دې حد ته رسېدلی د همدوی له لاسه دی؟

پروفیسور امین په ځواب کې وویل: ماته دا خبره سمه نه ښکاري ځکه هغه افغانان چې دلته یې ځینې کارونه کول هغوی یې دلته پرې نه ښودل، په تېښته یې مجبوره کړل، ځینې یې مړه کړل، ځینې یې د صحنې نه وایستل او هغو خلکو ته چې د افغانستان په هکله خاص ماموریت ورکړل شوی و هم هغو ته وسلې او پیسې ورکړل شوې او د هغوی له لارې یې دغه افغانان مجبوره کړل چې وتښتي، البته دوی دا غوښتل چې هغه افغانان چې واقعاً د افغانانو او افغانستان لپاره کار کوي، باید په افغانستان، پېښور او ایران کې پاتې نه شي.

د پخواني پاچا په هکله باید ووایم چې د هغه اوله خبره دا ده چې زه په افغانستان کې پاچاهي نه غواړم، ده په خپله وروستنۍ اعلامیه کې دا هم ویلي چې هغه د خپلې پروسې لپاره کوم مشخص نماینده یا نماینده ګان نه لري. د پخواني پاچا د وینا له مخې د ده د سولې د پروسې د عملي کولو نماینده ګان په خپله د افغانستان خلک دي، ټول قام او ولس دی، د پاچا د سولې د پروسې لپاره هر چاته یوه مشخصه وظیفه او ماموریت ورکړل کېږي، څه وخ چې د دغه شخص یا اشخاصو مشخص ماموریت پایته رسېږي، بیا وروسته نور اشخاص موظف کېږي او هغوی د ټاکلې وظیفې په اړوند خپل ماموریت ته دوام ورکوي، تر څو چې خپله وظیفه پایته ورسوي او نورو افغانانو ته راتلونکی ماموریت ور وسپاري. پخوانی پاچا د افغانستان د راتلونکي موقتي حکومت لپاره یو داسې پلان او ترکیب چې پلانی او پلانی به افغانستان ته ځي او هلته به موقتي حکومت جوړوي، نه لري. د پاچا په نظر دا د افغانانو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کار ی چې هغوی خپل منځ کې سره کښې او ګاونډیانو او بین المللي ټولنو سره خبرې وکړي او د خپل منځي مشورې پر اساس د موقتي دورې د حکومت لپاره لار هواره کړي. ټول افغانان په دې واقعیت پوره پوهېږي چې په طالبانو او د شمال په اتحاد کې هم داسې پراخ نظره اشخاص وجود لري چې هغوی په ټول افغانستان او د ټولو افغانانو په ښېګڼو فکر کولای شي او دغه اشخاص هم په راتلونکي موقت حکومت کې موثر رول لوبولای شي.

د پخواني پاچا د ټولو هلو ځلو یو هدف، دوه وسیلې او یوه منطقي نتیجه ګیري ده. د پاچا اساسي هدف افغانانو ته د خپل سرنوشت حق ورکول دي. په ټوله نړۍ کې د خود ارادیت حق یو منل شوی واقعیت دی او د نړۍ ټول قاموسونه دغه حق په ازادانه توګه استعمالوي. دغه حق پاکستان، ایران او د اسلامي نړۍ ټول ولسونه هم استعمالوي. افغانستان هم د دې نړۍ یوه برخه ده او د دې هېواد ټول اوسېدونکي دا حق لري چې د خپل سرنوشت واک په خپل لاس کې ولري او دوی په خپله د خپل سرنوشت فیصله د ټوپک پرځای د رایې له لارې وکړي، ځکه چې دغه فیصله د توپ او ټوپک په خوله نه، بلکې د رایې له لارې کېږي چې د افغانستان خلک چاته د مشرتابه دغه درونډ بار په اوږو ږدي، د پاچا په نظر اضطراري لویه جرګه او په خپله پاچا د حق ارادیت د هدف لپاره دوه موثره وسیل دي، نه اضطراري لویه جرګه او نه د پاچا اهداف دي، له دغه اساسي هدف او دوو موثرو وسیلو څخه منطقي نتیجه ګیري په افغانستان کې د یو دوست حکومت منځته راتګ دی چې دغه دوست حکوم تبه د ټولو ګاونډیو هېوادونو سره دوستانه روابط لري او د خپل منځي ملي ګټو پر اساس به د یو بل سره راکړه ورکړه کوي. دغه دوست حکومت به نه د یو ګاونډي او نه د بل ګاونډي تر لاس لاندې وي، بلکې د ټولو ګاونډیانو سره به د ورورولۍ او برابرۍ په اصولو چلېږي. اوس ټول

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانان په دې تریخ واقعیت ډېر بنـه پوهېږي چې پردو مداخلو او د ځینو ډلو افراطیت افغانســتان او افغانان دواړه تباه او بربادکړل او له دې وروســته په افغانستان کې افراطیت هېڅ ځای نه لري.

پوښـتنه: زه د ظاهر خان نوم نه یادوم ځکه چې رښـتیا هم ظاهرخان ته خلک احترام لري او دې کې شــاید چې هېڅوک هم مخالفت ونه کړي، اما ســوال دلته دی چې دغه خلک چې د ظاهرخان په نامه کارکوي، د دغو نه شــاید د خلکو تشویش او وېره وشي؟

پروفیســور امین وویل: دا خو په خپله د پخواني پاچا تکلیف نه دی، بلکې دا زمونږ خپل تکلیف دی، ځکه چې زمونږ او ستاسې ټولنه داسې راغلی مثلاً که زه یو چېرته لاړ شــم، نو شـاید په سـلوکې (۹۸) خلک زما مخالف وي چې دی ولې ولاړ، ځکه چې زمونږ د ټولنې خصـوصـیات هم داسې دي او په دې فکر نه کوي چې په اوسـنیو شـرایطو کې په زرګونو او سـوونو افغانان نه شـي راټولېدی، بلکې دا خو د یو څوکســانو خبره ده. دوی په دې فکر نه کوي چې د افغانستان مساله ځنګه باید حل شي او د افغانانو ستونزه دې ځنګه له مینځه ولاړه شــي. بس همـدومره فکر کوي چې کـه زه پـه کې نـه یم، نو افغانستان دې سر وخوري.

پوښـتنه: کله چې مسـعود او رباني په کابل کې وو، نه یې سـوله غوښـته، نه یې پاچا غوښته او نه یې د پاچا جرګې غوښتلې، اما کله چې له کابله ووتل نو وایي چې ظاهرشاه دې راشي او سوله دې وکړي او مورږ یې منو او زمورږ قبول دی؟

پروفیسـور امین وویل: د افغانسـتان شـرایط داسـې راغلي دي چې یو وخت داســې راغلی و چې خلق او پرچم په زور کې و، دوی به ویل چې ببطرفه، یعنې بې شـرفه او که څوک د دوی مخالفت کوي، نو هغه دې باید تورو کندو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ولېږل شي، نو بيا اسې وخت راغی، چې افغانان راپورته شول او ويې ويل چې افغانستان د افغانانو وطن دی او افغانستان به افغانان په خپله جوړوي او بيا داسې وخت راغی چې دوی دروازه په دروازه ګرځېدل او وزارتونه يې خلکو ته ورکول، خلکو وزارتونه نه اخيستل، نو دغه حالت د استاد رباني په وخت کې هم و، دا زمونږ د افغانانو لوی ضعف دی، چې د قدرت په وخت کې د افغانستان او افغانانو پرځای په خپل ځان فکر کوو، نو بايد چې هېڅوک داسې فکر ونه کړي چې زه په قدرت کې يم او له قدرت نه دې د ځان لپاره استفاده وکړم، نو بايد ووايم چې دا د طالبانو لپاره هم يو لوی چيلنج دی چې خدای ناخواسته داسې وخت بيا رانه شي چې دوی بياکور پرکور ګرځي او وايي چې راشئ مونږ سره ملګري شئ او څوک به ورسره نه ملګري کېږي.

پوښتنه: تاسو د خلق او پرچم خبره ياه کړه، خلک وايي چې دغه کمونستان او خلق او پرچم خو ټول د ظاهرخان په وخت کې راپيدا شول؟

پروفيسور امين وويل: کله چې امريکايان پوښتنه وکړي، مونږ ورته وايو چې داود خان اول ځل نظامي او اقتصادي وړاندیز تاسو ته کړی و، ولې تاسو مسترد کړو؟ بيا يې انګلستان ته وکړو، هغوی ولې مسترد کړو؟ او همداسې فرانسې ته يې کړی و، فرانسې ولې مسترد کړ؟ او ټولو به همدا خبره کوله چې که افغانستان سره مونږ مرسته وکړو، د امريکا، انګلستان او فرانسې مرسته به زمونږ د يو ملګري پر ضد باندې استعمالېږي، نو زه دوی ته وايم چې افغانستان خو تاسو يو کونج ته درواوه چې د شورويانو لاس ته ورشي او د افغانانو لپاره ځواب دا دی چې په ماضي باندې ټول پوهېږو، يوازينی خبره دا د چې دغه وطن چې د افغانانو وطن دی او نوم يې افغانستان دی او هر څوک چې په دې وطن کې اوسېږي هغه افغان دی، دغه افغانستان له دې جنجال نه څنګه خلاصولی شو، په ماضي کې خو دومره خبرې دي او ډېر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابونه وربانديې ليکل شـوي دي، ژوندي قومونه په اينده باندې فکرکوي او ما د اعليحضـــرت نه يوه خبره اوربډلې چې دغه ماضـــي به تاريخپوهانو ته پرېږدو، خبره داده چې د دې حوزې خلـک چې پـه هغـه کې افغانســـتان، پاکستان، ايران، مرکزي اسيا او نور شامل دي په اينده کې څه کولی شو؟

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانان حق لري چې د خپل هېواد سياسي زعامت، سياسي سيستم، سياسي– اقتصادي– اجتماعي پاليسي په خپله خوښه وټاکي

دا مرکه د (افغانان) جريدې د لومړي کال په (٤)مه ګڼه کې د (١٣٧٩ل)کال د اسد مياشتې پر (٣)يمه نېټه خپره شوې ده.

څه موده دمخه د افغانستان د مطالعاتو مرکز مشر پروفيسور عبدالرسول امين د پخواني پاچا د يو هيئت په ګډون د پاکستاني مقاماتو سره د خبرو لپاره اسلام اباد ته تللی و، د افغانان جريدې خبريال د دغه هيئت د سفر د نتايجو په اړوند له ده سره مرکه کړې، چې دلته يې وړاندې کوو:

پوښتنه: محترم امين صاحب! له پاکستان مقاماتو سره د پخواني پاچا د سولې د هيئت خبرې څنګه رازيابي کوئ او ايا دغه هيئت کومه مثبته نتيجه ترلاسه کړه که نه؟

ځواب: بسم الله الرحمن الرحيم، تر ټولو دمخه بايد ووايم چې د دې هيئت درې تنه غړي د جولای پر اوولسمه نېټه اسلام اباد ته راورسېدل، د اسلام اباد په هوايي ډګر کې د پاکستان د بهرنيو چارو د وزارت يو مامور هغوی ته هرکلی ووايه او استوګنځي ته يې راورسول، په اتلسم د جولای د بهرنيو چارو په وزارت کې له پاکستان مقاماتو سره ملاقات و، چې هلته په رسمي ډول هيئت ته هرکلی وويل شو. د افغاني هيئت مشر امين ارسلا و او همدارنګه رحيم شېرزوی چې يو وخت پاکستان کې د افغانستان سفير و، زلمی رسول د پاچا د دفتر رييس، ډاکتر محمد امين فرهنګ او زه په خپله د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیئت غړي وو. د پاکستان له خوا د بهرنیو چارو وزیر عبدالستار، د وزارت سکرتر عزیزخان، عارف ایوب چې د افغانستان لپاره اوس سفیر ټاکل شوی دی، د افغانستان ډسک ډایرکټر جنرل او د بهرنیو چارو د وزارت یو بل مامورګډون درلود. په دغو مذاکراتو کې د افغانستان د مسلې په دریو اړخونو خبرې وشوې:

۱- د روم د پروسې په ترڅ کې د لوېې جرګې د منځته راتللو د دلایلو په او هدفونو په باب خبرې وې.

۲- د افغانستان د اوسنۍ وضعې د څرنګوالي په باب خبرې وې.

۳- په دې موضوع خبرې وې چې په افغانستان کې دې څ ډول سیاسي سیستم منځته راشي، چې په افغانستان کې دننه، له ګاونډیانو سره او په سیمه کې د امن ضمانت وکړای شي.

د اضطراري لوېې جرګې په باب خبرو کې داسې څرګنده شوه چې اضطراري لویه جرګه او په خپله پاچا، دوه وسیلې دي چې د افغانستان د خلکو د خود ارادیت لپاره لاره خلاصوي. د نړۍ د نورو ولسونو په شان د افغانستان خلک هم دا حق لري چې د خپل هېواد سیاسي زعامت، خپل راتلونکي سیاسي سیستم، خپل سیاسي اقتصادي اجتماعي پالیسي په خپله خوښه وټاکي.

د افغانستان خلک، د ثور له کودتا راهیسې دې نتیجې ته رسېدلې دي چې په افغانستان کې د سیاسي سیستم په اړوند د خلکو نه هېڅ پوښتنه نه ده شوې او اضطراري لویه جرګه د خلکو دغې غوښتنې ته مثبت ځواب دی.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې پخوانی پاچا یوازینی سپین ږیری دی چې د هغه په شاوخوا خلک راټولېدای شي، هیئت په واضح ډول څرګنده کړه چې په دغه اضطراري لویه جرګه کې پاچا د خپل ځان لپاره د هېڅ مقام ارزو نه لري، د زعامت مسله باید خلکو ته پرېښودل شي، چې خلک څه ډول ملي زعامت غواړي او څرنګه زعامت ټاکي، په دې هکله په ډېر تفصیل خبرې وشو.

بله مسله د افغانستان د راتلونکي سیاسي سیستم او د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت په ارتباط وه، په دې مانا چې افغانستان د ډېرو هېوادونو لکه پاکستان، ایران، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او چین سره ګډې پولې لري، که چېرې په افغانستان کې سوله وي او دغه سوله د افغانستان خلک د خپلې خوښې د یو سیاسي نظام تر چتر لاندې تامین کړای شي، نو د پاکستان په ګډون ټول ګاونډي هېوادونه کولای شي چې د افغانستان له لارې خپلو تجارتي، اقتصادي، سیاسي، علمي، فرهنګي او نورو مسایلو د راکړې ورکړې لپاره ډېره ښه زمینه او شرایط ترلاسه کړي.

ضمناً دا خبره په تفصیل یاده شوه چې څرنګه د افغانستان ګاونډیانو ایران او پاکستان چې د جهاد په دوران کې یې د افغانستان له خلکو سره مرسته وکړه، په همدې شان دې د پاکستان په افغانستان کې د سولې د راوستلو په لاره کې هم مرسته وکړي. مرسته په دې مانا چې ګاونډیان باید خپله سرمایه ګذاري په یو شخص، یو ګروپ یا یوې ډلې باندې ونه کړي، بلکې د افغانستان له ولس سره دې دوستي وکړي، ځکه چې د افغانستان ولس له ټولو ګاونډیانو سره دوستي غواړي، که چېرې په افغانستان کې د خلکو په خوښه حکومت منځته راځي، نو نتیجه به یې دا وي چې په افغانستان کې واکمن سیاسي نظام به د ټولو ګاونډیانو دوست وي او له ګاونډیانو سره به خپل دوستانه روابط په ښه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوستانه توګه وساتلی شي. په خبرو کې په دې باندې هم ټینګار وشو چې، په هر ملک کې سیاسي ګوندونه ځي او راځي، حکومتونه جوړوي، بیا ځي، خو یوازې ولس په خپل ځای پاتې کېږي. که چېرې له نورو ولسونو د ولس روابط ټینګ وي، نو ولس هېڅکله نه غواړي چې د بل دوست ولس مخالفت وکړي. له پاکستاني مقاماتو سره زمونږ خبرې دوه ساعته روانې وې او دا خبرې په واقعیتونو ولاړې وې، پاکستاني مقاماتو ته د افغانستان دننه مشکلات ښه څرګند و. د افغانستان پر خلکو باندې فشار دوی هم احساس کړی دی، د سولې لپاره د هرې پروسې سره موافق و او له همدې امله یې د اضطراري لویې جرګې د جوړولو په هکله هم خپل ملاتړ وښود. تر هغه ځایه چې د مثبتې نتیجې خبره ده، سړی داسې نه شي ویلای چې په یوه غونډې کې دې زمونږ پېچلې مسله حل ومومي، زما په نظر د اسلام اباد غونډه یوه مثبته شروع وه، خبرې بالکل واضح وې او منطقي وې، ځکه چې دواړه خواوې یو د بل په مشکلاتو ښه پوهېدل او دواړو خواوو په افغانستان کې د سولې غوښتنه کوله.

پوښتنه: د خبرو اترو مهمې نقطې کومې وې او په افغانستان کې دننه به ستاسو د مذاکراتو څرنګوالی به څه ښه ولري؟

ځواب: شک نه شته چې پاکستان د افغانستان په مسله کې یو مثبت رول لوبولی شي، خو په دې مسله کې دا هم ضرور ده چې په افغانستان کې دننه او په تېره د طالبانو او د شمال اتحاد سره خبرې حتمي کار دی، اوس هغه وخت رارسېدلی، چې افغانان به خپل ترمنځ خبرې کوي او په سلا مشوره به روانې ملي غمیزې ته پای ورکوی. د ایران او نورو ګاونډیو سره به هم خبرې کېږي. هېڅوک دا نه شي ویلای چې دا مسله به یوازې پاکستان حلوي، دا مسله ډېره پېچلې ده، باید په ډېره هوښیارتیا پرمخ ولاړه شي. د روم پروسه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اضـــطراري لويې جرګې څخه عبارت ده، اضـــطراري لويه جرګه يوه افغاني عنعنه ده، زه فکر کوم چې د ثور د کودتا راهبســـې د ځينو په نزد خبرې سـرچپه شـوې دي، چې خپلې ملي عنعنې ورته پردې بڼـکاري او پردې ورته خپلې. که موږ داسې ووايو چې اضـطراري لويه جرګه د خارج مال دی، نو دا خبره به ســـمه نه وي، لويه جرګه د افغانانو تاريخي عنعنه ده او افغانانو تل له همدغې لارې خپل مشـــکلات حل کړي دي او حلوي يې، د ځينو بېکانه شـــويو افغانانو څخه پرته اوس تو له دنيا په دې پوهېږي چې لويه جرګه د افغانانو منل شـــوې عنعنه ده او حتی په ملګرو ملتونو او نورو ملکونو کې هم دغه نوم په افغاني بڼه ليکل کېږي او په هېڅ ژبه کې ورته تغير نه ورکوي. زه فکر کوم چې د اضـطراري لويې جرګې په اړه د خارجي لاسـوهنې خبره سـمه نه ده. لاســـوهنه هغه ده چې خارجيان خپل نظر پر افغانانو ور تپي، لکه څنګه چې د ثور د کودتا راهبسې يوازې پردې نظريې په افغانانو ورتپل شوي دي او له بده مرغه ځينې بېکانه شـــوي افغانان دغو پرديو نظريو ته خپلې نظريې وايي. ځينې خلک دا پوښـــتنه کوي چې لويه جرګه به څوک راغواړي؟ په دې برخه کې يو تاريخي مثال راوړم، د ميرويس خان جرګه به يادې کړم، چې هلته هېڅوک مشـر يا پاچا نه و، قومي مشـران راغونډ شـول په خپل منځ کې جرګه شـــول او ميرويس خـان يې د امير پـه توګـه وټـاکـه، دغـه جرګـه قومي وه، د احمدشـــاه بابا په جرګه کې هم قومونه ســـره راغونډ شـــول او احمدخان يې د پاچا په حيث ومانه. نو اضـــطراري لويه جرګه هم چې جوړېږي، په دې کې به د افغانسـتان د مختلفو قشـرونو موثر نماينده ګان ګډون کوي او اضـطراري پر همدې مانا ده چې حالات اضـــطراري دي او په دې کې به ملګري ملتونه او ګاونډيان هم مرسته کوي. ځينې خلک په دې موضوع کې د بهرنۍ لاسوهنې خبرې کوي، زه فکر کوم په دې دوه ويشت کلونو کې دېرو خلکو ته دا موقع

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاس ورغله چې د افغانستان مشرتوب وکړي او په افغانستان کې امن او سوله راولي، خو په دې بهير کې له تکليف سره مخامخ و او هغه دا چې ځينې په ايديالوژي پورې ونښتل، ځينې په رهبري پورې ونښتل، ځينې طبقاتي مسايلو پورې ونښتل او يو څوک چې به د چا په ګوندکې نه و، نو هغه ته به حق نه ورکول کېده، دغه پروسه تراوسه روانه ده، په افغانستان کې يوازينی هغه سيستم کاميابېدلای شي، چې هغه د افغانستان د داخلي شرايطو دننه وي او په هغه کې د افغانستان د اتباعو په حيث ټول خلک برخه والي. دا چې ځينې وايي خارجي لاسوهنه ده، زمونږ پوښتنه دا ده چې دغسې لاسوهنې ته چا لاره جوړه کړه؟ زه فکر کوم مسله په دغو خبرو نه حل کېږي، ټول بايد داسې فکر وکړي چې د افغانستان مسله د افغانانو د حق خود ارادیت په رنا کې حل کړي، چې په هغې کې يوه سيمه يا يو قوم ځانګړی امتياز ونه لري، په داسې سيستم فکر وکړي چې په هغه کې ښځې او نارينه د افغانستان د تبع په حيث د رايې حق ولري.

پوښتنه: ځينې خلک داسې اعتراض کوي چې د روم د پروسې مرکز روم ټاکل شوی او زعامت يې پخوانی پاچا ټاکل شوی، په دې هکله تاسو څه نظر لرئ؟

ځواب: تاسو به د پخواني پاچا په بيانيو کې او د هغه د استازو په بيانونو کې اوربدلي يا لوستلي وي چې د افغانستان پخوانی پاچا هېڅ مقام ته کاندید نه دی، ده په کراتو مراتو ويلي دي چې زه کوم مقام ته کاندید نه يم، د افغانستان په مسله کې د ده رول يوازې د يو مشر په صفت او د يو سپين ږيري په حيث دی، پاچا داسې سړی دی چې په افغانستان کې يې څلوېښت کاله پاچاهي کړې ده او د افغانستان د دري سوه کلنې موسسې نمايندګي کوي، ايا دغسې يو مشر او سپين ږيري ته څوک ويلای شي چې ته په افغانستان کې د سولې لپاره فعاليت او کار مه کوه؟ هغه خو دا نه وايي چې زه درځم نو طالب دې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په خپله مخه لاړ شـي، شـمال او جنوب دې هم په خپله مخه لاړ شـي او یوازې به زه په کې یم. هغه وایي زه نه پاچاهي غواړم او نه کاندید یم، صـرف د یو مشر په حیث غواړم رول ولوبوم، دا خو د یو لوی او منل شوي افغان په حیث د هغه حق دی، پاتې شـوه دا خبره چې مرکز ولې روم ټاکل شـوی، زما په خیال دا د مجاهدینو په تېره بیا د طالبانو کار دی، چې پاچا ته د یو سـپین ږیرې په حیث ورشـي او یا یې راوغواړي او مشـوره ورسـره وکړي، چې د افغانستان مسله څنګه حل کېږي، په خپله دغه خلک خو په وار وار خارج ته تللي دي، هلته سـره جرګه شـوي دي، کېدای شـي په روم کې هم سـره جرګه شـي. زه ګومان کوم دا اعتراض یو مثبت فکر نه دی، څوک چې افغان وي او د افغانسـتان فکر ورسـره وي، هغه باید په دې فکر وکړي چې د افغانسـتان د سـولې په ارتباط د هر افغان او په ځانګړې توګه د پخواني پاچا سـره چې یو تجربه لرونکی نامتو مشـر دی، حتمن مشـوره وشـي، تر څو چې د افغانسـتان جنجال حل شي. اصلاي منظور باید د افغانستان د مسلې حل وي، که چېرې څوک نه دا مني او نه هغه او نه یې په خپله کولای شي، نو څه غواړي؟ معلومه ده چې دا خلک د افغانستان د مسلې حل نه غواړي، زه ګومان کوم چې د یو شمېر افغانانو دغه اعتراضونه په خپله د اعتراض وړ دي.

zia_2ia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په باب نړیواله متضاده پالیسي د افغانانو د تشدد باعث کړځي

دا مرکه د (افغانان) جریدې د لومړي کال په (۹-۱۰)مې ګڼې د (۱۳۷۹ل) کال د سنبلې میاشتې پر (۲٤)مه نېټه خپره شوې ده.

پوښتنه: پروفیسور صاحب! ویل کېږي چې ځینو امریکایي ډیپلوماتانو د افغانستان د مسایلو په اړوند له تاسو سره لیدنه کړې ده، خوښ به شو چې ددغسې لیدنې په اړوند یو څه ووایاست؟

ځواب: د روانې سپټمبر میاشتې پر دیارلسمه نېټه د امریکا په بهرنیو چارو وزارت کې د افغانستان، پاکستان او بنګله دېش لپاره د عمومي مدیریت مرستیال راغلی و او د هغه سره درې تنه نور هم وو، ده غوښتل چې دلته په پېښور کې د ځینو افغانانو سره د افغانستان د روانو چارو په اړوند لیدنې کتنې وکړي او له ماسره یې هم لومړی د افغانستان د مطالعاتو په مرکز او وروسته په پېښور کې د امریکا په قونسل خانه کې خبرې وکړې.

لکه څنګه چې یو بې نتیجې معمول کرځېدلی، دوی هم وویل، چې موږ راغلي یو چې د افغانستان د روانو چارو په اړوند په خپله د افغانانو څخه معلومات ترلاسه کړو او په دې ځان پوه کړو چې د افغانستان کشاله څه حل موندلی شي؟ زما پوښتنه له هغوی څخه دا وه چې امریکایان د لومړۍ ورځې څخه د افغانستان په مساله کې دخیل و او دخیل دی. دوه یشت کاله کېږي چې د افغانانو دغه خونړۍ غمیزه روانه ده، ایا تراوسه تاسو په دې پوه نه شوئ، چې د افغانستان دننه او د باندې د دغې خوړۍ غمیزې د اوږدېدو عوامل څه دي او دغه کشاله څنګه حلېدای شي، ما ورته وویل چې د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان او سیمې په ارتباطا د امریکایانو له بل هرچا څخه زیات معلومات لري، تاسو د افغانانو او نورو په مقایسه د افغانستان دکشالې د حل په اړوند له هرچا څخه زیات پوهېږي، اما ربنستینی واقعیت دادی چې امریکایانو د افغانانو سره غیر مستقیم نظامي، بشري او ډیپلوماتیکي مرستې کړې دي، اما په تېرو دوه ویشت کلونو کې تاسو له افغانانو سره سیاسي مرسته نه ده کړې، همدا چې شورویان ووتل تاسو د دې پرځای چې د افغانانو سره د سیاسي سیستم په جوړولو کې همکاري وکړئ، افغانانو موکاوندیانو ته پرېښودل او ځني ولاړئ، امریکایان اوس هم د افغانستان د سولې لپاره مشخص پروګرام او پالیسي نه لري، که چېرې تاسو د سولې پالیسي درلودلای نو تاسو دغه د سولې پروګرام د امنیت د شورا د غړو، افغانانو، ګاونديانو او نورو دخیلو هېوادونو او ګوندونو سره تر مطرح کېدو وروسته په اسانه عملي کولای شو، امریکایان لکه د ملګرو ملتونو د نمایندګانو په شان ځي او راځي او هره ډله او شخص همدا یوه خبره کوي، چې دا موږ راغلي یو چې د افغانانو څخه زده کړه وکړو، څو ورځې دلته او هلته چکرې ووهي او واپس ولاړ شي، یو ګروپ چې ولاړ شي نو څه موده وروسته بل ګروپ راشي او هغوی هم دغه خبره تکراروي، له بده مرغه امریکایانو او ملګرو ملتونو نمایندګانو د افغانستان څخه د ډېرې د زده کړې مکتب جوړ کړی دی، یو ګروپ چې زده کړه وکړي هغه ولاړ شي او بیا بل ګروپ د زده کړې به نوم راورسېږي، د افغانانو ملي تراژیدي د دوه ویشت کلونو راهېسې روانه ده، په دې خونړۍ غمیزه کې د افغانانو ښځې او نر، ماشومان او بوډاګان له مرګ ژوبلې سره مخامخ دي، ښارونه یې تباه شول، کلي او باندې یې په بمونو هوار شول، بې کوره شول، بې حیثیته شول او تاریخي هویت او د ځمکې تمامیت یې په خطر کې دی، بیا هم تاسو په دې ځان وپوهوئ، چې په افغانستان کې څه حالات

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان دي، واقعيت دادی چې امريکا د افغانستان د مسالې سره نه علاقه لري او نه کومه مشخصه پالیسي، یوازې د بن لادن په غم کې دي او بس.

پوښتنه: ځینې سیاسي کتونکي وایي چې امریکا په دې وروستیو وختونو کې فعاله شوې ده او په ځینو برخو کې یې مرستې جاري کړي دي، مثلاً د روم له پروسې سره هم همکاري کوي؟

ځواب: د روم د سولې په پروسه هم خبرې وشوې، ما ورته د افغانستان د مطالعاتو مرکز د غړي به حیث نه د روم د سولې د پروسې د غړي په توګه دا واقعیت په ډاګه کړ چې په عمومي ډول د ځینو امریکایانو او په مشخص ډول د بښاغلي کارل اندرفرت په هغو ویناووکې چې د افغانستان په اړه یې کړې دي، تضاد لیدل کېږي، له یوې خوا هغه وایي چې امریکا د روم د سولې د پروسې ملاتړ کوي، بله ورځ د قبرس د سولې د عملیې سره ملاتړ څرګندوي، بله ورځ د شېږم جمع دوه، بله ورځ د ملګرو ملتونو او د اسلامي کنفرانس او بله ورځ د ګاونډیو هېوادونو د پاکستان او ایران د سولې د پروسې ملاتړ کوي، دغه ډول متضاده پالیسي په افغانانو کې د راتولېدو پرځای تشدد پیدا کوي او په افغانستان کې د سولې د پروسې د هرې پلوې ډلې غړی دا فکر کوي چې ګوندې امریکا زموږ ملاتړ کوي، امریکا ډېره ښه پوهېږي چې په افغانستان کې د سولې په عملیو کې کومه عملیه په واقعیتونو ولاړه ده، کومه عملیه عملي کېدای شي او کومه عملیه په افغانستان کې دایمي سولې او د افغانانو حق خود ارادیت ته لار هواروي، امریکایان باید همدغه عملیه غوره کړي او د نورو ټولو اړخونو سره دې خبرې وکړي، چې همدغه عملیه تعقیب کړي او دغه مختلف دریځونه دې په یو دریځ راغونډ کړي، چې د افغانانو د خونړۍ ملي غمیزې ته خاتمه ورکړي. د سولې د هرې عملیې سره د امریکا

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاتړ پرته له دې چې د افغانستان مساله نوره هم کړکېچنه کړي، نوره هېڅ ګټه نه لري او زما په نظر څه مثبته پالیسي نه ده.

پوښتنه: څه موده وړاندې پټر ټامسن ویلي وو چې سړ کال تر پایه به په افغانستان کې یو اساسي بدلون راشي، په دې اړه ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: زه نه یم خبر چې ښاغلي پټر ټامسن په کوم اساس دغه وړاندوینه کړې ده، اما څه وخت چې هغه د امریکا له خوا د افغان مهاجرینو لپاره موقتي سفیر و، ما ورسره درې څلور ځل لیدلي او خبرې مې ورسره کړې دي، په دغه وخت کې د هغه نظر دا و چې د افغانستان نظامي اردو او سیاسي نظام د شورویانو له خوا جوړ شوی دی، په افغانستان کې اردو او سیاسي نظام حتمي ماتېدل غواړي، په افغانستان کې ملي اردو او سیاسي نظام مات شول، اما د هغه په دوره کې نه افغانستان ته سیاسي سیستم ورکړی شو او نه اردو جوړه شوه، هر څه مات شول، خو هېڅ یې جوړ نه کړل او د اردو د ماتېدو او د سیاسي نظام د رنګېدو په نتیجه کې افغانان لا پسې در په دره او خاورې په سر شول او خونړۍ غمیزه لا هم هماغسې روانه ده.

پوښتنه: پروفیسور صاحب! لکه څنګه چې خبر یو څه موده دمخه له تاسو نه د افغانستان د تفاهم شورا په مطبوعاتي کنفرانس کې دا پوښتنه مطرح شوې وه، چې د روم پروسه یو څه سسته روانه ده، په دې هکله تاسو څه وویل؟

ځواب: زما ځواب دا و چې له بده مرغه د روم د سولې د پروسې په لاره کې ډېر خنډونه اچول کېږي، اما هغه څه چې زه یې د دغسې پروسې مثبت پرمختګ بولم، هغه دا د چې اوس په ملي او بین المللي کچه لویه جرګه د افغانانو د عنعنوي واقعیت په توګه منل شوې ده، البته په تخنیکي مسایلو کې د نظریو توپیر وجود لري، لیکن اوس هېڅوک د لویې جرګې د موثریت څخه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

انکار نه‌کوي، طالبان، د شمال اتحاد، ګاونډیان او ملګري ملتونه دا مني چې لویه جرګه یوازینی عنعنوي موسسه ده، چې په افغانستان‌کې واقعي سوله، سیاسي سیستم، د مشرتابه ټاکنه او د افغانانو د خود ارادیت حق ته لاره هوارولی شي. د روم د سولې پروسه چې د هر اړخیزه پېچلو مسایلو سره مخامخ ده، د مشخصو شرایطو سره سم حرکت‌کوي، د افغانستان په‌کشاله کې د شمال او طالبانو سربیره ډېر باندني هېوادونه هم دخیل دي، زه وایم چې زمونږ په مساله‌کې د ډېرو هېوادونو لاسونه دي او د یوې ډلې یا یو هېواد سره ارتباط نه لري، تاسو خبر یاست چې د روم د سولې د پروسې ځینې هئیتونو امریکا، اروپا او د پاکستاني مقاماتو او د طالبانو سره لیدنې‌کتنې‌کړې دي او په ډېر نږدې راتلونکي وخت‌کې د شمال اتحاد، ایران، مرکزي اسیا، روسیې، چین او نورو دخیلو هېوادونو ته هم ور روان دي، د دغسې پروسې هیئتونه له ټولو دخیلو اړخونو سره په اضطراري لویې جرګې خبرې‌کوي، تر څو چې د جرګې دایرېدو ته زمینه برابره‌کړي.

پوښتنه: ایا په دغو خبرونو‌کې ستر خنډ طالبان دي؟

ځواب: د روم د سولې د پروسې هیئت د طالبانو منفي ځواب نه دی ورکړی، طالبانو دا نه دي ویلي چې هغوی لویه جرګه او یا په افغانستان‌کې د اضطراري لویې جرګې دایرېدل نه مني، طالبانو ویلي چې په اوسنیو شرایطو کې د جرګې دایرېدو ته زمینه نه ده برابره، څه وخت چې شرایط ورته اماده شول، بیا به د جرګې د دایرېدو لپاره تابیا نیسي.

پوښتنه: د افغانستان په تاریخ‌کې خو تل لویې جرګې په‌کړکېچنو حالاتو‌کې دایرې شوې دي؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: هر څوک په دې پوهېږي چې د اضطراري لويې جرګې مساله يوازې د طالبانو کار نه دی، بلکې په نورو ډېرو اړخونو پورې ارتباط لري. د افغانستان په کشاله کې د طالبانو او شمال د اتحاد نه علاوه، ايران، پاکستان، مرکزي اسيا، روسيه، چين او نور هم دخيل دي، لکه مخکې چې مې تاسو ته وويل د افغانستان مساله پېچلې ده او د دغې پېچلتيا په چوکاټ کې دننه حرکت کوي او اضطراري لويې جرګې ته هر اړخيزه زمينه برابرول، وخت او حوصله غواړي.

پوښتنه: طالبانو خو غواړي چې د افغانستان مساله د جنګ له لارې حل کړي؟

ځواب: زما په نظر د افغانستان کشاله په جنګ نه شي حل کېدای، تاسو د افغانتسان په ستراتيژيک او د قومونو په ترکيب ښه پوهېږئ، په افغانستان کې پښتانه، تاجک، ازبک، ترکمن، هزاره او نور قومونه اوسېږي او دغه ټول قومونه په چاپېره ګاونډيو هېوادونو کې ديني او ژبني مشترک اړيکي لري، پښتانه، بلوڅ او نورستاني په پاکستان کې قومونه لري، ازبک په ازبکستان کې، ترکمن په ترکمنستان کې، تاجک په تاجکستان او فارسی ژبې او بلوڅ په ايران کې خپل اتنيکي نژادي قومونه لري او د افغانستان چاپېره ټول اسلامي هېوادونه دي او دغه ټول هېوادونه د افغانستان د ستراتيژيک موقعيت او د ژبني او اتنيکي ګروپونو په لحاظ په ګاونډي افغانستان کې خپلې ملي ګټې لري، فرضاً که طالبان په وچ زور په ټول افغانستان مسلط شي، ايا زمورږ ګاونډي هېوادونه به په افغانستان کې د طالبانو تسلط ومني؟ ايا د دوی تسلط به د پاکستان نه غير د نورو ګاونډيو هېوادونو د ملي ګټو او د ځمکو تماميت لپاره خطر نه وي؟ ايا دغه هېوادونه به په افغانستان کې مختلفه ژبنيو او نژادي قيامونو ته لمن ونه وهي؟ او که دوی به لا ستر زنې ناست وي؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: یعني که طالبان ټول افغانستان ونیسي بیا به څه کېږي؟

ځواب: که چېرې طالبانو ټول افغانستان هم ونیسي، بیا هم دوی د پښتنو په شمول د افغانستان د ډېرو قومونو د مقاومتونو سره مخامخ کېږي، ځکه چې د افغانستان خلک به د طالبانو څخه د خود ارادیت حق، سیاسي ازادي، د کار، تعلیم، روغتیا او نور ټول هغه حقوق چې د یو مسول دولت دنده ده، چې خپلو اتباعو ته یې ورکړي، ورځنې غواړي او بیا طالبان په وچ زور خلک نه شي غلي کولای. بیا به خلک طالبانو ته وایي، چې ستاسو سیاسي، اقتصادي، نظامي، اداري، تعلیمي، کولتوری او اجتماعي پالیسي څه ده، په دې صورت کې طالبان مجورېږي چې یا د افغانستان د خلکو د غوښتنو په مقابل کې غاړه کېږدي، په سیاسي سیستم کې نرموالی راولي، د افغانستان خلک د دولت په ټولو چارو کې شریک کړي او یا به د زور څخه کار اخلي او یوازې به د طالبانو رژیم په خلکو تحمیلوي، د وچ زور د تحمیل په نتیجه کې د خلکو مقاومتونه او د نورو هېوادونو لاسوهنه حتمي ده او طالبانو به د پرلپسې ګډوډۍ سره مخامخ وي، په ټول افغانستان باندې د تسلط نه وروسته د طالبانو رژیم مجبورېږي چې د مقاومتونو د مخنیوي لپاره د پاکستان سره کنفډرېشن اعلان وکړي او د پاکستان نظامي قواوې په مستقیم ډول د مقاومتونو د ټکولو په خاطر د ځان ملګری کړي، چې په دې صورت کې مساله لاپسې کړکېچنه کېږي.

پوښتنه: تاسو کنفډرېشن ته اشاره وکړه، په دې هکله به ټولنیزې سیاسی کړۍ موافقه وکړي؟

ځواب: زما په نظر په اوسنیو شرایطو کې کنفډرېشن د ګټې پر ځای ډېر تاوانونه لري، کنفډرېشن د دوه یا ډېرو هېوادونو ترمنځ به مساوي توګه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

راټولېدل دي، چې به کنفډرېشن کې هر هېواد خپل هویت ساتي او په ځینو مسایلو کې لکه دفاع او د باندنیو سیاسي چارو کې له یو بل سره مرستې او همکاري کوي، په اوسنیو شرایطو کې افغانتسان یو ویجاړ هېواد دی او پاکستان یو منظم او اټوم لرونکی دولت دی، نه پاکستان دا اقتصادي توان لري، چې د افغانستان ویجاړ هېواد دې ابادکړلای شي او نه به پاکستان دا وغواړي، چې دکنفډرېشن په صورت کې د خپلواک افغانانو، ګاونډیانو او نورو هېوادونو له مقاومت سره مخامخ شي. دلته په پاکستان کې ځینې خلک د افغانستان او پاکستان ترمنځ دکنفډرېشن خبرې کوي، زما په نظر دغه د ځینو خلکو شخصي نظر دی او د دغه ډول اشخاصو نظر د افغانانو او پاکستانیانو ترمنځ ورورولي په شکوکو بدلوي او په افغانانو کې دا تاثیر پیداکوي، چې ګوندې د پاکستان حکومت او خلکو د دې لپاره له افغانانو سره په جهاد او مهاجرتونو سره مرسته کوله چې خپلواک اما ویجاړ افغانستان د شورویانو پرځای د پاکستان په لاس کېوزي، زه باور لرم چې دکنفډرېشن مسالې ته نه پاکستان چمتو دی او نه افغانان او نه یې ګاونډیان منلو ته تیار دي. په نابرابره توګه کنفډرېشن د مسالې حل نه دی. زما په نظر په اوسنیو شرایطو کې پاکستان ته پکار دي چې د یو شخص، یو ګوند او یا یو قوم پرځای د افغانستان له ملت سره د ورورولي روابط ټینګ کړي او لکه څنګه چې یې د افغانانو سره د جهاد او هجرت په دوره کې ټینګ او فعاله ملاتړ کړی دی همدغه شان دې د افغانانو سره په سوله کې فعاله برخه واخلي. شخص مري، ګوند ماتې خوري او یو قوم د ټول هېواد وارث کېدای نه شي. په افغانستان کې مختلف قومونه د افغان په نوم ژوندکوي او افغانان د یو ملت په حیث هېڅکله نه مري. افغانان او پاکستانیان د یو بل ګاونډیان دي، په یوه جغرافیایي خط ژوندکوي او د ګاونډیانو په حیث دوی خپلې طبیعي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جغرافيې ته تغير نه شـي ورکولای. دا دواړه هېوادونه مجبور دي چې د نـړ ګاونډيانو په توګه ژوند وکړي. هر کله چې د افغانانو په خوښـه د يو ټاکلي حکومت لپاره پاکسـتان له افغانانو سـره فعاله مرسـته وکړه او د افغانانو په خوښـه د ټاکلي حکومت سـيسـتم دوام وموند، زه په پوره باور دا وړاندوينه کولای شـم، چې افغانسـتان به د خپل سـتراتيژيک موقعيت پر اسـاس د ټولو ګاونډيانو ترمنځ د دوستۍ د پُل رول ولوبوي. د دې پرځای چې دکنفدرېشن خبرې وشـي، نـړه به دا وي چې د افغانسـتان ټاکل سـياسـي رژيم د پاکسـتان، مرکزي اسـيا او ايران ترمنځ په يو بل باندې د باور او اعتماد فضـا راپيدا کړي، چې زمونږ د حوزې هېوادونه چې د يو بل سـره مذهبي، تاريخي، کلتوري، ژبنې او اتنيکي اړيکي لري، دومره سـره رانږدې کړي چې له يو بل سـره په ټولو ساحو کې د وروروليۍ مرسټې وکړي.

يوويشـتمه پېړۍ د ټکنالوژۍ او اقتصـاد پېړۍ ده. په دې پېړۍ کې د سـياسـي پولو غځول يو زوړ سياسي مفهوم دی. که چېرې زمونږ په حوزه کې امن وي، يو پر بل باور وي، وروروليو او نـړه ګاونډيتوب وي، نو بيا خو د سياسي پولو غځولو او د يو بل رالاندې کولو ته هېڅ اړتيا نه پيداکېږي او د دې حوزې د هېوادونو ولسـونه به له يو بل سـره ازادانه تګ راتګ کوي او د خپلې حوزې بشـرې قواوې او طبيعي منابع به د يو بل د ګټو پر اسـاس اسـتعمالوي او د پرمختګ او د نـړه ژوند ګټه به ټولو ته رسېږي.

پوښتنه: که چېرې دکنفدرېشن مساله حقيقت پيداکړي، نو د ډيورنډ دکرښې سرنوشت به څنګه شي؟

ځواب: دا چې د ډيورنډ دکرښې په اړه خبرې وکړو، زما په نظر نـړه به دا وي چې زمونږ د حوزې د ټولو هېوادونو سياسـتپوه او تعليم يافته اشـخاص دې په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې فکر وکړي چې د دې سیمې د ولسونو ترمنځ د باور او اعتماد فضا څنګه راپیداکړو او یو داسې میکانیزم جوړکړو چې په هغې کې افغانستان، پاکستان، ایران او د مرکزي اسیا هېوادونه د ورونو په څېر ژوند وکړو. بیا یې تکراروم څه وخت چې د پاکستان پر همکارۍ په افغانستان کې د افغانانو په خوښه یو منتخب حکومت منځته راغی او د دې دواړو ملتونو دوستۍ دوام پیداکړ، پوره باور لرم چې د وروروڼۍ، ښه ګاونډیتوب او له یو بل سره د همکارۍ او تګ راتګ په صورت کې د دوو ورونو هېوادونو ترمنځ ټولې مسالې په خپله حل مومي او بیا د ورونو هېوادونو ترمنځ شخړو ته هېڅ اړتیا نه پیداکېږي.

پوښتنه: پروفیسور صاحب! په مطبوعاتي کنفرانس کې له تاسو څخه د طالبانو د امن په اړه پوښتنه شوې وه، چې مثلاً هغوی امن راوستلی دی، ستاسو ځواب څه و؟

ځواب: موږ ټول پوهېږو چې طالبانو په تېرو شپږو کلونو کې ځینې مثبت کارونه کړي دي، چې د هغوی له جملې څخه امنیت راوستل او د وسلو راټولول یې ډېر مثبت کارونه دي، خو زما په نظر امنیت محض د امنیت په نوم راوستل کفایت نه کوي. امن یوازې د غلو مخنیوي ته نه وایي، بلکې په یو هېواد کې امن هله منځته راځي چې د دغه هېواد حکومت خپلو خلکو ته د سیاسي شعور د ودې، اقتصادي ژوند، تعلیم سیستم او نورو ټولو انساني غوښتنو ته ښه زمینه برابره کړي. امن دې ته نه وایي چې یو سړی دې له خپلو ماشومانو سره وږی، تږی، بې کاره او بې کوره غلی ناست وي، نه دې ورته کار وي، نه تعلیم، نه روغتیا، نه سیاسي ازادي او نه اقتصادي ژوند، موږ یې په سترګو وینو چې د طالبانو له سیمو څخه په زرګونو ښځې او نارینه او

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشـومان پاکسـتان او نورو ګاونډيو هېوادونو ته روان دي او ټول په بده ورځ
او سختو شرايطو کې ژوند کوي، زما په نظر دا واقعي امن او امنيت نه دی.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجسمو ورانول د افغانانو کار نه دی

دا مرکه د (افغانان) جریدې د لومړي کال په (۲۲)مه ګڼه کې د (۱۳۷۹ل) کال د کب میاشتې پر (۲٤)مه نېټه خپره شوې ده.

د افغانستان د مطالعاتو مرکز مشر الحاج پروفیسور عبدالرسول امین له تهران رادیو سره په مرکه کې: زمونږ افغاني ټولنه خپل ځانګړي خصوصیات لري او د دې ټولنې اساسي بنیاد د واحد مذهب، اسلام په بنا ولاړ دی. افغاني ټولنه د ګاونډیو ټولنو سره ډېر زیات توپیر لري او د دې توپیر اصلي علت دا دی چې په افغانستان کې په سلو کې ۹۹،۹ خلک مسلمانان دي او د دغه واحد مذهب په وجه په دوی کې خپل منځي مذهبي تکر نه دی راغلی او د ټور تر کودتا پورې مذهبي تعصبات هېڅ موجود نه وو.

زمونږ د ګاونډیو ټولنو په خلکو کې زیاتره د نورو مذهبونو اقلیتونه دي او همدغو مذهبي مخالفتونو له امله زمونږ د ګاونډیو هېوادونو د خلکو ترمنځه مذهبي تکرې راغلې دي.

د مثال په توګه د هند په نیمه وچه کې د مسلمانانو او هندوانو د مذهبي تکر له امله د پاکستان او هند په نومونو دوه جلا هېوادونه منځته راغلل. مونږ ټولو ته معلومه ده چې په افغانستان کې د هندوانو شمېر ډېر لږ و او افغانانو هېڅکله هندوان خپل سیال نه دي ګڼلي او نه يې ورسره مذهبي تعصب او رقابت درلود.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا شان د مرکزي اسیا په ټولو ټولنو کې د روسیې د محافظه کارې کلیسا او جومات ترمنځ ټکر موجود و، چې له نېکه مرغه افغانستان نه د مرکزي اسیا د نورو ټولنو په شان د روسیې لاندې وو او نه یې عیسوي مذهبي ټولنه درلوده. همدا وجه وه چې افغانانو د عیسوي مذهب سره هم څه تعصب او نفرت نه درلود.

له بلې خوا په ایران کې د اهل تشیع او سنیانو ترمنځ مخالفتونه او تعصبونه موجود و او دي، چې له نېکه مرغه د ټور ترکودتا پورې په افغانستان کې د سنیانو او اهل تشیع ترمنځ هېڅ مشکلات او مسایل نه و موجود چې د سني اکثریت او اهل تشیع اقلیت ترمنځ تعصبات راوپاروي.

زه په زغرده ویلی شم چې افغاني ټولنه یوه بشپړه اسلامي ټولنه ده او زمونږ د تاریخ په اوږدوکې لکه د نورو کاونډیانو په شان د تعصباتو نښې نښانې نه دي په کې لیدل شوي او نه د مذهب په نوم جګړې په کې شوي دي، لکه څنګه چې په هندوستان او یا په مرکزي اسیا کې روانې دي. د طالبانو تر راتګه پورې، د مذهبي تعصب نښې نښانې نه لیدل کېدلې. زه باید دا ووایم چې طالبان یوه ډله نه ده، بلکې د څو ډلو مجموعه ګڼل کېږي، چې په لومړي سر کې د پاکستان او د عربو افراطي ډلې او داسې نور د افغانانو په نوم په افغانستان کې فعالیت کوي، چې نه خو دوی افغانان دي او نه د افغانانو په خصوصیاتو او روحیاتو پوهېږي او نه ورته د افغانانو بې تعصبه عنعنات ورمعلوم دي. دویمه ډله، هغه طالبان دي چې د پاکستان یا په نورو خارجي مدرسو کې روزل شوي دي، دا جوته خبره ده چې د دغې ډلې روزل شوي اشخاص د پاکستان د اخبارونو او اطلاعاتو څخه اغېزمن شوي دي او له خپلې افغاني ټولنې څخه هېڅ اطلاع نه لري، د دغې مدرسې د ډلې طالبان غواړي چې د پاکستان او هندوستان د پېړیو پېړیو مذهبي جګړه هم په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کې پلې کړي. زما په نظر د هند او پاکستان دغه تاریخي او مذهبي جګړه په افغانستان کې دننه پلي کول سم کار نه دی، ځکه چې مورږ په افغانستان کې له هندوانو سره څه تاریخي تعصب نه لرو. تاسو ته به معلومه وي چې په هندکې (۱۶۰) ملیونه مسلمانان ژوندکوي، چې دغه لوی نفوس د خپلو حقوقو د اخیستلو لپاره پوره توان لري او هلته هم د قانون له لارې او هم د نفوس په قوت خپل حقوق ترلاسه کولای شي. دې مسلې ته ځکه اشاره کوم چې د طالبانو د رژیم د باندنیو چارو وزیر دې ته اشاره وکړه چې په هندکې بابري جومات شهید شو او نړۍ پرې چوپه خوله کښناسته، اول دا چې د بابري جومات مسله د هند د مسلمانانو مسله ده، په دویمه درجه د پاکستان او بنګلادېش د مسلمانانو او په دریمه درجه د افغانستان مسله ده. مورږ ټولو ته معلومه ده چې له اندونیزیا څخه وروسته په دویمه درجه د هند د مسلمانانو نفوس دی، په دریمه درجه بنګلادېش او ځلورم یې پاکستان دی. د طالبانو دویمه ډله، هغه طالبان دي چې د افغانستان دننه یې زده کړې کړي، دغه طالبان د افغاني ټولنې یوه نه جلاکېدونکې برخه ده او د افغاني ټولنې د ټولو خصوصیاتو یو جز دی. دغه طالبان د افغانانو په جرګوکې ناست دي، د افغانانو په هوجروکې ناست دي، د افغانانو په ښو او بدوکې شرکت کوي او زه باور لرم چې د طالبانو دا دریمه ډله چې افغانان دي، د افغانستان په غم غمجن او په خوشالۍ یې خوشالېږي او دوی به حتمن د بامیانو د مجسمو په رنګېدو دردېدلي وي. په افغانستان کې ډېر لوی پیاوړي عالمان او ستر شخصیتونه تېر شوي دي او دغو شخصیتونو په اسلامي نړۍ کې تر ټولو اوچت مقام ګټلی دی، چې ددغو شخصیتونو له جملې څخه سلطان محمود غزنوي او احمدشاه بابا د نړۍ په کچه اسلام ته خدمتونه کړي دي. د بامیانو په لاره د عربو پوځونه، د سلطان محمود غزنوی پوځونو او تر احمدشاه بابا

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې پوځونه تېر شوي راتېر شوي دي، اما دوی د بامیانو دغو بوتانو سره هېڅ غرض نه دی کړی. سلطان محمود غزنوی چې په سومنات کې بوتان ماتوي، بیا ولې د بامیانو د بودا بوتان نه ماتوي، د افغانانو دغه ستر عالمان او شخصیتونه پر دې پوهېدل چې افغانستان یوه مسلمانه ټولنه ده او په افغانستان کې بت پرست وجود نه لري او د دغو بوتانو له خوا د افغانانو مذهب ته هېڅ خطر نه شته.

دوی پر دې هم پوهېدل چې افغانستان په تاریخي لحاظ د دې سیمې او نړۍ د یوې مهمې تجارتي لارې په حیث د بېلابېلو تمدنونو یوځای کېدو اساسي مرکز دی، هغوی د افغانستان د دغه تاریخ تمدن پر اهمیت له هر چا زیات پوهېدل، ځکه یې دغه مجسمې د افغانانو د تاریخي هویت په توګه سلامت ساتلې وې. اوس د لرغونپېژندنې (باستان شناسي) عالمان پر دې باور دي چې د مستندو شواهدو له مخې افغانستان (۵۰۰۰۰) کلن تاریخ لري او هېڅوک دا حق نه لري، چې د افغانانو پنځوس زره کلن تاریخي هویت نفي کړي.

زما په نظر د طالبانو هغو ډلو چې د بامیانو د مجسمو د ماتولو اراده یې کړې وه او یا یې داکار د اسلام په نامه او یا یې د افغانانو په نامه کاوه، زه پوره باور لرم چې دغه خلک واقعاً افغانان نه دي او نه یې د افغانانو د ربستینو خصوصیاتو نمایندګي کړې ده، بلکې دغه خلک غواړی چې د نورو په لمسون د افغانانو تاریخي هویت له منځه یوسي. دغه ډلې د افغانستان په تاریخ نه پوهېږي، د افغانانو روحیه نه ده ورمعلومه او په مذهبي لحاظ د واقعي افغانانو په شان د پراخ نظر خاوندان هم نه دي. زه به دلته دا هم ووایم چې دغو ډلو د تعصباتو مسله د هند د وچې څخه او د ځینو افراطي عربي ډلو څخه افغانستان ته له ځانونو سره راوړې ده. لکه څنګه چې ما ورته

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشاره وکړه، افغانان ۹،۹۹ سلنه مسلمانان دي او پوره څوارلس سوه کاله کېږي چې شریعت په کې روان دی، دا داسې نه ده چې طالبان افغانان مسلمانوي او یا افغانانو ته شریعت راوړی، بلکې اسلام او شریعت د افغانانو څوارلس سوه کلن دین او قانون دی، بلکې زه باید طالبانو ته ووایم چې پاکستان، هند، بنګلادېش او د جنوبي اسیا ملکونو ته دین له افغانستان څخه خپور شوی دی، زمونږ پلرونو د دې هېوادونو خلک په اسلام مشرف کړي، نه دا چې افغانانو ته اسلام د هند له نیمې وچې راغلی دی. هغه خدمتونه چې افغانانو اسلام ته کړي دي او کوي يې، زما په خیال عربو دغومره خدمتونه اسلام ته نه دي کړي. افغانان سولې ته اړتیا لري، افغانان د افغانستان بیا رغونې ته اړتیا لري، افغانان یوې متمدنې ټولنې ته اړتیا لري، افغانانو له نورو ټولنو سره سیالي ته اړتیا لري، نه دا چې ځینې خلک افغانان د یوه متعصبه قوم په توګه نړۍ ته معرفي کړي، زه پوره باور لرم چې تاریخ به دا ثابته کړي، چې افغانان متعصبه قوم نه و، نه دی او نه به وي او د خدای په فضل به دغه افغانان د اسلام سره سره د انساني متمدنې ټولنې لپاره هم اوږه پر اوږه کار وکړي.

افغانانو د ټولو ادیانو په مقابل کې نه تعصب ښودلی، نه تعصب لري، هغه کار چې طالبانو وکړ، دا د افغانانو کار نه دی، بلکې د یو څو محدودو کسانو کار دی، چې هغوی د اسلام په نامه ټول افغانان کروګان نیولی دی او د افغانانو اصلي عنعنې له منځه وړي. طالبانو د عیسوي او یهودي مذهبونو سره شخړې راپیداکړي. اما اوس يې افغانان د نړۍ د دویم لوی مذهب بودایي مذهب په مقابل کې ودرول، د بودایي مذهب، لوی شمېر په منګولیا، چین، تبت، هند، برما، سریلانکا، لاوس، ویتنام، کوریاګانو او چاپان کې اوسېږي او دغه ټول هېوادونه د اسیا په لویه وچه کې پراته دي، چې افغانستان هم د دې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وچې یوه برخه ده، په بل عبارت طالبانو، افغانان د عیسوي او یهودي مذاهبو څخه پرته د بودایي مذهب له پیروانو سره هم په جګړه اخته کړل. زما په نظر دا ټول کارونه د افغانانو د هویت د له منځه وړلو لپاره ترسره کېږي، زه به دا وایم چې افغانستان په ټوله مانا یو اسلامي ملک دی، چې په بل عبارت افغان یانې مسلما او لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه زمونږ په هېوادکې نورې مذهبي ډلې وجود نه لري، زه پوره باور لرم چې د څوارلس سوه کلونو وروسته د اسلام په نامه د مجسمو ورانول، زمونږ د تاریخ د له منځه وړلو پرته بل هېڅ هدف نه لري او داکارونه د افغانستان د لا نېسکېلولو او حتی د قبضه کولو لپاره ترسره کېږي او هغه افغاني انګېزه نه لري.

زه به دومره وایم چې د مجسمو رنګېدل، د افغانانو پر لمن هغه داغ دی چې تر ډېرې مودې به د افغانانو پر لمن پروت وي او د تعصب دغه داغ وربانديې د مذهب په نوم طالبانو ولګوه. افغانان مجبوره دي چې اوس ټولې نړۍ ته دا ثابته کړي چې د مجسمو رنګېدل مختلفه تجارتي، سیاسي او شخصي انګېزې درلودې او افغانان د دغه عمل هېڅ مسولیت نه لري.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیچ شخص، گروه و حزب حق تغیر دادن عنعنات ملی افغانی را ندارد

دا مرکه د (افغانان) جریدې د لومړي کال په (۲۵)مه ګڼه کې د (۱۳۷۹ل) کال د غویي میاشتې پر (۱۰)مه نېټه خپره شوې ده.

پرسش: تفاوت میان پروسه های روم او قبرس در درونـد صـلح از نظر شـما چه خواهد بود؟

پاسخ: شک نیست که پروسه های روم او قبرس پروسه های افغانی اند، اما به نظر من در این هردو پروسـه روی بعضـی اسـاسـات اختلاف وجود دارد، طبیعی است که اشتی دادن، اختلافات در اساسات کار دشوار است. اختلاف اسـاسـی اولی میان این هر دوی پروسـه روی دو مفهوم جداگانه لویه جرگه اضـطراری و شـورای بزرگ ملی اسـت. شـما خود میدانید که لویه جرگه میرویس خان هوتکی (۱۷۰۸ ع) و احمدشاه درانی (۱۷٤۷ ع) در حالات اضـطرار دایر شـده اند. در این هردو جرگه اضـطراری، میرویس خان و احمدشـاه بابا بر سـر اقتدار نه، بلکه انها بزرگان شـناخته شـده خانواده های بزرگ بودند. حال نیز اکثریت بزرگ افغانسـتان، که افغانسـتان را بخاطر افغانها میخواهند، اعلیحضرت محمد ظاهرشاه پاچا سابق افغانستان را بحیث یگانه شـخصـیت ملی و بین المللی میشـناسـد و میداند که ایشـان در حالات اضطراری کنونی، صلاحیت و قوت تدویر جرگه اضطراری را دارد. برعکس دسـت اندرکاران جریان قبرس بجای موسـسـه یی قبول شـده لویه جرگه اضـطراری روی تدویر ((شـورای بزرگ ملی)) تاکید می ورزند، هر شـاګرد

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جامعه افغانی بین جرگه اضـــطراری و شـــورای بزرگ ملی را و چگونگی فعالیت های اســـاســـی انان را به خوبی درک می کنند و می دانند که این دو مفهوم از نظر سـیاسـی از کجاها سـرچشـمه می گیرد و تا چه اندازه بین انها تفکیک وجود دارد. این به بحث سویل نیز دارد که حال وقت آن نیست.

دوم: دســـت اندرکاران جریان قبرس طوری می اندیشـــند که جریان روم، اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پادشاه سابق افغانستان را پیس از پیس به حیث زعیم قبول کرده اند و زعامت شـــخص دیگری را نمی پذیرد. این نظر قبرس درسـت نمی نماید. هر گاه جهت تدویر جرگه اضـطراری، پلان سـه فقره یی پادشاه سابق و وقتا فوقتا ابلاغیه های منتشره ایشان مطالعه شود در خواهند یافت که پادشـاه سـابق برای زعامت اینده افغانسـتان کاندید نیسـت و نیر نمی خواهد سلطنت سابق را در افغانستان اعاده کند. برای مشمولین جریان روم هویداست که پادشـاه سـابق به حیث یک شـخصـیت ملی و بین المللی، ارزو دارد تا جرگه اضـــطراری در افغانســـتان تدویر یابد و به نظر ایشـــان این حق نمایندهگان جرگه اضـــطراری اســـت که انها برای یک دوره موقت چگونه اداره سیاسی می سازند و چه کسی را برای این دوره به حیث زعیم تعین می کنند.

به همین ترتیب چگونگی اداره و زعامت دوره موقت نیز معلوم است، درین دوره مسوده قانون اساسی ترتیب می شود، مهاجرین افغان جابجا می گردند، عملیه بازسـازی افغانسـتان شـروع می شـود، وقت تدویر انتخابات معین می گردد و امثلهم اداره دوره موقت می بایســـت لویه جرگه را تدویر نماید این جرگه قانون اســـاســـی را تائید میکند، کارهای دوره موقت را ارزیابی می کند بعدا زعامت اینده بر مبنای قانون اســـاســـی و رای عمومی به میان می اید. در

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقع امر موضوع زعامت، محصول اراده ازاد افغانان خواهد بود، این نه کار زور است و نه کار تحمیل خارجی ها.

در جلسات پیهم روم در مورد نماینده گان لویه جرگه اضطراری نیز تصمیم های گرفته شده است، به اساس این تصمیم، لویه جرگه اضطراری بعد از تفاهم با تمام جناح های درگیر در داخل افغانستان دایر می شود، درجهاهای که شرایط انتخابات موجود باشد، انجا نتخابات می شود و در جاهای که به اساس جرگه های قومی، نماینده گان انتخاب می شوند، در انجا جرگه های قومی تصمیم می گیرند، انتخابات تحت نظارت سازمان ملل و دیگر موسسات بین المللی صورت می گیرد و روی تمام جوانب انتخابات با در نظرداشت شرایط، فکر و عمل می شود.

تفاوت بین روم و قبرس در شخصیت پادشاه سابق افغانستان است، شکی نیست که طرفداران جریان قبرس افغانان اند مگر در جریان قبرس به مقایسه شخصیت پادشاه سابق، شخصیت ملی و بین المللی وجود ندارد و نه کسی در شرایط کنونی با ایشان برابری کرده می تواند.

پرسش: چرا به تغیر نام لویه جرگه به شورای بزرگ موافقه صورت نمی گیرد؟

پاسخ: طوریکه قبلاً به ان اشاره نمودیم، لویه جرگه اضطراری یک عنعنه تاریخی افغانان است، چوکات مشخص خود را دارد و مشخصات فعالیت ان نیز معین است. من نمی دانم که انها نام این عنعنه قبول شده افغانها را چرا به نام شورای بزرگ ملی عوض می کنند؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شما خود می دانید هرگاه امروز افغانها از عنعنه لویه جرگه صرف نظر نمایند و فرداکسی دیگری انرا اسلامستان و غیره بنامد، ایا به حیث یک افغان با همچو اشخاص اشتی صورت گرفته می تواند؟

به نظر من هیچ افغان در مورد هویت، ازادی و عنعنات ملی خویش با هیچ کسی سازش نخواهدکرد و نه چنین کرده می توانند. به نظر من هیچ شخصی، گروه و حزبی حق تغیر دادن عنعنات ملی و نام افغانستان را ندارند. هرکسی که در افغانستان صلح و امنیت می خواهد، حتماً به هویت، تاریخ و عنعنات افغانها احترام می گذارد و راه دیگری نیز ندارند.

پروفیسور امین در جواب سوال دیگری افزود:

لویه جرگه اضطراری در سال ۱۹۹۳م پیشنهاد شده است، به اساس این پیشنهاد، لویه جرگه اضطراری جهت تامین صلح، ازادی و اعاده حیثیت ملی افغانها در افغانستان یک نهضت ملی است و این حق مسلم تمام مردم، اقوام، زن و مرد افغان است که در نهضت ملی خویش سهم بگیرند، از ان پشتیبانی نمایند و به اساس ان به تراژیدی ملی خویش خاتمه دهند. باز تکرار می کنم که لویه جرگه اضطراری یک عنعنه ملی و تاریخی افغانهاست و جهت حل مشکلات افغانها یک پروسه افغانی است و پیشنهاد صلح پروسه روم جهت حل سیاسی معضله افغانستان یک نهضت ملی است. درین نهضت تمام افغانهای که دست شان به خون افغانهای بی گناه الوده نباشد، اشتراک کرده می توانند، هیچ افغان به افغان دیگر گفته نمی تواند که من برای افغانستان کار می کنم و تو حق انر نداری. نام لویه جرگه علاوه برسطح ملی، سبغه بین المللی نیز یافته است و اکنون در تمام زبانهای بین المللی به شکل لویه جرگه نوشته می شود، به شمول سازمان ملل، هیچ کشوری برای آن نام ترجمه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـده را نپذیرفته اند. هر افغان حق دارد تا با نظرداشـت اسـاسـات لویه جرگه اضـــطراری، خود را به جرگه کاندید نماید و این کار مردم اســت که وی را به لویه جرگه اضطراری به حیث نماینده می پذیرد یا نه؟

در انجام خاطر نشان می سازم که پروسه صلح روم، نه جبهه متحد است، نه ائتلاف است و نه اتحادیه است که هر شخص، هر گروه هر تنظیم و هر حزب در ان قبل از همه امتیازات شخصی، گروهی، تنظیمی و حزبی خود را بدست می اورد و به اساس مشی سیاسی خود در ان تغیر روا می دارد و انگاه در آن شرکت می کند. دروازه های تفاهم با اشخاص موظف درپروسه صلح روم به روی تمام افغانها باز اســت. هر کســی که هدف بزرگش ازادی و هویت ملی افغانی باشـد و جهت رسـیدن به این اهداف خود را وسـیله می داند می تواند در آن شرکت نماید.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عشق اباد په کنفرانس کې د افغانستان د جنګ ځپلو سیمو لپاره د عاجلو مرستو او لنډمهاله انکشافي پروژو د تمویل پرېکړې ومنل شوې

دا مرکه د (وفا) جریدې د شپږم کال په (۵-۶)مې ګڼې کې د (۱۳۷۵ل)کال د سلواغې میاشتې پر (۲۷)مه نېټه خپره شوې ده.

د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور عبدالرسول امین د (۱۹۹۶م)کال د جنورۍ په میاشت کې د ملګرو ملتونو له خوا- د افغانستان او افغانانو سره د بشري مرستو د جلبولو په ارتباط - په عشق اباد کې په جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړ. او په دې غونډه کې ترګډون وروسته مزارشریف ته راغی او د هېواد په دې لرغوني ښار کې یې هم ښې لیدنې کتنې درلودې، موږ له پروفیسور امین سره د دغو سفرونو په اړه یوه مرکه کړې ده، چې په دې ګڼه کې یې تاسو ته وړاندې کوو:

پوښتنه: د عشق اباد کنفرانس یوازې د بشري مرستو د جلبولو لپاره جوړ شوی و اوکه سیاسي اړخ یې هم درلود او په افغانستان کې د دایمي سراسري سولې د ټینګښت په باب هم په کې خبرې وشوې؟

ځواب: د عشق اباد په دوه ورځنۍ غونډه کې د اروپا، امریکا، اسیا او افریقا د حکومتونو او د ناحکومتي موسسو دوه سوه او پنځوس کسانو ګډون کړی و او دې غونډې ته د ملګرو ملتونو د لوی سکرتر مرستیال ښاغلی یوشي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکاشي، ډاکتر نور برت هول، د هالنډ د پرمختيايي پروګرامونو وزير ښاغلی جان پرونک، ځيني سفيران د باندنيو چارو د وزارتونو لوړ رتبه مامورين، د ناحکومتي موسسو رييسان، د افغان ناحکومتي موسسو مشران، د افغانستان د سړي مياشتې رييس مولوي غفوري او نور راغلي وو. د جنورۍ پر يوويشتمه نېټه دغه غونډه د ترکمنستان د جمهور رييس پر وينا پرانيستل شوه او ورپسې مهمو اشخاصو ويناوې وکړې. غونډه د جنورۍ پر دوه ويشتمه نېټه د مانښام پر اوو بجو پايته ورسېدله. د جنورۍ پر درويشتمه نېټه د غونډې ځيني ګډونوال د افغانستان د بېلابېلو ولايتونو د ليدلو لپاره ولاړل او د جنورۍ پر څلورويشتمه نېټه راغلي مېلمانه رخصت شول. په غونډه کې د افغانستان لپاره په بشري مرستو، صحي، تعليمي او انکشافي مسايلو او د افغانستان دننه پر سياسي، اجتماعي او اقتصادي ګډوډۍ تحليلي بحثونه وشول، په هره موضوع جلا جلا ورکشاپونه دایر شول او وروسته د دغو ورکشاپونو پربکړې د عمومي غونډې د تاييد لپاره وړاندې شوې.

د غونډې پر لومړۍ ورځ د مرستې کوونکو بهرنيو هېوادونو د نمايندګانو او د ناحکومتي موسسو د مشرانو درېځ سخت و. دوی په خپلو خبروکې له افغانستان سره د مرستو مسله د بشري حقوقو په ارتباط مطرح کوله. د دوی په نظر په افغانستان کې جګړه مارې ډلې او په مشخصه توګه د طالبانو تحريک د دغه هېواد د ښځو دکار او تعليم حقوق په نظر کې نه ساتي، نو افغانستان ته د مرستو ورکولو ضرورت نه شته. د دغه ډول دلايلو په مقابل کې افغانانو مشترک درېځ ونيو او د افغانانو درېځ د مرستې ورکوونکو په مقايسه د افغاني ټولنې په اجتماعي اوکلتوري واقعيتونو ولاړ و. د افغانانو د درېځ له مخې که چېرې مرستې ورکوونکې موسسې له افغانستان سره بشری مرستې محض د بشر د حقوقو او يا د ښځو له مسلې سره وتړي، نو په دې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت کې د افغانستان جنګ ځپلي ولس د ژوند د ټولو لومړنیو اړتیاوو تر څنګ په ځانګړې توګه هلکان د زده کړې له حقوقو څخه محرومېږي او دغه ډول سخت دریځ به د افغانستان د خلکو لوی اکثریت د اواره کېدو او فساد ته مجبور کړي او په نتیجه کې به افغاني ټولنه له لوبې ګډوډۍ سره مخامخ شي. د افغانانو د ګډ دریځ په مقابل کې د مرسته ورکوونکو موسسو د استازو دریځ نرم شو او د دویمې ورځې په پای کې د جنګ ځپلو سیمو لپاره د عاجلو مرستو، روغتیا، زده کړې او لنډمهاله انکشافي پروژو د تمویل پربکړې ومنل شوې او د اوږدې مودې لپاره پرمختیایي پروګرامونه او پلانونه به په افغانستان کې د سولې د سیاسي حل او د ټاکل حکومت تر راتګ وروسته عملي کېږي.

ددې غونډې له اعلامیې څخه دا واقعیت په خپله څرګندېږي چې د عشق اباد په غونډه کې د افغانستان د رواني ملي تراژیدۍ د سیاسي حل په اړوند د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د خاص نماینده ډاکتر هول د هلو ځلو پوره ملاتړ وکړلای شو. ماته په دې غونډه کې د ترکیې او پاکستان د سفیرانو او د ایران او هند د باندنیو چارو د وزارتونو د لوړ رتبه مامورینو خبرو خوند رانکړ. د ترکیې سفیر شمال ته (د افغانستان شمالي ولایتونه) د تعلیمي سکالرشیپونو، د رادیو او ټلوېزیون د جوړېدو او قوي کېدو او د نورو پروژو پر تمویل خبرې وکړې او د پاکستان سفیر له مهاجرینو سره له مرستو برسېره د سپین بولدک څخه تر تورغونډۍ پورې د لوبې لارې پر جوړېدو وکړېد. د ایران نماینده د بامیانو د پوهنتون او په بامیانو کې پر نورو پروژو خبرې وکړې او د هند استازی هم له شمال سره د هند پر مرستو وکړېد. د دوی له خبرو څخه داسې څرګندېدله لکه چې ترکیه د ترک نژاد او ازبکو سره، پاکستان له پښتنو سره، هند له تاجکو سره او ایران له اهل تشیع سره مرستې کوي او

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغو هېوادونو یو موتی او خپلواک افغانستان د خپل نفوذ په حوزو او یو افغان په ازبکو، پښتنو، تاجکو او اهل تشیع وېشلي وي.

پوښتنه: تاسي د مزار شریف له سفره دمخه د روان کال د جنوری له ۱-۳ نېټې پورې د یو هیئت پر مشرۍ د طالبانو له مشرانو سره د خبرو لپاره کابل ته هم تللي واست، نو مزارشریف ته ستاسو دا سفر د هغه پخواني هیئت د عمومي لیدنو کتنو جز و اوکه تاسو ته د دې سفر لپاره ځانګړې بلنه درکړل شوې وه؟

ځواب: کابل او مزار ته تګ دوه جلا خبرې دي. موږ کابل ته د سولې د جرګې په حیث تللي و او د دې سفر اساسي هدف د طالبانو د اسلامي تحریک مشرانو ته ملګرو ملتونو د سولې د هلو ځلو توضیح وه او له طالبانو څخه هیله وه، چې د ملګرو ملتونو د سولې وړاندیزونه دې ومني. هلته موږ د مولوي صاحب محم حسن اخوند، مولوي صاحب احسان الله احسان او نورو مشرانو سره لیدنې کتنې وکړې او د افغانستان د روانې کشالې د سیاسي حل پر مختلفو اړخونو مو ورسره خبرې وکړې. له دوی سره تر خبرو وروسته دا پرېکړه وشوه چې تر څو د دغیلو مختلفو ډلو سره خبرې نه وي شوې، تر هغې به د سولې د جرګې د فعالیتونو په اړوند هېڅ نه ویل کېږي. همدا وجه ده چې تراوسه د سولې د جرګې د فعالیتونو په اړه هېڅ نه دي ویل شوي. د عشق اباد په کنفرانس کې د ګډون څخه څو ورځې مخکې د افغانستان د ملي- اسلامي جنبش مشر جنرال عبدالرشید دوستم د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د مشر په توګه بلنه راکړې وه او د دې بلنې له مخې موافقه شوې وه چې زه به د عشق اباد په کنفرانس کې ترګډون وروسته مزارشریف ته ورځم. دغه بلنه شخصي وه او زه یوازې د جنورۍ د میاشتې پر څلورویشتمه نېټه مزارشریف ته لاړم او هلته د جنورۍ میاشتې تر اته

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویشتمې نېټې پورې د جنرال دوستم مېلمه وم. د جوړ شوي پروګرام سره سم د جنوري پر پنځه ویشتمه نېټه د ګهیځ پر یوولس بجو د بلخ پوهنتون ته ولاړم. دا ورځ د محصلینو د کانکور ورځ وه او د پوهنتون دننه او د باندې د محصلینو (نجونې او هلکان) لویه ګډه ګونه وه او په زرګونو محصلین یوې او بلې خواته روان وو. د بلخ د پوهنتون رییس پوهندوی دوکتور عزت الله، د پوهنځیو مشرانو او دېرش نفرو استادانو زما هرکلی وکړ. د پوهنتون د رییس په خونه کې کېناستو او د پوهنتون رییس راته د پوهنځیو مشران او استادان معرفي کړل.

تر معرفي وروسته د افغانستان د روانې کشالې په اړوند پوښتنې پیل شوې. استادان د افغانستان د ایندې د ورور وژنې او د خارجي مداخلو په باره کې اندېښمن ښکاره کېدل او د دېرو دا پوښتنه کوله چې د افغانستان روانه ملي ملي تراژیدي به کله پایته رسېږي. پوښتنې او ځوابونه دېر وو، لیکن ما په دې غونډه کې د افغانستان د ورونو قومونو د ګډ ژوند او ګډ رول په اړخونو لنډه رنا واچوله:

افغانستان د ټولو قومونو ګډ کور دی، د پېړیو راهیسې په دې ګډ کور کې ټول قومونه د افغان په نوم ګډ اوسېدلي او په اینده کې په هم ګډ اوسېږي. د تاریخ په اوږدو کې ټولو قومونو تل په ګډه خپل ګډ کور څخه دفاع کړې او په اینده کې به یې هم کوي. ټولو قومونو په ګډه قرباني ورکړې او په اینده کې به یې هم ورکوي. موږ او تاسو تل د باندنیو د مداخلو څخه شکایت کوو او خپل قصور او نیمګړتیاوو ته هېڅ متوجه نه یو. هر ژوندی ملت د خپلو ملي ګټو لپاره هلې ځلې کوي او دا د خارجي هېوادونو حق دی چې په هر ځای کې د خپلو ملي ګټو لپاره سیاسي، اقتصادي او کلتوري حوزې پیدا کړي. که زموږ ګاونډیان او یا نور هېوادونه په افغانستان کې مداخلې کوي دا به د دوی د ملي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتو غوښتنه وي. اساسي پوښتنه دا ده چې افغانان ولې د خپلو ملي کتو پرضد د نورو د ملي کتو د ژغورلو لپاره نوکري کوي؟ په دې کې هېڅ شک نه شته چې یو شمېر خارجي هېوادونه د افغانانو ترمنځ قومي، نژادي او ژبني تعصباتو ته لمن وهي، اما د دې تعصباتو د راپارولو په برخه کې د ځینو افغانانو هم لوی لاس دی، له بده مرغه د بل هر قشر په تناسب زمونږ د روشنفکرانو ځینې اشخاص او کروپونه چې زه ورته (تاریک فکره) وایم له هر چا څخه زیات د تعصباتو د راپارولو په لارکې دېر خطرناک رول لوبوي. له دغې جملې څخه ځینې محض په ایډیالوژیکانو پورې، ځینې په شخصیت پرستۍ پورې، ځینې په کورنۍ پورې، ځینې د قوم او قبیلې پورې او ځینې د ژبني، نژادي او سیمه ییزو تعصباتو پورې نښتي دي او افغان او افغانستان یې له یاده وتلی دی. زمونږ د هېواد نوم افغانستان دی او د دې هېواد اوسېدونکو ته افغانان ویل کېږي.

په افغانستان کې د پښتنو لپاره پښتونستان نه شته. په افغانستان کې د تاجکو، ازبکو، ترکمنو، بلوڅو او دري ژبو لپاره تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او بلوچستان نه شته. په دغو نومونو جمهوریتونه د امو دریاب اخوا پراته دي او د فارسیوانانو لپاره ایران او د بلوڅو لپاره په پاکستان او ایران کې سیمې موجودې دي، تر څو چې دغو کم شمېره افغانانو د ایډیالوژیکانو، ګوندونو او تنظیمونو، توکم، شخصیت پرستي، ځانونو، کورنیو قوم، قبیلې، ژبې او سیمې پرځای افغان او افغانستان ته د اولیت مقام نه وي ورکړی، تر هغې به افغانان په یو او بل نوم د خارجیانو نوکران او اجیر سپاهیان وي، تر هغې به خپل خپلمنځي شخړې، تربګنې، دښمنۍ او مرګ ژوبله روانه وي، افغانان به اواره وي، بې حیثیته به وي او بالاخره به د دوی هېواد د نابودۍ کندې ته غورځول کېږي. دا په خپله په افغانانو پورې اړه لري چې ایا دوی د افغان نوم

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

واحد او خپلواک افغانستان غواړي او که د بې مفهومه تعصباتو په اورکې خپل ملت او وطن سوځوي.

پوښتنه: تاسې په دې وروستیو کې د جنبش له مشر سره هم ولیدل، که نه؟ که مو لیدلي وي د افغانستان د لانجې په باب د ده نظر څه و؟

ځواب: د جنورۍ پر شپږویشتمه نېټه مې د جنرال دوستم سره ولیدل او پوره یو نیم ساعت مو د افغانستان دکشالي په ټولو اړخونو دوه په دوه خبرې وکړې. زمونږ په خبروکې د روانې جګړې، خارجي مداخلې او په افغانستان کې د سیاسي حل او سولې په مختلفو اړخونو اوږدې خبرې وشوې او د خبرو په دوران کې جنرال دوستم پر افغانستان د واقعي سولې د رامنځته کېدو او سیاسي حل لپاره د ملګرو ملتونو د نماینده د هلو ځلو او د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ او امنیت شورا د پرېکړو ملاتړ کاوه.

په پای کې مې جنرال دوستم ته وویل چې: د افغانانو د سولې هغه جرګه چې کابل ته تللې وه، مزارشریف ته هم راتګ غواړي. هغه موظف شخص ته هدایت ورکړ چې هغه دې د جرګې د راتګ د نېټې په باره کې مخکې خبر کړي.

د جنورۍ په اوه ویشتمه نېټه دکیمیاوي کود او برق فابریکو ته ولاړم او هلته مې د فابریکو د رییس انجنیر عبدالقدوس په ملګرتیا د دغو فابریکو، ماشین الات، انجنیران، کارګران او د مختلفو څانګو ټولې تولیدي عملیې ولیدلې.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

له جنګي ډلو سره بهرنۍ مرستې، افغانستان د سولې د اعادې د لارې لوی خنډ دی

دا مرکه د (وفا) جریدې د شپږم کال په (۱۳-۱٤)مې ګڼې د (۱۳۷٦ل) کال د وري میاشتې پر (۲٦)مه نېټه خپره شوې ده.

د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له مشر پروفیسور عبدالرسول امین سره دوکتور عادل ظریف په پېښور کې د خپرېدونکې انګریزۍ ورځپاڼې فرنټیر پوسټ لپاره یوه مرکه کړې ده، چې د دې مرکې لوی ټکي په دې ډول دي:

پوښتنه: د ملګرو ملتونو د هیئت اوکار د ناکامۍ څه علتونه دي؟

ځواب: سوله افغانانو ته ځکه نه راځي چې بهرني ځواکونه له جنګي ډلو سره مرسته کوي او دغه کار همدغه شان جاري دی. ملګرو ملتونو ته په کار دي چې په افغانستان کې د واقعي سولې لپاره لاره هواره کړي او د یو دوامداره حل په غرض هلته یو موثر هیئت واستوي. د یو پراخ بنیاده حکومت فارمول چې د امنیت شورا له خوا وړاندې شوی، په افغانستان کې د سولې د تامین لپاره یوازینی حل دی. مورږ ببلابېل سیاسي ایتلافونه تر ازمایښت لاندې ولیدل، ولې ټول په هواکې الوتي دي. هغه فورمولونه چې د هغو له مخې د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښـور، اسـلام اباد او جلال اباد توافقونه او موقت حکومتونه منځته راغلل، ټول له ناکامۍ سره مخ شول، د دې ټولو ناکامو موافقو خالصه نتیجه څه ده؟ مطلقه ناکامي، د جګړو وینې بهېدنې او د تخریباتو زیاتوالی، ملګرو ملتونو همدغه متروکې فورمولې له هماغه شـان فاجعه یې نتایجو سـره تعقیب کړي دي. د دغې سـازمان پالیسـي، بې تسـلسـله ده او له خلکو سـره د مشـورو پرځای د جنګسالارانو سره پر مشورو بنا ده.

پوښتنه: د ۱۹۹٤ م کال دکویټې د موافقې د ناکامۍ اصلي علتونه څه وو؟

ځواب: دا یو ډېر ښـه پیل و، چې د افغاني ټولنې د بېلابېلو برخو او قشـرونو اسـتازي په کې رابلل شـوي وو. په هغوکې عالمان، قومندانان، روحاني شـخصـیتونه، سـپین ږیري او نور منورکسـان شـامل وو. بله مثبته خبره دا ده چې هغوی ځان ته کوم مقامات نه غوښـتل، بلکې دا ارزو وه چې د افغاني ټولنې پر وړاندې خپل مسولیت ترسره کړي. اساسي هدفونه دا وو:

الف– سـتونزې باید په ګوته کړي او له هغو سـره د برخوردکولو تکلوری وټاکي.

ب– سیاسي حل، د سیاسي حل لپاره دا لاندیني نکات ضروري ګڼل کېدل:

- دکابل غیر نظامي کول.
- د ملګرو ملتونو د مـاهرینو لـه خوا د یو بې طرفـه امنیتي ځواک رهبري کول.
- د یو موقت بې طرفه حکومت رامنځته کول، چې په هغه کې غیر ګوندي شـخصـیتونه، چې اکثره یې د هغو تکنوکراتانو له ډلې څخه وي، چې په جنګ کې نه دي اخته شوي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر دې تاکید شـــوی و، چې هغوی به د قدرت لپاره نه وي کاندید، هغوی به یوازې د ســـولې د تامین لپاره لاره اواروي او بس. د ملګرو ملتونو هیئت ته دا سپارښتنه شوې وه، چې له هغو بهرنیو هېوادونو سره خبرې وکړي، چې په ژوره توګه په دغه مسله کې ښکېل دي او د هغو ملکونو چې د ملي ګټې له یو بل ســره په ټکر کې دي. که چېرته ټول په افغانســتان کې د ســولې د تامین په عمومي اجنډا باندې موافق وي او په صداقت سره هغه مني او په دې صورت کې هغـه مطلوبـه نتـایج ورکوي، چې دخیـل دولتونـه خپلې پراخـه مـداخلې ودروي. داکار هغه وخت سرته رسېدلای شي، چې ټولو هغو جنګي ډلو ته– چې په افغانســتان کې دننه جنګېږي– هر ډول مالي او نظامي مرســته کوي، دا غوښتنه ورسول شي. دغه بې طرفه حکومت د دوه کلونو لپاره په نظر کې و. د نومورې حکومت دندې په دې ډول دي:

۱– دمذاکراتو له لارې د سولې رامنځته کول.

۲– د مهاجرینو هېواد ته بېرته ګرځېدنه.

۳– د جنګ ځپلي هېواد بیا جوړونه او اعمار.

٤– د لوېې جرګې د تدویر لپاره د مناسبو شرایطو برابرول.

٥– د اساسي قانون طرحه او د لوېې جرګې له لارې د هغه تاییدـ

د موقت انتقالي حکومت لپاره ځینې نور شرایط هم قید شوي وو، لکه:

– دا انتقال حکومت به د هېڅ یوې ډلې او یا بهرني ځواک ســره کوم تړون نه کوي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تر هغه پورې چې يو پاليسي جوړوونکی پارلمان، نه وي تشکيل شوی، دغه انتقالي حکومت به خپلې پريکړې د فرمانونو په شکل نافذوي.
- هغه کسان چې په دې پروسه کې شامل دي، هيڅ ډول دولتي مقام به نه نيسي او نه به هم په کوم سياسي فعاليت، لکه انتخاباتو کې ګډون کوي.

اساسي ستونزه چې د دې پروسې پر وړاندې خنډ شوه، هغه د بې طرفۍ د هغو اصولو څخه سرغړونه او انحراف دی، چې وربانديې توافق شوی و. د ملګرو ملتونو هيئت چې د محمود مستيري له خوا رهبري کېده، په دې لړ کې يې مسلسل کار ونه کړ او له مرکزي اجنډا څخه يې انحراف وکړ. هغه د خپل صلاحيت په حدودو کې کله چې د جنګي ډلو او ګوندونو سره خبرې کولې، د سازش څخه کار واخيست، دا د ملګرو ملتونو د سازمان د هيئت د پای پيل و.

پوښتنه: څنګه کېدای شي چې په ښه توګه، سياسي بن بست پايته ورسول شي؟

ځواب: هغه دولتونه چې په ښکاره ډول په افغانستان کې مداخله لري، د دوی ترمنځ د رقابت او سيالۍ اصلي ټکي دادي، چې هر يو يې غواړي چې په افغانستان کې خو دوست حکومت او يا هم ګوډاګی رژيم د خپلو اصلي ګټو د ساتنې لپاره ولري. ښکاره ده چې هغوی د دوهم هدف لپاره کار کوي. په دې وجه لانجه لا دوامداره شوې ده او افغانستان لا هم د ويجاړۍ پر لور تللی دی. افغانستان داخلي يووالي ته اړ دی، څو وکړای شي په نړيوالو پاليسيو کې رانښکاره شي. يو ملت چې په سوله کې وي، ټولنيز او اتنيکي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

عدالت ولري، کولای شي چې بهرنۍ نړۍ ته یوه د ارتباط منبع وګرځي. د یو ډاینامیک او واقعاً مستقل افغانستان لپاره یو هوښیارانه او روښانه برخورد کولای شي، چې دې هدفت ته د رسېدو په لاره کې مرسته وکړي. هغه لارې چارې چې سیال دولتونه یې تعقیبوي همدغه شان چې د هغو اصلي ملاتړ کوونکو طرح کول او نتیجه یې نه درلوده، دوی لپاره به ګټه ونه لري. د ګټو د ترلاسه کولو او اختیار د ترلاسه کولو جګړې پای نه دی موندلی. د شوروي د ختمېدو سره لویدیزې نړۍ د هغه هېواد پر وړاندې ځان له اخلاقي مسوولیت څخه فارغ وګانه، هغه چې د هغو د غلطو پالیسیو قرباني وګرځېدل، هوښیاره او بیداره افغانان د غرب په دې بې تفاوتۍ باندې ډېر افسوس کوي. ایا داکېدای شي چې نړۍ افغانستان د دغه شان سترې انساني او مادي قربانۍ څخه وروسته هېر کړي؟

ټول ((ذیدخله)) هېوادونه موجود واقعیت له نظره غورځوي، هغوی فعالانه، خپلې نوې پراختیا غوښتونکي پالیسي د نوي مارکېټ امکانات له نظره نه غورځوي. د افغانستان ستراتیژیک موقعیت کولای شي د سیالي کوونکو ځواکونو ترمنځ د پُل حیثیت ولري. په اوسني وخت کې هر ملک هڅه کوي چې د افغانستان موقعیت د خپل رقیب د ځملولو لپاره استعمال کړي، ولې یو مستقل افغانستان د ټولې سیمې د تجارتي او سوداګرۍ د غوښتنو اوګټو لپاره په کار راتلای شي، که چېرته دلته سوله قایمه شي دا د منطقې د سولې او امنیت په نفع دی.

پوښتنه: ایا افغانستان په سیمه کې د یوې بېلانس کوونکې قوې په حیث خپل تاریخي بېطرفانه رول لوبولای شي؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: افغانســـتان داســـې هېواد دی چې دا قومونه په کې ژوندکوي، لکه تاجکان، ازبکان، بلوڅ او پښـــتانه چې د بېلانس کوونکي ځواک په حیث یې د ســترو قدرتونو او کاوندیو ترمنځ خپل تاریخي رول لوبولی دی. په کاوندیو ملکونو کې هم دغه قومونه اوســـېږي هر قوم چې هڅه وکړي بل قوم تر نفوذ لاندې راولي، کولای شي چې د ((منافعو د تصادم)) سبب شي او دا په خپله بېلانس زیانمنوي. دا به د ټولې ســـیمې لپاره د بې ثباتۍ موجب وګرځي. د افغانستان دننه ســیاســي ســیســتم باید د بېلابېل اجزاوو هارموتیف بېلانس تامین کړي. دا باید اتنیکي اســـتثمار رامنځته نه کړي چې په نتیجه کې له کاوندیو قومونو سره تصادم راشي. دننه په ټول هېواد کې او د هغه د سرحداتو څخه د باندې سوله اساسي هدف وي.

پوښـــتنه: ایا ملکري ملتونه په دې هکله کم مثبت رول لوبولی شـــي؟ ځنګه کېدای شي چې تېرې تېروتنې او اشتباهات رفع شي؟

ځواب: د ملګرو ملتونو د ســـولې هیئت باید یو قوي صـــلاحیت او ماندیت ولري چې خپلې پالیســـې عملي کړای شـــي. د دوی پالیســـي باید د رقیبو هېوادونو له خوا چې خپلې ګټې د افغانســـتان له ګټو څخه مقدمې ګڼي، نو مداخلې لاندې را نه شي. اوسنی کړکېچ له دې وجې دی چې په افغانستان کې په مستقیم او نامستقیم ډول بهرني ځواکونه مداخله لري، ټولې مالي او نظامي مرستې چې دې ډلو سره سرته رسېږي، باید وربانديې بندې شي. که چېرته دغه تحریم عملي شـــي او یو بېطرفه امنیتي ځواک د ملګرو ملتونو په رهبرۍ او د اســـلامي کنفرانس د غړو په ګډون د ســـولې نظارت وکړي، لکه چې په بوسنیاکې یې سرته رسوي. سیاسي ابتکارات وروسته له هغه باید تعقیب شي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: کم شـــی دی چې د امریکې متحده ایالات او ملګري ملتونه په افغانستان کې د خپل رول د اثبات ځخه لیرې ساتي؟ کم شی دی چې د سولې عمومي هدف ځنډوي؟

ځواب: دلته یو عجیبه مهمله د سـولې او تجارتي ګټو ترمنځ منځته راغلې ده. تجارتي ګټې پر سوله لومړیتوب مومي. په واقعیت کې سوله باید لومړی هدف او غایه وي. په افغانستان کې د سولې په لاره کې دري اساسي خنډونه دا دي:

ـــــ هغه کشـــاله چې د امریکې د متحده ایالاتو او د ایران ترمنځ روانه ده د افغانستان په هکله په پالیسیو یې بده اغیزه کړې ده.

ـ د منځنۍ اسیا د مارکېټ لپاره تلاشونه او مندې ترړې د افغانستان د لانجې سیاسي حل پیچلی کړی دی.

ـــ په واقعیت کې تجارتي اجبار هر یوه خوا په افغانستان کې د دایمي سولې د اهمیت پر وړاندې ړنده کړې ده. په واقعیت کې له دې ســره ســتونزې نورې ډېرې شوې دي، ځکه سیالې خواوې په ړوندو سترګو د مارکېټ په تکل کې د افغانستان ثبات له نظره غورځوي.

. بهرني هېوادونه د افغانستان انتیکې ډلې د دې لپاره استعمالوي چې د هغوی د اســتثماري او پراختیا غوښــتنې اجنډا عملي کړي. دا د اوســنۍ کشــالې ډېر خطرناکه کړکېچن اړخ دی. دا د افغانســـتان یووالی او تمامیت تهدیدوي، د دې پالیســـۍ مخه باید ونیول شـــي. مخکې له دې چې ټولې ســـیمې ثبات او استحکام د رقیبو دولتونو له خوا کډوډ شي.

پوښتنه: ایا تاسې د لویدیزې نړۍ په ځانګړې توګه د امریکې د متحده ایالتونو په پالیسۍ کې کوم تناقص ګورئ؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: غرب په عمومي ډول او د امریکي دمتحده ایالاتو په خاص ډول د هغه ملت پر وړاندې چې د شوروي اتحاد پرضد یې د سولې لپاره د دوی د ګډې غوښتنې په غرض مجادله کړې ده ((خپل اخلاقي مسوولیت)) نه دی پوره کړی.

مورږ سره فریب وشو او له نظره وغورځېدو. د امریکي متحده ایالات اخلاقاً دنده لري چې په افغانستان کې له واقعي سولې څخه حمایت وکړي. نظامي پالیسي افغانستان ته سوله رانه وړه. دا به وکتل شي چې ایا د امریکي متحده ایالات د افغانستان د ازاد او استقلال د حق د تامین لپاره خپل صلاحیت په کار اچوي او که نه؟ دلته د امریکي متحده ایالاتو په پالیسۍ کې تناقض دی، چې د سولې د نه راتلو په لاره کې اساسي نقض او عیب دی.

پوښتنه: ایا د پاکستان پالیسي مثبته او جوړوونکې ده؟

ځواب: پاکستان هم له خپلو پلویانو څخه ملاتړ کوي، چې په افغانستان کې خپل دریځ پیاوړی کړي. دا د عدم مداخلت د پالیسۍ سره سمون نه لري. طالبان نه شي کولای دایمي سوله افغانستان ته راوړي، هغوی به لکه د پخوانیو په شان ناکامه وي، هېڅوک نه شي کولای چې د افغانستان د خلکو د ارادې خلاف کار وکړي.

د دې نادودو په نتیجه کې د افغانانو احساسات تر پښو لاندې دي چا چې د تېروکلونو په جریان کې زیاتې ستونزې تحمل کړي دي. دا لیدل کېږي چې د طالبانو ملاتړ کوونکي غواړي د افغاني ټولنې عنعنه یې جوړښت ویجاړ کړي چې په دې توګه خپل ناوړه اهداف ترلاسه کړي. افغانانو د پېړیو په اوږدو کې یووالی او برابري درلوده. په افراطي توګه د اسلام تعبیر به نه یوازې د دغه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر دین په هکله تصورات ناوړه کړي، بلکې دا به د عامې ناخوښۍ او په پای کې د دغو پالیسیو د ناکامۍ موجب شي. څنګه کېدای شي چې دموکراسي د طالبانو د تحریک د افراطي اجنډا سره جوړه راشي؟ دا د ټولو هغو لپاره چې د انسـاني حیثیت او ازادۍ مدعیان دي، یوه مهمله خبره ده. ایران، سـعودي عربسـتان، تاجکسـتان او ازبکسـتان هم په افغانسـتان کې د خپلو پلویانو په ملاتړ سره سوله زیانمنوي. نظامي لاره بې نتیجې لوبه ده، سیاسي ابتکارات باید وشي.

تر هغې پورې چې دا مرکزي بدلون را نه شي، په افغانستان کې به دایمي سوله هم را نه شـي. پاکسـتان به د دې امکان و نه مومي چې د منځنۍ اسـیا د مارکېټ څخه ګټه پورته کړي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنظیمونو ولې او څنګه له یو بل سره جګړې پیل کړې؟

دا مرکه د (وفا) جریدې د شپږم کال په (۳۳-۳۶)مې ګڼې کې د (۱۳۷۶ل) کال د تلې میاشتې پر (۸)مه نېټه خپره شوې ده.

د امریکا غږ پښتو څانګې د خپلو مرکو او تبصرو په لړکې: د افغانستان اسلامي تنظیمونو ولې یو له بله سره جګړې پیل کړې؟ موضوع وڅېړله. د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور عبدالرسول امین نه یې پوښتنې وکړې. مورِ ددې مرکو او تبصرو ځینې مسایل دلته را اخلو، د خپرونې چلوونکي استاد تږي په پیل کې وویل:

د ۱۹۷۸م کال د ثور ترکودتا وروسته د خلق- پرچم د طرفدارانو او د هغوی د مخالفینو ترمنځ جګړه روانه شوه او ډېرو خلکو او مبصرینو دا جګړه د خلق- پرچم د ډلې له الحادي او استبدادي اعمالو سره مبارزه ګڼله. په ۱۹۷۹م کال کې شوروېانو پر افغانستان یرغل وکړ او د افغانستان د جګړې شکل د کیفیت او کمیت په لحاظ بدل شو او ټول افغان ولس له شوروېانو سره مقاومت پیل کړ. دا جګړې خلکو د افغانستان د ملي خپلواکۍ او له کمونیزم سره د اسلام جګړه بلله. روسان چې ووتل د افانستان جنګ د نجیب د حکومت او د اسلامي تنظیمونو په جنګ بدل شو او دا د مجاهدینو او د شوروېانو د لاسپوڅو او بقایاوو سره جګړه وبلل شوه، د نجیب د حکومت له سقوط نه وروسته خپله د اسلامي تنظیمونو ترمنځ جګړه روانه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـوه او د هېواد پايتخت کابل يې لوتې لوتې کړ، تاسـو ماته ويلی شـئ چې دا جګړه د څه لپاره وه؟

پروفيسـور امين: کوم وخت کې چې کمونسـتان قدرت ته لا رسـېدلي نه وو، دوی د کارګر او بزګرو او سـرمايه دار او فيوډال په نامه تضـاد قومونو ته راکښـته کړ. البته زما مطلب ولسـونو ته رسـول نه دي، بلکې د دوی چې کوم ګوندي غړي يوو، هغوی کوشـش کاوه چې د افانسـتان په جامعه کې د تش په نـامـه طبقـاتي تضـاد تر پردې لانـدې د افغـاني قومونو ترمنځ اختلافونـه راپيدا کړي. دا قومي اختلافات د ايډيالوژۍ په نوم افغانسـتان ته راغلي دي چې قومي تعصـبونو ته يې ډېره لمن ووهله. مورِ او تاسـو د خلقيانو په دوره کې وليدل چې قومي مشران هم ووژل شول ، عالمان هم ووژل شول او نور ينې افغانسـتان کې داسې يوه سـياسـي معضـله راغله چې هغې د افغانسـتان په چوکات پورې هېڅ ارتباط نه درلود.

هغې ډلې چې په افغانستان کې سياسي قدرت نيولی و، مورِ ټولو ته معلومه ده چې دغه ډله هم د بهر څخه جوړه شـوې وه. په ايران کې هم ډلې جوړې شوې او په پاکستان کې هم، سعودي عربستان هم کومکونه شروع کړل، خو هغه کسـان چې د افغانسـتان په مسـايلو پوهېدل، هغوی په دې خبره ټينګار کاوه، چې په پاکسـتان کې د اوو ګروپونو او په ايران کې د نهه ګروپونو او همداسـې د نورو ورو ورو ګروپونو جوړېدل، دا په اينده کې د افغانسـتان د ملي وحدت لپاره ښه نه دي، دغو افغانانو غوښتل چې په افغانستان کې واحد قيادت رامنځته شي د هغو خبرو ته چا غوږ کښنبود او دغه ګروپونه يې ډارول نه پخپلو منځو کې په تضاداتو واچول.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: زه په متواتر ډول اورم چې ویل کېږي د افغانستان په جګړه کې ژبه، مذهب، ولایت، قوم او نور ډېر ویل شوي دي، په دې برخه کې تاسو څه شواهد او دلایل لرئ، چې د افغانستان په جګړو کې دغه عناصر هم موثر دي؟

پروفیسور امین: خلک وایي چې د افغانستان مسایل قومونو، ژبو او دې ته ورته مسایلو ته اوړېدلي دي، زه دا خبره ځکه نه منم چې که چېرې دا خبره قومونو ته رسېدلې وای، نو اوس به ټول قومونه د نورو قومونو سره نښتي وو، لکه مخکې چې وربانديې بحث وشو، ګروپونه هم معلوم دي، تنظیمونه هم معلوم دي چې د چا له خوا جوړ شوي دي. په اوسنیو شرایطو کې زه په زغرده ویلای شم چې د ټولو تنظیمونو سره هغه خلک چې د ژبني، قومي، نژادي او نورو تعصباتو نه، لکه څنګه چې عادي خلک دغسې پاک دي، دا بالکل پاک دي او هر یوه اوس پیسې ورکوي او ځان ته خلک نیسي او هر یو کوشش کوي چې د تنظیمونو او تعصبونو مسایل پرګنو ته راکښته کړي، چې خلک ووایي چې زما قوم په خطر کې دی او بل ووایي چې زما قوم په خطر کې دی، زما په نظر د افغانستان دننه قومونو جګړې لا نه شته دي او پرګنې هم د دوی په کارونو باندې اوس پوهېږي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په حقوقي موسساتو کې د لويې جرګې بنسټيز ارزښت

دا مرکه د (وفا) جريدې د شپږم کال په (۲۹-۳۲)مې ګڼې کې د (۱۳۷۶ل) کال د وري مياشتې پر (۹)مه نېټه خپره شوې ده.

په دې وروستيو مياشتو کې د لويې جرګې د جوړېدو لپاره، د ځينو افغانانو له خوا په اسلام اباد او فرانکفورت کې مقدماتي غونډې وشوې. له دې غونډو سره په رابطه کې- د کابل پوهنتون پخوانی استاد، پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ، د ازاد افغانستان د ليکوالو تولنې مشر پروفيسور رسول امين، دوکتور احدي او بناغلي حامدکرزي - سره د امريکا غږ پښتو خپرونې د آګست په مياشت کې مرکې وکړې، چې د څلورو وارو بناغلو مرکې يوځای نشر شوې. مورږ له دې مرکو څخه د بناغلي پروفيسور امين مرکه دلته کټ مټ تاسو لوستونکو ته وړاندې کوو:

توضيح او پوښتنه: زه ګومان کوم چې د کرزي صاحب لهجه بېخي صريحه وه چې دا د هېڅا په ابتکار نه وه جوړه شوې او دا غونډه د هغو خلکو به ابتکار جوړه شوې وه چې په دې جلسه کې وو. راځئ تاسې فرض کړئ چې دغه هڅې د لويې جرګې لپاره کامياب شوې او په نهايت کې لويه جرګه جوړه شوه- دا چې چېرته راتول شول- په هغه پسې هم مه ګرځئ ايا دغه لويه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرګه به ددې توان او صلاحیت ولري چې د افغانستان دا اوسنۍ ستونزه حل کړي؟

پروفیسور امین: زه ګومان کوم چې موږ افغانانو یو شي ته سم فکر نه دی کړی او هغه دا دی چې ایا طالبان او د شمال خلک، دا ازاد خلک دي او که دوی د بل چا له خوا حمایه کېږي، زما په شخصي نظر، لکه چې کاکړ صاحب هم ورته اشاره وکړه د کویټې په جرګه کې په دې مسله خبرې شوې دي او تاسو پوهېږئ چې هلته ماته د منشیتوب دنده راکړل شوې ده او غوږونه مې ورته نیولي وو، ماته یوه خبره تثبیت شوه چې د افغانستان دا اوسنۍ روانه لانجه دا د خارجیانو په اشاره روانه ده، هلته مستیري ته وویل شول که چېرته د افغانستان د لوبې جرګې لپاره کارکوئ، نو ته داخل ته لاړ شه او دا هم وویل شول چې ته به اسلام اباد، تهران، ریاض، مسکو، واشنګټن او نورو ځایو ته ځئ.

د خپرونې چلوونکي پوښتنه وکړه: دمخه وویل شول چې د جرګې د کامیابۍ لپاره د طالبانو او د طالبانو د مخالف ایتلاف موافقه عمده شرط دی، تاسو اوس وایئ چې د ډېر همسایه ممالکو او حتی جهانی قدرتونو موافقه هم د لوبې جرګې لپاره یو حتمی شرط ګڼل کېږي، ایا دا شرطونه به څنګه پوره شي؟

پروفیسور امین: موږ باید د افغانستان په ارتباط ځانونه تېر نه باسو، کوم خلک چې د طالبانو په نامه هلته تللي دي، یانې دا به نه وایم چې ټول خلک، خو رهبري یې له بهر نه وه او هدایتونه یې له بهر نه دي، او که د شمال قوتونه دي د هغوی حمایتګر هم معلوم دي، چې بهرنیان دي او د افغانستان په هکله د بهرنیانو تضاد په دې کې دی چې څه چې پاکستان غواړي ایرانیان یې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه غواړي، څه چې ايران غواړي امکان لري د تاجکستان او ازبکستان له کتو سره تضاد ولري، يانې د افغانستان په مسله باندې ډېر لوی تاثير د بهرنيو قوتونو دی. پوښتنه وشوه: هغه څوک چې لويه جرګه جوړوي که په اسلامی اباد کې يې جوړوي يا فرانکفورت کې يې جوړوي، او يا اوس غواړي په ترکيه کې يې جوړه کړي، يا وغواړي بل سبا يې په امريکا کې جوړه کړي، ايا دوی څه سند لري چې دوی داکار د خارجيانو په اشاره او هدايت نه کوي؟

پروفيسور امين: يو فرق په دې کې شته، دغه خلک که په افغانستان کې يو دوست حکومت جوړوي په هغې باندې د ګاونديانو يوې مشترکې موافقې ته سره رسېدل د افغانستان د اوسنيو ستونزو د اواريو له ضروريا تو څخه دي.

زمونږ د بحث اصلي موضوع دوه مشخص ټکي دي: يو دا چې لويه جرګه د افغانستان په وروستي تاريخ کې، يانې د غازي امان الله خان له دورانه راپدېخوا څنګه جوړه شوه، د څه لپاره جوړه شوې او څه پې کړې دي، بل دا چې که چېرته لويه جرګه جوړه شي د جوړېدو هدايت به يې کوم مقام صادروي؟ غړي به يې څنګه ټاکل کېږي؟ او فيصلې به يې څوک په کوم زور عملي کوي؟

پروفيسور امين: زه فکر کوم د افغانستان په تاريخ کې کومه مشخصه ملي موضوع چې راغلې ده د هغې لپاره لويې جرګې رابلل شوې دي، د امان الله خان په وخت کې مورد دوه لويې جرګې لرو يوه په جلال اباد کې جوړه شوه چې نيمګړې غوندې وه. اساسي قانون او نظامنامې په هغې کې تصويب شوې او بله په پغمان کې وه چې په افغانستان کې څنګه اصلاحات راشي؟ د اعليحضرت محمد ظاهر شاه په وخت کې درې لويې جرګې راغلې دي؛ يوه جرګه د ۱۹٤۱ م کال وه، دا وخت د افغانستان حکومت له يوې معضلې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره مخامخ و، حکومت غوښتل چې په کابل کې مېشت جرمني او ایتالیایي کارکوونکي انګرېزانو یا روسانو ته ورکړي، نو هغه چې لویه جرګه یې راوبلله او جرګې پرېکړه وکړه چې جرمنیان او ایتالیایان باید په خیر او خیریت د ترکیې په لاره خپلو هېوادونو ته واستول شي. تر دې جرګې وروسته په ۱۹۵۵م کال د داود خان د صدارت د دورې لویه جرګه وه. په دې جرګه کې له شوروي څخه د وسلو اخیستل کېدل مطرح شول او د پښتونستان مسله هم په کې راپورته شوې وه او له ټولو مهمه او اساسي لویه جرګه په افغانستان کې د ۱۹۶۴م کال لویه جرګه وه چې د اساسي قانون د تصویب لپاره جوړه شوه. د دغه اساسي قانون له مخې د افغانستان مشروطه پاچاهي، په افغانستان کې دموکراسي او د افغانستان خلکو د ازادۍ ورکړه تضمین شول، بیا وروسته داود خان د جمهوریت په زمانه کې د اساسي قانون د تصویب لپاره لویه جرګه جوړه شوه، چې اساسي قانون یې تصویب او داود خان یې جمهور رییس مقرر کړ او له هغې وروسته نورې جرګې یو د کارمل په وخت کې وشوه، دوی د نجیب الله په وخت کې چې په هغو باندې زه نه غږېږم. اصلي خبره دا ده چې کله به یوه مهمه مسله راپیدا شوه، نو به پر هغې د بحث لپاره لویه جرګه رابلل کېده.

په خپله لویې جرګې ته که مور راشو، نو لویې جرګې مور په دوو حالتونو کې لرو؛ یو لکه د میرویس خان په وخت کې یا د احمدشاه بابا په وخت کې چې هغه وخت کې پاچاهانو نه دي راغوښتې، بلکې قومي مشرانو راغوښتې، بل حالت هغه دی چې شاهانو راغوښتې دي.

پروفیسور امین: هغه خبرې ته چې کاکړ صاحب اشاره وکړله، زما په نظر هغه ډېره مهمه خبره ده چې د افغانستان مسله یوه سیاسي معضله ده، د کویټې په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرګې کې هم په دغه مسـله چې اوس بحث کېږي، زه فکر کوم خبرې شـوې دي.

پوښتنه: امین صاحب تاسو چې په کویته کې کښاستئ یو لړ فیصلې مو وکړې، هغه فیصلې څه شوې؟

پروفیسور امین: د هغو فیصلو غم ونه کړی شو.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د برچې به زور پر افغانانو حکومت نه‌کېږي

دا مرکه د (وفا) جریدې د شپږم‌کال په (٤٥–٤٨)مې‌ګڼه‌کې د (١٣٧٦ل) کال د مرغومي میاشتې پر (١٠)مه نېټه خپره شوې ده.

د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور عبدالرسول امین د افغانانو په هغه غونډه‌کې برخه اخیستې وه چې د ډیسمبر پر ١–٣ نېټه د ایران په اصفهان‌کې جوړه شوې وه، مورږ د دې غونډې په باب یوه مرکه ورسره‌کړې ده، چې دلته وړاندې کېږي.

پوښتنه: د اصفهان غونډه تاسو څنګه ارزیابي کوئ؟

ځواب: زما په نظر دغه غونډه د قاضي عبدالرحیم‌کوشکی او په ایران‌کې د ځینو افغانانو له خوا په ښه نیت دایره شوې وه، ځکه چې دغه غونډه په افغانستان‌کې د سولې لپاره ده او اوس ټول افغانان دې نتیجې ته رسېدلې دي، چې په افغانانو باندې هېڅوک د برچې په زور حکومت نه شي کولای. قاضي‌کوشکي په دې غونډه‌کې د ګډون لپاره د طالبانو په شمول په افغانستان‌کې دننه او له افغانستان څخه د باندې ډېرو افغانانو ته دعوتنامې لېږلې وې، په غونډه‌کې ځینو افغانانو ګډون وکړ او ځینې افغانان د ځینو معذرتونو له امله او طالبان د خپل مشخص دریځ له امله غونډې ته رانغلل.

ددې غونډې مثبت اړخ دا و چې ځینو افغانانو په ډېره ازادانه توګه خپلې نظریې وړاندې‌کړې، ټولو د یو بل نظریې په سره سینه واوربدلې او د غونډې له پیل نه تر پایه هېڅ ډول تشنج منځته رانغی او ځینو د هر ډول ډار نه غیر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې خبرې وکړې. په دې غونډه کې د ګوندونو او تنظیمونو نمایندګانو او مستقلو افغانانو مختلفې نظریې وړاندې کړې او د غونډې په پای کې یو داسې پریکړه لیک تصویب شو، چې هغه ټولو افغانانو ته د منلو وړ و.

زما په نظر د افغانانو د سولې مساله په هغې کمپټې– چې په تهران کې تاسیس شوې ده– ارتباط لري چې دغه کمپټه د افغانانو ترمنځ د سولې د راوستلو لپاره څه ډول او څنګه فعالیت کوي؟ که د سولې په کمپټه کې هغو اشخاصو ته چې واقعاً د افغانانو ترمنځ سوله او مفاهمه غواړي ځای ورکړل شي، شاید چې د سولې په لاره کې ډېر کار وکړي او که یوازې هغو اشخاصو ته چې د افغانستان او افغانانو پر ځای یوازې په ایډیالوژۍ، ګند، مشرتابه او په ژبنې، نژادي، مذهبي او سیه ییزو مسایلو پورې نښتي وي، ځای ورکړل شي، نو بیا خو د دغه کنفرانس ټولې هلې ځلې ببځایه دي.

پوښتنه: تاسې هم په دې کنفرانس کې خبرې وکړې، د خپلو خبرو غټ ټکي که لوستونکو ته ووایاست؟

ځواب: ما د ځان سره لیکلی مضمون دردلود، بلکې زما وینا په افغانستان، ګاونډیانو او د نړیوالو مسالو پورې ارتباط درلود او د وینا ځینې خبرې د ځینو ویناکوونکو د نظریو د تردید او د ځینو د ویناوو ملاتړ په ارتباط وې او وینا ډېره اوږده وه چې د ویډیو په کست کې ثبت شوې ده.

زما دغه اوږدې وینا د لاندنیو مهمو ټکو تشریح وه:

۱– ما د جهاد د پیل نه تراوسه د افغانستان په اجتماعي، سیاسي او نظامي اړخونو رڼا واچوله او څو ځله مې دا واقعیت تکرار کړ چې د افغانستان لپاره د باندنیو هېوادونو له خوا ټاکل شوي مشران د افغانستان او افغانانو په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجتماعي او رواني مسايلو نه پوهېدل او اوس هم نه پوهېږي. دوی د پردیو په اشاره په کتابي ایډیالوژیو او د پردیو د ګټو د تحفظ لپاره خدمتونه پیل کړل.

۲- تراوسه د افغانانو تش په نوم مشرتابه د خپلو غلطیو، اشتباهاتو او د خپلو ناکامیو په اړوند هېڅ ارزیابي نه ده کړې او اوس هم د افغاني جامعې او د افغانانو د اجتماعي روحیاتو د درک نه غیر په غلطه لار روان دي. هر ګوند او تنظیم او نهضت یا حرکت د افغانانو نماینده ګي او ملاتړ د عوې کوي اما دا هم دې ته تیار نه دي چې افغانانو ته د خپل سرنوشت حق ورکړي، که ځینو ګوندونو د چپې ایډیالوژۍ خصوصیات خپل کړي او د کمونستان غوندې په دیکتاتورۍ او د وسلې په استعمال عیده لري چې له بده مرغه د مجاهدینو له بریالیتوب وروسته ډېر افغانان بدبخته او اواره او مړه شول او ښارونه او کلي تباه شول او تراوسه د بدبختۍ دغه لړۍ روانه ده.

۳- ما په خپله ویناکې د جهاد په دوره کې د پاکستان او ایران کومکونه او ملاتړ وستایه ځکه چې دغو دواړو هېوادونو د کمونستانو د رژیم او د شوروي اتحاد د یرغل په دوره کې د افغانانو د جهاد او د مهاجرینو سره ډېرې مرستې کړې دي. اما په دې ویناکې ما دا هم په ډاګه کړه چې د دغو مرستو ترڅنګه دغو دواړو هېوادونو د افغانانو د هیلو برخلاف په خپله خوښه ګوندونه او تنظیمونه جوړ کړل، مسلح یې کړل، رسمیت یې ورکړ او په افغانانو یې تحمیل کړل. دغو جوړو شویو ګوندونو د افغان او افغانستان پرځای ددغو هېوادونو د ملي ګټو لپاره خدمتونه پیل کړل، تراوسه د دغو هېوادونو په اشارو افغانستان تباه کوي او تراوسه په یو او بل نوم افغانان وژني. همدغو هېوادنو افغانان له ملي زعامت څخه محروم کړي دي او اوس هم خپل پلویان په شاه ټپوي او د افغانستان د تباهۍ او د افغانانو د وژنې لپاره وسلې او پیسې ورکوي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤– زما د وینا ډېره برخه د افغانستان د قامي ترکیب په اړوند ده. زما په نظر د تاریخ په اوږدو کې دغه ستراتیژیک موقعیت افغانان د بدبختۍ سره مخامخ کړي دي او همدغه ستراتیژیک موقعیت د افغانستان وجود ساتلی دی او اوس یې هم ساتلی دی.

په ستراتیژیک لحاظ افغانستان د مرکزی اسیا د هېوادونو ترمنځ د اتصال د کړۍ حیثیت لري. دغه ستراتیژیک موقعیت او د قامونو ترکیب یو ګاونډي هېواد ته هم دا چانس نه ورکوي چې دا یا هغه هېواد دې په ټول افغانستان خپله واچوي او یا دې افغانستان خپله مستعمره کړي. افغانستان د ټولو ګاونډیو هېوادونو د حریم حیثیت لري. که د ګاونډیانو څخه یو هېواد هم په افغانستان باندې د خپې د اچولو یا د مستعمره کېدو نیت لري، نو دغه هېواد حتماً په خپله د افغانو او د نورو ګاونډیانو د شدید مقاومت سره مخامخ کېږي. د افغانستان چاپېره پاکستان، ایران، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او د واخان کار دار ته نږدې چین پراته دي. د افغانستان د قامونو لوی یا وړوکي برخې په ګاونډیو هېوادونو کې هم میشت دي او یو ګاونډي هېواد هم د دې توان نه لري چې د جنګ یا د دسیسو له لارې دې په ټول افغانستان یا خپله واچوي او یا دې افغانستان مستعمره کړي.

٥– د افغانستان د کشالې د سیاسي حل لپاره زما وړاندیز دا و:

الف: په افغانستان کې روانه جګړه د پخواني شوروي اتحاد، لویدیزو هېوادونو او د ګاونډیو هېوادونو د جاسوسي شبکو د سوړ جنګ بقایا ده او همدا علت دی چې تراوسه د افغانستان مساله د دغو هېوادونو د سیاسي مقاماتو پرځای د دغو هېوادونو د جاسوسي شبکو په لاس کې ده. دا د ګاونډیو او نورو هېوادونو د سیاسي چارو د صلاحیت لرونکو مقاماتو فریضه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چې لومړی دې د افغانستان مساله د خپلو شبکو له لاسونو څخه واخلي او په افغانستان کې دې د خپلو هېوادونو د جاسوسي شبکو فعالیتونه بندکړي او د دغو هېوادونو سیاسي ارګانونه دې د افغانستان دکشالې د سیاسي حل لپاره جدي اقدام وکړي.

ب: دا د پاکستان، ایران او سعودي عربستان اسلامي فریضه ده چې د دغو هېوادونو سیاسي مقامات خپلو کې کښې او د افغانستان د سیاسي حل لپاره دې واحده پالیســـي جوړه کړي. افغانان په دې واقعیت پوهېږي چې څو دغه دري هېوادونه د افغانستان په اړوند واحده پالیسي وضـع نه کړي، تر هغې په افغانستان کې د سولې راتګ ډېر مشکل کار دی. افغانان په دې هم پوهېږي چې د افغانستان په اړون د ایران تر شاه روسیه، هند او د مرکزي اسیا ځینې هېوادونه ولاړ دي او د پاکستان تر شاه سعودي عربستان، یو شمېر اسلامي او لویدیز هېوادونه او امریکا ولاړ دي. که دغه هېوادونه د افغانســتان د ستراتیژیک موقعیت او د قاموس د ترکیب د واقعیت پر اساس د افغانستان د مسـلې په اړوند واقعي یوه پالیسي جوړه کړي، نو که د یوې خوا دا هېوادونه خپل ملګري نور هېوادونه قانع کولای شـــي، نو له بلې خوا د افغانســتان د روانې کشالې لپاره واقعي سیاسي حل پیداکولای شي.

ج: په افغانســتان کې د ایدیالوژیو او په ژبنیو، نژادي، مذهبي او ســیمه ییزو خصـوصـیاتو ولاړو ګوندونو او تنظیمونو ډېره ترخه تجربه ورکړې ده، ځکه ځینو ګوندونو بین المللي او بین الاسـلامي ایدیالوژیکانې خپلې کړي او ځینې د ژبنیو، نژادي، مذهبي او ســیمه ییزو مســایلو پورې ونښــتل چې ځینې د افغانســتان له سـطحې څخه پورته او ځینې کښـته ولاړل او د دې ګوندونو او تنظیمونو ترمنځ د افغانستان او افغانانو نوم او داعیه ورکه شـوه او یو ګوند او تنظیم هم د افغانســتان او افغان د ملي مســالې تر شـاه ونه درېد او نه ورته د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو هېوادونو له خوا چې پر دوی يې سرمايه‌ګذاري کړې ده، په افغانستان او افغان باندې د فکر کولو اجازه ورکړل شـــوه. دوی څو ځله ايتلافونه وکړل، اتحادونه يې جوړ کړل او پراخ بنســـته حکومتونه يې جوړ کړل، اما دغه ټولې هلې ځلې د ناکامۍ سره مخامخ شوي او په افغانستان کې يې د سولې پرځای تباهي او بربادي راوړه او اوس هم دغه ورور وژنه دوام لري. که دوی بيا هم د پخوا په شان بيا تش په نوم پراخ بنسته حکومت جوړ کړي، نتيجه به يې هم هغه تباهي او جګړې وي، ځکه چې دوی پر يو او بل باور نه لري او نه تراوســه د افغانســتان په ملي هويت او د افغانانو پر ملي برم عقيده لري او نه ورته کار کوي، بلکې تراوســه د ملي نظر پرضــد دي. يو ګوند يا تنظيم چې د افغانســتان په ملي هويت او د افغانانو پر ملي خصــوصــياتو باور نه لري، نو د دغو ګوندونو او تنظيمونو څخه جوړ پراخ بنســـته حکومت د افغانســـتان او افغانانو مسـلې لپاره د سـياسـي حل له لارې په راپيداکېدو کې حتمن له ناکامۍ سره مخامخ کېږي.

د: افغانان په خپل هېوادکې د ګاونډيانو پرضـــد او د ګاونډيانو د لاســـپوڅي حکومت مخالف دي. مخالف حکومت نه د افغانانو په ګټه دی، نه افغانان د مخالف حکومت د جوړېدو توان لري. ځکه چې افغانان د خپل تباه شـــوي هېواد د بيا جوړېدو لپاره د ګاونډيو هېوادونو په شـمول د حوزې او د نړۍ د ډېرو هېوادونو د اقتصـــادي، اجتماعي، کلتوري، تخنيکي او نورو مرســـتو ته اشد ضرورت لري او دغه مرستې مخالف حکومت نه شي ترلاسه کولای.

له بلې خوا لکه څنګه چې ورته اشـــاره وشـــوه، په افغانســـتان کې د يو هېواد لاســـپوڅی حکومت هم د کاميابېدو چانس نه لري، لکه څنګه چې شـــوروي اتحاد ناکامه شـــو، نو د شـــوروي اتحاد په لار تلونکی او تقليدکوونکی بل هېواد هم مخامخ کېږي. دا به د ټولو ګاونډيانو لپاره ډېر ګران کار وي، چې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې دې یو داسې لاسپوڅی حکومت منځته راولي چې دغسې لاسپوڅی حکومت دی د ټولو ټټو، یا بو وي او ټول دې ورباندې سورلي وکړي، د ټولو لپاره د ټټو حکومت جوړول هم ډېر ګران کار دی. افغانان په افغانستان کې یو دوست حکومت غواړي، یو داسې دوست حکومت چې د افغانستان د ملي ګټو سره یوځای د ټولو ګاونډیانو، د حوزې او د نړۍ د دوستې هېوادونو ملي ګټې هم په نظر کې ولري او د ټولو ګاونډیانو سره د خپلو ملي ګټو سره د ټولو ګاونډیانو ملي ګټې هماهنګ کړي او یو ګاونډي هېواد ته هم د بل ګاونډي هېواد پرضد په خپله خاوره کې د فعالیت اجازه ور نه کړي او د خپل هېواد په ستراتیژیک موقعیت د قاموني په قامي ترکیب، د ګاونډیانو ترمنځ د دوستۍ د پُل په حیث او د حوزې او نړۍ پر واقعیتونو آګاهانه او شعوري فکر وکړلای شي او د دغو واقعیتونو په رنا کې د افغانستان د داخلي او خارجي ستونزو لپاره عملي ملا وتړي. دا اوس د ګاونډیانو اسلامي فریضه ده لکه څنګه چې یې له افغانانو سره د جهاد په وخت کې مرستې کړي دي اوس دې له افغانانو سره په سوله او د یو دوست حکومت په جوړېدو کې مرسته وکړي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغاني ټولنه يوه مسلمانه، مساوات طلبه او اعتدال خوښوونکې ټولنه ده

دا مرکه د (وفا) جريدې په (۵۰)مه ګڼه کې د (۱۳۷۲ل)کال د جوزا مياشتې پر (۱۳)مه نېټه خپره شوې ده.

د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې مشر پروفيسور عبدالرسول امين د National Endowment for Democracy د موسسې له خوا د The world Conference on challenges to Democracy in the New Ara په کنفرانس کې د ګډون لپاره د امريکا متحده ايالاتو واشنګټن ته دعوت شوی و. پروفيسور امين په دغه کنفرانس کې د ګډون په موخه د اپريل په څلورويشتمه نېټه هغه هېواد ته ولاړ او د مې د مياشتې پر شپږ ويشتمه نېټه بېرته پېښور ته راستون شو. د وفا جريدې د خپلو لوستونکو د خبرتيا لپاره له پروفيسور امين سره مرکه کړې ده، چې مرکه يې په دې ګڼه کې خپره شوې ده.

د مرکې په پيل کې مو له پروفيسور امين څخه د دغه کنفرانس د جوړېدو، اهدافو، بحثونو او په کنفرانس کې د دوی د برخه اخيستلو په باب پوښتنه وکړه، دوی په دې برخه کې وويل:

په کنفرانس کې د لاتيني امريکا، افريقا، منځني ختيځ، شرقي اروپا، د پخواني شوروي اتحاد او نورو مختلفو هېوادونو ۱۷۵ هيئتونو ګډون کړی و. زه يوازينی افغان وم چې د بښنې نړيوال سازمان د غړي په حيث کنفرانس ته بلل شوی وم. کنفرانس د تبت د روحاني مشر (دلای لاما) په وينا پرانيستل شو.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کنفرانس کې د بشر د حقونو او په وروسته پاتې هېوادونو کې د خلکو په خوښه د ټاکل شوي حکومت او ديموکراسۍ په باب خبرې کېدې او ټولو ويناکوونکو په دې ټينګار کاوه چې په دغو هېوادونو کې ډموکراسي، د خلکو په خوښه ټاکل شوی حکومت او بشر د حقونو واقعيتونه د خلکو د عنعناتو، کلتور او اجتماعي شرايطو سره سم څنګه عملي کېدلای شي. د کنفرانس په پروګرام کې د افغانستان لپاره وخت نه و ورکړل شوی. ما د کنفرانس له مشر څخه هيله وکړه، چې ماته دې د افغانستان د کشالې په برخه کې د خبرو لپاره وخت راکړي، د کنفرانس مشر زما د غوښتنې په برخه کې د ګډونکوونکو څخه پوښتنه وکړه، ګډونکوونکو په يو اواز وويل، چې افغانستان له کورنيو جګړو سره مخامخ دی، پروفيسور امين ته دې وخت ورکړل شي... ما په ډېر لنډيز د افغانستان د روانو کړکېچونو او تراژيديکو حالتو په باب خبرې وکړې. ما په دې ړنا واچوله چې د افغانستان خلک څنګه له يوې ديکتاتورۍ څخه ووتل او څنګه د بلې ديکتاتورۍ د لاندې راغلل. په دې خبرو کې ما د کنفرانس ګډونکوونکو ته د افغانستان د روانو بدبختيو ذکر وکړ، چې افغانان له يوې سختې جګړې څخه راووتل، دمه يې لا نه وه کړې، چې د قدرت لپاره په بله جګړه واوښتل. د دغو ټولو بدبختيو اصلي عوامل خارجي ايډيالوژيکانې، په خارج کې جوړ شوي ګوندونه، د ګوندونو جوړښت، خارجي مداخلې او د خارجيانو له خوا د دغو تنظيمونو پواسطه په افغانستان کې د خارجيانو په ګټه د سياسي انحصار ټينګول دي. افغاني ټولنه يوه مسلمانه مساوات طلبه او اعتدال خوښوونکې ټولنه ده او افغانان د اجتماعي جوړ او اجتماعي روحياتو له مخې د تحميل، ديکتاتوري او د پردیو له ګوډاګيانو څخه کرکه کوي. افغانان له ګاونډيو هېوادونو سره په ورورولۍ ژوند کول غواړي، خو نوکرۍ ته تيار نه دي. په خپله خوښه ټاکل شوی

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت، چې د افغانانو او ګاونډیو هېوادونو ګټې په نظر کې ولري، منلو ته تیار دي، لاکن په هېڅ قیمت د پردیو له خوا تحمیل شوي لاسپوڅي حکومت منلو ته تیار نه دي. افغانستان د جرګو او مرکو کور دی، مرکې او شوراګاني د دغه ولس تاریخي عنعنه ده. تر څو چې افغانان د خپلې ملي عنعنې سره سم په خپله خوښه حکومت ونه ټاکي، خپل سرنوشت په خپل لاس کې ونه نیسي، تر هغې په افغانستان کې هېڅ سوله منځته نه راځي او په نتیجه کې به په افغانستان کې د دیکتاتورۍ په وجه وینې تویېږي، د مرګ ژوبلې بازار به ګرم وي، لوټ به روان وي، ښځې به بې عفته کېږي، کورونه به ورانېږي، خلک به د خپلو کورونو څخه شړل کېږي او هېڅاته به د سر امن نه وي. ما له دغه نړیوال کنفرانس څخه غوښتنه وکړه، چې له افغانانو سره د دیکتاتورۍ پرضد، د خارجیانو د مداخلې پر ضد په افغانستان کې د افغانانو د عنعنې سره سم د دوی منتخب حکومت او د بشر د حقوقو د تامین په لاره کې همکاري وکړي. کنفرانس ته د امریکې د باندنیو چارو د وزیر او د امریکې د جمهور رییس ښاغلي بل کلنټن له خوا مېلمستیاوې ورکړل شوې، ښاغلي بل کلنټن د جایزو د وېشلو په مراسمو کې وویل: ((موږ په دیموکراسۍ، ازادو انتخاباتو، په انساني کرامت، د بشر په حقوقو او په نړۍ کې په سوله او د یو بل په چارو کې د نه مداخلې پر اصولو عقیده لرو. د امریکې متحده ایالات د نړۍ د ژاندارم او پولیس رول لوبولو ته چمتو نه دی، اما زما اداره د هغو افرادو او ګروپونو تر شاه ولاړه ده، څوک چې د دیموکراسۍ، انساني کرامت، ازادو انتخاباتو او د بشر د حقونو لپاره مبارزه کوي، موږ د هر ډول دیکتاتورۍ او تبعیض مخالف یو.))

موږ له پروفیسور امین څخه وپوښتل، چې له کنفرانس وروسته دوی په امریکا کې له کومو امریکایي مقاماتو او موسسو سره ولیدل. په دې برخه کې یې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل: د اپریل له پنځه ویشتم څخه تر دېرشم پورې د یادې شوې موسسې مېلمه وم او د مې له اول څخه د مې تر لسم پورې د یونایټډ سټیټس انفارمېشن اجنسي مېلمه وم. د دغې ایجنسۍ د پروګرام له مخې ما د امریکا د خارجه چارو د وزارت له موظفو اشخاصو، د نیوجرسي سناتور (بل بریډلي)، د سنا د باندنیو چارو د روابطو د کمېټې د مامور او د ملګرو ملتونو د لوی سکرتر له مشاور سره ملاقاتونه وکړل. د دې برسېره د مختلفو موسسو د مشرانو او یو شمېر افغانانو سره مې هم لیدنې کتنې شوې دي. دغو ټولو خلکو د افغانستان د کشالې د سوله ییز حل سره ډېره دلچسپي درلوده. سره له دې چې د افغانستان کشاله د اهمیت په لحاظ په اوله دویمه او دریمه کټګورۍ کې نه راځي، خو دوی د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت پر لحاظ د افغانستان کشاله شاته نه ده غورځولې او د هېواد دننه او چاپېره سیاسي انکشافاتو پوره څارنه کوي. د دوی په نظر که په افغانستان کې افراطي ایډیالوژي په پښو ودرېږي، طبیعي ده چې د دغې ایډیالوژۍ په سر کې ولاړ افراد یا ګوندونه، مخالف افراد یا ګوند په وچ زور له منځه وړي، دیکتاتوري منځته راوړي، د دیکتاتورۍ څخه تروریزم منځته راځي، د هېواد په وګړو په وچ زور خپله ایډیالوژي تحمیلوي، نورو هېوادونو ته خپله ایډیالوژي صادروي، چې نتیجه یې د مرګ ژوبلې او د ثبات له نشتوالي سیوا بل هېڅ شی لاسته نه راځي. دوی د تاجکستان روانه کشاله د ایډیالوژۍ د صادرېدو نتیجه ګڼله. د دوی په نظر افغانستان د مخدره موادو د تولید او قاچاق د مرکز بنه غوره کوي. د اخبارونو او د خلکو له خبرو څخه داسې څرګندېدله چې د ملل متحد د احصایې له مخې افغانستان په برما پسې په دویمه درجه د مخدره موادو د تولید او قاچاق مرکز ګرځېدلی دی.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځوارلس کلن جهاد په نتیجه کې د افغانستان یو شمېر قوماندانان پربمانه وسله، مجاهدین او د جنګ تجربه لري او په خپلو سیمو کې د مرکزي حکومت د نشتوالي له امله خپلواک ژوند کوي. دوی تر اوسه د مخدره موادو د خرڅلاو له لارې پربمانه پیسې ګټي، د بل کاروبار سره عادت نه لري، اما د ګاونډیو هېوادونو بین المللي قاچاقبران زیار باسي چې د افغانستان له قوماندانانو سره ارتباط پیاکړي او دوی د مخدره موادو د لارې د پربمانه پیسو د ګټلو سره عادت کړي. که په بې مرکزه افغانستان کې دغه پروسه وده کوي، نو په دې صورت کې بیا یو قدرت هم دا توان نه لري، چې خپلواکه او د مخدره موادو له لارې ګټندویه قوماندانان د راتلونکي مرکزي حکومت اطاعت ته مجبور کړلای شي، چې په نتیجه کې به افغانستان د یوې ناوړې ملوک الطوایفي مرکز وګرځي.

د اسلام اباد د ټرون د کامیابېدو او یا نه کامیابېدو په برخه کې ډېر سوالونه کېدل ما د دوی په ځواب کې وویل: په تېرو ځوارلس کلونو کې افغانان د مختلفه اتحادونو، موقتي حکومتونو او حتی د پېښور د ټرون شاهدان دي. خو تر اوسه پر اتحاد، موقتي حکومت، د پېښور ټرون او د اهل حل و عقد شورا نه دي کامیاب شوي. د اسلام اباد ټرون هم په کاغذ لیکل شوی دی، خو عملي کېدل یې ډېر ګران کار دی. سره له دې چې د دې ټرون لپاره رقیب حکومتونه اسلام اباد کې راټول شول، د پاکستان صدراعظم، د سعودي عربستان د استخباراتو مشر، د ایران د خارجه چارو د وزارت مرستیال او یو شمېر نورو خلکو د افغاني ډلو ترمنځ د سولې لپاره کار وکړ، خو بیا هم دغه هلې ځلې کامیابه نه شوې. دناکامۍ اساسي عوامل یې دا دي چې دغه ټول تنظیمونه د افغانستان د باندې په خارجي هېوادونو کې جوړ شوي دي، د خارجیانو له خوا مشران ټاکل شوي دي، خارجیانو ورته پربمانه وسلې او

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیســـې ورکړي دي، خارجیانو وربانديې ســـرمایه ګذاري کړې ده او د پټو تعهداتو له مخې د افغانو پرځای د خارجیانو پلانونه عملي کوي. بله خبره دا ده چې په اسلام اباد کې راټول شوي منځګړي حکومتونه هم د افغانستان د قضیې طرف دي او هم خپل ترمنځ رقیبان دي. دغه هېوادونه په بټه او بنکاره د خپلو مشـخصـو تنظیمونو ملاتړ کوي، هر یو د مشـخص تنظیم لپاره امتیاز غواړي او هر یو په دې هڅه کې دي چې په افغانســتان کې خپل نفوذ او د خپلو مشـخصـو تنظیمونو د لارې په کومه طریقه انحصـار منځته راوړي. په دې ټرون کې د افغانســتان خلک بېخي له نظره غورځول شـوي دي. تر څو چې د ملل متحد لوی سـکرتر د افغانسـتان د سـولې پلان بیا پیل نه کړي، تر هغې د افغانستان دکشالې حل پیداکول مشکل کار دی.

ځینو دا نظر بنـکاره کاوه چې د ملل متحد پلان د ناکامی سره مخامخ شوی دی، که بیا پیل شي څه نتیجه به ور نه کړي؟

زما ځواب دا و چې ملل متحده یوازینی بېطرفه موســســـه ده او د نورو هېوادونو غوندې افغانستان هم د دې موسسې غړی دی. د افغانستان کشاله له بېطرفه منځګړیتوب پرته د داســې هېوادونو له خوا چې د افغانســتان په قضـیه کې طرف دي، خپلې ګټې په نظر کې لري او مشـخصـو تنظیمونو لپاره امتیاز غواړي، نه شـي حل کېدلای. څه وخت چې ملل متحد د افغانسـتان د سـولې لپاره پلان وړاندې کړ، د افغانانو لوی اکثریت د دغه پلان ملاتړ وکړ او یوازې یو څو وســله والو ډلو یې مخالفت ته ملا وترله. د دغه مخالفت او په نتیجه کې د پلان پر ضد دکودتا عوامل په ډاګه بنکاره دي.

۱ – هغو هېوادونو چې په ځینو مشـخصـو تنظیمونو سـرمایه ګذاري کړې ده، ډار درلود که چېرې د ملل متحد پلان عملي شـــي شـــاید چې د دغه پلان د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملي کېدو په نتيجه کې د دغو هېوادونو د لاسوهنې، نفوذ او د مشخصو تنظيمونو په واسطه په افغانستان کې د هغوی د سياسي انحصار مخنيوی وشي. سره له دې چې دغو هېوادونو په ښکاره له پلان سره د ((هو)) سر خوځاوه اما په زړه کې ورسره مخالف وو.

۲- وسله وال مخالفين پوهېدل چې د افغانستان لوی اکثريت د مرګ ژوبلې څخه پوزې ته راغلی دی. کېدای شي چې د افغانستان خلک د ملل متحد د پلان د کامیابېدو په نتيجه ک؟ې دغه ګوندونه مسترد کړي او يو نوی ليډرشپ منځته راوړي. که څوک واقعاً په دې باور ولري چې د افغانستان د خلکو اکثريت د هغه سره دی، نو هغه د ملل متحد يا د بل ارګان له خوا د سولې د پلان څخه نه ډارېږي، هغه په دې پوهېږي چې خلک هغه ته رايې ورکوي او هغه د خلکو د ملاتړ څخه برخورداره دی، په خوله خو هره يو دعوه کوي چې د افغانستان د خلکو لوی اکثريت د هغه سره دی اما په زړه کې پوهېږي که چېرې خبره د عمل ميدان ته راشي، نو هغه حتماً د خلکو له خوا مسترد ېږي. يوازې دغه ډار د ملل متحد د پلان په لارکې لوی خنډ دی.

۳- د ډاکتر نجيب اللهد استعفی او د ملګرو ملتونو د پلان د عملي کېدو د نېټې ترمنځ سياسي خلا منځته راغله. له دې خلا څخه شورای نظار، مليشا او د پرچميانو ائتلاف ګټه واخيسته. دوی فکر کاوه څوک چې کابل ونيسي هغه په ټول افغانستان کې حکمت هم کولای شي.

د دې ائتلاف بل هدف دا و چې دوی کولای شي چې په افغانستان د دوی په اصطلاح د پښتنو زعامت ته خاتمه ورکړي. واقعيتونو ورته وښودله چې کابل نيول اسان کار دی، اما ساتل يې مشکل کار دی او د پښتنو پر ضد د ائتلاف عملي کېدل ښې ګران کار دی.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤– ځینو هېوادونو غوښتل ډاکتر نجیب الله د سقوط په نتیجه کې د کابل د ائتلاف په واسطه په افغانستان کې د نیم بند سیاسي قدرت د انتقال لپاره لاره هواره کړي. دوی فکر کاوه چې مخالفې ډلې حتماً خپل ترمنځ په جګړو اخته کېږي، مرګ ژوبله زیاتېږي، انارشي به دومره زیاته شي چې د افغانستان خلک به د دغو ډلو مخالفت ته راپورته شي او د جهاد او مجاهد نوم به دومره بدنام شي چې خلک به په زړو کفن کشانو شکر وباسي، د افغانستان د سیاسي سیستم څخه به یو داسې ماډل منځته راشي چې په راتلونکي کې به د دغه سیستم ماډل منلو ته د افغانستان خلک، د کاوندیو هېوادونو ولسونه او د اسلامي نړۍ هېوادونه په هېڅ قیمت تیار نه وي. په افغانستان کې ددغه هېوادونو نه پیسې لګېږي، نه یې تبعه مري، بلکې افغانان ورته په خپله داسې سیاسي ماډل جوړوي چې هغوی په ډېر لګښت او مستقیمه مداخله نه شو جوړولای.

د ډاکتر نجیب الله تر سقوط وروسته ډېر سیاسي بدلونونه منځته راغلي دي، خلکو فکر کاوه چې نجیب الله د افغانستان د تراژیدۍ اساسي عامل دی، که نجیب الله ولاړ شي او په کابل کې د مجاهدینو حکومت منځته راشي شاید چې په هېواد کې سوله رامنځته شي. نجیب الله ولاړ، د مجاهدینو حکومت جوړ شو، افغانانو په خپلو سترګو ولیدل چې د سولې پر ځای په زرګونو بېګناه خلک ووژل شول، د کابل ښکلی ښار او د خوا او شاکلي د بمونو خوراک شول، ښځې بې عفته شوې، حکومتي، خصوصي او شخصي مکلیتونه لوټ شول او په زرګونو خلک د کابل د ښار نه وتښتېدل.

محترم مجددي صاحب او محترم رباني صاحب د یو بل پسې راغلل لاکن په عمل کې څرګنده شوه چې دغه تنظیمونه یوازې د جنګ لپاره جوړ شوي دي او د هر تنظیم مشر او نامتو غړي یوازې د خپلو ځانونو او تنظیمونو په برخه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې فکرکوي او نورو ته د مخالف یا دښمن په نظرکوري. مشخصه ایډیالوژیکاني، کوندي جوړښت او اقتصادي، سیاسي، ژبني او نور ډېر فکتورونه دي چې دوی د یو متحده هېواد او د افغانانو په ګډوکتو فکرکولو ته نه پرېږدي. د اهل حل و عقد شورا یې ښه مثال دی. دغه شورا د افغانانو د عنعنې سره سم لویې جرګې، پر ضدرامنځته شوه اما په عمل کې ولیدل شول چې دغې شورا ته یوازې هغه خلک راوبلل شول چا چې د یو مشخص تنظیم مشر د جمهور رییس په حیث ټاکل غوښتل. هغه څوک چې د شورا په صفت نه مړېدل هغوی هم د دغې شورا مخالفت د توپونو په ډزو اعلان کړ.

د هرې ټولنې سیاسي سیستم یا حکومت په مشروعیت ولاړ وي او د مشروعیت اساسي نسبت د ټولنې د خلکو په ازاده رایې ولاړ وي. هغه حکومت چې په خلکو باندې د ټانکونو، توپونو، الوتکو، راکټونو، ټوپکو او برچو په زور تحمیلېږي، دغه ډول حکومت مشروعیت نه لري او افغانان هم د زور حکومت منلو ته تیار نه دي. د افغانستان د ازادۍ لپاره د افغانستان ټولو قومونو ګډه قرباني ورکړې ده او اوس یو قوم بل قوم ته دا نه شي ویلای چې ما قرباني ورکړې ده او تا نه ده ورکړې. د ځوارلس کلونو د ملي تراژیدۍ په نتیجه کې اوس د افغانستان ټول قومونه خپل قوماندانان، دیني علما، قومي مشران او تعلیمیافته اشخاص لري او د تېر یو کال او یوې میاشتې ترڅو تجربو ثابته کړه چې په افغانستان د سولې د راوستلو لپاره د ملګرو ملتونو د لوی سرمنشي غړو د سولې د هڅو لپاره له بل هر وخت نه زیات ضرور دی.

ملګري ملتونه یوه بېطرفه موسسه ده او د دغې موسسې د لوی سرمنشي دفتر د بل هر چا څخه زیات د افغانستان دکشالې په هکله اوږده او پخه ترجبه لري. اوس هغه وخت رارسېدلی دی چې د ملګرو ملتونو د لوی سرمنشي نماینده یا نمایندګان د افغانستان په قضیه کې دخیلو حکومتونو،

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تنظيمونو مشـــرانو، د مختلفه قومونو د قوماندانانو، ديني علماوو، قومي مشرانو او تعليميافته اشخاصو سره له سره رابطه تينګه کړي او د افغانستان د مختلفه قشرونو څخه نماينده لويه جرګه يا شورا دايره کړي چې د افغانستان خلک د خارجي مداخلو پرته په ازاد ډول په خپله خوښـــه د خپل هېواد د سياسي او اقتصادي سيستم، اساسي قانون او راتلونکي مشرتابه په باره کې فيصله وکړي او دغې ملي تراژيدۍ ته خاتمه ورکړي.

مونږ له استاد امين څخه وپوښتل چې تاسو په امريکا کې له مېشتو افغانانو سره هم وليدل که نه؟ دوی په دې اړه وويل:

ما دوه ځله په واشـــنګټن کې او همدا شـــان د کاليفورنيا ايالت په کانکورد او لاس انجلس کې د افغانانو په غونډو کې خبرې وکړې. د افغانانو لپاره په واشنګټن او کاليفورنيا کې تلوېزيونونو او د ازاد افغانستان رادیو راسره مرکې هم وکړې.

د افغانانو اکثريت د افغانســـتان د کشـــالې له ورځنيو حالاتو څخه ځانونه خبروي او د افغانســتان د روانې تراژيدۍ په وجه ډېر خفه بنـــکارېدل. له بده مرغه يو شـمېر افغانان د پښتو او فارسي د رقابت په مرض اخته شوي دي او دغه مرض دومره شدت پيداکړی دی چې حتی ځينې پښتانه د دري ژبو سره او ځينې دري ژبي له پښتنو سره خبرې نه کوي. ما په دغه غونډو او مرکو کې هغوی ته په زغرده وويل چې په افغانستان کې افغانانو ته اساسي پرابلم دا دی چې خپل هېواد څنګه د مرګ ژوبلې او تباهۍ څخه وژغوري؟ هغوی ته د پښتو او فارسي مساله دومره مهمه نه ده، لکه څنګه چې يو شـمېر افغانانو په امريکا کې راټينګه کړې ده. هلته د آش نه کاســـه ډېره توده وه، ما ورته وويل افغانستان د داخلي قومي روابطو او د خواوشا او حوزې د شـرايطو په لحاظ

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه جزیه کېدونکی هېواد دی. په افغانستان کې ټول قومونه ګډ پراته دي او دوی د پېړیو پېړیو راهیسې ګډ ژوند کوي. په افغانستان کې داسې سیمه نه شته چې هلته دې یوازې یو قوم مېشت وي. فرضاً که افغانستان تجزیه کېږي، نو ددې تجزیې عملیه به یوازې د افغانستان پورې محدوده نه وي، دغه عملیه حتماً په پاکستان، ایران، د مرکزي اسیا په جمهوریتونو، ترکیه، هند او د اسیا په ډېرو هېوادونو تاثیر کوي چې په اوسنیو شرایطو کې د تجزیې د دې لوبې عملیې او د تجزیې څخه د راپیدا کېدونکو شخړو جګړو او قومونو د یوځای څخه بل ځای ته د لېږدولو او ورسره د سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او نظامي پرابلمونو د مخنیوي لپاره کوم ماستر پلان نه شته، که موږ یې غواړو او که نه او که زموږ خوښه وي او که نه، موږ افغانان مجبور یو چې په افغانستان کې ژوند وکړو. څوک چې په یو کور کې ژوند کوي، نو په ځای د دې چې په خوشالي او ورورلي ژوند وکړي، تریخ ژوند د افغانستان یو قوم ته هم هېڅ ګټه نه رسوي. که څوک ټوله شپه او ورځ خپل وخت په دې تېر کړي چې پښتانه بې کلتوره دي، تاجک بې غیرته دي، ازبک کله خام دي او داسې نور نو ګټه به یې څه وي؟ له دغو خبرو څخه یوازې د افغانستان دښمنانو ته ګټه رسېږي؛ دغه خلک یوازې د افغانستان د دښمنانو لپاره خدمت کوي او موږ په واقعیت کې په شعوري یا غیر شعوري توګه د افغانستان لپاره د (کی.جي. بي) د دې پلان چې ((جلا یې کړه او حکومت ورباندې وکړه)) ښکار شوي یو. (کی . جي. بي) د قومونو، قبایلو او ملیتونو د وزارتونو له لارې همدغه پلان په افغانستان کې عملي کول غوښتل، چې افغانان د قوم او ژبو په شخړو کې رابښکېل کړي او دوی ورباندې حکومت وکړي. سره له دې چې خلقیانو او پرچمیانو د بین المللي ایډیالوژۍ پلوي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاوه اما د دغه پلان له مخې دوی د پښتنو او غیر پښتنو په نومونو د یو بل پر ضد مبارزه هم کوله.

د ډاکتر نجیب الله تر ســقوط وروســته د کابل ائتلاف هم دا فکر کاوه، چې دوی د کابل د نیولو ســره جوخت به د پښــتنو تاریخي زعامت ته خاتمه ورکړي. د ائیتلاف غړو ځانونه د خپلو قومونو نمایندګان معرفي کول او د دوی پر ضد مخالفینو هم کوښښ کاوه چې پښتنو ته د خطر په نوم پښتانه په ځان راټول کړي. دواړو ډلو د قومونو او ژبو په نومونو پوره هلې ځلې وکړې، لاکن د مختلفه قومونو قوماندانانو، دیني علماوو، قومي مشــرانو او تعلیمیافته وو د دوی هلې ځلې شــنډې کړې. د دوی له خوا دا غږ راپورته شــو، چې په افغانســتان کې جګړې د قومونو ترمنځ جګړې نه دي، بلکې دغه جګړې محض د سیاسي قدرت ته د رسېدو په نیت روانې دي. له بلې خوا د له کونړ نیولې تر هرات پورې د هندوکش جنوب ته د پښــتنو قومونه مېشــت دي او د کابل چاپېر پښــتانه قوماندانان پراته دي. دغو قوماندانانو لیدل چې د کابل ائیتلاف د پښتنو پر ضــد فعالیت کوي، لاکن د دغو قوماندانانو د حوصــلې او د تدبر څخه کار واخیســت او هغوی نه غوښــتل چې د قدرت جنګ په قومي جنګونو بدل کړي. د مرکو په دوران کې ځینو قوماندانانو دې ته اشــاره کوله، که چېرې په افغانســتان کې قومي نښــتې پیل شــي، نو دغه نښــتې د افغانســتان ټولو ســیمو، بنــارونو، کلیو او حتی کورونو ته ورننوځي. هېڅوک د کامابېدو چانس نه لري او په افغانســتان کې د مرګ ژوبلې او تباهۍ پرته هېڅ شــی نه ترلاسه کېږي.

ما ورته وویل د افغانســتان په جهاد کې ټولو قومونو قرباني ورکړې ده. اوس ټول قومونه حق لري، چې په راتلونکي افغانســتان کې د وروړلی د اصــولو پر اســاس هر قوم د خپل شــمېر ســره ســم خپل ســیاسي، اقتصــادي، اجتماعي،

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلتوري او نور حقونو ترلاسه کړي. له بده مرغه د افغانستان د ځینو قومونو څوکسان چې ځانونه د ځینو قومونو نمایندګان معرفي کوي، وایي چې د دوی د قوم حق بل قوم خوړلی دی، په واقعیت کې دغه ډول اشخاص له قومي تعصب او له قومي شخړو څخه شخصي بهره برداري کوي. په سیاسي لحاظ حقوق قانوني مساله ده او قانون د خلکو د نماینده ارګان له خوا جوړېږي. تر څو چې په افغانستان کې د ټولو قومونو له خوا نماینده شورا منځته را نه شي او دغه نماینده شورا په اکثریت حکومت انتخاب نه کړي، تر هغې شورا او حکومت دواړه مشروعیت نه پیداکوي. په دې شرایطو کې د ټولو افغانانو اسلامي او ملي وظیفه دا ده چې په افغانستان کې د مشروع شورا او حکومت د جوړېدو لپاره کار وکړي او څه وخت چې دغه شورا منځته راغله، نو بیا شورا حق لري چې د افغانستان په راتلونکي اساسي قانون کې د ټولو قمونو هر ډول حقوقو ته قانوني بڼه ورکړي او مشروع حکومت ورته عملي جامه ور واغوندي. د مثال په ډول که د یو قوم په نوم یو څو کسان دا دعوه راپورته کړي چې په تېرو وختونو کې زموږ د قوم سیاسي، اقتصادي، اجتماعي، تعلیمي، کلتوري یا مذهبي حقوق غصب شوي وو او موږ خپل حقوق غواړو. که فرضاً د بل قوم یو څوکسان ورته دا ووایي چې موږ یې نه درکوو، یا ادعا مو سمه نه ده یا مو ټول حقوق درکړل، نو ایاد مدعي یا مدعي علیه خبرې یا فیصلې څه قانوني بڼه لري؟ ایا د توپک په زور حق اخیستل قانوني ګڼل کېږي؟ یو ځواب دی، نه. بیا هم موږ افغانان مجبور یو چې د یو مشروع ارګان په لټه کې شو او دغه ارګان د افغانانو د ټولو قومونو نماینده شورا ده او بس.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې مو له پروفیسور امین څخه پوښتنه وکړه چې تاسو له افغانانو سره د تفاهم او ملي وحدت د شـــورا په باب هم خبرې وکړې او که نه؟ ده په دې اړه وویل:

اکثره افغانان له شورا څخه خبر وو او د افغانانو په غونډو او مرکوکې د شورا په هکله ډېرې پوښتنې هم وشوې.

زما د خبرو خلاصه دا وه:

دا شورا د افغانستان د مختلفو قومونو له قوماندانانو، قومي مشرانو، علماوو او تعلیمیافته وو څخه جوړه شوې ده. د شورا مرامنامه مې ورکړه، ما ورته د شورا په ترکیب، د شورا په فعالیت او شورا د راتلونکي پروګرام په برخه کې په تفصـیل معلومات ورکړل چې د دغه شـورا اسـاسـي ټکي مې ورته داسې خلاصه کړل:

۱- دغه شـــورا د افغانســـتان د روانې تراژیدۍ د ترخې تجربې په نتیجه کې منځته راغلې ده، د مختلفو قومونو قوماندانان، قومي مشـــران، ديني علما او تعلیمیافته په پېښورکې سره راټول شول، د افغانستان په روانې ملي تراژیدۍ وګړېدل او پرېکړه يې وکړه چې د افغانسـتان د مختلفو قومونو د قوماندانانو، قومي مشـرانو، ديني علماوو او تعلیمیافته وو سـره دې رابطه ټینګه کړل شـي، دوی دې د افغانسـتان دننه په يو ولایت کې سـره د جرګې په توګه راټول شـي او د افغانستان د ملي تراژیدۍ د خاتمې په برخه کې دې تصمیم ونیسي.

۲- د روان کال د مارچ په ٦مه نېټه يې د پاکسـتان صـدراعظم، په اسـلام اباد کې د ایران او سعودي عربستان سفیرانو ته لیکونه ولېږل. په دې لیکونو کې د دغه هېوادونو د حکومتونو او خلکو څخه د افغانانو د جهاد په دوران کې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرستې له امله منله شوې ده، اما دوی ته دا هم لیکل شوي دي، چې د دغه هېوادونو حکومتونه د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله کوي، د افغانانو ترمنځ تبعیض کوي او د دغه هېوادونو حکومتونه غواړي، چې د هغو تنظیمونو په واسطه چې د دوی له خوا جوړ شوي دي، په افغانستان کې خپلو مستقیمو او غیر مستقیمو مداخلو ته دوام ورکړي او د افغانستان د خلکو خپلواکي د خپل انحصار لاندې راولي.

۳- د شورا ټوله مرامنامه مې ورته په څلورو ټکو کې خلاصه کړه.

الف- افغانان وروروولي کوي، خو نوکرۍ ته نه دي تیار، خارجي مداخله نه مني.

ب- افغانان په خارج کې یا د خارجیانو له خوا د جوړو شویو تنظیمونو په واسطه په افغانستان کې د دوی سیاسي، اقتصادي او کلتوري انحصار نه مني او نه یې منلو ته تیار دي.

ج- په زور کلي نه کېږي. افغانان دیکتاتوري او د خارجیانو له خوا د تحمیل شوي حکومت څخه تر پوزې راغلي دي. د منځګړیتوب حق هغه څوک لري چې هغوی واقعاً بې طرفه وي. د افغانستان په کشالې کې دخیل حکومتونه بې طرفه نه دي، دوی د قضیې طرف دي، خپل ترمنځ رقابتونه لري، د خپلو تنظیمونو لپاره امتیازات غواړي او د دغو رقابتونو له امله افغانستان د دوی د بزکشۍ میدان ګرځېدلی دی.

د ملګرو ملتونو موسسه یوازینۍ بې طرفه موسسه ده، له ډېرو کلونو راهېسې دغه موسسه د افغانستان له کشالې سره نږدې اړیکي لري، د افغانستان د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلې منځګړیتوب یې کړی دی او په دې پوهېږي چې د افغانستان کشاله ځنکه او له کومې لارې سیاسي حل مومي.

د– د افغانستان په جهاد او ازادۍ کې ټولو قومونو ګډه قرباني ورکړې ده. اوس ټول قومونه خپل قوماندانان، ديني علما، قومي مشران او تعليميافته اشخاص لري، د ملګرو ملتونو لوی سکرتر دې د افغانستان د دغو ځلورو قشرونو څخه لويه جرګه يا داسې بل ميکانيزم چې د افغانانو لوی اکثريت ته د منلو ور وي، دايرکړي او دغه نماينده لويه جرګه کې د خارجيانو د مداخلې نه غير د افغانستان د سياسي سيستم، حکومت، اساسي قانون او راتلونکي مشرتابه په اړه دې تصميم ونيسي او د افغانستان روانې ملي تراژيدۍ ته دې خاتمه ورکړي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصاحبه پروفیسور عبدالرسول امین با هفته نامه کابل

دا مرکه د (وفا) جریدې په (٦٥)مه ګڼه کې د (١٣٧٢ل)کال د وږي میاشتې پر (٢٧)مه نېټه خپره شوې ده.

سوال: اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد چه وقت تاسیس گردید؟

جواب: اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد در حمل سال ١٣٦٤ هـــ. ش مطابق به سال ١٩٨٥م در اثر مساعی، تنی چند از تعلیمیافته گان، منورین و نویسنده گان کشور در شهر پشاور تهداب گذاری شد. اعضای موسس آن ده نفر بودند. ما در دیار غربت باوجود دشواریهای مالی و سیاسی شروع به کار سازنده فرهنگی و سیاسی نمودیم و خواستیم تا واقعیتهای جامعه ما را طوری که است به گونه حقیقی و ریالستیک آن بازتاب دهیم.

ما در عملی نمودن اهداف اتحادیه باقبولی هر نوع خطر راه برگزیده خود را دنبال نمودیم، در آن ثابت قدم ماندیم و تا هنوز هم به کار خود به همان شیوه واقعیتی و واقعیت گرایی ادامه میدهم.

سوال: باکدام مراجع و سازمانهای ملی و جهانی اربتاط دارید؟

جواب: بر اساس اهداف اتحادیه ما با بعضی از موسسات مدافع حقوق بشر و دموکراسی و ازادی به سویه جهانی ارتباطهای داریم و از موسسات غیر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولتی کمکهای بلا قید و شرط را پذیرفته ایم. من خود عضو سازمان جهانی حقوق بشر استم، و در داخل کشور ارتباط ما با جمعیت رستگاری ملی، شورای تفاهم و وحدت ملی قایم بوده، و با انجمن فرهنگی خوشحال نیز در استانه تاسیس روابط متقابل فرهنگی استیم و هر موسسه فرهنگی دیگر کشور که با اهداف ما یعنی کوشش برای حقوق بشر و حکومت انتخابی توافق داشته باشد و ما نیز اهداف انها را بپذیریم خواهان برقراری روابط و همکاری متقابل استیم.

سوال: چند عضو دارید؟

جواب: اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد در سالهای اخیر ۲۸ عضو رسمی داشت، که اکثر شان در اتحادیه مصروف کارهای فرهنگی و علمی و ژورنالستیک بودند، اما بنا بر ضیقی منابع پولی و خشکیدن سرچشمه های کمکها فعلاً تداد محدودی از اعضای آن در اتحادیه مصروف کار اند، ولی تعداد اعضای دیگر ماکه خارج از اتحادیه کار میکنند زیاد است.

سوال: برنامه اتحادیه را توضیح کنید؟

جواب: اتحکادیه نویسنده گان افغانستان ازاد در مسایل سیاسی افغانستان، معتقد به اشتراک تمام اقشار و اقوام و قبایل ساکن درکشور است. ما معتقد استیم که در جهاد چهارده ساله افغانستان همه افغانها مربوط به هر قوم و قبیله شرکت ورزیده و اکنون در تشکیل حکومت و حیات سیاسی، اجتماعی کشور نیز بایست همه یی افغانها بدون در نظرداشت مسایل، لسانی، منطقه یی، مذهبی و قومی حصه داشته باشند.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما معتقد استیم که جامعه ما یک جامعه مسلمان، مساوات طلب و بیگانه زدا است، انها سنتهای دیرینه خود را احترام میگذارند، بنا بر آن باید با درک ساختار اجتماعی و روان ملت خود طبق خواسته های انان عمل نماییم، هرگاه به نظریات و اعتقادات انها وقعی گذاشته نشود ما نخواهیم توانست در کشور خود به یک صلح سراسری و پایه دار نایل آیم.

اتحادیه ما بر اصل دموکراسی، ازدیهای فردی و اجتماعی و رعایت کامل حقوق بشر و حقوق مدنی اعتقاد کامل و راسخ دارد.

سوال: منابع تمویل کننده انجمن چگونه است؟

جواب: اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد بدو تاسیس تا امروز فعالیتهای خود بر اساس پروژه های گوناگون استوار و برقرار نموده بود، به گونه مثال پروژه مجله انگلیسی بنام (WUFA)، پروژه مجله خپلواکی به زبانهای دری و پشتو، پروژه چاپ کتب (به زبانهای پشتو، دری و انگلیسی)، پروژه اخبار وفا (به زبانهای پشتو و دری) و پروژه سیمینارها، هر یک از این پروژه ها را بعضی از موسسات فرهنگی و سیاسی، اجتماعی خارجی تمویل میکرد. ایشیا فوندیشن، USIS، کوترادادناور فوندیشن (المان) و یک موسسه دنمارکی در تمویل پروژه های ما با ما یاری رسانیده است. در اواخر سال گذشته عیسوی اکثریت پروژه معاونت سقوط کرد، فعلاً تنها پروژه اخبار (از سوی دنمارکیها) تمویل میشود و پروژه چاپ کتب فعالیت دارد (تمویل این پروژه را یک موسسه مدافع دموکراسی امریکایی پذیرفتهو ولی تا حال کمکی از آن دریافت نه کرده ایم.)

سوال: در داخل کشور فعالیت دارید؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب: ما از اغاز تاسیس اتحادیه تا امروز به مرکز و اکثر ولایات کشور خود نشرات اتحادیه را میفرستیم، و اتحادیه کوشیده است، در داخل کشور با موسفیدان و مشران، علما، روحانیون و تعلیمیافته های کشور روابطش را برقرار نگه دارد.

سوال: شرایط پذیرش اتحادیه چیست؟

جواب: در اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد بنا بر مواد اساسنامه آن هر افغانی که مرتکب جرم و جنایت نشده باشد، بر ضد منافع ملی کشور و مردم آن واقع نگردیده باشد اساسنامه اتحادیه را بپذیرد و مطابق به مواد آن عمل نماید، به حیث عضو اتحادیه پذیرفته شده میتواند.

سوال: طرح شما در باب ایجاد حکومت ملی درکشور چیست؟

جواب: اتحادیه نویسنده گان افغانستان ازاد، با در نظر داشت غیر وابسته گی آن با تنظیم ها و سازمانهای داخلی و خارجی به مسایل کشور و پرابلمهای آن از دید ملی و وطنی مینگرد.

ما با درک عمیق از ساختار روانی، اجتماعی و سطح رشد اجتماعی و سیاسی درکشور به این انتیجه رسیده ایم که مسایل مربوط و جاری درکشور را جز احترام به مردم و معتقدات و سنتهای آن هیچ چیز دیگر حل کرده نمیتواند. کشور ما در طول تاریخ با حادترین پرابلمهای داخلی و خارجی روبرو شده، ولی مردم آن با توجه به سنتهای پذیرفته شده شان که همگونی عام و تام با ارزشهای دین مبین اسلام دارد، همه پرابلمها و مشکلات پیشروی شانرا حل نموده اند. سنتهای دیرین مردم ما که در موسسه اجتماعی جرگه تبلور مییابد، حیثیت حقوقی و قانونی داشته با فیصله های آن افغانها تطابق روانی دارند و

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

آن را میپذیرند. اکنون نیز که کشـــور ما دچار پرابلمهای داخلی اســـت به عقیده، مان یگانه راهی که میتواند ملت را از این حالت خطرناک بی ثباتی و جنگ داخلی نجات دهد، همان لویه جرگه عنعنوی است.

لویه جرگه یی که امروز بایسـت دایر شـود، لویه جرگه واقعی، نماینده و ممثل اراده همه یی اقوام ساکن درکشور باشد و سرپرستی آن را ملل متحد بکند. در این جرگه باید قوماندانان، علمای دین، روحانیون، موسـفیدان و تعلیمیافته گان تمام اقوام و قبایل کشور شرکت داشته باشند.

لویه جرگه باید قبل از همه قیادت ملی را برای کشور تعیین بدارد، و حکومت عبوری را انتخاب نماید، قیادت و حکومتی که پس از گزینش و پذیرش لویه جرگه به وجود می آید مشـــروعیت قانونی خواهد داشـــت. حکومت باید اردوی ملی را تشکیل نموده، خلع سلاح عمومی را اغاز نماید و کار عودت مهاجرین و اســـکان دوباره انها را در راس کارهای خود قرار دهد، قانون اساسی جدید را رویدست گیرد و پس از تسـوید و تصـویب قانون اسـاسـی، قوانین دیگر به شـــمول قوانین احزاب، ســـازمانهای اجتماعی و انتخابات را تســـوید و تصـــویب خواهد نمود و شـــرایط را برای انتخابات را تســـوید و تصویب خواهد نمود و شرایط را برای انتخابات سراسری، مستقیم و سری که همه مردم کشور در آن شرکت کنند، هموار خواهد ساخت.

سـوال: ایا دسـت دراز و مداخله کشـورهای خارجی را در قضـایای افغانسـتان تایئد مینماید؟

جواب: اگر پرسش شما راکوتاه پاسخ بدهیم، باید بگویم که نی. ولی بایست تذکر دهم که از نظر من و اتحادیه ما مداخلات خارجی ملت ما را دچار مشکلات امروزی نموده است، تا زمانی که مداخلات خارجی قطع نشود، تا

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

آن وقت کشـــور ما و مردم آن درگیر جنگ خواهد بود. اتحادیه ما از همه زیادتر بر ضد مداخلات بیگانه مبارزه کرده، میکند و خواهد کرد.

کشورهای مداخله گر باید از روحیه بیگانه زدایی مردم کشور ما اطلاع داشته باشـــند و باید بدانند که مردم ما نماینده گان خارجیها را نمیپذیرند، انها باید بگذارند که مردم را مطابق به میل شـــان قیادتی را برای شـــان تعیین بدارند، قیادتی که بر اساس نورمهای معموی همزیستی مسالمت امیز روابط دوستانه باکشورهای همجوار و سایر کشورهای منطقه و جهان استوار نماید.

سوال: در این روزها سرو صدای انتخابات است، شما چی شکل انتخابات را تایید مینمایید؟

جواب: باید گفته شـــود که من خود و اتحادیه ما همه به انتخابات عقیده داریم، ولی به نظر اتحادیه ما در شـــرایط فعلی بنا بر درک احوال و اوضـــاع اجتماعی و سیاسی و جنگی در کشور و ارایش قوتها انتخابات سراسری، سری و مستقیم به دلایل زیرین ناممکن به نظر میرسد:

۱- در شـــرایط فعلی بیش از پنج ملیون افغان در خارج از کشـــور در دیار هجرت به ســـر میبرند، ایا بدون شـــرکت پنج ملیون افغان میتوان انتخابات انجام شده را سراسری نامید؟

۲- همینکونه در حدود بیش از یک ملیون افغان در اثر جنگهای داخلی از جای شان بیجا شده اند و به ولایات و محلات مصوون کشور پناه برده اند، ایا میتوان بدون در نظرداشت حقوق انها انتخابات را انجام داد.

۳- تا جایی که دیده میشود تا حال در کشور حکومت باثبات و قوی مرکزی به وجود نیامده اســـت حکومتی که بتواند بر تمام ولایات، ولســـوالیها، علاقه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

داریها و محلات آن حاکمیت داشـــته باشـــد. حکومتی که بر تمام قلمرو مملکت حاکمیت نداشته باشد، چگونه میتواند در سراسر کشور انتخابات را برگذار نماید.

٤- در شرایط فعلی همه کشور مسلح است و تفنگ بر کشور حاکم میراند، به نظر ما تا زمانی که در کشـور خلع سـلاح عمومی صـورت نگرفته باشـد، انتخابات عمومی و سراسری واقعی امکان پذیر نیست.

٥- مساله شمول اشتراک زنها نیز موضوع قابل بحث است، زیرا بعضیها به اشتراک زنان در انتخابات موافق

نیستند؟ ایا میتوان بافروگذاشتزیاده از نصف نفوس جامعه چنین انتخابات را انتخابات واقعی خواند؟

٦- احصـائیه های واقعی در کشـور موجود نبوده، این مسـاله نهایت بغرنج باعث درد سرهای فراوانی شده میتواند.

احصـائیه های اکثر حصـص جنوبی، غربی، شـرقی و شـمال شـرقی کشـور بر اساس بند و بستهای قومی و یاداشتن مردان جنگی ثبت شده است و اکنون نفوس این مناطق ده چند وحتی بیشتر از آن ازدیاد یافته است.

انتخابات پیشنهادی از سوی بعضیها شکل انحصاری دارد و شیوه برگذاری آن که حزب و یا تنظیم باید در حوزه ها کاندید شـود نه شـخص، نیز موارد عملی ندارد.

سوال: نظر شما درباره هفته نامه کابل چیست؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب: اگر چه من جریده شما را ندیده ام، اما این که شما در شرایط نهایت دشوار به نشر چنین جریده در شهر کابل همت گماشته اید، کاری است در خور ستایش من این کار را می ستایم و شاد باشهای گرم و صمیمانه خود را تقدیم کارکنان این جریده مینمایم.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازاد، مستقل او پر خپلو پښو ولاړ افغانستان به د ګاونډيو هېوادونو ترمنځ د پله حيثيت ولري

دا مرکه د (وفا) جريدې په (۷۰)يمه ګڼه کې د (۱۳۷۲ل) کال د لړم مياشتې پر (۱) نېټه خپره شوې ده.

د پاکستان د روانو نويو سياسي تحولاتو او د افغانستان پر مساله باندې د دې تحولاتو د اغېزو په اړه د ازاد افغانستان د ليکوالو اتحاديې له مشر پروفيسور عبدالرسول امين سره يوه مرکه کړې ده، چې لاندې وړاندې کېږي:

پوښتنه: محترم استاد پروفيسور امين! لطفاً د پاکستان د نوي سياسي صورتحال او پر افغانستان باندې د دې صورتحال د اغېزو په اړه د وفا لوستونکو ته څرګندونې وکړئ؟

ځواب: د پاکستان دغه تحولات د دوو مهمو مسالو سره ارتباط لري، يو دا چې په نړيواله کچه تغييرات روان دي، بل دا چې په پاکستان کې هم د دغو تغيراتو احساس ليدل کېږي. د پاکستان د اوسنيو انتخاباتو په نتيجه کې چې بېنظير بوتو د پاکستان صدراعظمه وټاکل شوه، د دې ټاکنې اساسي عامل دا دی چې دلته دا ټوله مبارزه زما په نظر په دوو جهتونو کې وه؛ يو جهت يې محافظه کارانه و او بل د تحول غوښتونکو او تغير طلبانو طرز تفکر چې تل يې د تغير لپاره هڅې کولې. بېنظير بوتو چې د انتخاباتو پر وخت کومې بيانيې ورکړې دي د هغې په خبرو کې دا مسله په واضحه توګه يادې شوې وه، چې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د تغیر دوره ده، باید پاکستان کې هم تغیر راشي او دغه د تغیر دوره د بین المللي سیاست له غوښتنو سره سمه روانه ده او په دې حوزه کې هم همدغه تغیر راروان دی، نو فکر کوم چې دغه انتخابات او د دې د ګوندکامیابېدل او د صدراعظم په توګه د دې له راتګ څخه سړی داسې نتیجه اخیستلای شي، چې د پاکستان خلک د سیاسي بلوغ مرحلې ته رسېدلي دي او سیاسي بلوغ لري، نو دا چیلنج باید ومنل شي، چې باید پاکستان کې سیاسي تغیر راشي.

پروسږکال چې کله موږ د بېنظیر بوټو سره د دغو مسایلو په ارتباط وغږېدو، موږ سره نور افغانان هم موجود وو. دې موږ ته یونیم ساعت د خبرو اترو وخت راکړ. د دې له خبرو څو مهم نکات چې ماته یاد دي دا و: اوله دا چې هغه څوک چې په خپل وطن کې ستونزې او مشکلات ایجادوي، اختناق راولي، خلک محبسونو ته لېږي، خلک وژني، نو هغه به د ګاونډي څه پروا وکړي؟ دوی ویل کله چې موږ حکومت جوړوو، نو د خلکو رایه غواړو او په پاکستان کې د خلکو په خوښه حکومت جوړوو. لکه څنګه چې په پاکستان کې موږ یو مستقل او د خلکو په خوښه حکومت غواړو نو همداسې زموږ هیله ده چې په افغانستان کې هم داسې حکومت رامنځته شي، چې خلکو رایه ورته ورکړې وي. صندوقونه دې کېښودل شي چې خلک په ازاده توګه خپله رایه ورکړي او خپل زعامت وټاکي. دغه زعامت باید د زور او فشار لاندې نه وي، بلکې د خلکو د خوښې تابع وي.

د دې د خبرو بله برخه دا وه؛ چې هغې وویل: موږ داسې افغانستان نه غواړو چې د پاکستان، ایران او یا بل کوم ګاونډي تر فشار لاندې وي، بلکې خبره دا ده چې افغانان په تاریخي لحاظ په ازادۍ مېین قوم دی او دوی تل د ازادۍ لپاره د خپل دین لپاره د خپلې عنعنې لپاره قرباني ورکړې ده، نو که افغانستان

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د خلکو په خوښه حکومت راشي او هغه ازاد، مستقل او پر خپلو پښو ولاړ افغانستان وي، هغه د نورو ګاونډیو ملکونو سره هم کومک کولای شي.

درییمه خبره دا وه؛ چې افغانستان کې که داسې حکومت راځي چې هغه د خلکو په خوښه وي، نو هغه دلته د پاکستان د حکومت سره هم مرسته کولای شي، ځکه چې دلته به هم د خلکو د خوښې حکومت وي او بله خبره دا وه چې افغانستان په ډېر یو مهم ستراتیژیک موقعیت کې پروت دی او ازاد، مستقل او پر خپلو پښو ولاړ افغانستان د ګاونډیو په منځ کې د یو پله حیثیت لري او مونږ داسې افغانستان غواړو چې له ګاونډیو ملکونو سره د ورورولۍ او دوستۍ روابط ولري او د یو بل په چارو کې لاسوهنې نه وي، بلکې له یو بل سره په اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي ساحو کې د متقابلې همکارۍ روابط ولري. اوس چې بېنظیر بوتو صدراعظمه شوې ده، د ټولو افغانانو تر ډا هیله ده چې د افغانستان د کشالې د سیاسی او مسالمت امیز حل په لاره کې خپله مثبته هڅه پیل کړي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانان هیله لري، چې زمونږ ګاونډیان باید د افغانستان مساله ملګرو ملتونو ته وسپاري

دا مرکه د (وفا) جریدې په (۷۶)یمه ګڼه کې د (۱۳۷۲ل)کال د لیندۍ میاشتې پر (۱۵)مه نېټه خپره شوې ده.

د پاکستان صدراعظمې بېنظیر بوتو د روان کال د قوس د میاشتې پر څلورمه نېټه په اسلام اباد کې یو جوړ شوي مطبوعاتي کنفرانس کې برخه واخیسته. په دې کنفرانس کې پاکستاني مشرانو او د پاکستان د مطبوعاتو ځینې نماینده ګانو برخه اخیسته وه. په دې مطبوعاتي کنفرانس کې د صدراعظمې څخه د افغانستان د روانې لانجې او کورنیو تنظیمي جګړو په باب هم پوښتنه وشوه. محترمې بېنظیر بوتو په دې ارتباط د خپل ځواب په ترڅ کې د نورو خبرو تر څنګه دا خبره هم وکړه چې مونږ پېشنهاد کوو، چې د افغانستان د روانې شخړې د حل لپاره دې د پاکستان، ایران او سعودي عربستان یو مشترک درې اړخیز کمېسیون جوړ شي، په دې موضوع کې دې منځګړیتوب وکړي.

د محترمې بېنظیر بوتو دې خبرو په افغانانو کې یو تشویش تولید کړ، ځکه افغانان په ټمه و، چې د دې په رامنځته کېدو سره به د پاکستان په افغان پالیسۍ کې تغیر راشي، خو په مطبوعاتي کنفرانس کې د افغانستان په باب د دې خبرې د پاکستان د زړې پالیسۍ په رنا کې اوډل شوې وې، په همدې اساس د بي بي سي پښتو خپرونې د پاکستان د صدراعظمې د دې وینا په باب، د افغانانو د عکس العملونو د څرګندولو په خاطر د ازاد افغانستان د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکوالو ټولنې له مشـر پروفیسـور امین سـره یوه مرکه وکړه، چې د قوس پر اوومه د سهار د بي بي سي رادیو له څپلو نشر شوې ده.

له پروفیسـور امین څخه یې پوښـتنه وکړه، چې د محترمې بېنظیر بوتو د دې وینا په باب د افغانانو عکس العمل څه دی؟

پروفیسـور په ځواب کې ورته وویل: د محترمې بېنظیر بوتو تر مطبوعاتي کنفرانس وروسـته، چې ما له کومو افغانانو سـره کتلي دي، په دې ارتباط افغانانو د بېنظیر بوتو په مرکه څه تشـویش ښکاره کړ، ځکه افغانان وایي، چې د محترمې دا خبرې او نظریات د افغانستان په باب د پاکستان د زړې پالیسي څخه خړوبېږي، ځکه افغانان په دې عقیده دي، چې پخوانۍ پالیسي موثره نه وه، د هماغسـې پالیسـۍ په رنا کې د پېښـور– اسـلام اباد ترونونه وشـول، په دغو ترونونو کې د درېواړو هېوادونو نماینده ګان وو، بیا د افغان د اوسـنۍ اداري مشـران او په جګړه اخته خواوې د اسـلام اباد تر ترون وروسـته د پاکسـتان د پخواني صـدراعظم په ملګرتیا تهران او ریاض ته ولاړل. خو دغو دري اړخیزو خبرو کومه ګټه و نه کړه او افغانسـتان کې یې حالات نور هم کړکېچن کړل او هېڅ هم پرې مرتب نه شـول. نو ځکه اوس افغانان شـکمن دي، چې دا پېشـنهادي دري اړخیز کمېسـیون به هم څه ونه کړای شـي. د کمېسـیون درېواړه غړي په افغانسـتان کې خپلې ګټې لري او درېواړو زمونږ په هېوادکې په وسـله سـمبال ګوندونه او تنظیمونه جوړ کړي دي، ځکه دوی به هر یو کوښـښ وکړي چې د خپلې خوښـې حکومت پر افغانانو وټپي، حال دا چې دغسې ټپل شویو حکومتونو په افغانستان کې نتیجه ور نه کړه او نه به یې ورکړي. افغانان غواړي، چې زمونږ ګاونډیان په صـادقانه ډول د افغانسـتان روانې معضـلې ته فکر وکړي او په دې هڅه کې شـي، چې افغانان د خپلې خوښـې حکومت له خپل دود او عنعنې سـره سـم ځان ته جوړ کړي، زمونږ

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاونډیان باید د یوه نوي تفکر په رنا کې د افغانستان قضایاوو ته د دې هېواد له تېر تاریخ ســره په ارتباط کې وګوري او د دې کشــالې د غوڅولو لپاره له افغانانو ســره لکه د ورونو د ســولې او امنیت په لارکې مرســته وکړي. که چېرې دا شــخړه د همدې لاســوهنو له امله دوام پیدا کړي، نو د دې امکان شته، چې د افغانستان تمامیت له جدي خطرونو سره مخامخ کړي او دا اور به بیا زمونږ ټول ګاونډیان له ځانه ســره وســوځوي. د بي بي ســي خبریال بیا وپوښتل، افغانان نو څه غواړي؟

د دې پوښــتنې په ځواب کې پروفیســور امین زیاته کړه: افغانان وایي، چې دا دري ملکونه دې په ازمایل شــوې طریقه کار نه کوي، ځکه هغو طریقو خو ډېره بده نتیجه ورکړه او افغانســتان یې په کنډوالو بدل کړ. دوی وایي چې پاکستان باید هغه زړه افغان پالیسي پرېږدي او د نوي تمایل ســره ســم دې د لانجې د حل لپاره یوه داسې لار ولټوي او یا د یوې داسې لارې په لټولو کې له افغانانو سره مرسته وکړي، چې هغه د افغانانو له عقیدې، روایاتو او سنتونو ســره برابره وي. افغانان هیله لري، چې دغه درېواړه هېوادونه دې هڅه وکړي، چې د ملګرو ملتونو جهاني موسسه د افغانستان مسلې ته بیا له سره توجه وکړي او هغوی خپل د سولې پلان بېرته ژوندی کړي، هغه دا چې زمونږ ګاونډیان باید زیار وباســي، چې د افغانســتان د مســلې حل ملګرو ملتونو ته وسپارل شي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان یو مېرنی او توریالی هېواد دی او ټولو قومونو ته یې خپل مېرنتوب ښودلی دی، سکندر وکه چنګېز اوکه انګرېزان وو په خپله په جهاد سره ټولو ته شکست ورکړی دی، موجوده زمانه کې روسان یو لوی طاقت و چې د غربي او شرقي هېوادونو د دې زبرځواک څخه ځان ساته، البته روسانو زمونږ په مخکې تاریخ او واقعاتو ته نظر نه و اچولی اوکه اچولی یې و، خو کمونستانو خپل قدرت ته په لوړ نظر کتل او افغانستان ورته وړوکی هېواد او بې طاقته ښکارېده، اما د افغانستان له هېواد سره یو لوی طاقت چې هغه د خدای(ج) په مرسته پس له هغې چې روسانو زمونږ پر هېواد یرغل وکړ، نو په هماغه لوی طاقت الهی سره مونږ افغانانو له روسانو سره کامله مقابله وکړه او ټول غرب او شرق ولیدل چې روسانو د افغانانو پر وړاندې لوی شکست وخوړ، نو نظر په دې مقدمه اوسني جګړه ماران په خپل منځ کې په جنګ او جګړو اخته دي، دا ډېر بې ځایه او د اسلام د ټولو بنیادي قوانیو، د قران عظیم الشان او حدیث نبوي سره مخالف دی او زمونږ په هېوادکې یې د جهاد سپېځلي اهداف په قتل او عارت بدل کړل.

پوښتنه: ستاسې په نظر د اوسنیو شخړو څخه د وتلو لاره څه ده؟

ځواب: زه فکر کوم چې د افغانانو لپاره د بهرنیو یرغلګرو سره مقابله څه نوې خبره نه ده، خو کله چې زمونږ په هېوادکې خارجي تېري کوونکو شکست خوړلی، نو افغانانو دوباره د خپل کلتور په مطابق خپلې ستونزې حل و فصل کړې دي، چې د دغې دود او دستور لپاره د روغې جوړې په خاطر یې جرګې او لویې جرګې راغوښتل شوي دي، دا مسلې په خپل منځ کې حل

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي دي، اما زه فکر کوم چې د انقلاب په وجه لوی واړه شـول او واړه لوی شـــول، نو هغه خپل پلرنی دســـتور يې هېر کړی او يا د خپلو کتو او اقتدار په خاطر نه غواړي چې دا مسـله د افغانانو په دود فيصـله شـي. نو زه غواړم چې په افغانانو کې به په داخل او خارج کې پوهان او سـياسـتمدار خلک شـته چې کولای شـي د خپل وطن دا مسـله ملګرو ملتونو په مرسـته او لويې جرګې په لارې حـل و فصـــل کړي، لکـه چې ملګرو ملتونو د هر هېواد جګړې او ستونزې حل کړې دي، همدارنګه مورږ سـره هم بايد مرسـته وکړي، چې دا په خپله د بشري حقوقو څخه کلکه دفاع ده.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د مسلې د سیاسي حل صلاحیت له جنګي ډلو سره نه شته

دا مرکه د (ازاد افغانستان) جریدې د لومړي کال په (٤)مه ګڼه کې د (١٣٧٧ل) کال د چنګاښ پر میاشت خپره شوې ده.

د امریکا غږ پښتو خپرونې د کابل پوهنتون له پخواني استاد او د افغانستان د مطالعاتو د مرکز رییس پروفیسور عبدالرسول امین سره د افغانستان په روانه لانجه خبرې کړې دي، چې عمده برخې یې دلته را اخلو:

له پروفیسور امین څخه پوښتنه وشوه، چې له کمونیستانو څخه وروسته چې څومره حکومتونه راغلي دي او یا راځي، هر یو یې د اسلام او شریعت دعوه کوي. ایران هم یو مسلمان ملک او پاکستان هم او مورږ هم یو مسلمان ملک یو او غواړو چې اوسو، نو دا د دوی دښمني له مورږ سره په څه کې ده؟

پروفیسور امین:

د کمونستانو تر سقوط وروسته د افغانستان دا خپلمنځي جګړې که په نظر کې ونیسو، نو د استاد رباني او د حکمتیار ترمنځ په ډېره برخه کې اسلام استعمالېده، یاني دا فتوې به ورکول کېدې او اوس هم د جنوب او شمال ترمنځه، نو دلته چې سړی وګوري، دواړو خواوو ته مسلمانان دي، دواړه خواوې په افغانستان کې د سیاسي قدرت لپاره جنګ کوي. دواړه ډلې د جنګ صلاحیت لري، خو تر کومه ځایه چې د سیاسي صلاحیت خبره ده، د افغانستان د مسلې د حل خبره ده، دا صلاحیت نه له شمال سره شته او نه له جنوب سره. ځکه چې د شمال تر شاه ایران ولاړ دی او د جنوب تر شاه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان ولاړ دی. د ایران تر شاه بیا هند، روسیه او نور ولاړ دي او دې خواته د پاکستان تر شاه سعودي، ځینې غربي ممالک او امریکه هم ورسره سر خوځوي. زما په نظر د افغانستان مسله د مذهب تر نامه لاندې په سیاسي بڼه روانه ده. پایند صاحب خبره چې د ایران او پاکستان ترمنځ به څه خصومت نه وي، لیکن دوی به خپلې ملي ګټې ولري او په تاریخي لحاظ دا سیاست ډېر زوړ راغلی دی، لکه چې پخوا به ویل کېدل چې خپل ګاونډي ضعیف وساته او خپل ځان قوي کړه، نو مورږ ګورو چې ایران هم غواړي ځان قوي کړي او پاکستان هم غواړي. لیکن په واقعیت کې دواړه کوښښ کوي چې افغانستان ضعیف وساتي، زما په نظر دا ډېر زوړ سیاست دی او دغه مسله پروسږکال په ایران کې ما له بروجردي سره مطرح کړه او دا مې ورته وویل څه شی چې تاسې پر افغانستان باندې تحمیلوئ او تاسو یې ملاتړ کوئ، دې حکومت خو پنځه کاله او پنځه میاشتې حکومت کړی دی، څومره ترخې تجربې چې د افغانستان خلک له دغه حکومته لري، هېڅکله به خلک دا حکومت ونه مني. زما په نظر د افغانستان جوړښت او د قومونو ترکیب داسې راغلی دی، چې نه ایران پرې خپله اچولی شي، نه پاکستان پرې خپله اچولی شي، خو بدبختي په دې کې ده چې هغوی د خپلو ملي ګټو لپاره کار کوي او د دې لپاره یې افغانان استخدام کړي دي او دوی هم د اجیر په شان ورته کار کوي. پروفیسور امین د یوې بلې پوښتنې په ځواب کې وویل:

ما همدغه مسله په ایران کې له برجردي سره مطرح کړله ما ورته وویل چې داکومې ډلې چې تاسو یې په افغانستان کې ملاتړ کوئ، دا خو پاکستان جوړې کړې دي، هلته تربیه شوې دي، هغوی رسمیت ورکړی دی، ما وویل علت دا دی چې هم پاکستان او هم ایرانیان په افغانستان کې له هغو کسانو سره روابط ساتي چې هغوی اجیر تربیه شوې دي او د افغانستان د ګټو لپاره چې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمت کوي هغه افغانان دي او له هغو سره تاسو روابط نه ساتئ، ځکه تاسو په خپلو ملي ګټو باندې خفه کېږئ. داسې چې تاسو خفه کېږئ، همداسې افغانان هم خفه کېږي. زما په نظر د افغانستان د مسلې د حل لپاره تر اوسه د پاکستان او د ایران ترمنځه داسې یوه نقطه راغلې نه ده، چې سره متحده پالیسي وضع کړي، ایران خپلې ګټې لري او پاکستان خپلې ګټې لري، د پاکستان شاته سعودي ولاړ دی، د سعودي جنګ هم موږ پر غاړه اخیستی دی، د پاکستان جنګ هم موږ پر غاړه اخیستی دی، د شیعه او سني جنګ هم موږ پر غاړه اخیستی دی. یانې په افغانستان کې پر هر شي باندې خبرې کېږي، خو په یو شي باندې خبرې نه کېږي، په افغان باندې خبرې نه کېږي او په افغانستان باندې خبرې نه کېږي. په حزبونو، په تنظیمونو، لیډرشیپونو او ژبو باندې خبرې کېږي، لیکن په افغان باندې خبرې نه کېږي. که سړی دا دواړه ملکونه مطالعه کړي، ګوري چې دا دواړه ملکونه کوښښ کوي، چې د افغان او افغانستان ملي هویت باید دومره ضعیف کړي چې دوی خپل اجیران د خپلو ګټو لپاره استعمال کړي. لیکن زما شخصي نظر دی چې افغانستان کې نه ایران خپله ډله په ټول افغانستان حاکمولی شي او نه یې پاکستان او بلاخره دوی هماغه د یو دوست حکومت مفهوم ته راځي، چې په افغانستان کې نه مخالف حکومت هلته ځایېږي، نه ټټو حکومت ځایېږي او یوازینی حکومت چې هلته راتلای شي، هغه به دوست حکومت وي، چې د خپلو ملي ګټو پر اساس باندې د هغوی ملي ګټې هم په نظر کې وساتي.

دا چې د افغانستان خلکو ته څه امید شته، پروفیسور امین وویل: تر هغه ځایه چې په ګاونديانو پورې اړه لري، زه خو شخصاً خپله له یوه هم تمه نه کوم، نه له پاکستان څخه، نه له ایران څخه، نه له مرکزي اسیا څخه، نه له هند څخه، نه له سعودي عربستان څخه او نه له هېڅا، خو زه له افغانستان څخه یو امید

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرم او د افغانستان ستراتیژیک موقعیت او د ده د قومونو ترکیب او ستراتیژیک موقعیت یې دادی چې دده چاپېره څه چې دي، که هغه ایران دی هم مسلمان دی او که پاکستان دی هم مسلمان دی او که مرکزي اسیا ده هم او زمونږ روابط د ایران او د مرکزي اسیا سره، لکه چې پایند صاحب وویل دېر نږدې دي، ځکه چې هغوی سره کلتور یو شان مشابه دی، زمونږ قومونه هلته سره پراته دي او هم که د دې قومونو ترکیبات او ستراتیژیک موقعیت سره واخلي، نو له دې څخه معلومېږي چې که هر څومره ورته دوی خلک اجیر کړي، هر څومره که ملک کې لاس او پښې وهي، نو یو ملک وربانديې خپته نه شي اچولای او بلاخره دوی مجبورېږي چې یو ملي او دوست حکومت ته اماده شي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانها از حمله موشکی امریکا قلباً متاثر اند

دا مرکه د (ازاد افغانستان) جریدې د لومړي کال په (۵)مه گڼه کې د (۱۳۷۷ل) کال د زمري پر میاشت خپره شوې ده.

پروفیسور عبدالرسول امین رییس مرکز مطالعات افغانستان، در رابطه به حمله موشکی امریکا به خاک افغانستان (شب ۳۱ اسد سال روان خورشیدی) مصاحبه با بخش پشتو رادیو صدای امریکا داشت، که ما بخشهای عمده ان گفت و شنود را در اینجا به گزینش میگیرم.

پروفیسور امین در اغاز سخنهایش موضوع را به دو بخش تقسیم نمود، گفت: اینجا دو مسله را با هم یکجا نموده اند: یکی مسله تروریزم و دیگری هم حمله بر حریم یک مملکت. ما تروریزم راکه از سوی هرکسی و هر گروهی به هر اسم و رسم ان در هرگوشه جهان صورت گیرد، نکوهش میکنم. ملت مظلوم افغانستان نه به تروریزم باور دارند و نه عملی تروریستی را می پسندد. افغانها میگویندکه اسامه و همراهنش را شبکه های امریکا و کشورهای منطقه به افغانستان فرستادند و ده سال تمام اینها در افغانستان جنگ کردند. پس از آن دوران چند سال پیش با اجازه اداره آن وقت حاکم برکابل، اسامه در افغانستان اقامت گزید و از آن وقت به بعد تا هنوز در

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

آنجا است. افغانها اسامه را مولود همان شبکه ها میدانند، که بخاطر منافع آنها جنگ میکرد و اکنون که همان کشورها و شبکه ها در منطقه با اهداف ستراتیژیک شان رسیده اند. به بهانه پایگاهای اموزشی تروریستی اسامه، کشور ما را نشانه میگرند و موشک های کروز شان را بسوی یک کشور فقیر، جنگ زده، اما ازادی دوست اتش میکنند. افغانها این گونه موشک پرانی ایالات متحده امریکا را تجاوز بر حریم، تمامیت و استقلال کشور خود میدانند. افغانها از حمله موشکی امریکا قلباً متاثر استند و ان را نکوهش مینمایند.

پروفیسور امین با ادامه گفته هایش افزود: مشکل عمده دیگری که بایستی با ان اشاره نمود این است که خارجی ها اکثر شان از روان و ارزش های فرهنگی مردم ما اگاهی ندارند و اگر اینان از این ارزشها اگاهی میداشتند و یا نظرداشت به ارزشهای فرهنگی افغانها قضیه را تعقیب میکردند نه ضرورت به موشک پرانی میافتد و نه هم حریم یک مملکت فقیر مورد تجاوز قرار میگرفت. در عنعنه ها و رسوم افغانها اگر مجرم به خانه کسی پناه میگزینند. افغانها پناه گزین را به دشمن اش تسلیم نمیکنند، مگر اینکه جرگه تشکیل شود و موضوع را همگون با ارزشهای افغانی فیصله کند. بایسته می نمود که امریکایها از اینگونه شکرده ها سرد میجستند و موضوع را بیدون شور و هیجان خاتمه میدادند. گرداننده برنامه گفت: امریکا ادعا میکند، موضوع را با طالبان در میان گذاشته است؟

پروفیسور امین در پاسخ به این ادعا اضافه کرد: افغانها از رابطه امریکا با طالبان پیرامون مسله اسامه هیچگونه اطلاعی ندارند، اگر امریکایها مذاکرات شان را با طالبان در باره موضوع اسامه غرض اگاهی مردم افغانستان از راه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

رســـانه های گروهی پخش میکردند، امروز افغانها تا این حد بر افروخته نمی بودند. میشد این مسله از راههای مسالمت امیز دیگری نیز راه حل پیداکند. به گونه مثال امریکا می توانست با حکومت پاکستان و گروههای مذهبی این کشـــور مســـله را در میان بگذارد، گروه های مذهبی پاکســـتان که با طالبان روابط نزدیک دارند، با طالبان بر موضـــوع بحث میرکردند و به انها تفهیم می نمودند که افغانســتان یک کشــور فقیر و جنگ زده اســت، چرا مردم آن قربانی اعمال یک شخص شوند، این شخص بایستی جای دیگری برود.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په نظر په سياسي لحاظ ازاد مطبوعات د افغانستان له سياسي سيستم سره اړه لري

دا مرکه د (وفا) جريدې د پنځم کال په (۲۵-۲۶)مې ګڼه کې د (۱۳۷۵ل) کال د چنګاښ میاشتې پر (۲۵)مه نېټه خپره شوې ده.

مورِ په دې ګڼه کې د مطبوعاتو د ازادۍ په باب (د امریکې غږ سره خبرې اترې) پروګرام هم ثبت کړی و، چې عمده برخې یې په دې ګڼه کې تاسې ته وړاندې کوو. د دې پروګرام په پیل کې د دې پروګرام چلوونکي استاد سعدالدین شپون څه مقدماتي خبرې وکړې او مېلمانه یې معرفي کړل. مورِ د دوی د خبرو ځینې برخې هم اخلو.

سیمې ته چې مطبوعات، رادیو، تلوېزیون او نور چاپي اثار راځي دا د لوکسو یو خو لوستو او تعلیمیافته خلکو مشغولا ښکاري، هیله ده چې دا باید ثابته شي چې داسې نه ده چې مطبوعات د سیاسي او اجتماعي رغونې د ټولو نه موثره وسیله ده، مګر د افغانستان په برخه کې د دې لوېې لارې د ازاد تګ راتګ په مخکې هر چېرته حکومت، یا تنظیمي، یا شخصي پاټکونه او خنډونه پراته وو او دي. وروستیو دوو لسیزو کې د افغاني مطبوعاتو نه تر ډېره حده د ښکنځلو او تحقیر وسیله جوړه شوې ده.

دا ځل زمورِ معزز مېلمانه یو صباح الدین کشککی دی چې په افغانستان کې په حکومتي او ناحکومتي مطبوعاتو کې یې کار کړی دی، د پخواني پاچا پر وخت یو ځل د مطبوعاتو وزیر هم و او تر هغې وروسته یو وخت په پاکستان

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې او اوس دلته فعالیت کوي. زمونږ بل مېلمه د کابل پوهنتون پخوانی اســتاد پروفیسور عبدالرسول امین د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې رئیس دی، چې دا دوه لسیزې په پېښورکې په اول سرکې د شوروي استعمال ضـد او اوس په افغانستان کې د امنیت او ملي حکومت د خوندي کېدو لپاره فعالیت کوي، د اسـتاد سـعدالدین شـپون له دې مقدمې وروسـته د پوښـتونکو د پښـتنو او د مېلمنو د ځوابونو لړۍ پیل شوه.

لومړۍ پوښتنه له استرالیا څخه ښاغلي معین باجوړي وکړه؟

امین صاحب په دې باب وویل: زه به یوازې پر سیاسي محلوظاتو دې خبرې ته اشاره وکړم او هغه داده چې د افغانستان مسله د ځینو خلکو په نظر باندې چې هغوی وایي افغانسـتان یو دولت دی، چې سـیاسـي جغرافیه لري، ولس لري، حکومت لري، خپلواکي لري اما بدبختانه چې د افغانســتان په ازادو مطبوعاتو کې که ازاد مطبوعات وي هغوی د افغانســتان هغه ترکیب له نظره غورځولی دی، ځینو ته خپل قوم افغانســتان ښــکاري، ځینو ته خپله ژبه افغانسـتان ښـکاري. زه فکر کوم چې دغه ډول نشـرات نه یوازې دا چې کوم حد ته نه رسېږي، بلکې د افغانستان چې کوم خلک دي، هغوی چې مشترک جهـاد یې کړی او ټولو قومونو په کې برخـه اخیســتې، یـانې هغـه راتلونکی افغانستان له ګډوډۍ سره مخامخ دی.

له پېښور څخه عبدالغیاث ساپی: ازاد مطبوعات د یوې ټولنې هېنداره ده او د ټولنې واقعیتونه څرګندوي، زه د پروفیسـور رسـول امین څخه دا پوښـتنه لرم، چې د افغانسـتان موجود سـیاسـي او اجتماعي جوړښـت کې، تاسـو د ازادو مطبوعاتو د ودې لپاره څه امکانات وینئ؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

امین صاحب: په اوسنیو شرایطو کې ترکومه ځایه چې افغانستان ته سړی ګوري، په خواشینۍ سره باید ووایې چې د افغانستان خلک په سیاسي لحاظ په مجموعي ډول له یوې دیکتاتورۍ څخه بلې دیکتاتورۍ ته نوتل، نو اوس په افغانستان کې ازاد مطبوعات نه شته، بلکې دا لویه کیسه ده چې دغو خلکو چې د ازادو مطبوعاتو په نامه باندې خپل فعالیتونه شروع کړي دي، هغه ډېره زړه دردوونکې کیسه ده او وخت هم ورته نه شته، اما زما په نظر ازاد مطبوعات په سیاسي لحاظ باندې د افغانستان له سیاسي سیستم سره ارتباط لري، که هغه داسې یو سیستم وي چې هغه هم اسلامي وي، هم ملي وي او د هم د افغانستان خلکو ته اجازه ورکړي او په دې باندې عقیده ولري چې د افغانستان خلک بالغ دي او نابالغ نه دي، داسې نه وي چې یو سړی راشي او ووایې چې دا زه په خبره پوهېږم او تاسو ټول خولې ټېې ونیسئ، ځکه چې دا خبرې موږ له کمونستانو څخه هم واورېدې، اوس بې هم اورو، نو زما په نظر تر څو پورې چې سیستم په خپله داسې نه وي راغلی، چې هغه د دیکتاتورۍ پرځای باندې دموکراسۍ ته یا ولسواکۍ یا خلکو ته لاره ور نه کړي، زه ګومان کوم چې دغه لانجه به په افغانستان کې تر هغه حل نه شي.

له سعودي عربستان څخه عبدالحی کاکړ: د ځینو خلکو له خوا د افغانستان پر پخواني پاچا دا الزام لګول کېږي، چې د ده پر وخت مطبوعات ازادانه نه و او تاسې د شاه او اوسنیو حکومتونو په مطبوعاتو کې څه توپیر کولای شئ، ځکه چې همدغه تنظیمونه پر شاه باندې انتقادونه کوي؟

امین صاحب: زه به دومره ووایم دا خلک چې وایي چې د ظاهر شاه پر وخت د مطبوعاتو ازادي نه وه، زه ګومان کوم چې دا به ګناه وي، ځکه چې په هغه وخت کې لکه څنګه چې کشککي صاحب وویل د مطبوعاتو هر ډول ازادي د قانون په چوکاټ کې وه، حتی ځینو خلکو بې قانونه ازادي هم

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیستې وه او په دې ټوله حوزه کې د ایران، پاکستان، هند او دا ټوله حوزه کې افغانستان یو داسې ملک و چې هلته به له پارلمان څخه ټول رویدادونه نېغ په نېغه نشر بدل، حتی حکومت باندې به نیوکې کېدې چې په دغه دوره کې دغه مثال په دې ټوله حوزه کې سړی نه شي موندلای.

له استرالیا څخه مالیار صاحب: اوسمهال د کابل رژیم رادیو لري، اخبار لري یانې د تبلیغاتو لپاره پوره وسیلې لري. زما پوښتنه دا ده چې د دې رژیم د مطبوعاتو او د کمونستانو د رژیم د مطبوعاتو ترمنځ چې دروغجن مطبوعات و، څه توپیر شته او که نه؟

امین صاحب: ما مخکې هم عرض وکړ چې کوم رژیم پر دیکتاتوري ولاړ وي، ځکه چې افغانان له یوې دیکتاتوري بلې دیکتاتوري ته ننوتل او مخکې نه یوازې دا چې مطبوعاتو ازادي نه لرله، بلکې په کوتې کې هم چا ازادې خبرې نه شوې کولای او د هغو خبرو راپور به اخیستل کېده او اوس چې دغه خلک په کابل کې دي، دوی هم له رادیو نیولې تر اخبارونو او نورو پورې د یو ګوند او همدغو ځینو شخصیتونو پر صفت مصروف دي، شخصاً زما په نظر باندې د ازادي په لحاظ دوی کې توپیر نه شته.

له استرالیا څخه مېرنی صاحب: زما پوښتنه دا ده، چې د ټولو هغو خدمتونو چې مطبوعات د جهاد په دوره کې کړي دي. زما په عقیده د دغو مطبوعاتو په وسیله مشکلات هم راپیدا شوي دي. د مثال په ډول ځینو نشراتو ژبنې او مذهبي تعصباتو ته لمن وهلې، ځینې ملي شخصیتونه توهین شوي او حتی د ځینو خلکو په ناموس باندې په نشراتو کې حملې شوې دي، ستاسو په نظر د مطبوعاتو په چوکاټ کې داکار جواز لري او که نه؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

امین صاحب: مخکې دې موضوع ته کشککي صاحب اشاره کړې ده، په دې باندې هر څوک پوهېږي چې د افغانستان دننه په مطبوعاتو کې دومره امکان نه شته دی، هغه خلکو چې د افغانستان د جامعې یانې اسلامي، افغاني، اخلاقي اصول مراعات کړي دي او یو هدف او مراد یې لرلی او د افغانستان په عمومي ملي ګټو پورې هغوی نشرات کړي دي. زه فکر کوم چې هغوی له تعصباتو څخه که هغه سیمه ییز دي، که ژبني، قومي، مذهبي او ګوندي او نورو څخه یې ډډه کړې ده او ځینې خلک چې مطبوعاتو یوازې د خپلې ګټې لپاره چې یا چا ورته پیسې ورکړې وي او په ځان باندې د ازادو مطبوعاتو نوم ایښی دی، دا په بله کټګورۍ کې راځي یانې دا هغه خلک دي چې د ازادۍ په نامه باندې دوی ځینو خلکو څخه پیسې اخیستې. په حقیقت کې د هماغو ګوندونو لپاره نشرات کول او د ازادو مطبوعاتو خاوندان یې همدغسې رټل، چاته به یې کمونستان ویل، چاته به یې جاسوسان او په یو او بل نامه به یې یادول، زه ګومان کوم تر څو پورې چې د مطبوعاتو خاوندان یو اخلاقي معیار یا هدف یې په نظر کې نه وي، نو هغه به تل په غلطه لاره ځي.

له سعودي عربستان څخه خان اغا: ایا د کمونستانو په وخت کې مطبوعاتو ازادي درلوده که نه؟ او دویم دا چې د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د مطبوعاتو رول کم شوی دی او مطبوعات ټول په خارج کې دي، دغه مطبوعات پر افغانستان باندې څه تاثیر لري؟

امین صاحب: زه فکر کوم چې د کمونستانو د دورې په اړه مخکې خبره وشوه چې په دیکتاتورۍ لکه د کمونستانو دیکتاتورۍ کې ازادي هېڅ نه شته. لیکن تر هغه ځای پورې چې د افغانستان دننه د افغانستان مسله ده، زه دومره ویلای شم چې سره د دغه کمونستي دیکتاتورۍ چې په افغانستان کې روانه وه او ټول خلک څارل کېدل، بالمقابل په پېښور کې ځینې افغاني

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسسې، لکه د کشککي ثقافتي موسسه، افغان اطلاعاتي مرکز، زمونږ د لیکوالو اتحادیه او نورو چې مونږ به همېشه داکونښښ کاوه چې زمونږ نشرات چې په هره وسیله کېږي، د افغانستان داخل ته انتقال شي، اوس هم زمونږ نشرات افغانستان ته ځي او حتی اخیرنی کوم راپور چې ماته له پېښوره راغلی په هغه کې ویلي شوي دي، چې یو چا تلیفون کې پوښتنه وکړه چې دا تاسو څنګه خپل نشرات داخل ته انتقالوئ، مقابل لوري ورته ویلي و، خلک خپله د علاقې پر اساس اخبار داخل ته وړي او مونږ تقریباً زر یو نیم زر کاپي د افغانستان دننه مختلفو سیمو ته لېږو.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانانو اکثریت د خپل هېواد په هکله اندېښمن دي

دا مرکه د (وفا) جریدې د پنځم کال په (۳۵-۳۶)مې ګڼه کې د (۱۳۷۵ل) کال د تلې میاشتې پر (۹)مه نېټه خپره شوې ده.

د (۱۹۹۶م) کال د سپتمبر پر ۲۱ مه نېټه د سولې په لټه کې بین الافغاني کنفرانس په نیویارک کې دایر شو. د دې سیمینار پر لومړۍ ورځ د امریکا غږ خبریال د دې سیمینار له دوو ګډون کوونکیو سره مرکه کړې وه، چې په دې ګڼه کې یې تاسو ته وړاندې کوو.

په نیویارک کې د افغانانو یو کنفرانس چې دوی خپله یې بین الافغاني کنفرانس بولي د سهار پر نهو بجو پیل شو، د دې کنفرانس د ترتیب، تنظیم او تمویل په اړه د دوو تنو معروفو افغانانو سره چې په کنفرانس کې یې سټره برخه درلودله- مرکه کړې ده، دا دوه تنه د کابل پوهنتون پخواني استادان پروفیسور عبدالرسول امین او دوکتور سید خلیل هاشمیان دي چې اول یې اوس په استرالیا کې ژوند کوي او دویم د متحده ایالاتو په کلیفورنیا کې اوسېږي.

په دې برخه کې چې دا کنفرانس څنګه او د څه لپاره جوړ شوی او نتیجه به یې څه وي؟ پروفیسور امین وویل:

دغه کنفرانس د دې لپاره جوړ شوی چې هغه افغانان په مختلفو هېوادونو کې اوسېږي دوی او د افغانانو اکثریت د خپل هېواد په هکله اندېښمن دي، نو مورِ وغوښتل چې د وطن په غم کې شریک دغه افغانان یوځای سره راټول

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــي، لکه څنګه چې اوس يې کورئ ســـره راټول شـــوي دي او د مختلفو ممالکو، لکه: جرمني، انګلســتان، اســترالیا، پاکســتان او نورو ملکونو نه هم افغانان راغلي دي او دلته د امریکې له مختلفو ایالاتونو څخه افغانان راغلي دي او په دې کنفرانس کې یې برخه اخیســتې ده، دا ځکه چې افغانان خپله د افغانستان د مسالې د حل لپاره راغونډ شي او خپل مینځ کې خبرې وکړي او داسې یو تنظیم جوړ کړي چې په خپلو کوښښونو جنګونو کې بښکیل قوتونه سولې او تفاهم ته اماده کړي.

د ســپتمبر د میاشــتې پر ٢٤ مه مانبــام د بي بي ســي پښــتو خپرونې د ازاد افغانســتان د لیکالو ټولنې له مشــر پروفیســور عبدالرســول امین ســره د دې ســیمینار د اهدافو او موثریت په باب یوه لنډه مرکه کې د ســیمینار هدفونه وښــودل او دا یې وویل چې: د نړۍ په بېلابېلو برخو کې افغانان په خپل هېواد کې د ســولې د تامین او امنیت د راوســتو په ارتباط فعالیتونه کوي، دا فعالیتونه باید منســجم او یو لاس شــي او په غوڅه توګه د افغانســتان د لانجې د اواري لپاره تر ې استفاده وشي. پروفیسور د سیمینار نتایج مثبت ارزیابي کړل او د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د وروستۍ اعلامیې ملاتړ یې څرګند کړ.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مردم افغانستان از جنگ خسته شده اند جنگسالاران بایستی قدرت سیاسی را به ملت پسپارند

دا مرکه د (وفا) جریدې د پنځم کال په (۳۵-۳۶)مې ګڼه کې د (۱۳۷۳ل) کال د تلې میاشتې پر (۹)مه نېټه خپره شوې ده.

در رابطه به ائتلاف اخیر و نتایج در آن صاحب نظر افغان، استاد سابق پوهنتون کابل پروفیسور عبدالرسول امین گفتند که: چنین اتحاد ممکن است به جنگهای قومی و خونریزی بیشتر در افغانستان منجر گردد. وی افزود در ماه اپریل ۱۹۹۲ همین طور یک ائتلاف به وجود امد که همان ائتلاف عامل عمده خونریزی افغانستان شد. همین گروپهای که فعلاً ائتلاف کرده اند در ان وقت هم اینها با هم ائتلاف کرده بودند و کابل را گرفتند که بالاخره کابل را با خاک و خون کشیدند، به این اساس به نظر من این ائتلافهای که فعلاً به وجود میاید نسبت به ائتلافهای که پیش صورت گرفته بود کدام فرقی ندارند. اختلافها تشدید خواهد شد به خاطر این که این بار شاید جنگ بین پشتون و غیر پشتون به وجود بیاید که این جنگها یک تراژیدی دیگری در اینده به مردم افغانستان باشد.

با تصرف کابل توسط طالبان و تشکیل ائتلاف ضد طالبان خطر تجزیه افغانستان در خطوط قومی، زبانی، فرهنگی و سیاسی تشدید یافته است در این مورد پروفیسور امین چنین ابراز نظر نمود:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اگر هرکس بخواهد در فکر تجزیه افغانستان باشد و افغانستان را تجزیه‌کنند به نظر من افغانستان مملکتی است‌که تجزیه نمیشود، البته اگرکسی چنین فکری داشته باشد، به نظر من الام و مصایب مردم افغانستان را طولانیتر خواهد ساخت. مردم افغانستان از جنگ خسته شده اند و میخواهندکه جنگسالاران قدرت سیاسی‌کشور را به مردم بدهندکه خود شان فیصله‌کنند که چه نوع حکومتی را در افغانستان میخواهند.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څوک چې د افغانستان د کشالې نظامي حل غواړي په واقعیت کې افغانستان د تباهۍ او بربادۍ لوري ته بیایي

دا مرکه د (وفا) جریدې د پنځم کال په (۳۹–٤٠)مې ګڼه کې د (۱۳۷۵ل) کال د لړم میاشتې پر (۱۰)مه نېټه خپره شوې ده.

پوښتنه: د جنګیالیو ډلو ترمینځ روانو جنګونو د سولې پروسه له خطر سره مخ کړې ده، د دې حالت د دوام نتایج به څه وي؟

ځواب: له بده مرغه په افغانستان کې په خپله د خلق–پرچم ګوند او د دې ګوند د تسلط پر ضد ټولې افغاني ډلې د افغانانو د خوښۍ پر ځای د باندنیو هېوادونو په خوښه جوړې شوې، مسلح شوې، تمویل شوې، په رسمیت وپېژندل شوې او پر افغانانو تحمیل شوي دي. په دې کې هېڅ شک نه شته چې د افغانستان مسلمان او په وطن مین ملت د شوروي اتحاد د سور پوځ پر ضد او په افغانستان کې د کمونستي رژیم د رانسکوربدو لپاره بې مثاله قربانۍ ورکړې دي، لیکن په دې کې هم شک نه شته چې د افغانستان مجاهد او زړور ملت تراوسه په خپل هېواد کې د خارجیانو له خوا د جوړو شویو جګړه مارو ډلو یرغمل نیولی او په دې بیچاره قام په مختلفو نومونو مختلفې تجربې کېږي. دا یو واقعیت دی چې د خارجیان له خوا ټاکلي مشران د خپلو بادارانو د ملي ګټو لپاره خدمت کوي او د ملت له خوا منل شوي مشران د خپل قام د ملي ګټو حفاظت کوي. له بده مرغه په موجوده جنګیالیو ډلو کې یوه ډله هم په نظر نه راځي چې هغه دې د خارجیانو د ملي ګټو پر ځای د افغانستان او د افغانانو د ملي ګټو تر شاه ودرېږي. ایا ایرانیانو تهران، روسانو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماسکو، ازباکونو تاشکند، پاکستانیانو اسلام اباد او داسې نورو قامونو خپل پایتختونه وران کړي او د خپلو پایتختونو او سېدونکي خلک يې قتل عام کړي دي؟ تراوسه يو قام هم داکار نه دی کړی. ایا يو واقعي مسلمان افغان به دې ته زړه ښه کړي چې هغه دې خپل هېوادوال قتل عام کړي، د خپل وطن کلي او باندې او ښارونه دې له خاورو سره برابر کړي او خپلې تورسرې او ماشومان دې په خپل وطن او باندنیو هېوادونو کې اواره کړي؟ زه پوره باور لرم چې يو مسلمان او خپلواک افغان هېڅکله دا غیر اسلامي او غیر افغاني عمل نه کوي.

اوس په افغانستان کې عجیبه لوبه روانه ده. غل او دکور خاوند دواړه ((غل دی، غل دی)) چیغې وهي. اوس په افغانستان کې هر مداخله ګر هېواد او د دغه هېواد ملګرې ډله په نورو مداخله ګرو هېوادونو د مداخلې تور لګوي او هر يو چیغې وهي چې په افغانستان کې دې باندنی مداخلې بندې شي. دا د مکر او فریب انتها ده او دوی فکر کوي چې ګوندې افغانان د دوی په چل او فریب نه پوهېږي. افغانان مداخله ګر او د مداخله ګرو پلې ډېرې ښې پېژني. په واقعیت کې دوی افغانان نه، بلکې خپل ځانونه غولوي.

زما په نظر تر څو چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او په مشخص ډول امریکا په افغانستان کې د سولې لپاره جدي او عملي ګامونه وا نه خلي، د مداخله ګرو هېوادونو د مداخلو قاطع مخنیوی ونه کړي او د افغانانو د سرنوشت واک په خپله افغانانو ته ور نه کړي، تر هغې به دغه جګړې دوام کوي او هر مداخله ګر هېواد به د خپلې پلوي ډلې سره نظامي، اقتصادي او سیاسي مرستو ته دوام ورکوي او د سولې د راتګ پروسه به د مشکلاتو او د مداخله ګرو د دسیسو سره مخامخ وي چې نتیجه به يې د افغانانو د مرګ ژوبلې، د افغانستان د تباهۍ او په سیمه کې د ګډوډۍ، ترور، قاچاق او جنګ جګړو نه غیر بل هېڅ شی نه وي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: تاسي ته معلومه ده چې دا ځل بیا د هېواد په شمال کې یو نوی ائتلاف جوړ شو، ستاسې په نظر به د دې ائتلاف عواقب څه وي؟

ځواب: د کابل د سقوط په نتیجه کې اوسنی ائتلاف څه نوې خبره نه ده. د نجیب الله د رژیم تر سقوط وروسته هم دغه ډول ائتلاف منځته راغلی و، د همدغه ائتلاف په وجه د قدرت د هوس جنګ شروع شو، کابل له خاورو سره برابر شو. شخصي او دولتي شتمنۍ چور شوې، مړي د سپو خوراک شول. د افغانانو ناموس بې عفته شو، افغانان اواره شول او په ټول هېواد کې هر ډول غیر اسلامي او غیر افغاني اعمالو ته لاره خلاصه شوه. موږ او تاسو دا هم ولیدل چې د خارجي بادارانو په اشاره ډېرې نړۍ او ملګرې ډلې د یوې او بلې دښمنانې شوې او سرسخته دښمنانې ډلې د یوې او بلې ملګرې شوې. دا نوی ائتلاف هم د جنګ جګړو، مرګ ژوبلې او د افغانستان د تباهۍ نه غیر بله هیڅ نتیجه نه لري. په دې کې شک نه شته چې خارجي مداخله ګر هېوادونه او د هغوی ملګرې ډلې به څه نا څه د افغانستان د ورونو قامونو ترمینځ ژبني، نژادي، قامي او سیمه ییزو تعصباتو ته لمن ووهي، لیکن اغیزه به یې دومره ډېره نه وي چې خدای(ج) مه کړه د افغانستان په تمامیت دې تاثیر وکړي. په دې سیمه کې افغانستان ډېر حساس جغرافیایي موقعیت لري او د دې هېواد ورونه قومونه د پېړیو راهیسې یوځای مخلوط ژوند کوي. زه پوره باور لرم چې د افغانستان تجزیه د دې سیمې ټول هېوادونه د تجزیې سره مخامخ کوي او په دې اورکې اور بلوونکي هم په خپله سوځي.

پوښتنه: په افغانستان کې د جنګي ډلو ترمنځ د اوربند د ټینګېدو لپاره د ملګرو ملتونو د خاص استازي هلې ځلې مفیدې دي که زموږ د ګاونډیانو؟

ځواب: تراوسه خو نه د ملګرو ملتونو د استازو هلو ځلو او نه د ګاونډیو هېوادونو د موظفو اشخاصو مندو رامندو څه ګټوره نتیجه ورکړې ده. د دې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلو ځلو او منډو رامنډو د شنډېدو عوامل هم څرګند دي. تراوسه د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا او په مشخص ډول د امریکا هلې ځلې د خولې په خبرو پورې محدودې دي او د افغانستان د کشالې د حل په ارتباط د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا او د امریکا عمل جدي نه ښکاري او د ملګرو ملتونو د استازي هغه جدي ملاتړ تر شا نه لري څومره چې ورته په کار دی. همدا شان زموږ ګاونډي هېوادونه هم د افغانستان د کشالې په اړه بې طرفه نه دي، ځکه چې هر هېواد په افغانستان کې خپله مشخصه جنګیالی ډله لري، هر یو د خپلې ډلې سره نظامي، اقتصادي او سیاسي مرسته کوي او هر یو خپله ډله د قدرت په ګډ ډ کنول غواړي او هر هېواد یوازې د خپلې ملي ګټې پر اساس د افغانستان د کشالې حل غواړي. هم د دې هېوادونو د مداخلو په وجه د ملګرو ملتونو د استازو هلې ځلې د مشکلاتو او خنډونو سره مخامخ کېږي. که چېرې د امنیت شورا او امریکا جدي شول، د ګاونډیو هېوادونو لاسوهنې بندې شوې، د افغانانو کشاله افغانانو ته وسپارل شوه، نو یوازې په دې صورت کې د ملګرو ملتونو د استازي هلې ځلې د بریالیتوب پراو ته رسېږي او په افغانستان کې د واقعي سولې لپاره لار اوارېږي.

د افغانستان د کشالې څارووونکي په دې واقعیت پوره پوهېږي چې د افغانانو یوه جګړه ماره ډله هم نه په وچ زور ټول افغانستان رالاندې کولای شي او نه د خپل حساس جغرافیایي موقعیت په وجه یو ګاونډي په ټول هېواد خپته اچولی شي. زما په نظر کومه ډله او کوم هېواد چې د افغانستان د کشالې نظامي حل غواړي په واقعیت کې همدغې ډلې او هېواد د افغانستان بربادۍ او د افغانانو د تباهۍ پسې ملا ترلې ده، ځکه چې د افغانستان کشاله سیاسي ده او یوازې سیاسي حل ته اړه لري.

اوس ټولې جګړه مارې ډلې د نظامي بن بست سره مخامخ دي او یوه جګړه ماره ډله هم د نظامي قوت له لارې په ټول افغانستان تسلط نه شي کولای. د ۱۹۹٤م کال د اکتوبر په میاشت کې یو شمېر پوه افغانانو د کویټې په ښار کې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملګرو ملتونو د استازي ښاغلي محمود مستيري تر مشرتابه لاندې پرله پسې شپاړس ورځې او شپې غونډې وکړې او په پای کې د کابل د غیر نظامي کډدو، د کابل د ښار لپاره د امنیتي قواوو د جوړېدو او د یو بې طرفه حکومت وړاندیز وشو اوس په کابل کې هغه حکومت چې د کابل د ښار د غیر نظامي کډدو او د موقتي حکومت او امنیتي ادارو جوړېدو لپاره یې د ملګرو ملتونو د استازي وړاندیز نه مانه له منځه تللی دی او اوس د دغه حکومت بر ځای د کابل په ښار باندې د طالبانو تسلط دی. اوس د افغانستان خلک طالبانو ته ګوري. لکه څنګه چې وایي که چېرې طالبان واقعاً په افغانستان کې سوله غواړي دوی دې په افغانستان کې د سولې په خاطر د ملګرو ملتونو له خوا د کابل د غیر نظامي کډدو وړاندیز ومني، د کابل ښار دې ملګرو ملتونو ته وسپاري چې په دې غیر نظامي ښارکې د یو بېطرفه موقتي حکومت او د افغانانو د یوې بېطرفه امنیتي قوې لپاره زمینه برابره کړي. زما په نظر په اوسنیو شرایطو کې د کابل غیر نظامي کډدل، د یو بېطرفه موقتي حکومت او امنیتي قوا جوړېدل د افغانستان د روانې تراژیدۍ لپاره اساسي سیاسي حل دی او په دې حل کې پاکستان په طالبانو باندې د خپل نفوذ په لحاظ د بل هر هېواد په تناسب زیات او موثر رول لوبولای شي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوټې د مشورتي مجلس په فیصلو کې راغلي وو، چې موقته دوره به بېطرفه او خپلواک خلک سمبالوي

دا مرکه د (وفا) جریدې په (۱۳۷)مه ګڼه کې د (۱۳۷۳ل)کال د کب میاشتې پر (۹)مه نېټه خپره شوې ده.

د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور عبدالرسول امین د افغانستان د روانو حالاتو په ارتباط له بي بي سي سره مرکه کړې ده، چې دلته یې خپروو:

پوښتنه: د افغانستان خلکو تراوسه پورې د دغې عبوري شورا د غړو د نوي لیست په هکله څه عکس العمل ښکاره کړی دی؟

ځواب: کومه فیصله چې په کوټه کې مشورتي بورډ کړې وه، په هغې کې دا راغلي وو چې د موقتې دورې لپاره چې کوم خلک ټاکل کېږي. دا به بېطرفه او خپلواک خلک وي، خو دا اوس چې په دغه لیست کې کوم کسان راغلي او د هغو په مقابل کې مورډ کوم عکس العملونه وینو. هغه دا دي چې د ددغه لیست ځینې کسان خو نه بېطرفه وو او نه هم مستقل. د دوی لویه شمېره له مختلفو جګړه مارو تنظیمونو سره اړیکي لري. زه وینم چې د کوټې د پرېکړو او د دغه لیست په منځ کې نوی تغییر راغلی دی او زه حیران یم چې دغه تغییر د کوم فشار له امله رامنځته شوی دی.

پوښتنه: ستاسو په خیال په دا اوسني او پخواني لیست کې څه توپیر موجود دی؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: په پخواني ليست کې يعني د بينن سيوان په ليست کې سره له دې چې هغه رسماً اعلان شوی هم نه و، خو زما د معلوماتو له مخې په هغه کې د بېطرفه کسانو شمېره زياته وه. خو په دغه اوسني ليست کې چې زه وينم د تنظيمي خلکو شمېره ډېره ده. په دې کې يو هغه کسان دي چې په خپله تنظيمونو رسماً د خپلو استازو په توګه ورمعرفي کړي او ځيني داسې کسان دي چې د جهاد په پروسه کې يې له دغو تنظيمونو سره اړيکي لرلي دي، خو داکسان بيا دوی بېطرفه ښودلي دي. زما په فکر هغه کسان چې په رښتيا بېطرفه دي، شمېر يې په دغه کمېسيون کې ډېر کم دی.

پوښتنه: نو ستاسو په فکر ددغه ليست په خپرېدو افغانان خوابدي نه دي؟

ځواب: ما لکه څنګه چې د کوټې د کمېسيون د پرېکړو په ارتباط وويل: دوه خبرې بېخي څرګندې دي. يو دا چې ددغه کمېسيون غړي بايد کاملاً بېطرفه وي او بله د موقتي حکومت له جوړېدو سره سمدستي يو بېطرفه پوځ بايد موجود وي. دا مساله اوس بېخي پېچلې ښکاري دا چې ښاغلی مستيري له دغو ستونزو څخه د راوتلو لپاره کومې لارې په نښه کړي، زه نه پوهېږم.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې کسان غواړي چې قومي او ژبنيو تعصباتو ته د لمن وهلو له لارې خپل ناقانونه حکومت ته دوام ورکړي

دا مرکه د (وفا) جريدې د څلورم کال په (۱۳-۱٤)مې ګڼې کې د (۱۳۷٤ل) کال د وري مياشتې پر (۲۷)مه نېټه خپره شوې ده.

د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې مشر پروفيسور عبدالرسول امين په دې ورځو کې د هېواد له روانو حالاتو سره په ارتباط د تاجکستان د مسالې په شاوخواکې د بي بي سي له پښتو څانګې سره يوه مرکه کړې ده، چې دلته يې تاسو ته وړاندې کوو.

موږ افغانان په ازادۍ او خپلواکۍ مين خلک يو او موږ تل د نورو قومونو د ازادۍ او خپلواکۍ ملاتړ کړی دی. موږ د تاجکستان د خلکو ازادۍ او خپلواکۍ ته هم په درونو نظر ګورو، اما ځينې سياسي افغاني مبصرين د تاجکستان د دغې روانې کشالې په هکله وايي، چې له بده مرغه د افغانستان خلک په خپله له يوې کورنۍ جګړې او لوېې بربادۍ سره مخ دی، ټولو افغانانو ته د افغانستان د روانې تراژيدۍ ټول مسوول کسان په خپله څرګند دی او د دغو مسوولو کسانو له ډلې، ځينې د مذهب تر پردې لاندې قومي او ژبنيو شخړو ته لمن هم وهي او دغه کسان خوبونه وينې چې قومي او ژبني

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعصبات راوپاروي او د دغو راپارېدنو له لارې خپل غیر قانوني او یوګوندیز محدود حکومت ته دوام ورکړي.

نبي مصداق: نو ستاسې په فکر دغه ولایتونه چې له تاجکستان سره په سرحد کې واقع دي، خو د جمعیت او شورای نظار په لاس کې دي، نو دغه چریکان چې له دغه ځایه لېږل کېږي، د دې هدف دا دی چې د ملل متحد هلې ځلې شنډې کړي.؟

پروفیسور امین: لکه څنګه چې تاسې ته معلومه ده، د افغانستان د خلکو د لوی اکثریت په ملاتړ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سولې هڅې روانې دي او په دې حساسه مرحله کې د افغانستان له خاورې څخه د تاجکستان په سرحدونو او افغانستان ته د راغلو مهاجرو له خوا د جګړو شروع کول او روسان راپارول د ملګرو ملتونو د هڅو د ناکامۍ لپاره یوه هڅه ده او زه فکر کوم دا به د جمعیت د مشرانو یوه نوې پلمه وي. د ځینو افغاني، سیاسي مبصرینو له قوله، وایي چې تخار، کندوز او بدخشان د جمعیت په لاس کې دي او په کندوز کې د تاجکستان د حکومت مخالفین روزل کېږي او له دغه ځایه دغه روزل شوي کسان تاجکستان ته لېږل کېږي او همدغه کسان د افغانستان او تاجکستان په پولو کې جګړې کوي. همدغه افغانان چې دلته ما ورسره خبرې کړې دي، د دوی له نظره د جمعیت مشران غواړي چې د دغو جګړو په وجه روسان راوپاروي او د افغانستان په پولو او بنارونو بمباري ته شدت ورکړي او د دغو بمباریو د شدت له امله د جمعیت مشران دا هم غواړي چې د افغانانو او نړۍ پام د افغانانو د خپلې کشالې د حل پرځای د روسانو او افغانانو ترمنځ د یوه نوي مصنوعي جنګېه پلمه بلې خواته وګرځوي. د افغانانو لوی اکثریت اوس د هر چا په نورو تکتیکونو او نیتونو ډېر بنه پوهېږي او دا اوس ډېره مشکله ده چې افغانان دې په یوه او بله پلمه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغولول شـــي. ټول افغانان اوس د جمعیت له مشـــرانو ځني په ټینګه غواړي چې دوی دې د ملګروملتونو د ســـولې د هیئت د ســـولې فورموله ومني او افغانان دې په خپله د یوه حکومت جوړولو ته پرېږدي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل کې روان جنګ د افغانانو نه دی، بلکې له بهره پر افغانانو تپل شوی دی

دا مرکه د (وفا) جریدې د لومړي کال په (۱۷)مه ګڼه کې د (۱۳۷۱ل) کال د اسد میاشتې پر (۲۵)مه نېټه خپره شوې ده.

څو ورځې دمخه د افغان منورینو یوه ډله د ازاد افغانستان د لیکوالو د ټولنې مشر پروفیسور عبدالرسول امین په مشرۍ د پاکستان د پیپلز پارټۍ له مشرې محترمې بېنظیر بوټو سره په اسلام اباد کې ولیدل او د افغانستان د مسایلو په باب یې ورسره خبرې وکړې. د وفا جرید د موضوع د اهمیت له مخې له پروفیسور امین سره په دې ارتباط مرکه وکړه، چې د وطنوالو د خبرتیا په منظور په لاندې ډول وړاندې کېږي:

په سر کې له پروفیسور امین څخه پوښتنه وشوه، چې ستاسې د ملاقات اصلي هدفت څه و؟

دوی په دې باب وویل: په اوسنیو شرایطو کې چې د افغانستان وضع هر څوک دقیقه ځاري او واقعاً د هر افغان لپاره لویه صدمه ده، مونږ هم داسې فیصله وکړه چې د پاکستان هغه مشران چې د افغانستان له مسلې سره مستقیم یا نامستقیم ارتباط لري او د افغانستان په مسله کې څه ویلی او څه کولی شي، ملاقات وکړو. مونږ په دې برخه کې څه موده مخکې یو مکتوب لېږلی و، چې د پاکستان له صدراعظم محترم نوازشریف سره په دې مسله خبرې وکړو، تراوسه پورې هغه مونږ ته ځواب نه دی راکړی. همدغه شان مونږ له محترمې بېنظیر بوټو سره، چې د مخالف ګوند مشره ده، د پاکستان پخوانۍ صدراعظمه ده او په پاکستان کې ولسي قوت لري، له دې څخه مونږ

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایي: ډېرې خولې او ډېرې خبرې. مونږ هم د هر چا د ګونـدي دریځ یا د شخصي موقف له مخې خبره کوله. غوږ نیول ښه کار دی، خو په خبرو کې د چا خبره اهمیت لري (یا اهمینت ورکړل شوی دی) یا د چا خبره په واقعیتونو او منطق ولاړه ده. د دوی ترمنځ فرق کول له ټولو څخه ډېر ښه کار دی.

وایي: خبره د خبرو پیداکېږي. څه وخت چې مســـکو ته د افغاني هیئت د لېږلو خبر د خبر بازار ګرم کړ، په خپله جناب مجددي صـــاحب د هیئت د مشـــرتوب کاندید و، ډېرو خلکو دا منلې وه چې محترم مجددي صـــاحب د افغان عبوري حکومت جمهور رییس دی، دوی به حتماً د هیئت مشـــرتوب پر غاړه لري. وروسته ګنګوسی خپور شـو چې د محترم مجددي صـاحب د مشـــرتوب ســـره په لوړه ســـطحه مخالفت کېږي او نورو هم مخالفت ته ملا

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتړله، محترم مجددي د پورته اوکښته مخالفتونو ترمنځ راګير شو، بيا څه وشو؟ موږ ترينه خبر نه شو، خو خلک ترينه خبر دي. هغوی وايي چې محترم مجددي صاحب امريکا ته تللی دی. ولې ولاړ؟ د څه لپاره ولاړ؟ څه وخت چې تشريف راوړي پوښتنه به ورڅخه وکړو. دېرى پټې خبرې وشوې، اما ورونو پاکستانيانو، عربو، ايرانيانو او اخبار والاوو ته ښکاره وي. د اخبار والاووکور دې ودان وي او بي بي سي او د امريکا غږ راډيوګانې دې ژوندۍ او کړندۍ وي چې بې چاره افغانان يې خبرول.

د دې پټو خبرو په نتيجه کې د مشرتوب پټکی محترم رباني صاحب ته وتړل شو. له دېرو د خولې څخه مې د خوشال خان شعر واورېد: چې دستار تړي هزار دي - د دستار سړي په شمار دي. د دستار په شمېرل شويو خلکو کې د محترم رباني صاحب په دستار تړلو او د هيئت په ترکيب او لېږلو دېرې خبرې وشوې، په ټولو خبرې کول دېر وخت نيسي او ځينې خبرې د ((سياست ممنوع)) علاقه ده او موږ حق نه لرو چې په ممنوع علاقه کې ګام کېږدو.

له دېرو خبرو څخه دېرې لږې خبرې ستاسو حضور ته وړاندې کېږي. پام مو وي چې دا زموږ خبرې نه دي، موږ اوربدلې دي، محض اوربدلې خبرې درته وايو:

ځينو وويل: ((د مجاهدينو دغه هيئت چې شوروي اتحاد ته روان دی، د اسلام، افغان ولس او بشريت د دښمنانو دکور خواته خوځېږي او د افغانستان د جهاد په تاريخ کې يوه توره پاڼه ده.)).

د ځينو له خوا وويل شول: ((د مسکو او مجاهدينو د هيئت ترمنځ دغه خبرې يوازې نمايشي بڼه لري او موږ به هېڅ کله په نمايشي خبرو کې برخه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وانه خلو او موږ د خبرو د ځای ((مسکو) سره مخالف یو، دغه هیئت څه اجنډا نه لري.))

د ځینو په قول: ((دغه هیئت د چا نمایندګي کوي؟ په هیئت کې د افغانستان دپر قشرونه ګډون نه لري، د افغانستان کشاله په پاکستان کې د اووه ګوندونو او په ایران کې د اته ګروپونو انحصار نه دی، په دې هیئت کې ټولو اقشارو ته نمایندګي ورکول ضروري خبره ده.))

د ځینو پیشنهاد و: موږ د تخصص په نړۍ کې اوسېږو په هیئت کې یو متخصص په نظر نه راځي. دوی د روسانو سره خبرې کوي او روسان د افغانستان په ټولو ارخونو متخصصین لري. هیئت باید سیاسي، اقتصادي او نظامي متخصصین له ځان سره ولري.

د ځینو په نظر: افغانانو تل دعوه کړې چې د افغانستان د روانې کشالې دوه طرفه دي، چې د یوې خوا افغان مجاهدین دي او له بلې خوا روسان. روسانو افغانانو ته دعوت ورکړی دی، افغانان باید مسکو ته ولاړ شي او خپلې غوښتنې دې په میز ورته کېږدي. د نجیب د حکومت غړي نه دي بلل شوي اوس د افغانانو کار دی چې سیاسي رکود له منځه یوسي.

یو لس کسیز هیئت سعودي عربستان ته او له هغه ځایه مسکو ته ولاړ. خبرې پیل شوې او د خبرو په دوران کې د ځینو خلکو سره وېره پیدا شوه چې ګوندې د روسانو او افغانو ترمنځ مذاکره د سقوط سره مخامخ شي. ځینو د سقوط لپاره دعاکوله او ځینو د پرمختګ لپاره. خبرې اوږدې شوې او له دغو خبرو څخه د سقوط او پرمختګ دواړو بوی راتلو. بالاخره اازه خپره شوه چې د افغاني هیئت او روسانو ترمنځ اته ماده ییزه اعلامیه لاسلیک شوه، د اعلامیې متن کې مټ ستاسو حضور ته وړاندې کېږي:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعلامیه مشترک هیات مجاهدین و اتحاد شوروی

مورخه ۱۹۹۱/۱۱/۱۰

ماده اول: تقبیح دستور غیر قانونی اعزام سیاه شوروی به افغانستان و شرکت این کشـــور د جنگی که رنجها و دردهای بیشـــماری را به ملت مســـلمان افغانستان تحمیل نموده و هنوز هم بر آن میافزاید، تائید شده است.

ماده دوم: طرفین لزوم انتقال تمام صـلاحیت های دولتی را در افغانسـتان به حکومت انتقالی اسلامی تایید کرده اند.

ماده سـوم: هیات مجاهدین بیان کرده اسـت که ظرف دو سـال پس از انتقال قدرت از رژیم کابل به حکومت انتقالی انتخابات سـرتاسری در افغانستان به همکاری سازمان کنفرانس اسلامی و سازمان ملل متحد براه انداخته میشود.

مـاده چهـارم: رد تمـام قراردادهائیکـه میـان شـــوروی و حکومـت متکی بـه حمـایت آن در کـابـل از (۱۹۷۸م)– تـا انتقـال صـــلاحیـت هـای دولتی بـه حکومت اسلامی انتقالی عقد گردید است، مربوط به فیصله حکومت انتقالی است.

مـاده پنجم: در مورد ازادی اســـراء طرفین اتفاق نموده انـد تـا از هیچگونه مساعی در ین مورد دریغ نورزند، مجاهدین جهت ارزومندی به صلح، اقدام به رهائی اولین گروپ اســیران شـــوروی در اول جنوری (۱۹۹۲) خواهند نمود، کمیسـیون مشـترک در مورد ازادی اسـرای طرفین ترتیبات مناسـب و عملی را اتخاذ خواهند نمود.

ماده ششـم: جانب شـوروی موافقت میکند که قبل از جنوری (۱۹۹۲) تمام اکمالات نظامی وسایل حربی، مواد سوخت و وسایط جنگی خود را به رژیم

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل قطع نماید و جهت کاهش قطعی پرسونل نظامی و منبعد احضار همه آنها از افغانستان اقدام نماید.

ماده هفتم: اتحاد شوروی در مساعی مشترک، جهت اعتبار مجدد ویرانیهای ناشی از جنگ حتماً شرکت میکند.

ماده هشتم: جهت پیگیری مندرجات این علامیه و مذاکرات بعدی هیات مشترکی در خلال یکماه تشکیل میگردد.

د اعلاميې له متن څخه څرګندېږي چې روسانو د افغانانو د ((موقت اسلامي حکومت)) او نورو پيشنهادونه منلي دي. څه وخت چې د راتګ وروسته محترم رباني صاحب په اسلام اباد کې د اخبار والاوو پوښتنو ته ځوابونه ورکول، هغه د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د پنځه فقره ييز پيشنهاد دا غوښتنه چې افغانان دې خپل ترمنځ خبرې وکړي له منځه تللې ده، اما هم په دغه ورځ د پاکستان د باندنيو چارو وزارت عمومي سکرتر محترم ذکي ويلي دي چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د پيشنهاد سره سم به افغانان خپل منځي خبرو ته دوام ورکوي او داسې نور.

په يو اخبار کې د دوارو خبرونو په لوست ماته د ملا نصرالدين، د هغه د ښځې او پيشو مشهوره کيسه را په ياد شوه:

وايي، ملا نصرالدين يو چارک غوښه کور ته ولېږله چې ملا صاحب يې نوش جان کړي. د ملا د ښځې مېلمني راغلې، غوښه يې هغوی ته پخه کړه. ملا صاحب کور ته راغی، اشتها يې برابره وه، ښځې ته يې وويل چې غوښه راوړه. ښځې يې بهانه وکړه چې غوښه پيشو وخوړله. ملا صاحب په قهر شو، پيشو يې ونيوله او په تله کې يې واچوله پيشو پوره يو چارک وختله، ملا

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب خپلې ښځې ته وویل: که دا پیشو وي، نو یو چارک غوښه چېرته ولاړه او که دا یو چارک غوښه وي نو پیشوچېرته ولاړه.

که روغه جوړه د مسکو د اعلامیې پر اساس کېږي، نو د ملګرو ملتونو د سرمنشي پیشنهاد چېرته ولاړ او که د هغه پیشنهاد په خپل ځای وي، نو د مسکو اعلامیه چېرته ځي.

مورِ تله نه لرو، تله د نورو په لاس کې ده، مورِ به تر هغې منتظر یو چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي پیشنهاد او د مسکو اعلامیه راته وتلي او مورِ ورباندې پوه کړي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې ستونزې

دا لیکنه د (ازاد افغانستان) جریدې د لومړي کال په (۱) ګڼه کې د (۱۳۷۷ل) کال د وري میاشت کې خپره شوې ده.

د ۱۹۸۳ کال د مني په موسم کې د تعلیمیافته افغانانو فعاله برخې اخیستو خبرې پیل شوې او په دې ارتباط ښاغلو: دوکتور غازي عالم، حکیم تنیوال او د ښاغلي جبار ثابت په کورکې غونډه وکړه او هم په دې لومړۍ غونډه کې ښاغلي ثابت د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې The writers union of free Afghanistan (WUFA) په نوم وړاندیز وکړ او دغه نوم ومنل شو. ما له دې غونډې وروسته د پېښور پوهنتون د اریا ستدي سنټر د محقق ښاغلي عبدالله جان خلیل سره مشوره وکړه او هغه نه یوازې د ټولنې د جوړېدو تود هرکلی وکړ، بلکې د ټولنې د مرامنامې د لیکلو د عملي ګامونو د اخیستو دنده یې هم پر غاړه واخیسته. تر دې وروسته په پرله پسې غونډو کې په اقتصادي، سیاسي او اجتماعي ستونزو خبرې روانې وې، دغو غونډو د ۱۹۸۵م کال د مارچ د میاشتې تر یوویشتمې نېټې پورې یو او بل ځای کې دوام درلود او د مارچ پر یوویشتمه نېټه چې د افغانستان د لمریز کال له لومړۍ ورځې سره سمون خوري زما په کورکې د وفا افتتاح وشوه. د وفا تر تاسیس مخکې تقریباً د یونیم کال په موده کې له ځینو تعلیمیافته افغانانو سره تماسونه ونیول

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــول، ډېر شـــمېر افغانانو د وفا د جوړېدو ســـتاینه وکړه او د لومړیتوب او همکارۍ وعدې یې هم کړي دي، اما ډېرو افغانانو په یوه او بله پلمه د وفا له غړیتوب او همکارۍ څخه ډډه وکړه او د دغو افغانانو له جملې څخه ښاغلیو دوکتور نادرخان، دوکتور احمد یوســف نورســتاني، حکیم تنیوال، ډاکتر زین العابدین ممتاز، انجنیر اصـــف ارام، جګړن نصـــرالله ســـاپی، محمد نســـیم ستانیزی، عبدالحی ورشان، عبدالعظیم نیازی، عبدالله سمندر غوریانی او ما د وفا غړیتوب ومانه او د وفا د بنسټ ایښودونکو غړو د اتحادیې له اساسنامې سره سم مو اداري او عملي پرسونل وټاکه. په لومړۍ رسمي غونډه کې د وفا د مشرتابه لپاره د ښاغلي دوکتور حیدرخان په نوم چې کابل پوهنتون پخوانی رییس و، عمومي موافقه وشـــوه او ټولو له هغه څخه د وفا د مشـــرتابه هیله وکړه. ښـــاغلي دوکتور حیدرخان د ځینو شـــخصـــي معذرو له امله د وفا مشـــرتوب ونه مانه او وروســـته له ما څخه د ځینو دلایلو له مخې چې ما د پېښـــور په اســـلامیه کالج او پېښـــور پوهنتون کې تعلیم کړی و، زما د دورې محصـــلین د پاکســـتان لوړو مقاماتو ته رســـېدلي وو او ما له دوی ســـره د محصـــلۍ له دورې راهیســـې پېژندګلوي درلوده، د وفا د مشـــرتابه غوښـــتنه وشـــوه او ما د دوی غوښـــتنه ومنله. د وفا له پیله تر پایه د وفا په تاریخچه کې د وفا د ټولو غړو او اداري پرسونل لنډې سوانح نشر شوي دي او لکه څنګه چې په دغه نشـــر شـــوې تاریخچه کې راغلي دي د ۱۹۸٤ کال څخه تر ۱۹۹۸ م کال پورې د وفا ځینې غړی د ځینو معذیرو له امله د وفا څخه تللي او د دوی پرځای ډېر نوي غړي راغلي او تللي دي او دې پروســـې تر پایه دوام درلود. اما د وفا د پرمختګ او وفا ته د موســـســـې د بنې ورکولو څخه دا واقعیت په خپله اثبات ته رســـېدلی چې ددې ټولنې هر غړي په خپله ورسپارل شوې دنده کې په خپل توان سره هلې ځلې کړي، هر یو د یو متعهد

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان په حیث خپله دنده ترسره کړي ده او هر یو د وفا لپاره له ویاړه ډک خدمتونه کړي او هم د دې متعهدو غړو انفرادي او دسته جمعي هلو ځلو او خدمتونو په برکت د وفا موسسه د خپلې مرامنامې سره سمه تر پایه (افغانستان او افغانانو) په خدمت کې ثابت قدمه پاتې شوه او د هېڅا د فشار، ګواښ، تهدید، پروپاګند، سپکاوي او تور په مقابل کې يې سر ټيټ نه کړ. د وفا له جوړېدو مخکې او وروسته په مختلفو غونډو کې د وفا په مختلفو ستونزو هر اړخیز بحثونه کېدل چې د دغو ټولو بحثونو له جملې څخه ځینې مهم نکات په لاندې ډول خلاصه کېدی شي:

د وفا تر جوړېدو مخکې هم د وفا بنسټ ایښودونکو غړو ته له یوې خوا څخه د کمونیستي او مذهبي افراطي ډلو او له بلې خوا د وفا د اهدافو ترمنځ ژور تضاد پوره څرګند و. هغوی پوهېدل چې د اتحادیې اهدافو د افغانستان له ازادۍ، د ځمکې تمامیت، خپلواکي، دموکراسي، اجتماعي عدالت، د بشر د حقوقو، د افغانانو په خوښه د ټاکل شوي حکومت او د افغانستان په داخلي چارو کې د نه مداخلې د اساساتو څخه سرچینه اخیستله او معکوس د چپیانو او افراطي مذهبي ډلو اهداف د ایډیالوژیو، یو ګوندي حکومت، سیاسي انحصار او د دیکتاتورۍ د تحمیل او پردیو ته د خدمت، د افغانستان تاریخي، ملي او سیاسي هویت له منځه وړو او د افغانانو د مرګ ژوبلې پر اساساتو ولاړ و. د وفا غړي پر دې هم پوهېدل چې د کابل د تحمیل شوي رژیم تر شاه د شوروي اتحاد سور پوځ او ټول شوروي پلوه کمونیستي بلاک ولاړ و او همدا شان د افغانانو په نوم د افراطي مذهبي ډلو تر شاه د پاکستان، سعودي عربستان، ایران او د ځینو نورو هېوادونو جاسوسي شبکې او ځینې افراطي مذهبي ډلې ولاړې وې. لویدیزو او نورو هېوادونو او په خپله امریکې یوازې د پاکستان له لارې د افغانانو له ملي مقاومت سره مرسته کوله او د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان نظامي شبکې او حکومتي ادارو د لویدیز امریکې او نورو هېوادونو مرستې یوازې هغو کوندونو او تنظیمونو ته ورکولې چې پاکستان جوړې کړې وې، پاکستان مسلح کړې وې او پاکستان ورته رسمیت ورکړی و. ایران او سعودي عربستان هم خپلو مشخصو پلوي افغاني ډلو ته مرستې ورکولې او دغو درېواړو هېوادونو خپلو افراطي مذهبي ډلو ته د راتلونکي افغانستان سیاسي واکي ورکول غوښتل. مورِ ټولو ته معلومه ده چې د افغانستان دننه او دباندې چپیانو او بنسي لاسیانو دواړو د خپلو خارجي پلویانو په مرسته د افغانستان ملي تعلیمیافته شخصیتونه په خپلو افراطي مېچونوکي دلول او هغو افغانانو چې افغانستان یې د افغانانو لپاره غوښت، هېڅ ملاتړ نه درلود او تراوسه هم ملاتړ نه لري.

د وفا غړو په رنو سترګو لیدل چې د کابل رژیم غیر حزبی تعلیمیافته افغانان د مترقي ایدیالوژي پر ضد، د مترقي رژیم پرضد، د مترقي رهبري پر ضد، د مترقي ګوند پر ضد، د مترقي ګوندونو او نهضتونو په سرکې ولاړ د شوروي اتحاد پر ضد، د مرتجعینو او فیوډالانو په نوم، د سرمایه دارانو او مرتجع رژیم د بقایاوو په نوم، د تنګنظره او عظمت طلبه نشنلستانو په نوم، د غرب زاده ګانو او جاسوسانو په نوم او همدا شان د بې شمېره تورونو په تور یې نیول چې د دوی له جملې ځینې د شکنجو لاندې مړه شول، ځینې چارماري شول، ځینې مات ګوډ او په رواني ناروغۍ اخته له زندانونو ځخه راووتل او لوی شمېر یې له خپل وطن ځخه تېښتې ته مجبور کړل. پاکستان ته د راغلیو تعلیمیافته افغانانو ډلې په درې کټګوریو وېشل کېدای شي.

لومړۍ کټګوري هغه تعلیمیافته افغانان و، چا چې تر هجرت دمخه په افغانستان کې د یو یا بل ګوند او تنظیم غړیتوب ترلاسه کړی و، دغو غړو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانانو د راتګ سره سم د لاسه د خپلو ګوندونو او تنظیمونو مرکزونو کې حاضري ورکړه او ژر یې خپل ګوندي او تنظیمي فعالیتونه پیل کړل.

دویمه کټګوري پاکستان محض د انتظار خانې په حیث استعمالول غوښتل. دوی پاکستان ته تر راتګ دمخه په افغانستان کې فیصله کړې وه چې دوی به په پاکستان کې تر هغې اوسېږي، ځو چې د لویدیزو هېوادونو، امریکې او نورو وېزې ترلاسه کړي او له پاکستان ځخه پښې سپکې کړي.

درېیمه کټګوري هغه تعلیمیافته افغانان و، ځوک چې په پاکستان کې اوسېدل او په خپل ملي مقاومت کې فعاله رول لوبول غوښتل. د دوی شمېر زیات و، اما همدا لوی شمېره کټګوري د کوربه هېواد د نظامي شبکې په مرسته د افغانانو په نوم د افراطي مذهبي ډلو د انحصار او دیکتاتورۍ له ناتار سره مخامخ شول او د رحمان بابا دا شعر:

په سبب د ظالمانو حاکمانو

کور، ګور او پېښور درهوا ړه یو دي

پر درېیمې کټګورۍ ببخي صدق کاوه. د دې غیر حزبي او تنظیمي تعلیمیافته افغانانو لپاره پېښور واقعاً د تهدیدونو، ګواښونو، ډارولو، تښتولو او د ترور مرکز وګرځېد، د ځینو لپاره پېښور ګور شو او ډېرو له ډاره له پاکستان ځخه پښې سپکې کړې او نورو هېوادونو ته وتښتېدل. له بده مرغه دلته د نظامي شبکې نازولو افراطي ډلو په خپلو ورونو افغانانو هغه زړه دردونکی او بوږنوونکی ناتار راکښته کړ، چې حتا یو مهذب دښمن یې هم په بل دښمن نه کوي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وفا غړو ته پوره څرګنده وه، چې د پېښـــور په تروريســـتي ماحول کې په راتلونکي افغانستان کې د دموکراسۍ، د بشر د حقوقو او خپلواک افغانستان، د افغانانو لپاره اواز پورته کول او د مسـلطو شـویو ډلو سـیاسـي انحصـار یو ګوندي دیکتاتوري، سـیاسـي او مذهبي افراط، تبعیض، لاسـپوڅي او خارجي مداخله ګر غندل، د افراطي ایډیالوژیو د وژلو د ساتول لاندې په خپله د خپلو سرونو ایښـودلو پرته بله هیڅ معنا نه درلودله. د ژوند او ژوندي پاتې کېدو د غریزو له مخې هر انســـان له مرګ څخه ډارېږي او څوک چې له مرګ څخه نه ډارېدو لاڤې وهي د روحیاتو د پوهانو په نظر یا دغه شـــخص د روحي ناروغۍ خطرناک پړاو ته رســـېدلی دی او یا یې د کومې پېښـــې له امله خپل ټول نورمال انساني خصوصیات له لاسه ورکړې دي. د وفا ټول غړي نورمال انســانان و او زما په شــمول مورِ ټول له مرګ څخه ډارېدلو او په خپله زه خو له ډاره په کندو کې ناست وم. وایي:

که ګور ګران دی د ځلمو ناکام دی

د پېښـــور په تروريســـتي ماحول کې د ډېر ډار باوجود د وفا غړو د لوی خدای(ج) په اســـره د افغان او افغانســـتان خدمت ته ملاوې وتړلې او خپل فعالیتونه یې پیل کړل.

اقتصادي ستونزې:

تر جوړېدو مخکې او وروسته د وفا د اقتصـادي معضـلې د حل په اړوند ډېر وړاندیزونه وشـــول او په یوه غونډه کې د وفا غړو فیصـــله وکړه چې د وفا ابتدایي لګښتونه په خپله د وفا غړي ورکوي او دوی به په خپلو لګښتونو وفا ته حرکت ورکوي. د دې پرېکړې له مخې ښـــاغلو دوکتور احمد یوســـف نورســتاني، حکیم تنیوال او ما د وفا د ابتدایي مصـرف لپاره ۲۵ زره کلدارې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړي، چې په دغو پیسو د انګریزۍ لومړۍ مجله The wufa چاپ کړي او د دفتر کرایه ورکړي. د وفا لپاره د دفتر د پیداکېدو کار ښاغلو عبدالحی ورشان او نور محمد اکبر ته - چې په بابا شهرت لري– وسپارل شو او د انګریزي مجلې د چاپ کېدو وظیفه ښاغلي محمد نسیم ستانیزي ته ورکړل شوه. د څو ورځو ترکوښښ وروسته ښاغلو ورشان او بابا پېښور پوهنتون ته نږدې په شاهین ټاون کې یو وړوکی کور پیداکړ او د میاشتې په دوه زره کلدارو په کرایه ونیول شو. ښاغلو ورشان او بابا د دفتر د صفایۍ لپاره ملاوې وترلې او پوره اته ورځې یې د صفایي او رنګمالۍ کار دوام وکړ او هغه کور چې په لومړۍ ورځ محض ډېران ښکاربده په اتمه ورځ یې ښه ښکلي بدله شوه او د خرابۍ پر ځای یو پاک او سوتره کور تري جوړ شو. د دفتر تر نیولو وروسته د دفتر د مېز او څوکۍ مسله راپورته شوه. که له بازار څخه مو په خپلو پیسو مېزونه او څوکۍ اخیستې، نو بیا خو د کور د کرایې او مجلې د چاپېدو لپاره پیسې نه پاتې کېدې، د مېز او څوکۍ پرځای مو څو دانې پوزي واخیستل او دغه پوزکي مو په دفتر کې اوارکړل او پر دغو پوزکیو د وفا کارونه پیل شول. یوه ورځ ښاغلي دوست محمد ارباب زموږ دفتر ته راغی هغه چې د دفتر دغه بد حالت ولید، لاړ او له بازار څخه یې د وفا د دفتر لپاره په لس زره کلدارو اوه مېزونه، اوه څوکۍ واخیستې او لس زره کلدارې یې نغدې دفتر ته ورکړې. د دفتر لپاره د انګریزي ټایپ رایټر ښاغلي محمد ګیلاني واخیست او په پېښور کې د امریکې USIS مشر ښاغلي جان ډیکسن وفا ته د میاشتې یو زر کلدارې ومنلې. د انګزیزي مجلې مدیر ښاغلي احمد یوسف نورستاني مجلې مضمونونه ښاغلي محمد نسیم ستانیزي ته وسپارل او ستانیزی لاهور ته روان شو. څلور وروځې وروسته ښاغلي ستانیزي په تلیفون کې وویل چې د هغه څخه د مجلې د چاپېدو ټولې پیسې کیسه بر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهلي او پر سبا يې پېښور ته راغی. خدای(ج) شاهد دی چې د مجلې د چاپېدو د پیسو په ورکېدو ټول غړي په ذهني تشویش اخته شول. دوه ورځې وروسته زما لور ته د خپل کالج په ادرس سکالرشیپ راغی، د دغه سکالرشیپ ټولې پیسې مې ښاغلي ستانیزي ته ورکړې، واپس لاړ او یوه اوونۍ وروسته یې د وفا انګریزي مجله له لاهور څخه راوړله. دغه لومړۍ مجله په پاکستان او نورو هېوادونو کې هغه ټولو اشخاصو، موسسو، د خپرونو موسسو، سفارتونو، وزارتونو، پارلمانونو، کتابخانو او پوهنتونونو ته - چې یا د افغانستان له مسلې سره علاقه درلوده او یا یې د افغانستان په کشاله خبرول ضروري و- ولېږل شوه او د دغې مجلې په اړوند د ډېرو افغاني او خارجي پوهانو له خوا د وفا د مجلې د علمي څېړنو تود هرکلی وشو او یو شمېر پوهانو په مجله کې د کډون، له مجلې سره د مادي مرستې او د مجلې لپاره د علمي مضمونونو د لیکلو وعدې وکړې او دغه وعدې په عمل کې پیاده هم شوې.

د افغان مهاجرینو کمېشنر ښاغلي رستم شاه د صوبه سرحد له ګورنر جنرال فضل حق څخه د وفا د غړو لپاره د ملاقات وخت واخیست، د ۱۹۸۵م کال د اپریل پر څلورویشتمه نېټه د ګورنر ملاقات ته ورغلو او هغه ته مو په پاکستان کې د تعلیمیافته قشر تکلیفونه او د وفا اقتصادي ستونزې په تفصیل بیان کړې او د نیم ساعت ملاقات وخت تر درې ساعتونو پورې اوږد شو. د ملاقات په پای کې ښاغلي ګورنر د وفا د راجسټرکېدو، افغان مهاجرینو د کمېشنرۍ له خوا د وفا هر غړي ته د میاشتې د دوه زرو کلدارو معاش او د ګورنر له فنډ څخه وفا ته د دوه لکو کلدارو د مرستې امر وکړ. د ګورنر د فنډ په دفتر کې تلیفون ولګېد او د انګلیسي مجله Wufa او په پښتو- دري ژبو مجله خپلواکي دري میاشتنۍ شوې او د فتر، مجلو او پوستې لګښتونو لپاره

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بودجه او موده وتاکل شـــوه. بیا هم د دغو ټولو لګښـــتونو لپاره دوه لکه کلدارې ډېرې لږې پیسې وې. د وفا ځینو غړو په خارجي موسسو کې دکار په مقابل کې معاشونه اخیستل، د موسسو له کارونو وروسته به وفا ته راتلل او د وفا دکار په مقابل کې یې دکمپشنرۍ څخه دوه زره کلدرای اخیستې. ماته د ملي–اسلامي محاذ مشر جناب پیر ګیلاني صاحب دکور دکرایې، دکور د لګښت او د ماشومانو د مکتبونو د فیسونو لپاره د میاشتې لس زره کلدارې راکولې، چې زما د دریو بچو د ســکالرشــیپونو او دکمپشــنرۍ د دوه زره کلدارو سره د میاشتې پنځلس زره کلدارې کېدلې. د وفا ځینې غړي به سهار دفتر ته راتلل او تر مازیګر پورې به یې کار کاوه. د دوی ټول معاش د افغان کمپشنرۍ څخه دوه زره کلدارې وې او بل هېڅ مدرک یې نه درلود. په دغه وخت کې لس کلدارې په یو امریکایي ډالر بدلېدې. د وفا اســاسـي اقتصــادي ستونزه د دفتر چلول و او مجلو د چاپېدو او د یو شمېر غړو د معاش لږوالی و. په پرله پسـې غونډو کې د اقتصـادي سـتونزې د حل په لارو چارو خبرې وشــوې او بالاخره د ځینو غړو څخه هیله وشــوه چې هغوی دې له خپلو روابطو او پېژندګلوی څخه په اسـتفاده د ځینو پاکسـتاني او خارجي موسـسـو سره تماسونه ونیسي او یوازې له هغو موسسو څخه دې مالي مرستې واخلي، کومې موسسې چې د وفا له اهدافو سره سمې وفا ته بې قیده او شرطه مرستې ورکول غواړي. په لومړۍ مرحله کې ښــاغلي حکیم تنیوال او دوکتور احمد یوسف نورستاني د وفا له رسـمي مکتوب سره په اسـلام اباد کې د سـعودي عربسـتان سـفارت ته ولاړل، د سـفارت غړو ورسـره ملاقات ونه کړ، واپس پېښــور ته راغلل. په ۱۹۸٦ کال کې ښــاغلو حکیم تنیوال او دوکتور احمد یوســف نورســتاني د امریکایانو او جرمنیانو او ما په پېښــور کې له افغان کمپشنرۍ سره تماسونه ونیول. افغانستان شناس فقید پروفیسور لویې دوپري

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د هغه میرمن نینسي دوپري هم وفا ته د مالي مرستو د راجلبولو لپاره له خپل نفوذ څخه استفاده وکړه او د دغو ګډو هلو ځلو په نتیجه کې لومړی United states information service (USIS) او د Freedom house له لارې په واشنګټن کې National Endoment for Democra (NED) ورپسې German Agency for Technical cooperation (GTZ) او په بن کې Konrad Adenauer foundation، په پېښور کې د افغان مهاجرینو کمپشنرۍ او وروسته د ډنمارک چرچ ائیډ او ایشیا فاونډېشن دکتابونو، مجلو او اخبار د چاپېدو، د دفتر او کتابخانې د ضروریاتو د پوره کولو او د وفا د پرسونل د معاشونو لپاره د وفا مشخصه پروژه تمویلوله. د ۱۹۸۸ کال په پای کې ښاغلی حکیم تنیوال المان ته ولاړ او هلته یې دکونارد ادناور فونډېشن له موسسې سره د وفا د ځینو پروژو د تمویل برسېره وفا ته د دغې موسسې له خوا د دوه جاپاني Pajero جیپونو په ورکولو قرارداد هم لاسلیک وشو او دغه دواړو موټرې په راتلونکو دووکلونو کې وفا ته وسپارل شوې. وفا ته مالي او تخنیکي مرستو پرله پسې دوام نه درلود، بلکې د ۱۹۸۶ کال څخه تر ۱۹۹۲ کال پورې د هرې موسسې سره نوی قرارداد لاسلیک کېده. کله به یوې موسسې خپله مرسته د تېرکال په حالت ساتله، کله به یوې موسسې د تېرکال په تناسب لږوالی راوست او کله به یوې موسسې د مرستې ورکولو څخه معذرت وغوښت. لومړی GTZ ، ورپسې ایشیا فونډېشن، بیا USIS او په ۱۹۹۲ کال کې د نجیب الله د رژیم له سقوط سره سم د لاسه Konrad Adenauer foundation خپلې ټولې مرستې قطع کړې. تر دې وروسته د ډنمارک چرچ ائیډ او ورپسې د افغان مهاجرینو کمپشنرۍ د خپلو مالي مرستو د قطع کېدو مکتوبونه راولېږل او یوازې د NED موسسه دکتابونو د چاپولو د پروژې مالي مرستو ته تراوسه دوام ورکوي او نورې ټولې مرستې قطع شوې دي. د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجیب الله د رژیم تر ســقوط وروســته او د مجاهدینو له راتګ ســره ډېرو موســسـو وفا ته مکتوبونه راولېږل چې د دغو مکتوبونو له جملې څخه د یو مکتوب په متن کې راغلي وو: ((... اوس په افغانســتان کې ســتاســو خپل حکومت منځته راغلی دی. تر دې وروسته مورږ له وفا سره مالي مرستې نه شو کولای. تاسو د وفا د فعالیتونو لپاره د خپل حکومت څخه مالي مرستې واخلئ او د وفا ګټورو فعالیتونو ته دوام ورکړئ...)).

د دغه مکتوب د متن پر لوستلو خندا راغله، اما د دغې موسسې چلوونکي مې ګرم نه کړل، ځکه چې هغوی د افغانانو په نوم د مجاهدینو ډلو په ترکیب او اهدافو نه پوهېدل او پر دې هم خبر نه و، چې د افغانانو د ډلو مشــران د افغانســتان او افغان پرځای یوازې د خپل مشــرتابه، خپلو ایډیالوژیو، خپلو ګوندونو او د خپل سیاسي قدرت پر لانجه اخته دي او یوازې د خپلو نږدې ملګرو د امتیازونو تر حده فکر کولای شي او بس.

د دغو موســسـو د مالي مرستو د قطع کېدو په نتیجه کې د وفا سـیمیناروونو فعالیتونه په ټپه ودرېدل، د انګلیسي او پښتو– دري دوه مجلې بندې شوې او د وفا یو شمېر غړي او پرسونل رخصت شول، یوې او بلې خواته ولاړل. د مجاهدینو حکومت له راتګ سره وفا یو ځل بیا د سخت اقتصادي بحران سره مخامخ شو، خپل دوه جاپاني پجیرو جیپونه یې خرڅ کړل چې د دوی د خرڅلاو په پیســو دفتر او اخبار وچلوي. په دې بحراني حالت کې حاجي حیات الله او قومندان عبدالحق هم د اخبار د چلولو لپاره مالي مرستې وکړې.

ستونزې– که د ستونزو بهیر:

په خپله دیکتاتوري او سیاسي انحصار لویه بلا ده. ته به په خپل پلرني وطن کې له خپلو خپلوانو او وطندارانو ســره یوځای مرې، کور او وطن به دې تباه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي، په بلا اقتصادي، سیاسي، اجتماعي او رواني ستونزو کې به رابښکېل یې، په بلا عذابونو به اخته یې، خو بیا به هم د دیکتاتور د سیاسي انحصار له ډاره له خپل ځان، د خپلوانو او وطندارانو د ستونزو او عذابونو په هکله یوه ږښتیا خبره هم نه شي کولای. یا به د دیکتاتور او انحصارګر چاپلوسي کوې، یا به غلی کېږي، او که د هېواد د یوه تبعه په حیث ږښتیا وایې او د خپل هېواد او هېوادوالو لپاره اواز پورته کوې، نو بیا ته پوه شـــه او د دیکتاتور خطرناک غضب! وفا له لومړۍ ورځې څخه د خپلواک افغانستان او ملي برم لرونکي افغان او دموکراسي او د بشر حقوقو لپاره او همدا شاه په هېواکې د هر ډول دیکتاتورۍ، سیاسي انحصار او تبعیض پر ضد اواز پورته کړ، هم له دغې ورځې څخه وفا ته د افراطي چپ او ښي ډلو له خوا او هم تش په نوم د ملي ګرایانو له خوا بلا ستونزې او عذابونه ور په غاړه شول او تر پایه د وفا پرضد، د وفا د غړو پر ضد او په مشخص ډول زما پر ضد دکرکتر وژنې Character Assassition عملیې دوام وکړ، شاید چې د افغانستان د مطالعاتو مرکز پر ضد هم دوام وکړي. د وفا، د وفا د غړو او زما پر ضـــد دکرکتر وژنې عملیې افراطي ډلو ته او تش په نوم ځینو ملي ګرایانو ته جلا جلا مفهوم درلود او دغې عملیې د افراطي ډلو د سیاسي انحصار او له دیکتاتورۍ څخه او تش په نوم د ځینو ملي ګرایانو د شـخصـي عقدو، خودخواهیو او بې ځایه شـخصـي رقابتونو څخه سرچینه اخیستله. افغانانو ته په عمل کې اثبات شوې چې چپې او ښي افراطي ایډیالوژیګانې په ډېرو سیاسي برخوکې یوه له بلې سره ډېر ورته والی لري. چپې ایډیالوژي دکارګرو د دیکتاتورۍ په نوم د افغانستان د خلکو ټول سیاسي، اقتصادي، کلتوري، اجتماعي، تعلیمي، نظامي او مذهبي ژوند تر خپل سیاسي کنټرول لاندې راوست او د دغې ایډیالوژۍ پلویانو نه د افغانستان دننه د نورو سیاسي او اجتماعي ډلو وجود مانه او نه د سوشیالستي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونو ترمنځ د ملي سرحدي پولو بېلتون ته قايل و. همدا شان د مذهب په نوم د افراطي مذهبي ايډيالوژيو پلويانو په افغانستان کې يو ګوندیز سیاسي انحصار غوښت او د دې ايډيالوژۍ پلويانو هم زمونږ په هېواد کې نورو سیاسي او اجتماعي ډلو ته د فعالیت اجازه نه ورکوي او نه د اسلامي هېوادونو ترمنځ سیاسي پولې په رسمیت پېژني. مونږ د چپې ايډيالوژۍ د پلويانو په ټولو قالبي شعارونو نه ګرېږو ځکه چې د دغې ايډيالوژۍ د پلويانو ټول غیر اخلاقي، غیر افغاني او غیر انساني اعمال افغانانو ته څرګند دي. څوک چې د دغې ايډيالوژۍ پلوي نه و، هغه د چپيانو په اصطلاح طبقاتي دښمن مرتجع، فیوډال، سرمایه دار، عظمت طلبه، تنګنظره، د ارتجاع او امپریالیزم نوکر او د مترقي ايډيالوژۍ ضد ګڼل کېده. چې وفا، د وفا غړي او په مشخص ډول زه هم له دغو بلا شعارونو څخه بري نه وم. د چپې ايډيالوژۍ د سلګونو شعارونو له مخې د وفا موسسه د ارتجاع او امپریالیزم یوه شبکه ګڼل کېده او د دې موسسې ټولو کارکوونکو په سلګونو عیبونه درلودل او ټول فعالیتونه يې د (مترقي ايډيالوژي) پرځای د ارتجاع او امپریالیزم په خدمت کې و. سره له دې چې د وفا غړو د مجاهدینو سره د یو سنګر څخه یوځای د کابل د رژیم او شوروي اتحاد پر ضد قلمي مبارزه کوله خو بیا هم افراطي مذهبي ډلو د مذهب په نوم د سیاسي انحصار او یو ګوندیزي دیکتاتوری له امله د وفا موسسه او د دې موسسې غړي معاف نه کړل، بلکې له پیله تر پایه يې د دې موسسې او د موسسې د غړو د بدنامولو، تهدید، کرکتر وژنې او ترور پسې ملا تړلې وه. وفا يې پاکستاني مقاماتو او اسلامي او غیر اسلامي سفارتونو او سیاسي ارګانونو ته د کمونستانو، خادیانو، ملحدانو او نشنلستانو جاله معرفي کړه او د دې موسسې ځینو غړو ته (زه يې په سر کې وم) د خلقیانو، پرچمیانو، شغله یانو، ستمیانو، افغان

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملتانو، خادیانو، ملحدانو او نیمچه مسلمانانو القاب ورکړل شول او موږ یې واجب القتل او مباح الدم وګڼلو. د دغو ډلو مشرانو د خپلو ګوندونو غړو ته حکم وکړ چې د دوی به د وفا نشرات نه لولي، د وفا د دفتر او د دې دفتر له غړو سره به تماس نه نیسي، بلکې د وفا غړي به خپل واقعي دښمنان ګڼي او د دښمن پرضد هر عمل د ثواب کار دی. د عملي سیاسي په دې فورموله چې په سیاسي چاروکې ابدي دوست او ابدي دښمن نه شته، افراطي ډلې ډېرې ښې پوهېږي. د دوی پروپاګندي د دوی له سیاسي اړیکو سره ژورې ریښې لري او د دوی لپاره اساسي معیار د دوی سیاسي روابط دي. که له یو هېواد سره د افراطي ډلې روابط خراب وي، نو بیا دغه ډله خپل ټول مخالفین ((مخالف حکومت)) ته منسوبوي او خپل مخالفین د مخالف حکومت د جاسوسانو په تور ټکوي اوکه له یو هېواد سره یې سیاسي روابط ښه وي، نو دوی هېڅکله خپل مخالفین د ((دوست حکومت)) د جاسوسي شبکو پورې نه تړي او نه وربانديې د دوست حکومت په ارتباط تور لګوي. د وفا په اړوند افراطي ډلو د دغې پالیسۍ څخه استفاده کوله. د جوړېدو څخه وروسته تر څوکالو پورې وفا او د وفا غړي یوازې د چپې ایډیالوژۍ په تور ټکول کېدل او په ابتداکې د امریکې او نورو هېوادونو شبکو ته نه منسوبېدل او د وخت په تېرېدو او د دوی د روابطو د خرابېدو په نتیجه کې وفا او د وفا غړي وروسته د امریکې او نورو شبکو پورې هم وتړل شول. لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه د وفا غړي د چپیانو او افراطي ډلو ترمنځ د مشابه سیاسي فعالیتونو پر عواقبو پوره پوهېدل، د سیاسي انحصار او دیکتاتورۍ پر ضد وفا ته د پېښېدونکو خطرناکو عواقبو په باره کې پوره متوجه وو او ټولوې خطرې یې پر ځانونو هم منلې وې، اما د وفا غړو د وفا پر ضد د ملي ګرا اشخاصو له خوا ضربو ته ډېره لږه پاملرنه کړې وه او دې لږې پاملرنې یا

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلطفهمۍ څه وجوهات هم درلودل. د افغانستان د سیاسي شرایطو په لحاظ د وفا او د دغو ملي ګرا اشخاصو ترمنځ اهداف مشترک و. مور او دوی په یوه کښتۍ کې ناست وو او زموکښتۍ پر یو لوري حرکت کاوه. لکه چې وایي: ((په یو ګل نه پسرلی کېږي.)) همدغه شان د وفا موسسه د چپیانو او ښي لاسیانو د ډېرو نشراتو په مقابل کې د نشت برابر وه. د وفا غړو فکر کاوه که چېرې یوازې د وفا پرځای د افغانستان د باندې ملي خپرونې زیاتېږي، هومره به معتدله ملي نهضت قوت مومي او همدغه ملي قوت به خپلواک افغانستان په خپلو پښو ودروي او د افغانانو تاریخي هویت او برم به اعاده کوي، لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه، ملي قواوو د چپیانو او ښي لاسیانو غوندې هېڅ باندنی ملاتړ نه درلود، دوی یوازې په خپلو افغانانو په یو داسې ملت چې اجتماعي جوړښت او اجتماعي روحیاتو پر لحاظ د باندنیو د لاسپوڅو او د باندنیو له تحمیل څخه کرکه کوي. اتکاکوله او دې قواوو ته راټولېدل او منسجم کېدل، له ټولو څخه زیات ضروري کار ګڼل کېده. له بده مرغه په عملي ډګر کې خبره سرچپه غوندې شوه. لکه څنګه چې وفا دغو ملي ګرایانو ته اوږه ورکړې وه، دوی د وفا د غړو او په مشخص ډول زما د توقع خلاق همدغو اشخاصو د وفا او ما پسې د خپلو شخصي عقدو کوډې راخلاص کړل، چې په دوی کې ځینو د شخصي عقدو له امله، ځینو د شخصي تخریبي رقابت، ځینو د نورو په لمسون او ځینو له نورو څخه دا د اجوړې په مقابل کې د وفا د تخریب او زما د کرکټر وژنې پروپاګنده پیل کړه. که د وفا له پیله تر اوسه په ټولو تورونو، پروپاګندو، تخریب، غیبت او تخریش وګړېږم شاید چې یو لوی کتاب ترې جوړ شي. دلته د دغو ټولو له جملې څخه یو څو یې د نمونې په توګه وړاندې کېږي او له دې نمونې څخه لوستونکي د ټولو په باره کې اتکل کولای شي:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ځینو ویل: که مربي لرې نو مربع به خورې. امین په پاکستان کې مربیان لري، نو ځکه ورته د وفا د چلولو اجازه او د وفا لپاره مالي مرستې ورکول کېږي.
- ځینو ویل: په ټوله وفاکې یو لیکوال او شاعر نه شته. دوی د لیکوالو د ټولنې په نوم د ټولو واقعي لیکوالو او شاعرانو مخه نیولې ده، د واقعي لیکوالو او شاعرانو په سر پیسې اخلي او امین دغه ټولې پیسې په خپل جیب کې اچوي او واقعي لیکوالو او شاعرانو ته یوه پیسه نه ورکوي.
- ځینو ویل: وفا د امین تجارتي مغازه ده. هغه په دې شخصي مغازه کې بلا پیسې وګټلې. هغه اوس ملیونر دی او په ملیونونو پیسې یې د پاکستان او په مشخص ډول د لاهور او په نورو خارجي بانکونو کې پرتې دي. هغه اوس دومره پیسې لري چې د هغه څو نسلونه به وربانديې عیش وکړي.
- ځینو ویل: له موږ سره پاخه اسناد شته، چې امین د پاکستان د نظامي شبکې پوخ جاسوس دی. همدغې شبکې وفا جوړه کړې ده، دغه شبکه ورته پیسې ورکوي او همدغه شبکه د امین او د هغه د راز شریکو ملګرو په واسطه د واقعي ملتپاله افغانانو مخنیوی کوي او بلاخره امین او د هغه ملګري د افغانستان د سیاست پر ګډی کښول غواړي.
- د ځینو: په نظر امین د پاکستان د نظامي شبکې څخه علاوه د امریکا او جرمني د شبکو غړی هم دی. همدغه شبکې له وفا سره ډېرې مالي مرستې کوي چې د دغو مرستو ډېره برخه امین په خپل جیب کې اچوي او څه نا څه په رازکې شریکو همکارانو ته هم

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوي. دغه دواړه شبکې د پاکستان د نظامي شبکې سره یوځای امین او د هغه راز شـریکو ملګرو ته په راتلونکي افغانسـتان کې یو مهم سیاسي رول ورکول غواړي.

- د ځینو: په نظر وفا د فساد جاله ده، هر څوک چې د وفا غوندې په یوه بـدنام ځای کې کـار کوي، دوی هم پـه دغـه بـدنام ځای کې بدنامېږي. د وفا د وجود نه د وفا رنګېدل د افغانانو په ګټه ده. د وفا ((نېک نام)) غړي دې وفا پرېږدي او د دغـه بـدنام ځای په رنګېدو کې دې فعال رول ولوبوي.
- د ځینو: په نظر وفا د فاشـستانو مرکز و او په دې کې پښـتانه راتول شوي دي. دغه فاشسان د افغان په پلمه یوازې د پښتونیزم فاشیزم ته خدمت کوي او هر څوک چې له دې فاشیسـتي مرکز سـره تماس نیسي او یا ورسره همکاري کوي، په واقعیت کې دغه ډول اشخاص د پښتنو فاشیزم تقویه کوي.
- ځینو ویل: په ډېرو دري ژبو نشراتو کې پښتو هېڅ نه شته. برعکس وفا محض د دري ژبو د خوشالولو لپاره د پښـتو په تناسب په دري ژبه ډېرې خپرونې کوي. که د وفا غړي په رښـــتیا پښـــتانه وي، نو دوی دې د دري ژبو د نشـراتو په شـان د وفا په پښـتو کې دري ته هېڅ نه ورکوي او ډېرې خپرونې دې یوازې په پښـتو کوي، فلهذا د وفا دغه چاپلوسانه پالیسي د غندلو وړ ده.
- ځینو ویل: د وفا نشرتي پالیسي د بلیک میلنګ پر اساس د پیسو پر محور ګرځي او کومه مشخصه هدفمنده پالیسي نه لري. څوک چې ورته پیسې ور نه کړي، وفا دغه شـخص، اشـخاص، تنظیم، ګوند او

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت په خپلو نشراتو کې غندي او څه وخت چې له دغو غندل شویو څخه پیسې ترلاسه کړي، بیا یې په بله نشریه کې صفت کوي.

– ځینې وایي: امین استرالیا ته تښتېدلی او له دې وروسته هغه د افغانستان او افغانانو په چارو کې د ویلو، کولو او برخې د اخیستو هېڅ حق نه لري. د افغانستان په چارو کې هغه افغانان چې په افغانستان، پاکستان او ایران کې نه اوسېږي، د افغانستان په چارو کې د ویلو، کولو او برخې اخیستو له حق څخه محروم دي، او داسې نور...

نوټ: باور وکړئ چې د پورتنیو څو مثالونو برسېره د وفا او په مشخص ډول زما په باره کې داسې کرکټر وژونکې خبرې شوې دي، چې نه یې یو افغان کوي، نه مسلمان او نه انسان، بلکې په اوږدو یې هم سړی شرمېږي. شاید چې د ځینو لوستونکو په ذهنونو کې دا پوښتنې راپورته شي چې ایا زه له دغو اشخاصو ډارېدم او که یا د دوی خبرې ربړتیا وې؟ که ربړتیا نه وې، نو ما ولې د دغو اشخاصو کرکټر وژونکو تورونو ته ځوابونه نه دي ورکړي او یا یې نه ورکوم؟ دلته د ښاغلو لوستونکو دې پوښتنو ته ډېر لنډ ځوابونه ورکول کېږي:

اول: خبره د ډار نه ده، بلکې واقعیت دا دی چې د وفا بنسټ اینښودونکو غړو څه فیصلې کړي وي او د دې موسسې ټولو غړو خپلې فیصلې منلې وي او تر پایه د دغو فیصلو درناوی کېده. د ډېرو فیصلو له جملې څخه ځینې فیصلې چې د لوستونکو پوښتنو ته په خپله ځوابونه وایي دا وي:

الف– وفا یوه موسسه ده او دا موسسه به د انساني، مذهبي او افغاني اخلاقو او ارزښتونو په رنړا کې د خپلو ټاکلو اهدافو پر لور درانه ګامونه اخلي او

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅوک دا موسسه او د دې موسسې خپرونې له خپلې شخصي خوښې ناخوښې او عقيدې لپاره نه شي استعمالولی.

ب– وفا به د افغانانو ترمنځ د قامي، ژبني، نژادي، مذهبي او سيمه ييزو تعصباتو د راپارولو څخه جدي ډډه کوي او همدا شان هغه ليکنې چې په هغو کې د يو شخص يا اشخاصو کرکتر وژنه شوې وي، يا يوه ډله يا ډلې په نومونو غندل شوې وي او بېځايه او بې نتيجې مشاجرې ترېنه جوړېږي، نه خپروي.

ج– ځينې اشخاص به قصداً په وفا يا د وفا پر غړو داسې تورونه لګوي چې وفا د خپلو ټاکل شويو اهدافو څخه بې لارې کړي او په نتيجه کې وفا په مشاجرو او ناندريو کې بوخته وساتي او د وفا د خپرونو څخه کنځلنامې جوړې کړي، نو په دې صورت کې د مشاجرو، ناندريو او کنځلنامو پرځای د وفا د غړو لپاره خاموشي بهترينه پاليسي ده.

دويم: لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه، د وفا او زما پر ضد د کرکتر وژنې عملېې د ځينو د شخصي عقدو، ځينو د نورو په لمسون، ځينو د نورو څخه د اجورې په مقابل کې، ځينو د بې ځايه رقابت او د ځينو د عادتونو څخه سرچينه اخيسته او دغه ټول اشخاص او د دغو اشخاصو پټ او بنکاره نيتونه هم معلوم و. د هر انسان په وجود کې د پلې رګونه دي او د هېڅا په وجود کې د پلو پرځای د پولادو رګونه نه شته، نو زما په وجود کې هم د پولادو رګونه نه شته. هر څوک د تعميري تنقيد او کرکتر وژنې ترمنځ توپير کولای شي. هر څوک د کرکتر وژنې په ناوړې عملېې خفه کېږي. ځينې د جګړو او تاويلو ماويلو څخه خوند اخلي او ځينې په سره سينه خپل وخت ته ګوري. وايي: سله کاله وروسته مې خپل بدل واخيست، خو بيا هم مې تادي وکړه.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا تجزیه افغانستان امکان پذیر است؟

دا لیکنه د (ازاد افغانستان) جریدې د لومړي کال په (۲)یمه گڼه کې د (۱۳۷۷ل) کال د غویي میاشت کې خپره شوې ده.

افغانستان موقعیت حساس جغرافي دارد، بنا بر همین حساس بودن موقعیت جغرافی و ستراتیژیک آن کشور های دخیل مجبور میشوند پیرامون تقسیم افغانستان نیز به ارزیابی بپردازد، در شمال افغانستان، کشور های تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان موقعیت دارد، در غرب با ایران، در جنوب و شرق با پاکستان و در شمال شرق با چین هم مرز میباشند. جز از چین همه همسایه گان با مردمان ساکن در افغانستان مشترکات، اتنیک و زبانی دارند. اقوام ساکن در افغانستان از صده ها با اینسو درکشور شان زندگی مشترک میکنند. موقعیت حساس جغرافی افغانستان و داشتن مشترکات نژادی و زبانی با همسایه گان به هیچ کشور همسایه اجازه نخواهد داد که افغانستان ساحه نفوذ یکی از همسایه گان آن باشد و یا هم تحت تسلط مستقیم و غیر مستقیم یکی از آنها قرار گیرد.

کشور های کوچکی که در همسایه گی افغانستان واقع استند، توان نفوذ و تسلط را ندارند، اما اگر از دو همسایه بزرگ افغانستان: ایران و پاکستان یکی هم خواهان تسلط و نفوذ باشد، همسایه بزرگ دیگری مانع این کار میشود و بر ضد آن ایستاده گی میکند. از سوی دیگر چون کشورهای همسایه شمالی افغانستان از دوران روسیه تزاری تا پروفاشی اتحادی شوروی تجارب تلخ محکومیت را پشت سر گذاشته، طعم زهراگین آن را چشیده اند، از همین سبب در منطقه با سیاست سلطه جویی و سعت طلبی هر کشور بزرگ یا برادر بزرگ Big broher از خود حساسیت نشان میدهند.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانها نیز در این خصوصیت - حساسیت در برابر برادر بزرگ– باکشور های کوچک همسایه شمالی خود وجوهات مشترکی دارند. افزون بر آن تمام همسایه گان افغانستان مسلمان استند و یکی از اینها با نام مذهب افغانستان را زیر سطره خود اورده نمی توانند - اگر یکی از برادران بزرگ بخواهد، زیر نام مذهب در افغانستان نفوذ و سلطه خود را وسعت و استحکام بخشد– ان دیگری ممانعت میکند، زیرا هر دو مسلمان استند و در مسلمان بودن یکی از دیگری خود راکم نمی داند. اکنون بحران افغانستان از چوکات مذهب پا فراتر گذشته است و تنها در سطح سیاسی مطرح است. یکی از جمهوری های اسلامی بخاطر نگهداشت منافع ملی خود به همراهی هند و روسیه از ایتلاف شمال پشتیبانی میکند، جمهوری اسلامی دیگر برای حفظ منافع ملی خودش همراه با عربستان سعودی و شماری ازکشورهای اسلامی وکشورهای غربی از اداره کنونی کابل حمایت می نماید. قبول میکنم، معجزه میشود و تمام کشورهای همسایه با وجود مقاومت شدید افغانها علی الرغم تمام قوانین بین المللی، اصول پذیرفته شده ملل متحد و عکس العمل های شدیدکشورهای منطقه و جهان به تقسیم افغانستان موفق میشوند و بین هم با موافقه میرسند، پیش از همه اینان مجبور میشوند جغرافیه و دموگرافی افغانستان را مطالعه نمایند. جغرافیه و دموگرافی به اینها نشان میدهدکه در افغانستان تمام اقوام با هم یکجا میزند. در اکثر مناطق افغانستان قوم مشخص زندگی نمیکند پس از مطالعه دموگرافی و جغرافیه انها مجبور میشوند افغانستان را بر اساس مناطق بین هم تقسیم نمایند.

در این صورت هندوکش را بین شمال و جنوب افغانستان مرز قرار میدهند، اگر اینها افغانستان را بر اساس مناطق تقسیم میکند، در چنین حالت اقلیت

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

های قومی که در هر دو طرف هندوکش زندگی میکند، در مناطق شـــان می مانند و یا اینکه با اکثریت های قومی شـــان در دو طرف هندوکش یکجا میشـــوند؟ اقلیت های قومی میفهمند که در صـــورت ماندن با اکثریت های قومی دیگر برای همیش زیر تاثیر اکثریت خواهند بود و با گذشت زمان اقوام کوچک هویت شان را از دست میدهند. فرض میکنم، اقوام افغانستان فیصله مینمایند که جهت پیوستن با اکثریت شـان با مناطق اصـلی شـان میروند. بر اسـاس همین فیصـله پشـتون های سـاکن در افغانسـتان مرکزی و شـمالی به جنوب هندوکش می یایند و تاجکی ها، هزاره ها، ازبک ها و ترکمن های ساکن در جنوب به شمال و افغانستان مرکزی میروند، رفتن از یک منطقه به منطقه یی دیگری کار اسانی نیست، بل جار و جنجال های فراوان اجتماعی، فرهنگی، اقتصـادی و سـیاسـی و راوانی را با وجود میاورد. ایا مردم شـمال افغانستان مانند گذشته ها خان نیشین های تاجکی ها، ازبک ها و ترکمن ها تقسیم میشوند و یا این که در آنسوی آمو دریا با جمهوری های تاجکستان، ازبکســتان و ترکمنســتان یکجا میشــوند. در هر دو صــورت مســله تعین سرحدات سر بالا میکند. مرزهای سرزمین های زیر سطره خانهای مستقل چگونه تعین خواهند گردید؟ اگر با جمهوریهای اســیای مرکزی یکجا میشوند، جمهوری های در شمال افغانستان چگونه سرحدات شان را تعین میدارند. در شــمال افغانســتان تاجک، ازبک، ترکمن، هزاره و عرب (اقلیتی اسـت عرب ها نیز در شـمال افغانسـتان زندگی میکنند) با هم امیخته میزیند. اینان نیز با مناطقی میروند که اکثریت قومی شان در آن زندگی میکند و یا این که در محله های مسـکونی فعلی شـان می مانند؟ در افغانسـتان مرکزی هزاره های شـیعه و سـنی با هم یکجا زندگی میکنند و یا از هم جدا میشـوند. هزاره های شـیعه حکومت مسـتقل میسـازد و یا با ایران یکجا میشـوند؟ اگر اینها

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت مستقل میسازند عاید ملی این حکومت در مناطق کوهستانی چه خواهد بود؟ از سوی دیگر مناطق هزاره جات از چهار طرف توسط سنی ها احاطه شده است و با ایران مرز مشترکی ندارند. اگر هزاره ها با ایران یکجا میشوند، در انصورت ایران با هزاره جات تنها ارتباط هوایی خواهد داشت و یا این که ایران برای یکجا نمودن هزاره جات با خود، سنی های مناطق غربی افغانستان را هم با خود مدغم خواهند ساخت و از این راه با هزاره جات مرزهای مشترک ایجاد خواهد کرد. در مناطق غربی افغانستان اکثریت از پشتونهای است که زبان شان را از دست داده اند و به زبان دری حرف میزنند. ایا پشتونهای دری زبان از خود حکومت مستقل خواهند ساخت و یا این که زیر اثر حکومت ایران زندگی اختیار میکنند و یا هم با مناطق دیگر پشتون نیشین میروند؟ در جنوب افغانستان از هم گسستن پشتونها، بلوچها، پشه یی ها و نورستانی ها چگونه صورت خواهد پذیرفت. پشتونهای افغانستان به گونه مستقل خواهند زیست و افغانستان مستقل خودشان را خواهد ساخت و یا اینکه زیر نام پښتونستان یا پښتونخوا با پښتون های سرحد، بلوچستان و مناطق قبایل ازاد یکجا میشوند. اینگونه افغانستان، پښتونستان و پښتونخواهی با وجود امده با پاکستان یکجا خواهد ماند یا نه؟ بلوچهای افغانستان با بلوچهای پاکستان و ایران یکجا خواهد شد و بلوچستانی را خواهند ساخت و یا این که خان نیشنی مستقلی را تشکیل میدهند؟ پشه یی ها و نورستانی های افغانستان دولت مستقلی خواهند ساخت و یا با حوزه فرهنگی خودشان - که تا دره های کشمیر امتداد دارد– یکجا میشوند. پس از تقسیم افغانستان ایران و پاکستان مرزهای شان را چگونه تعین خواهند نمود؟ مسله نقل و انتقال این همه اقوام ساکن در

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان چگونه انجام خواهد پذیرفت و موضوع معاوضه جایدادها و دشواری های ناشی از این تقسیم چه سان حل و فصل خواهند گردید؟

ما فرض میکنم که پشتونها با پشتونها، تاجک ها با تاجکان، ازبک ها با ازبکان، ترکمنها با ترکمنان، نورستانی ها و پشه یی ها با واحد های فرهنگی شان پیوستند، کشورهای همسایه نیز سرحدات شان را تعین کردند و این معجزه نیز به خیر و خیریت سرو سامان پذیرفت، پس از ان کشورهای همسایه افغانستان پیرامون ابیات زیرین علامه محمد اقبال لاهوری نیز خوبتر بااندیشند:

اسیا یک پیکر آب و گل است

ملت افغان در آن پیکر دل است

از گشاد او گشاد اسیا

از فساد او فساد اسیا

اگر پیشگویی نابغه شرق علامه محمد اقبال لاهوری درست باشد، فساد - را که همسایه گان افغانستان بنا بر خواسته های ملی شان با تقسیم و جدایی اقوام افغانستان در قلب اسیا اغاز کرده اند– اثر های ناگوار این فساد بیشتر از پیش متوجه کشورهای همسایه افغانستان است، در کشورهای همسایه افغانستان نیز اقوام و فرق مذهبی گوناگون زندگی میکنند. ایا پشتونها، بلوچها، سندی ها و پنجابی ها در پاکستان واحد زندگی خواهد کرد و یا اینکه زیر نامهای افغانستان (یا پښتونستان)، بلوچستان، سند، دیش و پنجابستان کشورهای جداگانه میسازند؟ مسله اهل تشیع و تسنن در پاکستان چگونه حل خواهد شد؟ ایا پارسی ها، ازری ها، کرد ها، ترکمن ها، عرب ها

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

و بلوچهای ایران با هم یکجا در ایران زندگی خواهد نمود و یا انیکه ازری ها با ازربایجان، کردها باکردستان، عرب ها با عرب، ترکمن ها با ترکمنستان و بلوچها با بلوچستان می پیوندند و تنها پارسی ها درکشور بنام ایران باقی می مانند؟

در ایران نیز مسله شیعه و سنی چگونه حل خواهد شد؟ در جمهوری های اسیای مرکزی نیز اقوام و فرق مذهبی گوناگون زیست دارند. ایا این همه اقوام و فرق مذهبی در جمهوری های مسکونی شان می مانند و یا اینکه بر اساس بخشبندی اقوام مرزهای شان را سر از نو تعین میدارند.

فسادکه از قلب اسیا (افغانستان) سر بر اورده است به قول علامه اقبال فساد تمام اسیا است و این فساد تنها به همسایه گان افغانستان محدود نمی ماند، بلکه این فساد در شرق تا اندونیزیا، در غرب تا ترکیه و الجزایر و در شمال تا جمهوری های فدراسیون روسیه پخش خواهدگردید. از سوی دیگر در جوامع شرقی مذهب موضوع نهایت جدی بشمار میاید، مردمان یک نژاد نیز بر اساس مذهب از همدیگر جدا شده اند، مردمان یک نژاد نیز تصرف مذهبی یکدیگر را قبول ندارند و اکنون نیز بین مردمان یک نژاد نزاعهای مذهبی در جریان است. در اسیا اقوام زیادی موجود استندکه از نگاه نژاد و زبان یکی اند اما مذاهب شان از همدیگر فرق میکنند، به گونه مثال مردمان پنجاب پاکستان و پنجاب هند از یک تبار اند و زبان واحدی دارند، اما پنجابیهای پاکستان مسلمان استند و پنجابیهای هندوستان سک و هندو. همینسان بنگالی های، بنگله دیش و بنگالی های، بنگال هندوستان از یک نژاد استند و زبان شان نیز مشترک است، اما بنگالی های هندوستان هندو و بنگالی های بنگله دیش مسلمان. در چنین حالت اقوام واحد ولی دارنده مذاهب جداگانه با هم یکجا زیست خواهندکرد و یا اینکه بر اساس

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مذهب کشورهای جداگانه میسازند. اگر زیر نام قومی کردهم جمع میشوند، در ان صورت در مذاهب این قوم کدام یک آن را رسمی اعلان خواهند کرد و یا با تمام مذاهب رسمیات خواهند داد و یا اینکه به یکی از مذاهب اجازه مداخله در مسایل سیاسی نمیدهد و یا هم بر اساس مذاهب دولتهای جداگانه میسازند؟ ایا پس از تقسیم افغانستان و پایان یافتن عملیه دور و دراز تعین مرزهای کشورهای از هم پاشیده پیشین و نو برخاسته بر اساس نژاد و مذهب، جنگ و خونریزی نخواهد پذیرفت؟ در بین اقوام و مذاهب جنگها رخ نخواهد داد؟ جلو این تراژیدی بزرگ انسانی راکی ها خواهند گرفت؟ ابر قدرت ها و یا نیروهای نظامی زمینی، هوایی و دریایی شان تقسیم افغانستان فساد بزرگ خواهد بود که کشور های بزرگ جهان در کاری جلوگیری از پخش و نشر آن عاجز خواهند ماند.

باری اگر قومی اراده با هم یکجا زیستند را از خود نشان دهند و یا هم اقوام یک کشور بخواهند از هم جدا شوند، اینگونه اقوام یا مانند جرمنی دیوار مستحکم برلین را در یک شب ویران مینمایند و یا هم مانند چکوسلواکیا دو گروه قومی ان کشور بر اساس رای مردم کشور واحد را زیر نامهای دو کشور مستقل چکوسلواکیها از هم جدا میکنند و یا هم مانند مردم یوگوسلاویاکه کشور شان را به جنگ و زورگویی تقسیم میکنند کشورهای جدیدی را بر اساس قوم و مذهب میسازند. اگر کشورهای همسایه افغانستان به پیشگویی علامه اقبال محض به حیث یک شعر مینگرند، در آن صورت حکایت زیرین چینایی ها را نیز به دقت بخوانند:

((میگویند تاجر از افریقا بار اول به چین میرفت، تاجر میخواست تحفه به شهزاده چین با خود ببرد. او با تاجر دیگری افریقایی - که به چین رفته بود، شهزاده را ملاقات کرده بود و از ذوق اش آگاهی داشت– پیرامون تحفه به

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشـــوره پرداخت. تاجر معرفت داشـــته با شـــهزاده چینی، گفت: ((در منزل شهزاده تصاویر بزرگی از اژدها نصب شده اند و شهزاده با این تصاویر عشق مفرد دارد.)) تاجر اژدهای بزرگی دریافت نمود و آن را با خود برد، تا تحفه گونه تقدیم شـــهزاده نماید. تاجر با دیدن تصـــاویر بزرگ و گوناگون اژدها در قصـــر شـــاهی و تحفه اورده خود نهایت خوش بود. وقت شـــهزاده چینی برای دیدن تحفه تاجر افریقایی امد و با اژدهای بزرگی رو برو شـــد. از دیدن اژدها با شـــهزاده ضـــعف طاری گشـــت و بی حال شـــد. تمام اهل دربار تاجر را مورد عتاب و ســـرزنشـــی قراردادند و به او گفتند: ((شـــهزاده ما با تصـــاویر اژدهای عشـــق میروزد و شـــما اژدهای زنده را به او اورده اید)). اگر همســـایه گان ما اراده دارند اژدهای اصـــلی برخاسته از قلب اسیا (افغانستان) را به چشـــم سر مشـــاهده کنند و از بازی کردن را با آن خوش شـــان میاید، اغاز نمایند و این عملیه را نیز در معارض ازمون قرار دهند اگر از دیدن اژدهای اصـــلی مواجه به ضـــعف شـــدند و یا خود شـــان در این اتش ســـوختند، باز نگویند، که کسی به انها هوشدار نداده بود؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان از خم و پیچ خطرناک تاریخ میگذرد

دا لیکنه د (وفا) جریدې د پنځم کال په (۳۳–۳٤) مې کنه کې د (۱۳۷۵ل) کال د وږي میاشتې پر (۲۵) مه نېټه خپره شوې ده.

تاریخ نویسان نامدار افغانستان را بر اساس موقعیت حساس جغرافی، سیاسی و ستراتیژیک آن از مناطق بسیار پُر ارزش اسیای مرکزی وانمود میسازند و این کشور راگذرگاه فاتحان و کشورکشایان؛ دروازه شبه قاره هند؛ حلقه اتصال کشورهای منطقه و ظرف ذوب اقوام گوناگون نام داده اند.

هیچ فردی از افراد یک جامعه مادرزاد ترسو و یا هم دلاور به دنیا چشم نمیگشاید، بل هر یکی از این افراد در نتیجه عوامل و عملیه های پیچیده اجتماعی و ارزشهای حاکم بر جامعه شان ویژه گیهای ترس و دلاوری راکسب مینمایند. موقعیت حساس و ستراتیژیک افغانستان و روحیه قربانی افغانها با هم روابط گسست ناپذیری دارند. افغانها روحیه قربانی را از موقعیت ستراتیژیک کشور و ارزشهای عنعنی و تاریخی شان اموخته اند.

در طول قرون متمادی کشورکشایان و فاتحان زیادی بر افغانستان یورش اورده اند، ولی با مقاومت بی مانند مردمان این سرزمین مواجه شده اند و با هر یورش حمله اوران قهرمانانه مقابله نموده اند و در نتیجه این گونه یورشهای اجنبیان و مقابله های افغانها و عشق فراوان با ازادی روحیه قربانی

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

را در ایشان پرورانیده است. موقعیت ستراتیژیک افغانستان اتحاد شوروی را به سوی خودکشاند اما روحیه قربانی و ازادمنشی افغانها یورش این‌کشور را به عقب زد. یورش اتحاد شوروی و کارکردهای حکومت دست نشانده آن ویرانیها و خرابیها فراوانی را از خود به جاگذاشت.

در دوران سلطه خونین چارده ساله‌کمونستها، خلقیها و پرچمیها تمام اقشار اجتماعی، اقتصادی، سیاسی، مذهبی و فرهنگی‌کشور خود را دشمنان طبقاتی شان میپنداشتند و با انا به دشمنی و ستیزه پرداختند. حزب دموکراتیک برای خوشنودی بیگانه‌گان و زمینه سازی برای حکومت انان، افغانهای خود را زیر نامهای مرتجعین، فیودالان، سرمایه داران، نشنلستهای تنگ نظر و عظمت طلب، جواسیس، جبره خواران امپریالیزم، ضد انقلاب و ضد شوروی‌گرفتار و شکنجه نمودند و نیست و نابودکردند. خانه ها را ویران نمودند باکشتارهای بیحد و حصر شان لشکری از یتیمان و بیوه‌گان را درکشور به وجود اوردند. ارزشهای ملی و مذهبی را عنعنه های فرسوده و پیش پا افتاد و انمود ساختند و بستهای اقتصادی، اجتماعی و سیاسی افغانستان را از تهداب در هم و برهم نمودند.

در دوران زمامداری مرارت بار و خونین‌کمونستها افغانها افزون از تحمل زیانهای مادی و معنوی فراوانی بالاثر دسایس و تفرقه افگنی، دستگاهای جاسوسی، کی. جی. بی، اکسا، کام، خاد و وار در بین اقوام با هم برادر افغان تعصبات ملی لسانی، مذهبی و حتی منطقه یی را دامن زدند و اقشار متعصبی را برای پیشبرد. این‌گونه برنامه های ضد ملی و ضد میهنی به‌کار گماشتند.

با تاسف بایستی یاد اور شدکه بقایای شبکه های یاد شده و شماری ازکوته اندیشان متعصب همراه باگروهی از بیسواد هنوز هم به تعصبات گوناگونی

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دست میزنند و ارزومند استند افغانهای با هم برادر را زیر نامهای گوناگون از هم جدا سازند و دشواریهای را در راه اعاده صلح به این کشور جنگزده به وجود اورند.

چې خپل افغانان به کله وینم. نن د دوی په لیدو دومره خوشاله یم چې د خپل احساس د څرګندولو لپاره هیڅ مناسب الفاظ نه شم پیداکولای. د دوی په لیدو راته خپل پلار را په یاد شو. دوی زما د پلار غوندې پټکي ترلي او جامې یې اغوستي دي. زما نیکه فیض الله دلته راغلی و. زما نیکه دا جومات جوړ کړی دی. اوس دا جومات په موزیم بدل شوی دی او د دې ښار د ښاروالیې په تصرف کې دی. زما مور هندوستانۍ وه، زه او دغه ورونه د یو پلار او مور اولاد یو. زما د پلار نوم زیدالله خان و دلته په بروکن هیل کې ډېر افغانان اوسېدل. دلته د Ghantown یا د Afghan Town (افغان ټاون په ګان تون بدل شوی دی) په نوم لوی کامپ و. دلته تجارت و، د اوښانو کاروانونه وو، جومات و او په دې کامپ کې پوره ګنه ګونه وه. زه لس کلنه وم چې زما پلار مړ شو. ډېر سخت بنیادم و، تل یې کار کاوه پنځه وخته لمونځ یې نه قضا کاوه او هر سحر یې قران لوست. ډېرې لږې خبرې یې کولې، ماته یې یوازې په ښار او کامپ کې د ګرځېدو اجازه نه راکوله. زما نیکه افغان و او د افغانستان څخه راغلی و. د ځینو اقتصادي، تجارتي، سیاسي او اجتماعي عواملو په وجه دغه لوی کامپ مات شو. افغانان تیت شول او د استرالیا نورو ځایونو ته ولاړل، مور دلته باتې شو او تراوسه په دې ښار کې بې هویته ژوند کوو. د افغانانو په حیث مو خپله ژبه او خپل کلتور بېخي له لاسه ورکړی دی.))

افغانان د ورځې په یوولس نیمو بجو د جومات څخه د ښار په منځ کې پروت لوی پارک ته راغلل، دری وغوړول شوه او ټولو په ملي جاموکې دایروي شکله جرګه جوړه کړه. د قران مجید تر تلاوت وروسته مجلس شروع شو او محترم حاجي حیدري (سدني) د مجلس د رییس او ښاغلو محمد معین باجوړي (ملبورن)، حاجي اقبال (سدني) او انجنیر عبدالقدوس ابراهیمي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ادلید) د جرګې د منشیانو په توګه وټاکل شول. محترم حاجي حیدري د دې تاریخي غونډې په اهدافو او اهمیت پوره رڼا واچوله او دغه غونډه یې د اسټرالیا د ټولو افغانانو لپاره نېکمرغه ګام وګڼله. د ده د وینا نه وروسته افغانانو په نوبت خبرې پیل کړې او هر یو خپل وړاندیز جرګې ته وړاندې کاوه او هر وړاندیز د بحث نه وروسته منظوربده او درې واړه منشیانو منظور شوی وړاندیز لیکه. د دې جرګې اوږد بحث او پیشنهادونه په لاندې ډول خلاصه کېدای شي:

اول: مونږ ټول په دې افتخار کوو چې د تاریخ په اوږدوکې افغانانو د بل هر قوم په تناسب د اسلام د خپرطدو او دفاع په لاره کې د هر چا څخه زیاتې سرښندنې کړې دي او بې مثاله قربانۍ یې ورکړې دي. همدا افغانان وو چې د مرکزي او جنوبي اسیا ډېر ولسونه یې د اسلام په مقدس دین مشرف کړي دي، مونږ ټول په دې تاریخي واقعیت ویاړ کوو چې زمونږ ویاړلو مشرانو په نولسمه پېړۍ کې استرالیا ته د اسلام مقدس دین راوړ افغانانو د بل هر قوم نه مخکې په دې خاوره کې اذان وکړ، د بل هر قوم نه مخکې یې په دې خاوره لوی خدای(ج) ته سجده کېښوده او د هر چا نه مخکې یې د استرالیا په پراخه ځمکه جوماتونه جوړل کړل.

دویم: دغه ایالتي انجمنونه به په خپلو ایالتونو کې د پخوانیو افغانانو درک معلوموي، ادرسونه به یې راټولوي او تماسونه به ورسره نیسي. دغه ایالتي انجمنونه به د اوسنیو راغلو افغانانو د مشکلاتو په باره کې د ایالتي حکومتونو له مسوولو مقاماتو سره تماسونه نیسي. د استرالیا د عمومي انجمن لپاره به ایالتي نماینده ګان ټاکي، د مرکزي انجمن له خوا د افغانانو ترمنځ د اتحاد پالیسي به عملي کوي او د هر کال د جولای د میاشتې په لومړنۍ هفته کې د دوست محمد خان په قبر باندې د غونډې سره به هر راز مرستې کوي او د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکزي انجمن په شـــمول به ټول ایالتي انجمنونه دغه غونډه د افغانانو د ملي مبلې په نوم نمانځي او دې ملي مبلې ته بـه پخواني افغانـان، د اســـترالیـا اوسېدونکي مسلمانان، استرالیایان او د استرالیا د حکومت مسوول اشخاص رابلل کېږي.

درېیم: د اسـترالیا د افغانانو د انجمن رسـمیت به مرکزي انجمن اخلي او دغه مرکزي انجمن به د ایالتي انجمنونو ترمنځ د رسـمیت او اقتصـادي مرسـتو په اخیســتوکې مرســته‌کوي. د مرکزي انجمن او د ایالتي انجمنونو ترمنځ دکار وېش او ارتباط په موضـــوع به د ایالتي نماینده‌ګانو تر ټاکلو وروســته خبرې کېږي.

دې جرګې رضـــیه د پخوانیو افغانانو د نماینده په توګه وټاکله. جرګه لا روانه وه چې دوه نجونې پارک ته راغلې او دواړه د افغانانو ترڅنګ کښناســـتلې. د یوې نوم دونا او د بلې نوم مریم شـمروز و. دواړه د رضـیې ورېږې وې. ژبه او لباس یې بدل وو، لیکن د دوی له خبرو څخه داســې څرګندېدله، لکه چې هم دا اوس یې د اوښـــانو کاروان پرېښـــودی وي او د غلزي بابا د لوی تیر څخه همدا اوس استرالیا ته رارسېدلې وي. هم هغه دکوچیو لوړ قد، هم هغه دکوچیو ښـکلې خبرې، هم هغه دکوچیو سـترګې، هم هغه دکوچیو زړورتیا او هم هغه د افغانانو کوچیو حیا، جومات او پارک ته د پخواني افغان خانزاده خان لمی هم راغله خو ډېر ژر ولاړه.

ټول افغانان له پارک څخه د مینندي پر لور روان شول. مینندي د بروکن هیل څخه یو ســـل او دولس کیلومتره لرې پروت دی د مـازیګر پر پنځو بجو راورسېدل او ټول افغانان د دوسـت محمد خان په قبر چې د مینندید وړوکي ښـار څخه یو کیلو متر باهر جوړ شـوی دی، راټول شـول. د دوسـت محمد

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان قبر د مينندي د ښـــاروالۍ له خوا په ۱۹۵۲م کال کې جوړ شـــوی دی، کتاره ترینه راچاپېره شوې ده او په سر باندې په ولاړه لوحه د هغه نوم، دهغه د مړینې نېټه او د قبر د جوړېدو تاریخ په انګلیسي ژبه لیکل شوی دی.

د هغه په قبر د قران مجید مبارک ایات تلاوت شـــو او د تلاوت نه وروســـته ښاغلي پاینده محمد بابکرخېل ده سبزي وویل: ((دوست محمد خان لومړی مســـلمان افغان دی چې د اســـترالیا په خاوره یې د لومړي ځل لپاره لوی خدای(ج) ته سجده ایښودې ده. دی شهید دی، دېر ځوان او د مسافرۍ په حالت کې مړی دی. دې شهید د یو سل او دېرش کلونو له تېرېدو وروسته د افغانستان د ټولو قومونو او سیمو خلک په خپل قبر راټول کړل. د ده په دې ځانله ځای کې پروت قبر په پټه خوله د دغه مســـلمان افغان د شـــهادت، شهادت ورکوي.))

د مازیکر په شـپږو بجو د افغانانو دغه تاریخي لومړۍ غونډه پایته ورسـېده او هر افغان د مړه دوست محمد خان خاطره ژوندۍ له ځان سره یوړه، دا به په راتلونکو کلونو کې معلومېږي چې ایـا افغـانـان بـه پـه راتلونکو کلونو کې د دوست محمد خان په قبر غونډې کوي او که نه؟

ایا د دوی فیصله نه ماتېدونکی تصمیم دی او که محض د خولې تشې خبرې؟

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو رول

دا لیکنه د (خپلواکي) مجلې د لومړي کال په (۱) ګڼه کې پر (۱۳۸۳ل) کال خپره شوې ده.

لومړۍ خبرې: په هرې ولسواکي ټولنې کې داسې مهمه موضوع چې د ملت د ژوند په مختلفه اړخونو اغیزه کوي، لومړی د دغې موضوع په چارو پوه اشخاص ټاکل کیږي، چې د موضوع په ټولو اړخونو فکر وکړي، وروسته موضوع د لیکنې په بڼه، یا د سیمینارونو او نورو وسایلو په واسطه د عمومي نظر غوښتنې لپاره د نظر خاوندانو او خلکو ته وړاندې کیږي. ځه وخت چې د موضوع په اړوند نظریې راټولې کړلای شي، بیا د قانون په شکل نفاذ مومي.

سره له دې چې په هېوادکې د سیاسي ګوندونو قانون رسماً نافذ شوی او د دې قانون له مخې د ډېرو ګوندونو وجود هم منل شوی دی، اما په دې مهمې موضوع کې چې د افغانانو د ژوند سره ژوړې اړیکې لري د افغان منورینو نظریو او د خلکو تجربو ته پوره ځای نه دی ورکړل شوی. باید چې د افغانانو د ځوکلنو تجربو او د افغاني ټولنې د ځانګړو خصوصیاتو له مخې د ګوندونو د قانون د نافذکېدو نه مخکې دا پوښتنې مطرح شوی وای چې:

الف: د افغانستان لپاره د ډېرو ګوندونو وجود ګټور دی او که د ځو لږو ګوندونو؟

ب: د ګوندونو د قانون د نافذکېدو ځنډېدلو ته ضرورت دی؟ او داسې نورې پوښتنې.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو ولسواکه ټولنو په پرتله په افغانستان کې د ګوندونو تاریخچه لنډه ده، بیا هم د دغې لنډې مودې په دوران کې افغانانو په خپل هېواد کې د مختلفو رژیمونو د ګوندونو سره پوره تجربه لري او د دغو تجربو له امله افغانان د ګوندونو په هکله مختلف نظر لري.

د افغانستان د مطالعاتو مرکز د هغو ټولو موضوعګانو سره چې د افغانستان د وجود او د افغانانو د ژوند سره مستقیمه رابطه لري په دقت څاري او د دغو موضوعګانو په اړه د نظر د خاوندانو نظریې معلوموي او بیا دوی نظریې افغانانو ته وړاندې کوي. په ټېرو څو ورځو کې د مطالعاتو مرکز د څو تنو هغو افغانانو سره چې هم د خپلې ټولنې په خصوصیاتو پوره پوه دي او هم د افغانستان په ټېرو تجربو، حال او راتلونکي باندې د نظر خاوندان دي د ګوندونو په اړوند لنډې مرکې کړي او د دغو مرکو څو ټکي د خلاصې په توګه وړاندې کېږي. البته دغو منورینو د خپلو نومونو د څرګندولو څخه ډډه کړې ده.

د دوی د نظر لنډیز: د افغاني ټولنې په اړوند د دوی نظر تقریباً ورته ټکي درلودل. د دغو مشابهه ټکو له مخې چې وایي: د نړۍ مختلفه سیاسي ټولنې ډېر مختلف او څه مشابهه ځانګړي خصوصیات لري، په واقعیت کې د هرې ټولنې سیاسي شعور د دغې ټولنې د ځانګړو تاریخي، اقتصادي، اجتماعي، کلتوري، تعلیمي او علمي او همدا شان د نورو پېچلو فکتورونو له امله په ځینو ټولنو کې سیاسي ګوندونه په شعوري لحاظ پرمختللي دي او د خپل هېواد د ((دولت)) او ((ملت)) لوړې سطحې ته رسېدلي دي. معکوس د ځینو وروسته پاتې هېوادونو سیاسي ګوندونه د دولت او ملت د پورته شعوري سطحې څخه د رهبرۍ د ځان غوښتنې، سیمه ییزې، ژبنۍ، ایډیالوژیکي، نژادي او یوازې د ګوند لپاره د هر ډول امتیاز د اخیستو ډېرې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښته سطحې ته راټيټ شوي دي. همدغه ځان غوښتنه او ځان ځاني اساسي عوامل دي چې د وروســـته پاتې هېوادونو کوندونو خپل دولتونه او ملتونه د هر ډول بدمرغيو او ستونزو سره مخامخ کړي دي.

د دوی د نظر يو لنديز:

په شــلمه پېړۍ کې د افغانســتان ســياســي کوندونه د افغاني ټولنې د ځانګړو خصـوصياتو، د نړيوالو جريانونو او د ځينو ګاونديو هېوادونو د روابطو په رڼا کې ژورې تحليلي څېړنې ته اړتيا لري او دا څرګندول غواړي چې د افغاني ټولنې د وروســته پاتې کېدو داخلي او خارجي عوامل څه دي؟ ايا په وروســته پاتې کېدو کې داخلي عوامل لوی رول لري او که خارجي او که خارجي او داخلي عواملو يو شان رول لوبولای دی؟

شلمې پېړۍ په افغانستان کې د مطلق العنانه او د بلون خوښوونکو شهزادګانو دورې ليدلې. ځينو مطلق العنانه شـهزادګانو او ورسـره تړل شـويو درباريانو، محافظه کارو او مذهبي علماوو او عنعنوي، قومي او محلي مشـرانو يا د خپلو سـياسـي، اقتصـادي، اجتماعي او مذهبي قدرت د سـاتلو په خاطر يا د افغاني ټولنې د محدوده عنعنوي روابطو له امله، يا د نړيوالو نويو ســـياســـي او اقتصادي جريانونو څخه د بې خبرۍ په وجه او يا د ځينو ګاونديو هېوادونو د فشار او مداخلو د مجبوريت په نتيجه کې په افغانستان کې د بدلون او سياسي پرمختګ په مقابل کې د مخالفت ســـخت دريځ غوره کړی دی. له بلې خوا هغه واکمن شـهزادګانو چې د منورينو د ګروپونو په مرتسـه په افغانستان کې په ارتقايي ډول د بدلون او سياسي پرمختګ لپاره هلې ځلې پيل کړي، دوی هم د افغاني ټولنې د محافظه کارو قشـــرونو او ګروپونو له لاســـه يا د باندنيو په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمســه په خپله د افغانانو له خوا د مخالفت او بغاوتونو ســره مخامخ شــوي دي.

وايي: ((هېڅ شـــی دومره واقعیت نه لري څومره چې بدلون په خپله یو منل شـــوی واقعیت دی.)) په افغانســـتان کې د بدلون پلویان د بدلون په نړیوال جریان پوهېدل او یو شـمېر کسـانو زیار ویسـت چې د افغاني ټولنه د نړیوال سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او علمي بدلونونو د بهیر سره ملګری کړي.

له بده مرغه محافظه کارانو په افغانســتان کې بدلون ته لار نه ورکوله او همدا شان د بدلون پلویانو نه د عنعنوي افغاني ټولنې علمي تحلیل او نه یې د ټولنې د عیني شـرایطو سـره سـم د بدلون لپاره هر اړخیزه سـتراتیژي او نه تاکتیکي ټاکلی پروګرام او پلان درلود. محافظه کارانو هر نوی بدلون غانده او د بدلون په پلویانو یې د کفر ټاپې لګولې او دوی یې د افغاني ټولنې د عنعنوي، مذهبي او تاریخي دودونو دښـمنان معرفي کول. له بلې خوا د بدلون پلویانو محافظه کاران د افغاني ټولنې د وروسـته پاتې کېدو اسـاسـي عاملین ګڼل چې په نتیجه کې د محافظه کارانو پر ضد مساله د افغاني ټولنې د ځینو منل شویو ارزښتونو پر ضـــد تر ســـرحده راورســـېده او په ټولنه کې د محافظه کارانو او بدلون غوښتونکو ترمنځ د افراط منفي بنسټ کېښودل شو.

سوړ جنګ په دوران کې لویدیز بلاک د محافظه کارانو او سوشلستي بلاک د چپ افراط تر شا ودرېدل. د ایډیالوژۍ او سوشلستي بلاک پالیسیو منطقي پیوند درلود.

شوروي اتحاد د ((مشر ورور)) دنده پر غاړه دلوده او کشران چپي ګوندونه دکریملن پورې تړل شـوي وو او د افغانسـتان د چپي ګوند (وروسـته دغه ګوند په ګوندونو او ګروپونو ووېشـل شـو) په شـمول د نړۍ یو شـمېر چپي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوندونو د کریملن څخه ایدیالوژیکي الهام، کوندي دستور او اقتصادي مرستې اخیستې او کشرانو په پټو سترګو د کریملن هر سیاسي دستور ته عملي بنه ورکوله. د لویدیز بلاک پالیسي او سیاسي روابط د دې زړې فارمولې پر اساس چې ((ستا د دښمن دښمن ستا دوست او ستا د دښمن دوست ستا دښمن دی)) روانه وه. لویدیز بلاک هغو ټولو کوندونو، کروپونو او اشخاصو ته چې د ازادۍ، دیموکراسۍ او ارتقایي پرمختګ لپاره یې هلې ځلې کولې، شاکره، د دوی پر ځای یې د محافظه کارانو ملاتړ ته ملا وتړله، د چپې افراط پر ضد یې ښې لاس افراط منځته راوړه او تقویه یې کړ، د ازادۍ، دیموکراسۍ او اعتدال یون یې له حده زیات ضعیف کړ. د دواړو بلاکونو له خوا سیاسي لوبه چپې او ښي افراط ته وسپارل شوه، چې په نتیجه کې ملي کوندونه، کروپونه او اشخاص د یې شمېره ستونزو سره مخامخ کړلای شول او لا تراوسه د ستونزو دغه اوږده پروسه په افغانستان کې روانه ده.

چپ افراط: لکه چې مخکې ورته لنډه اشاره وشوه د چپ افراط د ایدیالوژۍ، ملګرتیا او مالي مرستو مرکز معلوم و او کشرانو د مشر ورور سیاسي دستور په پټو سترګو عملي کاوه. کشرانو د مشر ورور دښمنان خپل دښمنان او دوستان یې خپل دوستان ګڼل. په افغانستان کې د کشر ورور سیاسي فعالیتونه د مشر ورور (شوروي اتحاد) د ملي ګټو په محور څرخېدل او کشر ورور ته د افغانستان د ملي ګټو د دفاع حق نه و ورکړل شوی. چې کوند د شوروي اتحاد په ماډل جوړ شوی و، د کوند جوړښت او فعالیت د احرام بنه درلوده، په مختلفه ولایتونو کې کوندي تشکیلاتو وجود لره، د کوند رهبري په کابل کې وه، مرکزي رهبرۍ خپل مختلفه تشکیلات لرل، د ټولو تشکیلاتو په سر کې د کوند عمومي سکرتر ولاړ و او په واقعیت کې هغه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګون ســـياســـي او ايډيالوژيکي واکمني پر غاړه لرله. ګوند د زنځير حيثيت درلود او د ګوند ټولې کړۍ له پورته څخه اداره کېدلې.

سوشلستي ايډيالوژي ، کارګري ديکتاتوري، طبقاتي مبارزه، د شوروي اتحاد ســـره دوســـتي، انقلابي بدلون، د ګوند رهبرۍ ته وفاداري او د نشـــنلزم، فيوډاليزم، شونيزم، امپرياليزم، ارتجاع او داسې نور شعارونه د ګوند شعارونه وو. د دې پوچو شـــعارونو د مخالفت په تور ډېر افغانان ونيول شـــول، مړه شول، د خپل هېواد څخه وشړل شول او د پرديو هېوادونو پنجو ته وسپارل شول. له بده مرغه ډېر شمېر افغانان د طبقاتي دښمنانو په تور د ايډيالوژۍ د خيالي رب النوع په پښو کې حلال شول او برعکس د ((مشر ورور)) په پښو کې د ګلونو ګډې ايښودل کېدلې.

بنـــي افراط: د خپلو ځانګړو تاريخي او عنعنوي خصـــوصـــياتو او شـــرايطو له امله افغانســـتان يوه مســـلمانه ټولنه ده او دې ټولنې د هند، مرکزي اســـيا او ايراني ټولنو غوندې د نورو مذهبونو پر ضـــد مذهبي مخالفت او رقابت نه درولد او په افغاني مســـلمانه ټولنه کې د ټولو ګاونديو اســـلامي ټولنو په پرتله مذهبي افراط، تعصب، کرکه او دښمني د نشت تر حده لږه وه، دلته سونيانو، اهل تشـــيع او نورو مذهبي ګروپونو او افرادو د ســـولې په فضـــا کې ګډ ژوند کاوه.

محافظه کار قشـــر د افغاني ټولنې د ځانګړو تاريخي خصـــوصـــيات په چوکاټ کې دننه په ټولنه کې اجتماعي، سياسي او مذهبي نفوذ درلود، لاکن دې قشـــر د افغاني ټولنې د اجتماعي جوړښـــت په بنســـټ ولاړ د مســـاوات طلبه اجتماعي روحي او روابطو پر ضـــد د افراط څخه کار نه شـــو اخيســـتلای، په افغاني ټولنه کې بنـــي افراط په ډيموکراســـۍ د دورې څخه شـــروع کېږي او په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کې د شوروي اتحاد له خوا د چپې افراطي ګوند د بنسټ ایښودو سره جوخت بڼې لاسی ګوند منځته راغی او دي.

ګوند هم د چپې افراطي ګوند غوندې د افغانانو د ټولنې د واقعي خصوصیاتو پر ځای په باندنیو هېوادونو اتکاء وکړه او د ځینو باندنیو اسلامي هېوادونو د مذهبي ګوندونو څخه يې ایډیالوژیکي نظریه واخیسته او د باندنیو هېوادونو مالي او سیاسي مرستې يې ترلاسه کړې. د افغانانو له بده مرغه د سوشلستي بلاک له خوا چې افراط او لویدیز او ځینې اسلامي هېوادونو د مذهبي ګوندونو او د وهابي مذهب د پیروانو له خوا بنسي لاسی افراط ورځ پر ورځ تقویه کېده. د دواړو بلاکونو د ملاتړ له امله افغانستان د چپ او بنسي لاسي افراط د ټیمونو د سیاسي بزکشۍ میدان شو او دواړو ټیمونو د خپلو باندنیو پلویانو (لویدیز بلاک او سوشلستي بلاک) د مالي، ایډیالوژیکي، سیاسي او ګوندي ملاتړ په اتکاء په افغانستان کې د سیاسي تسلط لپاره د بزکشۍ لوبه شروع کړه او په نتیجه کې د کال ۱۹۸۷ د سرطان په میاشت کې د شوروي اتحاد د بزکشۍ ټیم بریالی شو. د ثور د کودتا او شوروي اتحاد د یرغل پر ضد لویدیز بلاک د پاکستان، سعودي عربستان او ځینو اسلامي هېوادونو په همکارۍ اوه ګوندونه جوړ کړل چې ددغه وخت په اصطلاح څلور افراطي او دري اعتدال خوښوونکي ګوندونه ګډل کېدل. ایران هم خپل افراطي ګروپونه درلودل. لویدیز بلاک، ګاونډیانو او ځینو عربي او اسلامي هېوادونو د ملي ګوندونو پر ځای او د معتدله ګوندونو په تناسب بنسي لاسي افراطي ګوندونه او ګروپونه تقویه کول. دوی ته يې پرېمانه اقتصادي او نظامي مرستې ورکولې، نړیوالې ټولنې ته يې په رسمیت وروپېژندل، په بله وینا د افغانستان خلک يې دوی ته د یرغمل په توګه وروسپارل.

د افراط خصوصیات:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ظاهر کې ښې او چې افراط دوه جلا عملیې ښکاري اما د سیاسي علومو د فارمولې له مخې دواړه افراط یو شان کلمه خصوصیات لري او د دغو خصوصیاتو له مخې یو شان عمل کوي او د یو شان عمل په وجه دواړه افراط د یوې سیکې دوه مخونه ګڼل کېږي. دواړه خپلې مشخصې ایډیالوژۍ، مشخص سیاسي ګوندونه، باندني روابط او ملاتړ لري او د ګوندونو په سر کې ولاړ امیر یا عمومي سکرتر ته اطاعت او وفاداري لومړی شرط دی. د ګوند ټول ارګانونه د پورته نه کښته اداره کېږي. د ګوندي ډسپلین پر اساس ټول کښته ارګانونه د پورته ارګانونو او په مشخص ډول ((د لاربنود)) او امر په پټو سترګو منل کېږي او عملي بڼه ورکول کېږي. ټول امتیازات یوازې د ګوند غړو ته ورکول کېږي. د ګوند د غړو نه غیر نور ټول هېوادوال د خپل هېواد به چارو کې د برخې اخیستو څخه محرومېږي او د مخالف ګوند او ګروپونو او حتی د اشخاصو د مرګ ژوبلې، تهدید او سپکاوي څخه ډډه نه کوي. افراطي ګوند ترپایه زیار باسي چې د هېواد سیاسي واګې په خپل لاس کې وساتي او د مشرتابه نه نیولې د ګوند هر غړی په دې واقعیت پوهېږي چې سیاسي قدرت د بایللو سره یوځای دغه ګوند اقتصادي او نظامي قدرت هم له لاسه ورکوي او د مشرتابه نه نیولې د ګوند هر غړی د خلکو د محاکمې سره مخامخ کېږي او له دوی څخه د ټولو داخلي جرایمو، خارجي ارتباطاتو او د خارج څخه د ورکړل شویو مالي مرستو پوښتنې کېږي. د افراط په اړوند د سیاسي علومو یو نامتو پوهاند وایي: ((څوک چې په توره ژوندکوي هغه په توره له منځه ځي)). افغانانو په خپل هېواد کې د افراط د عملیو پیل او پای په خپلو سترګو لیدلي، په خپل وجود باندې د تجربو څخه پوره خبر دي او اوس هم د افراط د بقا یا د ماضي او حال څخه په بنسټیزه توګه هم خبر دی او په اینده کې هم د دغې افراطي بقایا د منفي رول په اړوند ډېر شکونه لري.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی د نظریو لنډیز:

دلته د نظر د خاوندانو نظریې په ډېره لنډه توګه وړاندې کېږي.

وایي: تېرو تجربو عملي ښودلې ده چې افغاني ګوندونو هېڅکله د افغانستان د ملي ګټو او د یو واحد ملت په اړوند فکر نه دی کړی، دوی تل د ګوند د مشرتابه، د ګوند په ایډیالوژۍ او د خپل ګوند په سیاسي، اقتصادي او نظامي قدرت مین پاتې شوي او د ګوند له محدودې سطحې څخه د افغانستان د دولت او د ملت سطحې ته نه دي پورته شوي. دې افراطي ګوندونو هېڅکله په افغانستان کې د شهري په باره فکر نه دی کړی او په دې نه پوهېږي چې افغانستان د ټولو هېوادوالو کلډکور دی او کار به اهل کار ته سپارل کېږي. په عمل کې یې اثبات کړې چې دوی ټول امتیازات د ځانونو لپاره غواړي او د افغانستان نور ټول شهریان یې تل محروم ساتلي دي.

د دې افراطي ډلو له لاسه افغاني ټولنه په ایډیالوژیکي، سیاسي، اتنیکي او سیمه ییز لحاظ ټوټې ټوټې شوې ده او په اوسنیو شرایطو کې به د ډېرو ګوندونو موجودیت دغه ټوټې ټولنه لاپسې ټوټې ټوټې کړي. د افغانستان د چارو د دې پوهانو په نظر باید چې تر یو وخته د ګوندونو موضوع ځنډول شوې وای، تر څو چې افغانان د دولت او ملت په لوړو مفاهیمو پوه کړای شوي وای. د دې نظریې پلویان د ډېرو ګوندونو د وجود او د افراط د بقایا په باره کې شکونه لري او دوی د رحمان بابا د دې شعر په مصداق چې:

هر څه ولاړ شي عادت نه ځي له سړي نه

خدای دې نه کاندي په بدو چارو سر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک د افراطي ګوندونو د بقايا او د ډېرو ګوندونو د وجود په هکله خوشبين نه دي.

د دويم نظر پلويان په دې عقيده دي چې اوس په افغانستان کې د ګوندونو قانون نافذ شوی او افغانان د انجام شوي عمل سره مخامخ دي. د دوی په نظر ډيموکراسي د ګوندونو د وجود نه غير نه چلېږي او د کال ۱۹٦٤ اساسي قانون يې بنه بېلګه ده. اساسي قانون نافذ شو اما د ګوندونو قانون وځنډول شو او د دغه ځنډ د خلا څخه چپ او شي افراط ګټه واخيسته. دغو دواړو غير قانوني ګوندونو دغه قانوني خلا ډکه کړه او د دغه افراطي ګوندونو له لاسه افغانستان تباه شو او افغانان د يوې اوږدې غميزې سره مخامخ کړلای شو، چې اوس هم دوام لري. د دوی په نظر ګوندونه د خلکو لپاره د سياسي مکتب حيثيت لري د هر ګوند غړی خلکو ته ځي او خلکو ته د خپلو ګوندونو خارجي او داخلي سياسي نظر او د هېواد اقتصادي او اجتماعي پروګرامونه وړاندې کوي. خلک د هر ګوند پروګرامونه اوري، فکر وربانديې کوي او بيا په خپله خوښه هغه ګوند ته رايې ورکوي، د کوم ګوند پروګرام چې د هغوی خوښ وي. د دې نظر پلويانو په وينا په اوسنيو شرايطو کې د افغانانو اکثريت بې سواده دی، ګوندونه ډېرې نيمګړتياوې لري اما د تېرو رژيمونو د افراطي حکومتونو څخه خلکو دا تجربه ترلاسه کړې ده چې په افغانستان کې د ګوندي ډيموکراسي سربېره بله لار نه شته او د وخت په تېرېدو به ډيموکراسي د افغانانو سياسي شعور دومره پياوړی کړي چې دوی به په خپله د ملي او سيمه ييزو او اتنيکي ګوندونو ترمنځ توپير وکړلای شي.

د درېيم نظر پلويان د افغاني ټولنې د خصوصياتو په ارتباط او د ګوندونو د ترخو تجربو له امله دومره بدبين دي، چې دوی په افغانستان کې ګوندي ديموکراسي نه غواړي. وايي چې د لويديز د ټولنو او افغاني ټولنې ترمنځ له

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

حده زیات توپیر وجود لري، ډیموکراسي یو بوټی نه دی چې د لویدیز څخه دې راوړل شي او په افغانستان کې دې نهال شي، افغاني ټولنه د ډیموکراسي لپاره د جرګو بهترین میکانیزم لري او دغه میکانیزم د افغاني ټولنې د ډیموکراسي اساسي بنسټ دی، که د کلیو نه نیولې تر مرکز پورې د جرګو میکانیزم منظم او فعاله کړلای شي، دا به په افغاني ټولنه کې د ډیموکراسي پر لور ډېر موثره او عملي ګام وي.

یادونه:

زمونږ په اند دا د افغاني منورینو او د نظر د خاوندانو ملي دنده ده چې په افغانستان کې د سیاسي–مذهبي ګوندونو په رول تحقیقي لیکنې وکړي او دغه لیکنې د نشر لپاره د خپلواکې مجلې ته راولېږي، هیله ده چې دغه تحقیقاتي لیکنې به اکاډمیکې او تحقیقي وي، د قلم عفت به په کې ساتل شوی وي، ځکه چې علمي او تحقیقي لیکنې نه د چا په خدمت کې وي او نه د چا په مخالفت کې او ټوله لیکنه د اکاډمیک تحقیق او د واقعیتونو پر بنسټ ولاړه وي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغاني ټولنه، ارزښتونه او د جرګې موسسه

دا ليکنه د (خپلواکي) مجلې د دويم کال په (۳–٤) مې ګڼه کې پر (۱۳۷٤ل) کال خپره شوې ده.

لومړنۍ خبرې:

هره ټولنه ډېر متلونه او پخې خبرې لري، خو له هغو څخه ځينې د پخو خبرو مقام ته رسېږي او لږ پخې خبرې هم د متلونو بڼه غوره کوي. هغه متلونه او پخې خبرې چې د ژوند پر واقعيتونو ولاړې وي، ژوندۍ پاتې کېږي او د يوې مشخصې ټولنې له يو نسل څخه بل نسل ته د کلتوري ميراث په توګه انتقال مومي. افغاني ټولنه هم ډېرې پخې خبرې او ډېر متلونه لري او د دې مضمون پيل هم له يو متل څخه کوم. لکه چې وايي: ((څوک چې ځان نه پېژني هغه جهان هم نه پېژني)). په ظاهره خو دا يو ساده او تکرار شوی متل برېښي، اما په واقعيت کې دا ساده او تکرار شوی متل د ژوند پر واقعيت ولاړ دی او د افغاني ټولنې د بېګانه ګۍ له احساس سره ژور اړيکي او ژور مفهوم لري. که چېرې له ((ځان)) څخه افغان ټولنه او له ((جهان)) څخه نورې ټولنې قياس کړو نو بيا موږ له خپلو ځانونو څخه دا پوښتنې کولای شو، چې ايا موږ افغانانو لومړی ځان پېژندلی دی اوکه جهان؟ ايا موږ په خپله ځان پېژني اوکه د نورو له عينکو څخه ځان ته ګورو؟ د متل د مفهوم له مخې لومړی ځان پېژندل کېږي او وروسته جهان. ليکن زموږ د ټولنې په ارتباط د دغه متل مفهوم سرچپه غوندې ښکاري، ځکه چې موږ د ځان له پېژندنې څخه مخکې د جهان د پېژندنې په باره کې هڅې کړي او په خپله د ځان د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندلو پر ځای خپل ځان د نورو له عینکو څخه ګورو او د پردیو د فارمولو پر اساس ژوند کول غواړو.

د روانې بېګانه ګۍ د پروسې عوامل هم زیات او هم پېچلي دي او اوږد بحث ته ضرورت لري. په لنډ ډول له دې سره چې پروسې څخه د زېږېدلې بېګانه ګۍ د احساس په باره کې د یو شمېر پوهانو نظریې په لاندې توګه خلاصه کېدای شي:

۱- په افغاني ټولنه کې د بېګانه ګۍ احساس د دې هېواد له جغرافیایي موقعیت او تاریخي تکامل څخه سرچینه اخلي.

۲- د دې هېواد سیاسي رژیمونو په افغانانو کې د بېګانه ګۍ احساس منځته راوړی او پیاوړی کړی دی.

۳- په افغانستان کې مختلف قامونه په مختلفو سیمو کې ژوند کوي او دغه قامونه تراوسه د ملي شعور لوړې پوړۍ ته نه دي رسېدلي او تراوسه هر قام ته خپله سیمه وطن او خپل قام ملت ښکاري.

٤- افغاني ټولنه د رووسته پاتې نابرابره اقتصادي ژوند له کړاوونو سره مخامخ و او دغو کړاوونو د افغانانو د بېګانه ګۍ په احساس کې لوی رول درلود.

٥- د دې ټولنې اقتصادي، سیاسي، اجتماعي او کلتوري موسسو پوره وده نه وه کړې او د دغو موسسو نشتوالي یا لږې ودې د بېګانه ګۍ احساس پیاوړی ساته.

٦- د بېګانه ګۍ احساس د افغاني ټولنې له بې سوادۍ سره ژورې اړیکي لري، د بېګانه ګۍ احساس د دې ټولنې د بې سوادۍ زېږنده ده.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷– په تعلیمي نصاب کې لویه خلا موجوده وه. د دغه نصاب له مخې افغان محصـــل د نورو ټولنو د ژوند په مختلفو اړخونو پوهېده، اما هغه د افغاني ټولنې په برخه کې بېخي ګونګ و. د دې هېواد تعلیمي نصاب د بېګانه ګۍ د احساس د راپیداکېدو او خپرېدو اساسي عامل و.

۸– د بنار اوکلیوال ژوند ترمنځ له حده زیات توپیر موجود و. په ظاهره خو دکابل بنـار د افغانســتان د پایتخت په لحاظ د ټولو افغانانو دکلتور نماینده ګي پر غاړه درولوده، اما په واقعیت کې کابل په افغانســتان کې د یوې جلا جزیرې حیثیت درلود. دکابل بنـار د ټولو امتیازونو او نور افغانسـتان د ټولو محرومیتونو مرکزونه وو او د دې بنـار سیاسي سیسـتم له کابل څخه د اروپا او له نورو افغانســتان څخه د افریقا مادلونه جوړ کړي وو. د پایتخت بېګانه ګي په افغانانو کې د بېګانه ګۍ افراطي احساس منځته راوړ.

۹– د ځینو په نظر افغانستان ته څېرمه پراته نور هېوادونه، بین المللي شرایط او خارجي ایډیالوژیګاني د بېګانه ګۍ د احساس اساسي عوامل دي او داسې نور.

سره له دې چې د بېګانه ګۍ د احساس په روانه عملیه څه ناڅه خبرې شوې دي او ځینو څېړونکو د ځینو عواملو په تناســب په ځینو مشــخصــو عواملو ټینګار هم کړی دی، لیکن بیا هم زموږ د ټولنې په اړوند دغه ټول عوامل له یو بل څخه نه جلاکېدونکي ریښـې لري او د دغو پېچلو عواملو په نتیجه کې د بېګانه ګۍ احســـاس منځته راغلی دی او اوس د ټولنې په بې تعلیمه او تعلیمیافته دواړو قشـرونو کې یو شـان لیدل کېږي. د بېګانه ګۍ د احسـاس په ټولو اړخونو کړېـدل او د دغو پېچلو عواملو د خپلمنځي اړیکو تحلیلول

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوږده موضوع ده، شاید چې په دې مضمون کې د موضوع په ارتباط ځینو عواملو ته ځای پر ځای لنډه اشاره وشي.

د تاریخ په اوږدو کې ډېر خارجي لیکوال او سیلانیان د افغانستان سیمې ته راغلي او د دې سیمې په قامونو، نژادونو او د دوی د ژوند په مختلفو اړخونو یې لیکنې هم کړي دي. د دغو لیکنو لږه برخه د دې سیمې د ولسونو د ژوند واقعي یا واقعیت ته نږدې عکاسي کوي او ډېره برخه یې د لیکوالو د لږو معلوماتو یا د قیاس، یا د تقلید او یا د سیاسي او مذهبي تعصب له مخې شوې ده او هم دې لیکوالو د خپلو ناسمو ارزیابیو په وجه په افغانانو کې د بېګانه ګۍ احساس راپیدا کړی دی. ځرګند مثال یې بني اسرائیلو ته د افغانانو منسوبول دي.

دلته د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې د افغانانو، غرب او د شوروي اتحاد د لیکوالو په لیکدود او د هغوی په میتو لنډې خبرې کېږي.

لویدیز لیکوال:

انګرېزانو د خپلو ځېرونکو، ډېپلوماتانو، نظامي پرسونل، سیلانیانو، جاسوسانو او محلي راپورچیانو په وسیله د افغاني ټولنې په باره کې پراخه څېړنې کړې دي، چې تراوسه د لویدیزې نړۍ د نورو هېوادونو لیکوال د هغوی په اثارو اتکا کوي او د باوري ماخذونو په توګه ورځنې استفاده کوي. د انګرېزانو لیکنې په مختلفو مرحلو پورې اړه لري. په لومړۍ مرحله کې هغه اثار منځته راغلي دي چې د هند په نیمه وچه د انګرېزانو اداري او سیاسي پولې افغانستان ته نه وې رارسېدلې او د افغانانو او انګرېزانو ترمنځ جګړې نه وې شوې. په دې مرحله کې انګرېزانو په واقعي بنه د افاني ټولنې د پېژندګلو هڅې کولې او د دوی د لیکوالو میتود هم په واقعیتونو ولاړ و او د افغاني

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې د ځانګړو خصوصیاتو په باره کې یې سمه ارزیابي کوله. د دې اثارو له جملط څخه په ۱۸۰۸م کال کې به پېښـــور کې د شـــاه شـــجاع دربار ته د الفنستون په مشرۍ د برېتانیې د ختیز هند د کمپنۍ د هیئت راتګ او وروسته د افغاني ټولنې په مختلفو اړخونو کتاب لیکل یې ښه مثال دی.

په ۱۸۳۹م انګرېزانو پر افغانســتان یرغل وکړ او د لومړۍ افغان–انګلیســي جګړې نه وروسته د افغانانو په باره کې د انګرېزانو د لیک میتود هم بدل شو او د خپلو سیاسي اهدافو لپاره یې د افغاني ټولنې منفي ارژیابۍ ته ملا وتړله. دغو منفي ارزیابۍ اغېزه له ورایه ښـــکاري. د مثال په توګه وایي: په افغان اعتمادکول ډېر ګران کار دی. یو افغان به دې ډېر نږدې دوســـت یا وفادار نوکر وي، خو کله چې ستا او د دغه افغان د قام ترمنځ شخړه پیدا شي، نو بیا دغه افغان نه ســتا دوســتۍ ته ګوري او نه وفا داري ته او ســبا ته دې د ســر دښـمن دی: ډېر پاکســتانیان هم د افغانانو په باره کې دغه مثال درته وایي. اما هغوی په دې نه پوهېږي چې د دوو ارزښـــتونو د ټکر په حالت کې یو افغان کوم ارزښـت ته ترجیح ورکوي. په دې کې هېڅ شـک نه شـته چې یو افغان د بل هر قام د وګړي په تناســب د دوســتۍ او وفادارۍ په ارزښـــت ډېر ښـــه پوهېږي او داســې ډېرې کیســې شـته چې افغان د خپل دوسـت او بادار لپاره ډېرې قربانۍ ورکړي دي، اما یو افغان په دې هم پوهېږي چې د هغه وجود او هویت د قام له وجود او هویت څخه جلا هېڅ اهمیت نه لري او څه وخت چې د افغان د شـخصي دوستۍ او وفاداري او د هغه د قام د وجود او هویت ترمنځ ټکر پیداکېږي، نو بیا هغه د خپل ځان پر ځای د قام په ننګ ودرېدو ته وردانګي.

د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې د لویدیزو هېوادونو یو شمېر ټولنپوهانو (سوشیالوجستانو) وګړو پوهان (انتروپالوجستان) ارکیالوجستان، تاریخ پوهان

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د اجتماعي علومو مختلف څېړونکي افغانستان ته راغلل او دوی د هېواد په مختلفو سیمو کې یې څېړنې وکړې. د دوی د څېړنو میتود علمي و او د افغاني ټولنې په مختلفو اړخونو یې علمي تبصرې او تحلیلونه کړي دي، خو بیا هم دوی خارجیان وو؛ په خارج کې روزل شوي وو او د هر خارجي لپاره دا یو مشکل کار دی چې هغه دې د افغاني ټولنې په اجتماعي جوړښت، اجتماعي اړیکو او اجتماعي روحیاتو پوره پوه شي او یا دې د دې ټولنې د پېچلو ارزښتونو، کودونو او عنعنو احساس داسې وکړي، لکه څنګه چې یو افغان یې کولای شي.

افغان لیکوال:

په افغاني ټولنه کې یو مشخص سیاسي سیستم تسلط درلود او د دې سیستم پر اساس ځینې نامتو پوهان په دربار پورې تړل شوي وو او هغوی محض د دربار په حکم لیکنې کولې. تر دغه سیستم لاندې زمونږ مشران لیکوال مکلف وو چې د دربار په ګټه او طرفداري لیکنې وکړي او یا داسې لیکنې وکړي چې اقلاً د سرکار قهر را ونه توروي. دېرې لیکنې عندي بنې لري. یا لیکوالو افغاني ټولنه او د دې ټولنې سیاسي سیستم دومره ستایلی دی چې د دوی د لیکنو له مخې په افغاني ټولنه او د دې ټولنې پر سیاسي سیستم د سر د ویښته هومره عیب هم نه شته او ځینو داسې خپله ټولنه او سیاسي سیستم ټکولای دی چې هر ښه اړخ یې هم بد معرفي کړی دی.

د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې زمونږ د مشرانو پوهانو او لیکوالو یوې برخې د افغانستان د مختلفو قامونو د شجرو، ژبو، تاریخ او ادبیاتو څېړنې کړي او یا یې د نورو ژبو اثار ترجمه کړي دي. دوی په خپلو رشتوکې د قدر وړ زیار ایستلی دی او هر یو له خپل استعداد او وس سره سم ګټور مواد د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابونو، رسالو او مضمونونو په شکل ملي او بين المللي ټولنو ته وړاندې کړي دي. په دوی کې د ځينو پوهانو علمي څېړنې د معاصر علمي ميتود پر اساس شوي دي او ځينو محض مواد راټول کړي او د علمي ميتود نه غير يې د خپلې خوښې او ناخوښې له مخې د موضوع په اړون محض عندي تحليلونه کړي دي.

د نورو علومو په تناسب ټولنپوهنه، وګړپوهنه، معاصر اقتصاد او اجتماعي روحيات نوي علوم ګڼل کېږي او د دې علومو د ميتودونو پر اساس د مختلفو ټولنو د ژوند څېړنو رواج هم وروسته منځته راغلی دی. له همدې امله زموږ د مشرانو ليکوالو په څېړنو کې داسې اثار چې هغوی دې په کې د سوشيالوجي، انتروپالوجي، معاصر اقتصاد، اجتماعي روحياتو او د نورو معاصرو علومو د ميتودونو پر اساس د افغاني ټولنې هر اړخيز علمي تحليلونه کړي وي، د نشت برابر دي.

د زده کړې او روزنې د انکشافي پروګرامونو پر اساس يو شمېر ځوان افغانان د لوړو زده کړو لپاره لويديزو هېوادونو ته ولېږل شول او ځينو د سوشيالوجي، انتروپالوجي، معاصر اقتصاد او نورو اجتماعي علومو په څانګو کې د لوړو شهادتنامو سره خپل هېواد ته راغلل او له دوی څخه ځينو د دموکراسۍ د دورې د پيل نه د ثور ترکودتا پورې د افغاني ټولنې به مختلفو اړخونو ابتدايي څېړنې شروع کړې او د خارجي علماوو پر ځای يې د خپلې ټولنې په ظاهره ساده اما په واقعيت کې د پېچلي اجتماعي جوړښت، اجتماعي روابطو، اجتماعي فعاليتونو، اجتماعي روحياتو، ارزښتونو، کودونو، نورمونو او عنعنو څېړنو ته ملا وتړله. له بلې خوا د جمهوريت په دوره کې د افغان ځوان نسل د بېګانګۍ احساس ته پاملرنه وشوه او د دې دورې مسوولو اشخاصو ځينو افغان پوهانو ته ((د افغانستان پېژندنې)) په نوم د کتاب د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک وظیفه ورکړه او ټینګار یې وکړ چې دغه کتاب به د افغانستان په پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په نورو موسسو کې د زده کړې د نصاب د یوې مهمې برخې په حیث تدریس کېږي. د کتاب د لیک او تدریس په پروګرام لاس پورې شوی و، چې د غویي کودتا هر څه په ښکر ووهل او د بېګانه ګۍ د احساس د مخنیوي پر ځای یې ټول هېواد د بېګانه وو په لاس کې ورکړ.

شوروي لیکوال:

د کمونستي بلاک او په مشخص ډول د شوروي اتحاد څېړونکو او لیکوالو د هرې ټولنې څېړنه د ایډیالوژۍ او ګوندي فارمولو پر اساس کوله او د ټولو ټولنو لپاره یې یو شان افاقي فارمولې استعمالولې. دوی له ورکړل شویو فارمولو څخه د انحراف اجازه نه درلوده او شوروي لیکوالو نه شوکولای چې د یوې ټولنې د مشخصو واقعیتونو د څېړنو په نتیجه کې دې کمونستي ایډیالوژي او یا ګوندي اهداف د تضاد سره مخامخ کړي. د افاقي کمونستي فارمولې له مخې هره ټولنه د تولیدي وسایلو او اقتصادي پرمختګ له امله د یوې مرحلې نه بلې مرحلې ته تېرېږي او د هرې مرحلې مشخص زېربنایی بدلون د دغې ټولنې سربنایي، اقتصادي، سیاسي، اجتماعي او کلتوري روابطو ته تغییر ورکوي او دغه ټولنه پرمخ ځي.

د دوی په نظر د کار د ساده تولیدي وسایلو په وجه لومړی کمیون یا ابتدایي ټولنه منځته راځي او په دې دوره کې د تولید وسایل او تولیدي منابع ګډ ملکیت ګڼل کېږي. د غلامۍ په دوره کې د غلامانو د کار له امله د تولید وسایل او ورسره اقتصادي تولید انکشاف کوي او په دې مرحله کې ټولنه په پورته او کښته طبقه وېشل کېږي او د بادار او غلام پورته او کښته طبقې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړېږي او د اسـتثمارکوونکي او اسـتثمار شـوي يا د پورته اوکښـته طبقو ترمنځ مبارزه پيلېږي. په فيوډالي دوره کې د زمکې لرونکي فيوډال او بزګرو ترمنځ طبقاتي روابط او مبارزه لا پسې زياتېږي او د سرمايه داري په دوره کې د سـرمايه دارو اوکارګرې طبقې ترمنځ د اسـتثمار عمليه او مبارزه شـدت مومي، چې په نتيجه کې د سـرمايه دارو اسـتثمارګره طبقه ماتې خوري او د دې طبقې تر ماتې وروسته سوشلستي دوره شروع کېږي چې په دې دوره کې د دولت طبقاتي ماشين دکارګرې طبقې نماينده ګوند ته په لاس ورځي او د دولت د ماشين په واسطه پورته طبقه او د دې طبقې ټولې بقايا ټکوي او په دې مرحله کې د ټولنې ټول توليدي وسـايل د ګوند او له ګوند څخه د جوړ شـوي دولت په لاس کې پرېوزي، خصـوصـي ملکيت له منځه ځي. د ټولنې غړي وګړي اد خپل اسـتعداد اوکار په مقابل کې اجوره اخلي او هم په دې دوره کې بې طبقې کمونستي دورې ته لار اوارېږي چې په بې طبقې کمونستي مرحله کې په ټولو توليدي وسـايلو او زېرمو ګډ ملکيت عمليه شـروع کېږي او هر څوک د خپل ضـرورت له مخې اجوره اخلي او په پای کې د دولت طبقاتي ماشين د څرخې او نورو زړو شيانو سره يوځای په موزيم کې ايښودل کېږي.

د شوروي اتحاد پوهانو د دغې افاقي فارمولې په چوکاټ کې د افغاني ټولنې د تـاريخ تکـامـل پـه بـاره کې يو لړ څېړنې کړې دي او د دوی د دغې افـاقي فارمولې له مخې افغاني ټولنې هم د نړۍ د نورو ټولنو په شـان له کميون څخه د غلامۍ دورې ته او د غلامۍ له دورې څخه د فيوډالۍ دورې ته رارسـېدلې ده. (د کميون او غلامۍ د دورو لـه بحـث څخـه تېرېږو او دلتـه يوازې د فيوډالۍ پر موضوع ډېر لنډ ګړېږو) سره له دې چې معاصرو نامتو ټولنپوهانو، وګړپوهانو (بشـر شـناسـو) تاريخ پوهانو، اقتصـاد پوهانو او د سـياسـي علومو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهانو د کارل مارکس او د هغه د پیروانو له خوا د تکامل په ټوله نظریه او په مشخص ډول د د فیوډالیزم د تکامل او تحلیل په ډېرو اړخونو مستند علمي انتقادونه کړي دي او دغه افاقي تحلیلونه يې ناقص ګڼلي دي، که بیا هم موږ د دغو انتقادونو او نیمګړتیاوو باوجود د لویدیزې نړۍ د فیوډالیزم په باره کې د مارکس او د هغه د پیروانو نظر او تحلیل صحیح هم وګڼو، سره له دې هم د لویدیزې نړۍ د فیوډالۍ دورې او د افغاني ټولنې د مشخصاتو ترمنځ لوی توپیر شته. لویدیزو ټولنو د خپلو مشخصو جغرافیایي، اقلیمي، اقتصادي، تاریخي او مذهبي، اجتماعي، کلتوري او سیاسي شرایطو پر اساس تکامل کړی دی او د فیوډالۍ دورې ته رارسېدلي دي. د دې لویې وچې زراعت په بارانونو کېږي، عیوسي مذهب لري او دغه مذهب په یو وخت کې له یوې بنسټې سره د نکاح اجازه ورکوي، فیوډال په خپله سیمه کې د سیاسي، اقتصادي، قانوني او اداري چارو خپلواکي درلوده، هغه د پاچا مشاور او د جګړو په دوران کې د پاچا په طرفداری د خپلې سیمې د ولس سرلښکر و. د فیوډال زمکه یا جاګیر نه وېشل کېده او دغه جاګیر د کورنۍ له یو غړي څخه بل غړي ته انتقالېده او په ځینو ټولنو کې بزګران هم خصوصي ملکیت ګڼل کېدل، په زمکې پورې تړل شوي وو او د جاګیر له خرڅلاو او انتقال سره جوخت يې نوي فیوډال د ملکیت بنه غوره کوله. په لویدیزو ټولنو کې شخصي او خصوصي ملکیت ته قانوني تحفظ ورکړل شوی و او د پاچا په شمول هېڅوا د بل جایداد او ملکیت به زور نه شو اخیستلای.

برعکس افغاني ټولنه په مرکزي اسیا کې پرته ده او د دې هېواد په سلو کې اته اتیا برخه غرونو او شاړو دښتو نیولې ده او په سلو کې دولسمه برخه يې د زراعت وړ ده. د دې زراعتي زمکې لویه برخه د لویو او وړو ویالو په واسطه اوبه کېږي. د ثور تر کودتا مخکې د ټولنې د اقتصادي ژوند ډېره برخه په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

زراعت او مالداری ولاړه وه او د دغه اقتصـــاد تر څنګه د ســـرمایه داری د اقتصـاد پروسـه هم په ابتدایي بڼه رامنځته شـوې ده. افغاني ټولنه مسـلمانه ده، خپل مشخص اسلامي او ملي ارزښتونه لري او په دې ټولنه کې ملي او مذهبي ارزشـتونه دومره له یو بل سره اخښـل شـوي دي چې ډېر خلک یط له یو بل څخه جلا کولای شي. په دې ټولنه کې بډایان یا د ډېرو زمکو خاوندان د یوې بنـــځې پر ځای دوه او درې او کله څلور بنـــځې کوي، طبیعي ده چې د یوې بنځې په تناسب د ډېرو بنځو اولاد هم ډېر وي. د اسلامي قانون له مخې د پلار زمکه یا د پلار په ژوند یا د هغه له مرینې نه وروســـته د کورنۍ د غړو ترمنځ ترکه کېږي او په عمومي ډول په افغاني ټولنه کې ترکه د بنـــځو او لونو پر ځای د زامنو ترمنځ وي. د مثال په توګه که یو ســړی زر جریبه زمکه لري او د ډېر بنځو څخه لس زامن لري، نو د ترکې په صورت کې د دغه سړي هر یو زوی ته ســل جریبه رســېږي او د هغه تر لســمو پورې دغه زمکه دومره وېشل کېږي چې به دویم یا په درېیم پښت کې د دغه خان یا د کمونستانو په اصـــطلاح د فیوډال له اولادې څخه د وچې خانان جوړېږي. له بلې خوا په افغاني ټولنه کې شـخصي او خصـوصي ملکیت قانوني تحفظ نه درلود او نه د دې ټولنې په سـیاسـي سـیسـتم کې خان، بای او ارباب ته په خپله سـیمه کې د سـیاسـي، اقتصـادي، قانوني او اداري چارو د چلولو واک ورکړل شـوی و، بلکې د زمکې لرونکي حیثیت، وقار او قدرت دربار ته په وفا داری بوخې ترل شوی و. د وفا داری په صورت کې هغه له خپلې زمکې او نورو امتیازونو څخه ګټه اخیسـتله او د هغه په وفاداری باندې د شـک په صـورت کې دربار د هغه زمکه او نور جایداد ضـــبطاوه او هغه او د هغه د کورنۍ غړو ته یې مختلفې جزاګانې ورکولې. د افغاني ټولنې د تاریخ په حواله دربار ډېر قوي قومي مشـــران محض د ډار په وجه بندیان کړي، یا یې وژلي او یا یې نورو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمو ته تبعید کړي دي. دربار سیاسي قدرت هغه چاته ورکاوه چې هغه دغه سیاسي قدرت او شخصیت د دربار مهرباني ګڼله او دربار ورځنې سیاسي قدرت په اسانه واپس اخیستلای شو. په بل عبارت سیاسي قدرت او شخصیت یې هغه چاته ورکاوه چا چې تر شاه قومي یا سیمه ییز ملاتړ او قوت نه درلود.

د یورپ په فیوډالي دوره کې قبیله یي روابط ببخي له منځه تللي وو او دغه روابط یوازې د فیوډال او بزګرو ترمنځ وو او د اروپا د فیوډالیزم د دورې د بزګرانو برعکس د افغاني ټولنې بزګران مستقل هویت او شخصیت لري. دوی د لویدیزو ټولنو د بزګرانو غوندې نه په زمکې پورې تړل شوي دي او نه د خان، بای او ارباب خصوصي ملکیت ګڼل کېږي. دوی په خپله خوښه بزګري او په خپله خوښه بزګري پرېږدي او په نورو کسبونو لاس پورې کوي.

په لنډه توګه ویلی شو، چې د افغانستان د رواني کشالې اساسي عامل دغه افاقي څېړنه ده او د دې څېړنې په وجه په ځینو افغانانو او په مشخص ډول په ځینو ځوانانو کې د بېګانه ګۍ عملیې وده وکړه او هم د دې عملیې په نتیجه کې زمور ملي تراژیدي شروع شوه.

ټولنیز ارزښتونه:

د پوهانو په نظر بنیادم طبیعي او اجتماعي دواړه خصوصیات لري او د هغه ټولنیزو نورمونو او ارزښتونو هم د هغه له طبیعي غریزو او غوښتنو او اجتماعي مشخصاتو څخه سرچینه اخیستې ده. بنیادم خپلې ډېرې طبیعي غریزې او غوښتنې د ټولنې د اجتماعي ارزښتونو، دودونو او عنعنو ترکنترول لاندې راوستلې دي او د هرې ټولنې غړو وګړو ورته له خپلو ځانګړو شرایطو سره سم د ټولنې د اجتماعي موسسو په چوکاټ کې مجرا ورکړې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، لکه څنګه چې بنیادم د اجتماعي خصوصیاتو په درلودلو او انکشاف په برکت د ارتقا د اوږدې پروسې په ډګر کې نور ژوي تر شا پرېښودل همدغه شان مختلفې انساني ټولنې د خپلو مادي او معنوي شرایطو او خصوصیاتو په لحاظ د ارتقا له مختلفو پړاوونو څخه تېرې شوې دي او د انسانانو د طبیعي غریزو او غوښتنو د ورته والي او مشابهت باوجود د هرې ټولنې ځانګړو مادي او معنوي مشخصاتو او شرایطو دغې ټولنې ته له نورو انساني ټولنو څخه جلا او مشخصه بڼه ورکړې ده.

دځینو لرغونپوهانو (ارکیالوجستانو) او تاریخپوهانو په نظر افغانان پنځه زره کلن او د ځینو په قول پنځوس زره کلن تاریخ لري او نامتو تاریخ پوهانو او ټولنپوهانو د افغانستان سیمې ته د تېرېدو او راتېرېدو د لویې لارې، د فاتحانو مضبوط سنګر، د هند د فتحه کېدو دروازه او د مختلفو قومونو د تاتوبي او د مختلفو قامونو او ولسونو په یو او بل کې د ویلې کېدو د لوښي او نورو نومونه ورکړي دي. دې ستراتیژیکې سیمې ته مختلف قامونه، یرغلګر پوځونه او د خپل وخت لوی مذهبونه راغلي او له دې ځای څخه نورو سیمو ه تېر شوي او راتېر شوي دي. له ډېرو قامونو څخه ځینې قبیلې او خلک هم دلته پاتې شوي، مېشت شوي او یو تربله سره خلط شوي او د وخت په تېرېدو یې په دې سیمه ځلانده تمدنونه جوړ کړي او د تاریخ په اوږدو کې د دې خاورې د اوسېدونکو قامونو تمدنونو د چاپېره ولسونو د تمدنونو به ځنځیر کې د اتصال د کړۍ په حیث مهم مقام درلودلی دی.

د اسلام د مقدس دین نه مخکې په دې سیمه قبیله یي، محلي، هندویزم، بودیزم او زدشتي مذهبونه تېر شوي او د دوی په نتیجه کې د لرغونو مختلفو اما مختلفو قامونو عنعنه یي دودونو او مذهبي ارزښتونو د افغانستان د ولسونو د ژوند په ځانګړو اړخونو ډېرې ژورې اغېزې کړې دي. په زغرده

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل کېدای شـی چې د افغانسـتان د عنعنه یې ټولنې دودونه او ارزښـتونه د یو قام زېږنده نه ده او نه په یوه لنډه موده کې د دې ټولنې غړو وګړو ته د منلو وړ ګرځېدلې دي، بلکې زمونږ د عنعنه یې ټولنې ولســـي دودونه او مذهبي ارزښـــتونه د یوې اوږدې عملیې په نتیجه کې منځته راغلي او زمونږ د هېواد مختلفو قامونو په ډېر لږ توپیر یو شان منلي دي.

افغانسـتان ته د ویلې کېدو لوښـی ځکه وایي چې دلته له بومي خلکو برسـېره اریایي قبیلو، تور او ســـپین هونز، یونانیانو، عربو، مغلو او نورو قومونو ګډ ژون کړی او د دغه ګډ ژوند له امله یو نژاد په بل او بل په بل ژبني اوکلتوري اغېزې کړي او هم یې تر خپل منځ مشـــخص قبیله یې مهارتونه، د تخنیکي وسایلو استعمال او اجتماعي اوکلتوري دودونه او مذهبي ارزښتونه یو او بل ته ورکړي او اخیستي دي.

زمونږ په ټولنه کې چې کومو دودونو او ارزښـــتونو د دې ټولنې په ژوندي پاتې کېدو او پرمختګ او د ټولنې د غړو وګړو د اړیکو ترمنځ د هماهنګۍ او اجتماعي روحیاتو د پیاوړتیا په لار کې ګټوره نتیجه ورکړې، دغه ارزښـــتونه د ټولنې له خوا منل شوي، عملي شوي او په دروند نظر ورته کتل شوي دي او هغه عملونه چې د ټولنې د منل شویو نورمونو پر ضد شوي، د دې ټولنې غړو دغو عملونو ته انحراف، بد اخلاقي او د ټولنې پر ضـــد عملونه ویلي دي. زمونږ د دودونو او ارزښـــتونو له مخې د افغاني ټولنې د ژوند په ټولو اړخونو کې د ښـه او بد عمل ترمنځ واضـح فرق شـته او د نورو انسـاني ټولنو غوندې دې ټولنې هم د ښـــه عمل نمانځلو او د بد عمل د ردلو او مخنیوي لباره د خپلو اجتماعي او مذهبي موســـســـو په چوکاټ کې دننه مختلف معیارونه او کړنلارې ټاکلي دي او د ټولنې هر غړی له دغو اجتماعي نورمونو ســره ســم چې زمونږ د ټولنې د ژوندي، عملي او اخلاقي قانون بنې لري، د ښـه عمل په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو او د بد عمل په نه کولو مکلف ګڼل کېږي. دودونه او ارزښتونه د شرایطو له بدلون سره سم څه ناڅه بدلون مومي او د دوی ساتل او پرېښودل د بدلو شویو شرایطو لاندې له ګټې او تاوان سره ارتباط لري. هغه دودونه او ارزښتونه چې د ټولنې غړو وګړو ته ګټه رسوي، هغوی ساتل کېږي او هغه چې تاوان رسوي هغوی پرېښودل کېږي.

د افغانستان سیمه د ستراتیژیک موقعیت په لحاظ د ټپرېدو او راټپرېدو لویه لار د هاو د دې سیمې ولسونو تل د هر یرغلګر په مقابل کې پرله پسې اوږدې دفاعي جګړې کړي او دغو جګړو په دوی کې له وطن سره د مینې او ازادۍ روحیه دومره ژوندۍ او قوي ساتلې ده، چې حتی دوی د افغانستان د مرکزي حکومت تسلط ته هم په اسانه غاړه نه ږدي. له بلې خوا د افغانستان مرکزي حکومت هم په اقتصادي، نظامي او اداري لحاظ دومره قوي نه و، چې د دې هېواد سیاسي پولو دننه ټول قاموسه دې د مرکزي حکومت د اداري لاندې راوستلای شي او ټول قاموسه په پرتله د پښتنو قبیله یي ژوند د دوی د قبیله یي جوړښت، قبیله یي روابطو، قبیله یي فزیکي قوت، ساده اقتصادي ژوند، د پښتونولۍ د عنعنه یي کودونو او د ازادۍ د روحیې په لحاظ ډېر دوام کړی دی او دوی د مرکزي حکومت اداري او قوانینو ته په خپلو چاروکې د مداخلې او بندیز په نظر ګوري. په لنډه توګه ویلی شو، چې د افغانستان ټول قاموسه خپلې ډېرې مسالې د خپلو عنعنه یي دودونو او ارزښتونو سره سم د جرګو او مرکو له لارې فیصله کوي او د دې هېواد ټول ولسونه جرګه یوه منل شوې تاریخي موسسه ګڼي.

د جرګې موسسه:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغاني ټولنې د نورو اجتماعي موسسو غوندې د جرګې موسسې د دې هېواد د مختلفو قامونو له ولسي دودونو او مذهبي ارزښتونو څخه سرچينه اخيستې او له دېرې لرغونې دورې څخه يې تراوسه د دې خاورې د ولسونو د ژوند په ټولو اړخونو کې مهم او دېر فعال رول لوبولی دی. که پخوا اريايیانو کليوالي جرګې ته سبها او د لويانو يا خاصانو ملي جرګې ته سميتي ويلې، که نورو قامونو ورته نور نومونه ورکړي او که اوس د دې هېواد په مختلفو قامونو کې د مجلس، اجلاس، جلسه او شورا په نومونو شهرت لري او که د ځينو څېړونکو په نظر د جرګې موسسه د افغانستان په ټولو قامونو کې يوه پېژندل شوې، تجربه شوې او منل شوې عنعنه يې موسسه ده او د دې هېواد ټول ولسونه د دې موسسې د جوړښت او ترکيب او په جرګه کې د فعالو او موثرو اشخاصو د هويت، حيثيت او شخصيت سره پوره بلد دی.

د جرګې موسسه د افغاني ټولنې ټول واحدونه، کورنۍ، قبيلې، د محل اوسېدونکو او ملت سره او هم د دې ټولنې د اجتماعي، کلتوري، اقتصادي، سياسي او نظامي ټولو چارو سره ژور ارتباط لري او د ولس د ژوند ټول اړخونه احتواکوي. زمونږ په ټولنه کې هره جرګه او مرکه د مسالې د اهميت په لحاظ دايرېږي او هم د هرې مسالې په ارتباط د اشخصو شمېر، حيثيت او جرګه ځای معلوم وي. د کورنۍ د مسالې لپاره د کورنۍ مشر يا مشران، د قبيلو ترمنځ د مسالې لپاره د قبيلو مشران د محل د مسالې لپاره د محل مشران او د ملي مسالې لپاره د ټول هېواد د مختلفو ولسونو مشران او متنفذ اشخاص په ټاکلو ځايونو کې راټولېږي چې د معمول له مخې مرکې يا وړوکې جرګې به هوجرو او دېروکې، د قبيلې، قبيلو او محل د جرګې په ټاکلو جرګه ځايونو کې او لويې جرګې د هېواد په پايتخت کې دايرېږي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپله سیمه کې هرڅوک هر چا ته معلوم وي، چې څوک څوک دی؟ زمونږ به ټولنه کې مشرتوب زمونږ له عنعنه یي خصوصیاتو سره ارتباط لري او هر څوک په یوه سیمه یا په یوه قبیله کې د مشرتوب دعوه نه شي کولای او نه د محل او قبیلط خلک د هر چا مشرتوب مني او نه ورته غاړه ږدي. د جرګې اشخاص معمولاً د سیمې خانان، ملکان، بابان، اربابان، سپین ږیري، پیران، سیدان او ملایان دي. مشر د خپل محل یا قبیلې د مشرتابه دکورنۍ غړی وي، د ده کورنۍ ویاړلې تاریخچه لري، خلکو ته د هغه د مشرانو خصوصیات معلوم وي او خلک د هغه دکورنۍ په لحاظ د هغه مشرتوب مني، شخصیت ته یې په درونډ نظر کتل کېږي او ساهوکورنۍ او ساهو شخص یې ګڼي او درناوی یې کوي. له دې برسېره د هغه د مشرتابه تر شا ولسي قوت ولاړ وي، د زمکې څښتن وي، هوجره یا مهمانخانه چلوي، مېلمه دوست وي، د خپل ولس د غړو او نورو خلکو ترمنځ د ارتباطي او نماینده شخصیت موقف لري، د ولس ترمنځ امنیت ساتي، ولسي شخړې اواروي، د سولې او جګړې په دوران کې لارښوونه کوي، مستعد، پوه او زړه ور وي او د ولس عنعنه یي نورمونو کودونو او مذهبي ارزښتونو ته عملي بنه ورکوي او په ټولو ولسي چارو کې پوره مهارت لري. ولسي ژوند او ولسي روابط یو مشر دې ته مجبوروي چې د محل یا قبیلې د غړو یا د نورو ولسونو له مشرانو سره تر خپله وسه بنه روابط وساتي او د ولس د منل شویو کودونو په چوکاټ کې دننه ولسي چلند وکړي.

مشخص اقتصادي تکامل د ټولنې په بنسټیز جوړښت کې بدلون راولي او د دغه بدلون له راتګ سره د وروسته پاتې ټولنې سیاسي سیستم په ملي دولت بدلېږي او ورسره د ټولنې ټولې اجتماعي موسسې او اجتماعي روابط هم بدلون مومي او ملي کلتور هم ملي بنه غوره کوي. تراوسه افغانستان په واقعي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفهوم د ملي دولت مرحلې ته نه دی رسېدلی او د ملي سیاسي سیستم د نشتوالي له امله مور تراوسه یو داسې ملي کلتور ته چې افغان شموله ملي بڼه ولري او ټولو ولسونو ته دې یو شان د منلو ور وي، وده نه ده ورکړې. همدا وجه ده چې زمور په وروسته پاتې ټولنه کې تراوسه د کلتوري روزنې او زده کړې عملیه په کورنیو پورې محدوده ده او تر اوسه د کورنۍ د غړو د روزلو او د ټولنې په کودونو، دودونو او ارزښتونو باندې د پوهېدو اساسي واحد کورنۍ کنل کېږي. هوجره یا مهمانخانه د مشرتابه د کورنۍ د غړو د اجتماعي کېدو، په ولسي روابطو د پوهېدو او د اجتماعي او سیاسي موقف د ساتلو اساسي مرکز دی. دلته کښته، مساوي او پورته خلک راغي، دلته له مختلفو قشرونو سره د راشه درشې په سلوک پوهه پیداکېږي، د هر چا خبرې اوربدل کېږي او د جرګې او مرکې د منلو شویو اصولو پر اساس د مخالفینو نظر هم په سړه سینه زغمل کېږي.

زمکه او جایداد د مشرتوب مهم بنسټ کنل کېږي او منل شوی مشر د نورو په تناسب د ډېرې زمکې په درلودلو په خپلو سیالانو یا د خپلې قبیلې د مساوي غړو ترمنځ د اول فرد حیثیت پیداکوي. مشر د ویني او سیمې په ارتباط د یو مشخص واحد غړی وي او په مشخصه سیمه کې ژوندکوي. سره له دې چې د مشرتابه د کورنۍ د خصوصي ملکیت برخه معلومه وي، لیکن تراوسه د خصوصي ملکیت پروسې زمور د هېواد لوی اکثریت کروپې او سیمه ییز شعور ته دې مات کړي او تراوسه هر مشر ځان په دغه شعور پورې منسوب کني او ((زما)) پر ځای ((زمور)) اصطلاح په شعوري ډول استعمالېږي. د مثال په توګه څه وخت چې یو مشر نورو سیمو څخه راغلو مېلمنو ته خپل قام او یا ولس ساحه او زمکه ورښیي، لومړی هغه ((زمور)) د قبیلې یا ولس د سیمې حد، بیا ((زمور)) د تېر د واحدونو بریدونه (حدود)

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته ((زموږ)) دکورنۍ او په پای کې ((زما)) برخې ته اشاره کوي او ((زموږ)) پرځای ((زما)) اصطلاح یوازې د خپلې محدودې برخې لپاره استعمالوي. سره له دې چې زموږ په ټولنه کې د فرد خصوصي ملکیت یو منل شوی واقعیت دی، خو بیا هم زموږ د هېواد په ډېرو سیمو کې د زمکې خرڅلاو ته په سپک نظر کتل کېږي او په عنعنه یي توګه د زمکې خرڅلاو ته د پلار او نیکه د هډوکو د خرڅلاو نوم ورکوي. له دې برسېره د زمکې د خرڅلاو مساله ډېر محدودیتونه لري او که د ځینو مجبوریتونو په صورت کې یو شخص زمکه خرڅوي د نوموړي ده زمکه او جایداد د هغه ورونه اخلي او ورپسې یې د تره زامن او نږدې خپلوان د اخیستو حق لري او که دوی یې نه اخلي، نو بیا نورو ته د خیستو حق ورکول کېږي.

که له یوې خوا د زمکې اضافي تولید پ هوجره او مهمانخانه لکېږی او د هوجرې موسسه د مشرتابه د روابطو او حیثیت د ساتلو اساسي مرکز دی او د خلکو په اصطلاح چا چې هوجره او جرګه نه وي لیدلي، هغه د افغانانو په اجتماعي جوړښت او اجتماعي روابطو او اجتماعي روحیاتو هم نه پوهېږي، له بلې خوا د قام او د زمکې قباله درلودل په مشرتابه کې دې شعور ته هم وده ورکوي چې د یو مشر دکورنۍ او د زمکې واحد د هغه دکهول او د کهول د زمکې د واحدونو برخه ده او د هغه دکهول او دکهول د زمکې واحدونه د هغه د تېر او د تېر له واحدونو سره ارتباط لري. د هغه تېر او د تېر د زمکې واحدونه د هغه د قبیلې او د هغه د قبیلې واحدونه او سیمه د قام په واحدونو او سیمو پورې پراخېږي او په نتیجه کې د قام واحد او د سیمو واحدونه د افغانستان د نورو قامونو او د ټول هېواد د خاورې نه جلا کېدونکې برخې ګڼل کېږي. هم د دې شعور په برکت د افغانستان مختلفو قامونو او ولسونو د مشرتابه کورنۍ ((زما)) د وړوکي خصوصي ملکیت

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه ((زموږ)) د هېواد پراخه مفهوم پوهېږي او همدا علت دی، که چېرې يو مشر د خپلې سيمې زمکې او ولس د نورو قامونو او ولسونو لاس لاندې نه غواړي، همدا شان هغه ته افغانان او افغانستان د نورو د لاس لاندې کېدل او يا غلامول له حده زيات ګران کار ښکاري، ځکه چې د افانانو د مذهبي او ملي عنعنو له مخې زمکه، ښځه او وطن د ناموس لوړ مقام لري. ناموس ته يې د تقدس درجه ورکړې ده او د افغانانو د واقعي دودونو او ارزښتونو ساتندوی دي. د مشرتابه دکورنۍ غړي هېڅکله د خپلو مقدساتو سره لوبه نه کوي.

د هرې جرګې تر رابللو مخکې جرګه ځای، د جرګې نوعيت، موضـــوع، اهداف او په جرګه کې د ګډون کوونکو هويت، مقام او د نماينده ګۍ حيثيت څرګند وي. زموږ په عنعنه يې ټولنه کې د قومي او روحاني مشرتابه په سر کې قومي مشـــران او روحاني شـــخصـــيتونه ولاړ دي. ځکه چې زموږ په ټولنه د هرې مهمې جرګې د ترکيب، کړنلارې او پرېکړو لپاره د قام فزيکي قوت او د روحاني شخصيتونو مذهبي نفوذ دوه مهم عنصره ګڼل کېږي او د يو عنصر د نشـتوالي له امله بل عنصـر جرګه د بريالیتوب پراو ته نه شـي رسـولای. په مهمو جرګو کې قومي مشـران د خپلو قامونو او ولسـونو او پيران، سـيدان او ملايان د مذهبي موسسې نماينده ګي کوي. په جرګه کې د هر مشر حيثيت او نفوذ د هغه د قبيله يې او ولسي ملاتړ په بنسټ ولاړ وي او د مذهبي شخص نفوذ د هغه له مذهبي حيثيت څخه سـرچينه اخلي. قومي مشـران د جرګې د پرېکړې د عملي کېدو فزيکي قوت تشـکيلوي او روحاني شـــخصـــيتونه د مذهبي نفوذ له استعمال څخه کار اخلي او د دغو دواړو موسسو نماينده ګان هر يو په خپل وار خپل موقف او حيثيت پر اســـاس د جرګې په اهميت، جريان، پرېکړو او د پرېکړو په عملي کېدو مشخص تاثير لري.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جرګې د منل شـــویو عنعنه یې اصـــولو له مخې قومي مشـــران په حقوقي او جنایي دواړو جرګوکې په خپل دې موقف چې: کوتک په دورو لپاره وهې او خبره به د خدای لپاره کوې. پوره پوه وي. جرګه مار د هویت، حیثیت او شـخصـیت څښـتن وي او په جرګوکې یې د ربښـتیا د ویلو، اعتماد ساتلو، د جرګې په چارو د پوهې او په قضـیوکې د بېطرفۍ امتحان ورکړی وي. جرګه مار په دې پوهېږي چې په جرګه کې مدعي او مدعي علیه حاضر وي او دواړه خواوې له خپلو حقوقو څخه د دفاع دکولو د جرګې په پرېکړه د قناعت د نه کولو په صـــورت کې د بلې جرګې د راغوشـــتلو او یا په جرګه کې د نورو اشخاصو د شاملولو پوره حق لري. هغوی په دې هم پوهېږي چې د جرګې د بحث په موضـــوع د ســـیمې خلک او د جرګې نور کډون کوونکي پوره معلومات لري چې د مســـالې واقعي عوامل څه دي، اصـــلي واقعیت څه شـــی دی، څوک په حق او څوک په ناحق پورې نښـتی دی او په مسـاله کې څوک پر او څوک وړ دی. که په قضیه کې د مشرتابه دکورنۍ یا قام غړی هم دخیل وي، د جرګې د نورمونو له مخې مشر ځان مکلف ګڼي، چې جرګې تر پایه په ده باندې د اعتمادکولو په وجه خپله بېطرفي او ازاد قضاوت ټینګ وساتي او د بې ځایه دفاع او وکالت، بدې اخیســـتو او طرفدارۍ څخه ډډه وکړي. د جرګې د نورمونو پر ضـــد عمل د هغه شـــخصـــیت ته لوی تاوان رســـوي او ســـیمې په ولس کې د دروغجن، پلوي بې اعتماده او رشـــوت خور په نومونو شهرت پیداکوي، د مشرتابه لپار خصوصیات له لاسه ورکوي او په نتیجه کې د ده د مشرتابه مقام د هغه نږدې تربور ته انتقال مومي.

په افغاني ټولنه کې د تربګنۍ متقابل رقابت د فردي او ډله ییز قدرت د انحصار پر ضـد فعاله عملیه ده او دغه عملیه تل زمور د ټولنې په اجتماعي او ســیاســي جوړښــت کې د برابرتیا د اعاده کولو او خوندي ســاتلو لپاره عمل

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي. همدا شـــان د متقابل رقابت پروســـه زمونږ د ټولنې په اجتماعي روابطو کې د انحصـــاري قدرت او اختيار او خپل ســـرې پر ځای د ولســـي کېدنې پروسې ته چې مونږ ورته ډله ييز او يا د جرګې سيستم وايو، وده وروي. زمونږ په ټولنه کې د متقابل رقابت او د تربور په طرفداري د خلکو د ملاتړ او وفاداري د تغيير ډار مشـر دې ته مجبوروي چې تر خپله وسـه دې په ولسـي کودونو ټينګ ودرېږي او د خپل سـرې پر ځای دې د جرګې له پرېکړو سـره سم چلند وکړي.

جرګه تل د ملا د قران مجيد مبارک ايت پر تلاوت پيلېږي او زمونږ د ټولنې په دې ولسـي يا د دموکراسـي په عملياتو کې د ولسـي او مذهبي مشـرانو او د سـيمې له خلکو برسـېره مدعي او مدعي عليه هم حاضـر وي. په جرګه کې دواړه ډلې د قضـيې په اړون منطقي مسـتند بحث کوي، د مسـالې په مختلفو اړخونو رڼا اچوي او دواړه خواوې له خپلو حقونو څخه دفاع کوي او جرګه مار د دواړو ډلو خبرې په ډېر دقت اوري. زمونږ په جرګو کې د ازادۍ او په ازادۍ باندې د بنديز حد معلوم دی. د تعامل له مخې به جرګه کې د نظر د ازادۍ او په نظر باندې د بنديز د اصـولو ټينګ مراعت کېږي. که له يوې خوا په جرګه کې کډون کوونکي او مدعي او مدعي عليه دواړه د خپلو نظريو د څرګندولو د ازادۍ پوره حق لري، نو له بلې خوا هغوی د داســـې الفاظو له اســـتعمال څخه چې د ســـپکاوي، تحقير، پيغور، تحکم، راپارونې او تبعيض رنګ لري، پوره ډډه کوي او د جرګې ترپايه د دغه شان الفاظو د نه استعمال مراعت کېږي.

د ســـردارمحمد داود خان د جمهوريت د دورې په وروســـتنيو کلونو کې د کونړ ولايت او د خوســـت د لوېې ولســـوالۍ په مرکزونو کې د محلي جرګو بنســـټ کېښـــودل شـــو. دې جرګو تجربوي بڼه درلوده او قومي او مذهبي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشـــران يې غړي وو. دوی ته په دغو مرکزونو کې د حکومت له اداري او قضايي پرسونل سره د حقوقي، جنايي او سياسي قضيو په حل کې د مرستې وظيفه او واک ورکړل شـــوی و. د دغه وخت حکومت اراده کړې وه چې به دغو دوو مرکزونو کې د تجربې نه وروســـته د محلي جرګو ســـيســـتم نورو ولايتونو ته هم وغځوي، رواج يې کړي او د محلي جرګو له لارې د محل خلکو ته د خپلو ســيمو په اداري او قضــايي چارو کې د برخې اخيســتو لاره اواره کړي.

د ۱۹۷۷ م کال په وروستۍ نيمايي کې استاد حکيم تنيوال او زه د يونسکو له خوا د پښتنو ټولنيز– اقتصادي جوړښت د پروژې د ريسرچ په اړوندکون او خوســـت ته ولاړو او د پروژې د موادو د راټولولو او ليکلو په ترڅ کې مو د دغو دواړو مرکزونو د محلي جرګو له غړو سره خبرې هم وکړې چې د دغو جرګو د پراخه هر اړخيزو فعاليتونو په باره کې زما شـخصـي تاثرات په لاندې ډول خلاصه کېدای شي:

۱– افغانستان د مرکزي حکومت سيستم درلود. (درلود ماضي فعل دی او زه د ماضي ټکی ځکه استعمالوم چې اوس په افغانستان کې نه مرکز شته او نه د حکومت کولو ســيســتم). په ټولو ولايتونو کې لو رتبه ملکي او عســکري مامورين او صـاحب منصبان د مرکز له خوا مقررېدل. دکونړ او خوست لوړ رتبه مامورين او قاضـــيان هم له نورو ســـيمو څخه راغلي خلک وو او په مشـــخص ډول دکابل اوســـېدونکي مامورين د خوســـت او کونړ د خلکو د اجتماعي جوړښـت او قبيله يي روابطو او دودونو سـره ښې نا اشـنا وو. په اکثره حقوقي مسـايلو کې به يا اسناد نه وو او يا به جعلي اسناد جوړېدل او په جنايي قضـــيو کې به په پيســـو اخيســـتل شـــوي شـــاهدان تېرېدل، خو بيا هم مامورينو او قاضـيانو به وربانديې ســترګې پټولې او ډېرې فيصـلې به په جعلي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسنادو او دکرايې په شاهدانو کېدلې. له بده مرغه د افغاني ټولنې سره د بېګانه ګۍ احساس، رشوت او سفارش زمونږ اداري او قضايي سيستمونه د فساد په رنځ اخته کړي وو. عدالت د رشوت په تله تلل کېده. چا چې په تله کې د ډېرو پيسو د اچولو توان درلود هغه وړ او مقابل لوری يې پر و او د قوي سفارش څښتن بريالی ګڼل کېده. ځينو د مدعي او مدعي عليه نه يو شان رشوت اخيست او ځينو قاضيانو له ځينو قضيو څخه لنګه غوا جوړه کړې وه، دوی بدې اخيستې، ليکن فيصله يې نه کوله او د دې لنګې غوا شيدې به يې راتلونکو قاضيانو ته هم پرېښودلې.

دکونړ خلکو د حکومت شرعي، قانوني او اصولي اجراتو ته خپل محلي تعريف ورکړی و. د دوی د تعريف له مخې د شرعي ټکي معنا ده چې لومړی مدعي او مدعي عليه دواه د شريعت په نوم محکمې ته راوله او دلته دواه ډلې په شر اخته کړه او محکوم يې کړه. قانوني ټکي معنا ده چې بيا دغه دواړه ډلې د دوی د شرارت او محکوميت په ناوړه انجام پوره قانع کړه او د اصولي ټکي مقصد دا دی چې د شرارت او محکوميت په ناوړه انجام له قانع کېدو وروسته له دواړو ډلو څخه ډېرې پيسې حصول کړه.

۲- دکونړ او خوست د تجربوي جرګو مشران، قومي او مذهبي مشران وو او د دې جرګو ټولو غړو په قومي او ولسی چاروکې پخه تجربه لرله. دوی د قومي مشرانو په حيث د خپلو قامونو په دودونو، ارزښتونو او عنعنو پوره پوهېدل، خپل خلک يې پېژندل او خلکو ته هم دوی او د دوی کورنۍ معلومې وې. د جرګې غړو ته پر او وړ معلوم دی او دوی د جرګې غړي له نورو سيمو څخه د راغليو مامورينو او قاضيانو غوندې په رشوت، سفارش، جعلي اسنادو او دکرايې په شاهدانو نه شي تېر ايستلی، د قضيې دواړه ډلې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجبورېدلې چې د خوســـت په اصـــطلاح ((نرخ)) او د کونړ په اصـــطلاح ((ترې)) ته غاړه کېږدي او د جرګې پرېکړه ومني.

۳- د مامورینو او قاضـــیانو د ((ملات)) مفهوم د دغو ســـیمو د قبیله یي دودونو او اجتماعي روحیاتو ســره تضـاد درلود، ځکه چې خلکو ته د ملات مفهوم د زور، تحکم او ماتې معنا لرله او د محکمې له خوا د ملامتیا اعلان او اوازې د ملامت شـــخص، شـــخصـــیت او د هغه دکورنۍ حیثیت ته لویه صـــدمه رســـوله او هغوی یې د ماتې خوړلې ډلې په حیث د ولس له پیغور او ســپکاوي ســره مخامخ کول. له همدې امله په کونړ کې ځینې ســاده حقوقي مســـالې د ملامتیا حکم نه وروســـته په جنایي قضـــیو یا په مرګ ژوبله بدلې شوې دي.

برعکس د تجربوي جرګو کړنلارې هم ســـاده او هم عملي وې. د مهمو حقوقي او جنایي قضـــیو د حل لپاره د جرګې غړي د مدعي او مدعي علیه کورنیو ته تلل، د قضـیې په ټولو اړخونو ورسره پټ او ښکاره کړېدل، مذهبي علماوو د اســلامي احکامو پر اســاس او قومي مشــرانو د اجتماعي دودونو او واقعیتونو له مخې د دواړو ډلو پام په دنیا او اخرت کې د شخړو ناوړه عواقبو ته راګرځاوه، دواړو ډلو ته یې واقعیتونه ویل، پر یې پر او وړ یې وړ باله او د مشرانو د جرګې په خاطر یې د تېرېدو، ښبلو او روغې، جوړې هیلې کولې. د مدعي او مدعي علیه کورونو ته د مشــرانو ورتګ، د مشــرانو هیلې منل او د مشـــرانو د جرګې درناوی په واقعیت کې د دواړو ډلو درناوی ګڼل کېده. د تجربوي جرګو هره پرېکړه له اسلامي روحیې د ولس د ارزښتونو، نرخونو او ترو ســره ســمه کېدله او د جرګې پرېکړه نه ملامتیا وه، نه زور، نه تحکم او نه ماتې، سپکاوی او پیغور ګڼل کېده، بلکې تر پرېکړې وروسته دواړو ډلو به په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویاړ ویل چې هغوی د مشـــرانو په خاطر یو او بل ته تېر شـــول او د جرګې په احترام یې خپلو کې سره روغه جوړه وکړه.

د دغو جرګو له پرېکړو څخه ســـرغړول ډېر ګران کار و، ځکه چې د هرې پرېکړې په ســـند به د جرګې غړو هم د شـــاهدانو په حیث امضـــاګانې کولې، پرېکړه به رسـمي کېدله، دوسیه به بندېدله او د مامورینو او قاضیانو لنګه غوا به هم وچېدله او له پرطکړې څخه د سرغړولو په صورت کې سر غړوونکي د جرګې د غړو په عکس العمل او د ســـر غړولو په ناوړه نتایجو هم په خپله پوهېدله.

لویه جرګه:

له قومي او محلي جرګو سره د لویې جرګې توپیر په دې کې دی چې به قومي او محلي جرګو کې سـیمه ییز مشـران ګډون کوي او په لویه جرګه کې د هېواد د ټولو ولسـونو او قشـرونو مشـران او نماینده ګان د لویې ملي موضـوع لپاره راټولېږي او د حل لار ورته پیدا کوي. په تاریخي لحاظ زمونږ په هېواد کې ډېرې لویې جرګې دایرې شـوې او ډېرو لویو شـخصـیتونو په کې ګډون کړی دی او دغه لویې جرګې یا د منل شـــویو مشـــرانو له خوا او یا د پاچا له خوا رابلل شـــوې دي. په دواړو صـــورتونو کې د هرې لویې جرګې د رابللو نه مخکې د جرګې په جوړښـــت، د جرګې په ملي اهمیت او په لویه جرګه کې د قومي او مذهبي مشـرانو د شـخصـیت، حیثیت، نفوذ، واقعي نماینده ګي او د لویې جرګې د پرېکړو د عملي کېدو په باره کې پوره توجه شـوې ده، چې دلته د ډېرو لویو جرګو له جملې څخه ځینې د مثال په توګه وړاندې کېږي.

پر ۱۷۰۷م کال میرویس خان د کندهار په مانجه کې لویه جرګه راوغوښـــتله او د دې لویې جرګې لویه ملي مســـاله د ایران له صـــفوي ســـلطنت څخه د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د ازادۍ او خپلواکۍ موضوع وه. په دغه وخت کې میرویس خان نه پاچا او نه امیر و، بلکې هغه د غلجو د مشرتابه قبیلې هوتک و او په هوتکو ې د یوې منل شوې مشرتابه کورنۍ منل شوی مشر و او د دغه مشر کورنۍ او د هغه شخصیت، حیثیت هویت او د نفوذ ساحه ټولو قامونو او ولسونو ته څرګنده وه. د قام د لوی مشر په وینا په دغه لویه جرګه کې د مختلفو قامونو او ولسونو منل شویو نامتو قومي او مذهبي مشرانو د ابدالیانو، غلجیانو، تاجیکو، هزاره او نورو... په نماینده ګۍ ګډون وکړ او په جرګه کې د هېواد د خپلواکۍ په ستراتیژۍ او تاکتیکونو هر اړخیز بحثونه وشول، د جرګې به دوران کې د ملي مسالې د اهمیت په لحاظ خپ لمنځي قومي او ولسي شخړې هېرې شوې، ټول مشران د خپل هېواد د هویت او استقلال په لارکې هر ډول ځاني او مالي قربانۍ ته چمتو ودرېدل او په ګډه یې د ملي خپلواکۍ لپاره هلې ځلې شروع کړې؛ د خپلواکۍ نهضت یې د بریالیتوب پړاو ته ورساوه، لیکن میرویس خان تر پایه د پاچا، امیر او نورو القابو پر ځای د مشر په نوم اکتفا وکړه او محض د مشر په توګه یې د خپل ملت مشرتابه ته دوام ورکړ.

د نادرشاه افشار تر وژلو وروسته د افغانانو عمومي قوماندان نورمحمد خان لجي او قوماندان احمد خان ابدالي د غلجو، ابدالیو، تاجکو او نورو له عسکرو سره کندهار ته راغلل او نورمحمد خان غلجي د جرګې غوښتنه وکړه. د ۱۷٤۷م کال جرګه کې د پښتنو، تاجکو، بلوڅو... او نورو قامونو مشرانو ګډون وکړ. په بحث او پرېکړې لپاره وړاندې شوه. د مشرتابه مقام ته نورمحمد خان غلجی، محبت خان پوپلزی، جمال خان بارکزی، موسی خان اسحق زی او نصرالله خان نورزی کاندید وو. پوره اته ورځې د مشرتابه د ټاکلو موضوع دوام وکړ او هر کاندید د خپلې کورنۍ او قبیله یي فزیکي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوت او اهمیت په لحاظ خپل ځان د مشـرتابه د مقام مسـتحق ګانه او جرګه اوړده او جنجالي وه. بالاخره په نهمه ورځ د جرګې غړو صابرشاه کابلي ته د انتخاب واک ورکړ او صـابرشـاه په جرګه کې ناسـت زلمی احمدخان ابدالي د افغانانو د مشـرتابه او د افغانسـتان د خپلواکۍ د اعاده کېدو لپاره وټاکه او هغه په خپل لاس احمدخان ته د غنمو تاج ور په سـر کړ او د احمدشـاه ابدالي په نوم يې اعلان کړ. د دې جرګې دا لاندې ځو ټکي د يادونې وړ دي:

پير صـابرشـاه کابلی يو روحاني شـخصـيت و او هغه له کندهار او د افغانانو قبيلو سـره د وينې ارتباط نه درلود. د تعامل له مخې افغانان تل په لويو خپل منځې قامي شـخړو او قضـيو کې منل شـوي روحاني شـخصـيت ته د پرېکړې واک ورکوي. صابرشاه ته د افغانستان د مشرتابه د انتخاب د واک له ورکولو څخه دا واقعيت په خپله څرګندېږي چې افغانان په خپل دين مين ملت دی. د روحاني شخصيت په پاکۍ، پوهه، تجربه او بېطرفۍ پوره باور لري او روحاني شـخصـيتونه د خپلې عنعنه يي ټولنې نه جلاکېدونکي برخه ګڼي. له بلې خوا د روحاني پيرانو دربار د قامونو او ولسونو د درناوي مرکز وي. دلته د قبيلو او ولسونو مشران، مذهبي علما او هر ډول خلک راځي او ځي، هر ډول خبرې کېږي، هر ډول معلومات تبادله کېږي او د دربار د مرکزيت په لحاظ روحاني شخصيت هم د سيمې په ټولو قبيله يي، ولسي او ملي سياسي جريانونو او په مشخص ډول د نامتو کورنيو د نامتو شخصيتونو د شخصيت استعداد، نفوذ او سياسي تمايلاتو په باره کې کره معلومات لري. د ځينو ليکوالو په اثارو کې دا خبره تکرار راغلې ده چې د احمدخان د سدوزو قبيله وړوکې وه او د دغې وړوکې قبيلې له فزيکي قوت څخه نورو قبيلو ډار نه کاوه، نو ځکه صـابرشـاه احمدخان د مشـرتابه لپاره وټاکه. شـايد چې ځينو ليکوالو دغه تعبير د بارکزو شـهزادګانو د خوشـالۍ په خاطر کړې وي، د دوی په نظر حاجي جمال خان

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارکزی ځکه ونه ټاکل شـــو، چې د هغه قبیله لویه وه او نورې قبیلې له هغه د ده د قبیله یي فزیکي قوت ځخه ډاربدلې.

سـره له دې چې د قامونو ترمنځ په عملي سیاسـت کې د لویو قبیلو د فزیکي قوت د انحصار ډار یو واقعیت دی، اما د احمدخان په اړوند دغه نظریه سمه نه بنـــکاري، ځکه چې په ټولو ابدالیانو کې د احمدخان کورنۍ ډېره اوږده تاریخچه درولده او د ده کورنۍ د خپل وخت په ملي ســیاســت کې عملي امتحان ورکړی و او د عملي ملي سیاست په لحاظ د هغه کورنۍ په افغانستان او په خواوشا نورو هبوادونو کې منل شوې او پېژندل شوې کورنۍ وه، بلکې د هغه کورنۍ د قام د مشرتابه نه بورته د دربار سطحې ته رسېدلې وه. له دې برسـېره په خپله زلمی احمدخان یو مسـتعد سـیاسـي مشـر، تجربه شـوی عسـکري جنرال، سـوفي او شـاعر شـخصیت و او د خپل وخت له سیاسي او عســکري تجربو ســره یوځای کندهار ته راغلی و. ټول پوهېدل چې د جمال خان بارکزي په تناسب د نورمحمد خان غلجي قبیله یي قوت زیات و. په دې لویه جرګه کې د قبیلې د فزیکي قوت پر ځای د شخصیت موضوع مطرح وه او دغه شـخصـیت یوازې د صـابرشـاه غوندې روحاني شـخصـیت لیدلی او پېژندلی شـو او هغه دغه شـخصـیت او د افغانسـتان د خپلواکۍ د اعاده کېدو توان یوازې د زلمي احمدخان په وجودکې لیده. د صابرشاه انتخاب په عمل کې اثبات کړه، چې زلمی احمدخان له احمدشـــاه کېدو وروســـته ډېر ژر د ((بابا)) لوړ مقام ته ورســـېد، د افغانانو په زړونو یې پاچاهي کوله او د خپل هبواد په تاریخ کې ژوندی او ابدي پاتې شو.

د ۱۸٤۱م کال د نومبر پر لومړۍ نېټه د کابل په بنـــار کې لویه جرګه خپل ځانګړي خصـوصـیات لري. په دغه وخت کې د برېتانوي هند او سـکهانو له یرغلګر پوځ سـره یوځای شـاه شـجاع په کابل کې دی او امیر دوسـت محمد

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان له تخت نه غورځېدلی دی. په دې جرګه کې د قامونو نامتو مشـــران او مذهبي علما د انګرېزانو پر ضـد د ملي پاڅون، د غازيانو د مشرتابه او د شاه شجاع په باره کې له ډېرو مهمو سوالونو سره مخامخ دي. دا هغه وخت دی چې د انګرېزانو په پراخه امپراتوری کې لمر نه ډوبېږي او د دوی د نړيوال نظامي قوت د هيبت نه په وجود ويښـــته نېغ ودرېږي او غازيان هم په دې واقعيت پوره پوه دي. په دې جرګه کې د غلامی او خپلواکی ترمنځ فيصـــله حتمي ده. يا به غازيان د انګرېزانو غلامي مني او يا به د خپلواکی لپاره هر ډول قربانی ته چمتو کېږي. بالاخره د قربانی فارموله ومنل شـوه او د پاڅون لپاره ترتيبات ونيول شـــول. په دې جرګه کې غازيانو د افغانانو له منل شـــوې عنعنې ســره ســم وزير اکبرخان د امير دوســت محمد خان ځلورويشـت کلن زلمی زوی د مشـــر په توګه وټاکه. وزيراکبر خان نوی له بخارا څخه راغلی و او له غازيانو څخه يو هم دا اعتراض ونه کړ چې غازيان له انګرېزانو ســـره په غزا بوخت وو او وزير اکبر خان په بخاراکې ناســـت و. غازيان خپلواک افغانان وو او هغوی د افغانستان د مشرتابه عنعنه يې موســسه پېژندله. په دې کې هېڅ شک نه و چې شاه شجاع د لوی احمدشاه لمسی او د افغانستان د تاج او تخت وارث و، اما غازيانو هغه معاف نه کړ، ځکه چې هغه لاس پوڅی و. د انګرېزانو د يرغلګر پوځ په مرســـته راغلی و، تحميل شـــوی و او دغه شـــهزاده د افغانانو د خپلواکی په ناموس تېری کړی و او افغانان يې د نورو غلامان کول غوښـتل. د جګړې په ډګر کې د غازيانو او انګرېزانو دوه جګړه مارې ډلې مخامخ شوې. بله ډله هېڅ نه وه. نه مشران بهر جوړ شوي وو او نه يې عرب او عجم تر شا ولاړ وو. په نتيجه کې انګرېزانو ماتې وخوړله، شاه شـــجاع په مرګ محکوم شـــو او خپلواکو غازيانو په خپلو قربانيو د خپلواک ملت خپلواکي وګټله.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ نړیواله جګړه روانه وه، د جرمنیانو او ترکانو جرګه کابل ته راغلې وه او دې جرګې کوښښ کاوه چې د افغانستان په مرسته او ملګرتیا د برېتانوي هند پرضد د جګړې نوی محاذ پرانیزي. د دغې جرګې له راتګ سره د افغانستان دربار، شهزادګان، بیروکراتان، قومي او ولسي مشران او روحاني او مذهبي شخصیتونه په درې ډلو ووېشل شول. انقلابي ډلې د افغانستان د بشپړې ازادۍ او خپلواکۍ لپاره د انګرېزانو پر ضد د جګړې پلوي کوله، دویمې ډلې د انګرېزانو طرفداري کوله او دریمه ډله د افغانستان د بې طرفۍ طرفداره وه. لومړی ځل امیر حبیب الله خان د درې ډلو د غوښتنو او د خارجي هېوادونو د لوی فشار سره مخامخ شو. امیر حبیب الله د افغانستان د عیني شرایطو او د نړیوالې جګړې د جریان او نتایجو له امله د بې طرفۍ سیاسي غوره کړه او افغانستان یې بې طرفه هېواد اعلان کړ. هغه د افغانستان د بې طرفۍ په اړوند په ۱۹۱۵م کال لویه جرګه راوغوښتله او د جرګې ټولو نامتو شخصیتونو د افغانستان د بې طرفۍ پالیسي تاییدکړه. په واقعیت کې هم د دې جرګې پرېکړه د افغانستان د راتلونکو حکومتونو د بې طرفۍ د سیاست اساس وګرځېد او هم د دغې پرېکړې په تعقیب افغانستان په دویمه نړیواله جګړه کې بې طرفه پاتې شو، د سړې جګړې په اوږده موده کې یې په نړیوالو مسالوکې د فعالې برخې اخیستو، د ازاد قاوت او په نظامي ډلو ټپلو کې د ګډون د نه کولو اصول ټینګ وساتل، افغانستان د سیمې لومړنی بې طرفه هېواد و چې پر ۱۹۵۵م کال د باندونګ (اندونیزیا) د ناپېلو یا بې طرفه هېوادونو په لومړۍ غونډه کې د دغه نړیوال نهشت بنسټ ایښودونکی غړی شو. زموږ د هېواد د بې طرفۍ دري شپېته کلن عنعنه یې سیاست د خلق–پرچم د رژیم د تحمیل د شوروي اتحاد د یرغل او د خارجیانو له خوا د افغانانو لپاره د جهادي مشرتابه د ټاکلو په نتیجه کې له منځه ولاړ.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹٦٤م کال د سپتمبر په میاشت کې د اساسي قانون د تصویب لپاره لویه جرګه جوړه شوه، په دې لویه جرګه کې د ولسي جرګې د یوولسمې دورې غړیو، د مشرانو جرګې غړیو، د پاچا انتصابي وکیلانو چې ځلور بنځې هم په کې شاملې وې؛ دکابینې غړیو، د سترې محکمې غړیو، د اساسي قانون د مسودې د جرګه کې غړیو او د مشورتي کمیسیون غړیو برخه درلوده، په دې لویه جرګه کې ٤٥٢ تنو ګډون کړی وو.

دا لویه جرګه د افغانستان د خپلواک پاچا له خوا د خپلواک هېواد پایتخت کابل کې د خپلواکو افغانانو د نوي اساسي قانون د تصویب په خاطر رابلل شوې وه. په دې لویه جرګه کې د افغانستان نامتو قامي او ولسي مشرانو، روحاني او مذهبي شخصیتونو، ملکي او نظامي لوړ رتبه مامورینو، بنځو، تعلیمیافته او پوهو اشخاصو د هېواد د ټولو قشرونو نماینده ګي کوله. د نوي اساسي قانون موده د جرګې د بحث موضوع وه. به اته ورځنی لویه جرګه کې د اساسي قانون هره ماده لوستل کېده او د بحث وړ هره ماده تر ازاد بحث او نظر وروسته منظورېدله. د نوي اساسي قانون له نافذېدو وروسته لویه جرګه د اساسي قانون برخه شوه او د اسلامي اصولو، افغاني عنعنو او نړیوال سیاسي، اقتصادي او اجتماعي نویو جریانونو سره سم په هېوادکې د دموکراسی او ازادۍ دوره پیل شوه. د دولت اجرائیه، مقننه او قضاییه قواوې یو له بلې څخه جلا شوې، د خلکو حقوقو او وظایفو ته قانوني بڼه ورکړل شوه، دکوندونو او مطبوعاتو ازادي او فعالیت ومنل شو او د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره خپل سره او مطلقه پاچاهي په قانوني او مشروطه پاچاهی بدله شوه او د دې اساسي قانون له مخې د پاچاهي کورنۍ یو غړی هم دکابینې، پارلمان او سترې محکمې غړیتوب ته دکاندیدېدو حق نه درلود.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لوبې جرګې لـه کـډون کوونکو څخـه لوی اکثریـت د دولســمې او دیارلســمې دورې په انتخاباتو کې له خپلو انتخاباتي حوزو څخه د وکیلانو په حیث وټاکل شـول او د دغو وکیلانو مطلق اکثریت قامي او ولسـي مشـران او روحاني او مذهبي شــخصــیتونه او ملي عناصــر وو. دوی د خپلې ټولنې اجتماعي جوړښــت، اجتماعي روابط او خپل تاریخي رســالت پوره پېژنده. دوی د څو وکیلانو غوندې چې ((روح او جسد دواړه یې په شوروي شیطان خرڅ کړي وو)) د نورو هېوادونو مـدحې نـه کولې، بلکې د خپلو خلکو د غوښــتنو نماینده ګي یې کوله، د افغانانو، افغانســتان او نړیوال پرابلمونه یې په ګوته کول، د ولس او حکومت ترمنځ یې د ارتباطي وســیلې رول لوباوه، په خپلو حوزو کې یې د دولت د انکشافي پروژو له عملي کېدو سره مرسته کوله او په ولسي جرګه کې په مهمو موضوعګانو باندې د دوی ویناوې مستقیماً له رادیو څخه خپرېدلې او ورځپاڼو نشـرولې. سـره له دې چې افغانسـتان ډېرې ســیاســي، اقتصــادي او اجتماعي ســتونزې درلودې، اما زمونږ ټولنه زمونږله داخلي او خارجي شرایطو سره سمه د ارتقا د اصولو پر اساس مخ پر وړاندې روانه وه او د ســیاســي، اقتصــادي او اجتماعي ســتونزو له منځه وړلو لپاره اساسي پلانونه په نظر کې نیول شوي وو.

ولې د جرګې د نوم مخالفت کېږي؟

زمونږ د روانې ملي تراژیدۍ د ډېرو عواملو په باره کې زیاتې پوښــتنې کېږي او د دغو پوښــتنو په لړ کې ځینې خلک دا پوښــتنې هم کوي چې ایا زمونږ دغه ملي تراژیدي په شـعوري توګه تحمیل شـوې او که په لاشـعوري توګه؟ ولې د افغانانو د جرګې د عنعنه یي موسسې پر ضـد دومره شـدید مخالت روان دی که له اوږده بحث څخه تېر شو، نو د دې دواړو پوښتنو ځواب په یوه سیاسي فارموله کې پروت دی. عملي سیاست دغه فارموله حکم کوي چې:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیاست په عملي ډګرکې هېڅوک په هېڅا د خدای لپاره مفته سرمایه ګذاري نه کوي، بلکې د دې سیاسي فارمولې له مخې د لاس باندې (څوک چې سرمایه ګذاري کوي) او لاس لاندې (پر چا چې سرمایه ګذاري کېږي) سیاسي ډلو ترمنځ ((د راکړې ورکړې)) خبره ډېره اهمیت لري او دغه عملیه (د څه راکړه او څه واخله) د عملي سیاست پر محور چاپېره ګرځي. دغه عملیه نه د ریاضي پېچلې فارموله او نه مغلقه فلسفه ده، بلکې یوه ساده او تجربه شوې نسخه ده او د عملي سیاست په ډګرکې دا نسخه داسې عملي کېږي؛ لاس باندې ډله لاس لاندې ډلې ته وایي: ته به زما د هر حاکم اطاعت کوې او د خپل هېواد د واکمنۍ واګې به زما په لاس کې راکوې او زه به تا سیاسي قدرت ته رسوم. اقتصادي او نظامي قوت به درکوم او تا ته به شان او شوکت دربښم: کله چې لاس لاندې ډله د لاس باندې ډلې دا نسخه ومني، نو بیا بېچاره لاس لاندې ډله هغه څه کوي څه چې ورته لاس باندې ډله د کولو حکم کوي. لاس باندې ډله ورته ستراتیژي او دغې ستراتیژۍ ته د رسېدو تاکتیکونه ټاکي. ستراتیژي د لاس لاندې ډلې د هېواد د واکمنۍ واګې په لاس کې نیول دي او تاکتیکونه د لاس لاندې ډلې د ټولنې هغه ټول ملي ارزښتونه او عنعنې، ملي او جتماعي موسسې او ملي قشرونه له منځه وړل دي، هغه چې د لاس باندې ډلې د ستراتیژي پر ضد یا مقاومت کوي او یا خنډ واقع کېږي. لاس باندې ډله هوښیاره وي. هغه په دې پوهېږي چې د بل هېواد د واکمنۍ د واکمنۍ واګې په لاس کې نیول اسانه ستراتیژي نه ده، ځکه چې د یو مستقل هېواد خلک د بل هېواد لپاره د خپلې واکمنۍ او خپلواکۍ څخه نه تېرېږي او په اسانه ځانونه نه تسلیموي. د دې لپاره چې په خلکو کې د واکمنۍ او خپلواکۍ روحیه ضعیفه کړي، لاس باندې ډله لومړی د دغې روحیې ترشا ولاړ اساسي مذهبي ارزښتونه، ملي عنعنې او موسسې او ملي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

قشرونه ځان ته معلوموي او بيا لاس لاندې ډلې ته د دغو ارزښتونو، عنعنو، موسسو او قشرونو د مسخه کېدو، رنګېدو او له منځه وړلو حکم کوي او لاس لاندې ډله د دغه حکم د تعميل نه د سر د ويښته په اندازه هم د سرغړونې جرئت نه شي کولای، هو به هو هغه څه کوي څه چې ورته حکم کېږي.

د شوروي اتحاد ستراتيژي د نړۍ د هېوادونو رالاندې کول وو چې په دغه ستراتيژۍ کې افغانستان هم شامل و. هسې خو دغسې ستراتيژۍ ته يې د رسېدو لپاره زيات تاکتيکونه پکارول ليکن دا تاکتيکي شعارونه چې کارګران وطن نه لري او يا د نړۍ کارګرانو يو شئ له حده ډېر زيات استعمالېدل، د لاس لاندې خلق-پرچم ګوند مشرانو د خيال کارګرانو، بزګرانو او روشنفکرانو په نماينده ګي د لاس باندې شوروي اتحاد ((د راکړې ورکړې)) ټول شرطونه منلي وو او په افغانستان کې سياسي قدرت ته له رسېدو وروسته يې ددغو شرطونو د عملي کېدو لپاره ملا وتړله.

د خلق-پرچم ګوند غړو د افغانستان د ولسونو د زړګونو کلونو ملي دودونو او مذهبي ارزښتونو ته د خرافاتو او پوچو عقيدو نومونه ورکړل. د افغانستان د ويارن سياسي تاريخ يې د طبقاتي مبارزو مجموعه اعلان کړه او د دې سرلوړي هېواد ټول تاريخي ملي شخصيتونه يې د استثمارګرو طبقو په سر کې ولاړ استثمارګر معرفي کړل او زمور د ټولنې د عنعنه يي جرګو اساسي او مهم عناصر، قامي او ولسي مشران او روحاني او مذهبي شخصيتونه يې د فيوډالانو، مرتجعينو، استثمارګرو او د طبقاتي دښمنانو په نومونو ونيول، بنديان يې کړل، د پلار او نيکه زمکې يې ترېنه واخيستلې او يو شمېر يې شهيدان کړل. ((د راکړې ورکړې)) له موافقې سره سم کې.جي.بي په ټول قوت د افغاني ټولنې د جرګې د عنعنه يي موسسې د مسخه کېدو او رنګېدو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملیه پیل کړه او د دې شبکې د غړو په حکم پر ۱۹۸۵ کال د خلق–پرچم ګوند د محلي جرګو قانون نافذ او په کابل کې یې مسخه شوې لویه جرګه راوبلله. د جوړښت او فعالیت په لحاظ دغه محلي جرګې د شوروي اتحاد د سویتونو (د شوروي اتحاد د کاګرو نماینده شوراګاني) کاپي وه او په مسخه شوې لویه جرګه کې د افغاني ټولنې د منل شویو قامي او ولسي مشرانو او روحاني او مذهبي شخصیتونو پر ځای ((بې وطنه کارګرانو، بې قبیلې بزګرانو، خرڅ شویو مامورینو او نظامي صاحب منصبانو او بېګانه شویو روشنفکرانو)) برخه واخیسته او په کابل کې په ځینو میشت سپین ږیرو هم د افغانستان له مختلفو ولایتونو د زیارکښانو په نومونو نماینده ګي وکړلای شوه.

ځینو جهادي ګوندونو هم د ځینو باندنیو هېوادونو په لمسون د افغاني ټولنې د جرګې د موسسې د رنکېدو، د قامي او ولسي مشرانو او د ملي روحاني او مذهبي شخصیتونو او د ملي عناصرو په ټکولو پسې کلکه ملا تړلې ده. د دغو ډلو غړي د جرګې له نوم څخه کرکه کوي، جرګه ورته یوه لویه بلا ښکاري او د جرګې پر ځای د شورا نوم ورته خوند ورکوي.

ډېر افغانان دا پوښتنې کوي چې ولې لوړی شوروي اتحاد د افغانانو د جرګې د عنعنه یي موسسې مسخه کول غوښتل او ولې نور خارجي هېوادونه یې له منځه وړل غواړي؟ که له تفصیلي بحث څخه تېر شو او لنډې خبرې وروانديې وکړو؛ په واقعیت کې د افغانستان په باب ټول خارجي هېوادونه یوه ستراتیژي لري او هغه د افغانستان کې د افغانستان په باب ټول خارجي هېوادونه یوه ستراتیژي لري او هغه د افغانستان رالاندې کول دي. لکه څنګه چې ورته اشاره وشوه د جرګې عنعنه یي موسسه زموږ د ملي دودونو او کودونو، زموږ د ولسي دموکراسۍ، زموږ د ملي هویت، د اسلام د مقدس دین په لارکې د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانانو د بې ســـارې قربانۍ، د افغانانو د ویاړلو ملي قهرمانانو د ملي او اسلامي کارنامو سره ژورې تاریخي اړیکي لري. هغه خارجي هېوادونه چې په خپله د افغانانو پواســطه د افغانســتان د رالاندې کولو خوبونه ویني هغوی په دې پوهېږي چې په افغاني ټولنه کې د جرګې د عنعنه یي موســســې د ژوندي پاتې کېدو په صورت کې د دغه هېواد قامي او ولسي مشران او ملي، روحاني او مذهبي شـخصـیتونو ژوندي پاتې کېږي، افغانان به د خپل قام او وطن سره مینه کوي، خپل ملي هویت به ورته یاد وي، په خپلو ملي اتلانو به افتخار کوي او ځانونه به د هر چا سـیال او برابرکني. څو چې په افغانانو کې د ځان، د اســلام د مقدس دین لپاره د قربانۍ ویاړ، له قام او وطن ســره مینه، په ملي اتلانو ویاړ او له نورو قامونو سره د سیالۍ او برابرۍ احساس ژوندی وي، تر هغې په افغانانو باندې خارجي ایډیالوژي، خارجي لاس پوڅي او خارجي تلســلط تحمیلول بېخي ناشــونی کار دی. خارجي هېوادونه فکر کوي چې د جرګې د موسسې د رنګېدو په صورت کې په افغانانو کې د مذهبي ارزښتونو، ملي عنعنو، ملي هویت، ملي اتلانو او د ملي تاریخ احســاس له منځه ځي، د وخت په تېرېدو د دې ملت ځوان نســل له خپل ځان څخه بېګانه کېږي او وروســته د بېګانه وو تســلط ته اماده کېږي. هم دغه خوب لومړی شــوروي اتحاد لیده او اوس یې نور خارجیان ویني.

که شــوروي اتحاد او د هغه زېږنده خلق– پرچم ګوند په ګډه زمور عنعنه یي خپلواک سیاسي سیستم رامات کړ، زمور د هېواد ټول دولتي ارګانونه یې د کمونستي سیستم د تحمیل په لارکې استخدام کړل، د دغه ناپاک هدف لپاره یې په ملیونونو افغانانو په خپل وطن کې شــهیدان کړل، په ملیونونو یې اواره کړل، کلي او باندې او بنــارونه یې له خاورو ســره برابر کړل، بیا هم افغانانو دغه ټول بړونه، کړاوونه، بربادۍ او وحشــتونه ځکه زغمل چې هغوی ته د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل هېواد د دښمنانو خبرې پوره څرګندې وې او افغانان د دین او دولت د دښمانو په مقابل کې هر ډول قرباني خپله ملي او ديني فريضه ګڼي او د قربانۍ په دوران کې د يو افغان په څېره کې هم د ګيلې او شکايت نښې نښانې نه ليدل کېږي.

د افغانستان په روانه تراژيدۍ کې د روسانو او هندوانو اهداف په ډاګه څرګند دي. روسيه د شوروي اتحاد د امپراتورۍ د وارث په حيث له افغانانو څخه په افغانستان کې د روسانو د ماتې بدل اخلي، د افغانانو د جنګ د تاوان له ډاره او د خپلو غير انساني ظلمونو او وحشتونو د پټولو په هڅه د جګړو د اور لمبو ته لمن وهي. هند د روسيې زوړ ملاتړی دی، څه چې روسان کوي، هند يې ملاتړ کوي او هند د اسلامي هېوادونو د قوت مخنيوی خپله دنده ګڼي.

البته اوس د ځينو ((ورونو)) هېوادونو په باره کې دېرې پوښتنې کېږي. وايي: ولې ((دغه ورونه هېوادونه)) د ځينو ((ورونو)) ګوندونو په لاس د افغانانو خپلواک سياسي سيستم، ملي اقتصاد، علمي، اجتماعي اوکلتوري موسسې او دولتي ارګانونه له بنسټ څخه رنګول غواړي؟ ولې ((دغه ورونه)) هېوادونه د ځينو ((ورونو)) ګوندونو په لاس د افغانانو ملي دودونه، ملي عنعنې، ملي ارزښتونه او ملي شخصيتونه او قشرونه له منځه وړل غواړي؟ ولې ((دغه ورونه)) هېوادونه د ځينو ((ورونو)) ګوندونو په لاس د افغانانو تاريخي، مذهبي او اجتماعي خصوصياتو ته د خپلو ټولنو د مشخصو مذهبي او اجتماعي خصوصياتو مصنوعي رنګ ورکول غواړي؟ ولې ((دغه ورونه)) هېوادونه د ځينو ((ورونو)) ګوندونو له لارې د لرغوني خپلواک افغانستان خپلواکي تر خپلو واکمنيو لاندې راوستل غواړي؟ او داسې نور.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اهمیت په لحاظ یو ځل بیا تکرارېږي، هغه سیاسي، اجتماعي او اقتصادي سیستمونه چې د خپلې مشخصې ټولنې له مشخصو خصوصیاتو سره نه شلېدونکې ریښې او پیوند لري او د نویو شرایطو سره د تطابق ظرفیت، دغه وطني ټولنیز سیستمونه د خلکو له خوا منل کېږي، پرګنې یې تر شا ودرېږي، تکامل کوي او د بریالیتوب د مختلفو پړاوونو په لور مخ پر وړاندې روان دي.

برعکس هغه سیستمونه چې د نورو ټولنو له مشخصاتو څخه سرچینه اخلي، د نورو ټولنو تقلید کوي، وطني خصوصیات نه لري او یا د نورو له خوا په زور او یا په چل تحمیلېږي. دغه ډول سیستمونه حتماً د خپلې مشخصې ټولنې د خلکو د اجتماعي جوړښت، اجتماعي اړیکو او اجتماعي روحیاتو سره ټکر کوي او د خلکو له شدید مقاومت سره مخامخ کېږي. دغه تقلیدي یا تحمیل شوي سیستمونه لویه تراژیدي منځته راوړي؛ ټول ولس ربړوي او ټوله ټولنه په لوی رنځ اخته کوي. سره له دې چې د دغه لوی افت عمر لنډ وي او خلک یې ډېر ژر د تاریخ کندې ته ورغورځوي، لیکن د دغه لوی افت هر اړخیز ناوړه تاثیرات تر اوږدې مودې پورې پاتې کېږي او د ټولنې بیا رغونه ډېر وخت غواړي. د دغو تقلیدي سیستمونو ښه مثال زموږ په هېواد کې د تېرو اوه لس کلونو راهیسې روانه ملي تراژیدي ده، چې د تراژیدۍ لومړی پړاو پای ته رسېدلی او دویم پړاو یې ان شاالله مخ په ختمېدو روان دی.

افغانستان د جرګو وطن دی، جرګه زموږ وطني موسسه ده او دغه موسسه زموږ د پلرني هېواد د ټولو ولسونو د ژوند له ټولو اړخونو سره ژوري ریښې لري. دا یوه تجربه شوې او منل شوې عنعنه یې موسسه ده، افغانان یې تر شا ولاړ دي او د جرګو په دې هېوادکې ټولو مسالو او قضیو د دې موسسې له

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارې حل موندلی دی. د جرګې موسسه یوه ځایي او وطني دموکراسي ده او د دې وطني دموکراسۍ د منل شویو ارزښتونو، عنعنو، کودونو او دودونو په وجه په افغاني ټولنه کې یو فرد په بل فرد، یوه کورنۍ پر بله کورنۍ، یو قام پر بل قام او یو نژاد پر بل نژاد خپله فردي او ګروپي ډکتاتوري نه شي تحمیلولی، بلکې د دې وطني دموکراسۍ له منل شویو اصولو سره سم زمونږ په ټولنه کې د هر فرد، هرې کورنۍ، د هر قام او هر قشـــر د انســـاني او اجتماعي حقوقو پوخ تضمین شته او تحفظ یې کېږي.

تر رواني تراژیدۍ وروسته راتلونکی افغانستان د جرګو یو داسې پراخ بنسټ سیاسي او اجتماعي سیســتم ته ضـرورت لري چې په هغه کې زمونږ د ټولنې مذهبي ارزښـــتونه او ملي عنعنې باید حتماً خوندي وي، خلکو ته په ټولو محلي او ملي چاروکې د فعالې برخې اخیســـتلو پوره ازادي وي، قانوني بنه ولري، له دولتي ارګانونو ســره مرســتیال فعال قوت وي، له نویو واقعیتونو او فکتورونو د جذب او هضـــم ډاینامیک ظرفیت ولري، د افغانســـتان د ورونو ولســونو ترمنځ د دموکراسۍ او ورورولۍ روحیه لا پیاوړې او تقویه کړي. د ټولو هېوادونو او په مشـــخص ډول د ورونو اســـلامي ملکونو او افغانســـتان ترمنځ روابط د دوســـتۍ او برابرۍ پر اســـاســـاتو ودروي او زمونږ ټولنه د یوویشتمې پېړۍ د پرمختګ له کاروان سره ملګرې کړلای شي. افغانان هیله کوي چې ورونه هېوادونه دې له دې ځپل شوي ملت سره د وطني دموکراسۍ په جوړېدو، ټینګېدو او په پښو د ودرېدو په عملیه کې صادقانه مرسته وکړي او بس. همدا به یې په افغانانو لوی احسان وي.

ماخذونه:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱– رفیع، حبیب الله: جرګې او د افغاني جرګو اجتماعي او رواني ارزښتونه، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې خپرونه، ۵۲ مخونه، ۱۳۷٤ل کال، پېښور.

۲– فیض زاده، محمد علم خان: جرګه های بزرګ ملی افغانستان (لویه جرګه ها) و جرګه های نام نهاد تحت تسلط کمونستها و روسها، ۳۹٤ مخونه، ۱۳٦۸ل کال، لاهور.

۳– لویه جرګه ها مظهر دموکراسي در افغانستان: پوهنوال محبوبه، نشریه اتحادیه نویسنده ګان افغانستان ازاد، ۸٤ مخونه، ۱۳۷۳ل کال، پېښور.

٤– ثابت، عبدالجبار: د لوېې جرګې تاریخي او حقوقي ماهیت او د افغانستان د روان جنجال په حل کولو کې یې احتمالي رول، د ازاد افغانستان حقوقو پوهانو د اتحادیې له خپرونو څخه، ۳۰ مخونه، ۱۹۹۰ م کال، پېښور.

۵– مهربان، عبدالله: تاریخ جرګه های ملی در افغانستان، منتشره جبهه ملی پدر وطن جمهوری دموکراتیک افغانستان، ۲۷٤مخونه، ۱۳٦۱ل کال، کابل.

٦– لویه جرګه جمهوری دموکراتیک افغانستان، ۲۵۹ مخونه، ۱۳٦٤ل کال، کابل.

۷– د پښتو ټولنیز– اقتصادي جوړښت: لیکوال وړاندې نه دی لیکل شوی، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز خپرونه، ۲۹۰ مخونه، ۱۳٦۲ل کال، کابل.

8– William A. Haviland: Cultural Anthropology: New York، 1975.

۹– زما یادښتونه.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعلامیه اتحادیه نویسنده‌گان افغانستان ازاد

دا لیکنه د (خپلواکي) مجلې د دویم کال په (۱-۲) مې کنه کې پر (۱۳۷٤ل) کال خپره شوې ده.

اتحادیه نویسنده‌گان افغانستان ازادکه در اغازین روز سال روان خورشیدی دهمین سال تاسیسش را تجلیل‌کرد، در جریان سالهای جهاد ملت ما علیه اجانب از سوی شماری از درسخوانده‌گان، قلم به دستان و منورین افغان در دیار هجرت اساس گذاری گردید.

اتحادیه نویسنده‌گان افغانستان ازاد اساساً نهادیست فرهنگی اما چون در برهه خاص زمان تاسیس گردید و ان وقتی بودکه میهن ما را قوای بیگانه اشغال نموده بود و مردم ما علیه بیگانه‌گان به پیکار و مبارزه برحق برخاسته بودند؛ بنا بر همین ضرورت بودکه اتحادیه ما تمام نیروی خود را وقف مساله افغانستان، پیروزی جهاد، تقویه پهلوهای فکری و اندیشه یی جهاد و مسایل مربوط به مهاجرین‌کرد و مبارزه سرسخت علیه بیگانه‌گان و بیگانه پرستان را اساس‌کار خودگذاشت. تحلیلها، تفسیر ها و نظریات اتحادیه ما که زیاده تر در نشرات موقوف و غیر موقوف اتحادیه و همینسان در رسانه های‌گروهی جهان بازتاب یافته است، همه از واقعیتهای موجود در جامعه افغانی مایه‌گرفته است. ما همه بررسیهای مربوط‌کشور خود را با در نظرداشت به اساسات دین مقدس اسلام، ساختار اجتماعی مردم افغانستان، ارزشهای ملی و روان مردم‌کشور خود اراسته ایم؛ هیچگاه بر مسایل و دشواریهای‌کشور خود بر اساس نبشته های دیگران فکر نکرده ایم. اتحادیه ما از نخستین روزهای‌کارش بدین باور بودکه در پهلوی پیشبرد مبارزه و جهاد علیه مهاجمین، بایست درباره اینده‌کشور نگاه داشت تمامیت ارضی، استقلال سیاسی و طرز حکومت اینده، جلوگیری از خلای قدرت و بسی

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسایل دیگری که جوامع انسانی را تا سرحد نابودی مواجه به دشواریها میسازد، خردمندانه اندیشید. مسایل مربوط به کشور خود را بدون هرگونه مداخله و نفوذ اجنبی خود مان بر اساس روشهای پذیرفته سنتی و ملی حل و فصل باید کرد.

اتحادیه ما باورمند بود که نخستین دشواری مسایل مربوط به کشور ما، که همیش در خم و پیچ سیاستهای کشورهای منطقه و ابر قدرتها راهش راگم میکرده است از نبود زعامت واحد ملی ناشی میشود؛ زعامتی که قابل قبول به همه اقشار و قبایل و اقوام افغانستان باشد، مردم به شخصیت او اعتما کنند؛ ایشان را بشناسند و اعتقاد راستین به پاکیزه گی، میهندوستی و مردم پروری او داشته باشند. به نظر اتحادیه ما تمام این مشخصات و ویژه گیها در شخصیت پادشاه سابق افغانستان اعلیحضرت محمد ظاهرشاه سراغ میتواند شد. ایشان شایسته گی زعامت ملی افغانها را دارا بودند و اکنون نیز استند.

اتحادیه ما طی ده سال فعالیت خود همواره و پیهم مساله زعامت ملی را در تحلیلهایش مطرح نموده، این زعامت را در وجود اعلیحضرت محمد ظاهرشاه خلاصه کرده است، زیرا به نظر اتحادیه ما اعلیحضرت محمد ظاهرشاه وجاهت ملی و بین المللی داشته، حیثیت موسسه یی را دارد، که تمام باشنده گان افغانستان در وجدش موجودیت خود را درکشور شان حس کرده میتواند. از مهربانیها، دلسوزیهای حضور اعلیحضرت و همینسان از ارامش، امنیت، ازادیها و احترام به کرامت انسانی و حقوق بشری دروان سلطنت پر میمنت شان خاطره های فراموش ناشدنی دارند. افزون بر ان اعلیحضرت خود شان نیز بالاثر عشق و علاقه یی که باکشور و مردم خود دارند، طی دوران جهاد برحق از موقف ملت مجاهد افغانستان و مجاهدین افغانستا پیوسته پشتیبانی سیاسی نموده اند و از هیچ گونه تلاش ممکن در زمینه دریغ نه ورزیده اند. با بروز جنگهای خانمانسوز سه سال اخیر فعالیتهای شان را سریعتر کردند؛ پیشنهادی را برای خاتمه جنگ و برون

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

رفت کشـــور از بحران طرحریزی کردند که با اســـتقبال اکثریت قاطع مردم افغانستان و حلقات سیاسی جهان مواجه گردید.

آکنون که با ســـفر هیئت خاص اعلیحضـــرت به منطقه، گامهای نخســـتین اما استوار در ارتباط فعالیتهای عملی اعلیحضرت در زمینه برداشته شده است ما امیدوار اسـتیم که این پروسـه به دلگرمی پی چوبی خواهد شـد و مسـاعی پادشـاه سـابق افغانسـتان در راه اسـتقرار صـلح و امنیت درکشـور و اعاده حیثیت ملی و بین المللی افغانستان مثمر ثمر واقع خواهد گردید.

استقبال گرم، صـمیمانه و شـایسته افغانها از هیت اعلیحضرت گواهی میدهد که اعلیحضرت پادشاه سابق و نام گرامی شان هنوز هم در دلهای مردم حق شناس افغانستان جایگاهش را محفوظ نگه داشته است.

اتحادیه نویســـنده گان افغانســـتان این گام نخســـتین را روزنه بی به ســـوی فرداهای روشـــن پنداشـــته از بارگاه ایزد متعال متنی اســـت که هر چه زود تر صـــلح و ارامش، قطع جنگ و برادرکشـــی به افغانســـتان برباد رفته به ارمغان بیاورد.

ما چنان که گفته امدیم به زعامت پادشـاه سـابق یقین کامل و اسـتوار داریم و پشـــتیبانی بیدریع خود را از پیشـــنهادها و فعالیتهای شـــان اعلام میدارم و به اســـتعانت پروردگار یکتا باکار خســـته یی ناپذیر در راه موفقیت آن خواهیم کوشید.

ومن الله التوفیق

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړې

zia_2zia@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځناورو فارم
یا د روسي کمونیزم هېنداره

داکتاب (د ځناورو فارم یا د روســي کمونیزم هېنداره) چې (جارجل ارول) لیکلی او پوهاند رســول امین ژباړلی دی، پر (ل)کال چاپ او خپور شــوی دی.

دیباچه

د کتاب تر لوستلو مخکې دا ولولئ!

لکه څنګه چې د کتاب له عنوان څخه څرګندېږي، دا وړوکی کتاب نه یوازې د روســي کمیونیزم د وحشــي څېرې واقعي هېنداره ده، بلکې له بلې خوا په انګلیســي ســیاســي ادب کې د روســي کمونیزم د نظر او عمل ترمنځ د لوی تضاد په هکله د ملنډو وهلو لوی شاهکار هم ګڼل کېږي.

(مارج ارول دا سیاسي شهکار په خپل نوي سبک ببخي د سمبولونو په شکل لیکلی دی. کېدی شــي چې د لیکوال د لیک په طریقه او ســمبولونو یوازې هغه خلک پوه شــي چا چې د اســتبداد پر ضــد د ځناورو له خولې او یا د ځناورو په کردار کې زړې کیسې اورېدلې یا لوستلې وي او ورسره د شوروي اتحاد د کمونســت ګوند د تاریخ سره هم اشــنا وي. که چېرې داکتاب ځینې ښاغلي لوستونکي د لیکوال د لیک په سبک او سمبولونو پوه نه شی، شاید

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی دکتاب دل وسـت څخه هومره خوند نه خلي څومره خوند چې په دې شهکار کې پروت دی.

د دې لپاره چې دغه ډله ښاغلي لوستونکي دکتاب په هدف پوه شي او خوند تري واخلي، دلته په ډېر لنډ ډول د لیکوال سـوانح، دکتاب سـبک او ((د څناورو فارم)) د مختلفه څناورو سـمبولیک کردار او خصـوصـیات معرفي کېږي.

لیکوال: پر ۱۹۰۳م کال اریک او تهر بلایر په بنګال کې د یو انګرېز صاحب منصب په کور کې وزېږېد. پر کال ۱۹۱۱ د انګلستان سوسیکس لیلیه ښوونځي ته ولېږل شو. د وړکتون څخه دغه ځیرکه زده کوونکی طبیعي شاعر و. تر زده کړې وروسته اریک په کال ۱۹۲۲م کې په برما کې د برتانیې د پولیسـو مامور وټاکل شـو. په کال ۱۹۲۸م کې هغه له دې دندې څخه استعفی وکړه او ببرته انګلستان ته ستون شو.

انګلسـتان ته د تګ راهیسـې دغه زلمي د مختلفه اخبارونو د خبریال په توګه کار پیل کړ او په لنډه موده کې یې د ((جارج رول)) په نوم له ډېرو مضـامینو برسـېره مختلف ناولونه، کیسـې او سـوانح ولیکلې د سـیاسـي نظر په لحاظ جارج ارول لومړی نارشست او ورپسې سوشلست شو. په کال ۱۹۳۷م کې د خبریال په حیث د اسپانیې دکورنۍ جګړې په دوران کې دغه هېواد ته ولاړ او د خبریال برسېره یې د جمهوریت غوښتونکو په مرسته په بارسیلونا کې د کمونسـتانو پر ضـد جګړه کې برخه واخیسـته. جارج ارول په اسـپانیه کې د شوروي اتحاد د طرفدار کمونستانو سیاسي اخلاق یا په بل عبارت د سیاسي قدرت د لاس ته راوړلو لپاره هر ډول بد اخلاقي له نږدې څخه ولیدله.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې تجربې په نتیجه کې جارج اروِل د روسیې د تاریخ برسېره په مشخص ډول د شوروي ټیپ کمونستي ایډیالوژۍ، د کارګرانو په نوم د بلشویک یا کمونستي ګوند د یکتاتورۍ د نظریې او عملي اړخونو د کمونستي ګوند د صحنې د لوبغاړو سوانح، بلکې د کال ۱۹۱۷م تر اکتوبر وروسته د شوروي اتحاد د ټولو مهمو سیاسي پېښو ژوره مطالعه پیل کړه. د اسپانیې د کورنیو جګړو عملي تجربو او د شوروي اتحاد د سیاسي مطالعې جارج اروِل په دې متیقین کړ، چې د شوروي اتحاد د کمونستي ګوند تزاري امپراتورۍ ته د سوشلزم په نوم نوی رنګ ورکړ. د اکتوبر نه مخکې د ګوند مشرانو د تزاري امپراتورۍ مستعمرو ته د خپلواکۍ او د روسیې ولس ته د هر ډول ازادیو وعده ورکړې وه. اما د اکتوبر نه وروسته د مستعمرو او د روسیې ولسونو په عمل کې ولیدل چې دغه ټولې ودې محض د سیاسي قدرت د نیولو او د مستعمرو او د روسیې د خلکو د غولولو لپاره وې. دوی د تزاري امپراتورۍ اسیایي او یوروپي مستعمرې د کمونستي رژیم نه جلاکېدونکې برخې اعلان کړې. نوي رژیم د ((نوې ټولنې)) او ((نوي انسان)) د جوړولو په پلمه د مستعمرو د اوسېدونکو ولسونو تاریخ، مذهب، فرهنګ او اجتماعي، سیاسي او اقتصادي روابط له منځه وړ پیل کړل او د دوی د ژوند په ټولو اړخونو کې د شوروي کوونې او روسي کوونې عملیه په شدت روانه شوه، دغه تزار ځپلي ولسونه لاپسې د کمونست ګوند د ډسپلین، اطاعت، وفاداری او د کمونست ګوند د جاسوسي شبکو د زنځیرونو د مختلف بې شمېره کړیو پواسطه د کریملین پورې داسې وترل شول چې د غلامۍ برسېره د انساني او مدني حقوقو څخه هم محروم شول. د کمونست ګوند مشرانو د روسیې او مستعمرو د ولسونو د ټولو اجتماعي قشرونو او سیاسي ګوندونو او ګروپونو پر ضد د یو ګوند جنګ د ټولو پر ضد اعلان کړ. تر اکتوبر وروسته ټول

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

قشرونه، ګوندونه، ګروپونه او متنفذ اشخاص د فیوډالانو، مرتجعینو، تنګنظره او عظمت طلبه نیشنلستانو، بورژوا، خارجي اجنټانو، رویژنستانو، افراطیونو، ورانکارو، غلو، غولېدلو، د عملي او مترقي، ایډیالوژۍ پر ضـــد، د کارګري ګوند پر ضـد، د رهبرۍ پر ضـد، د دولت پر ضـد او دا شـان په نورو سلګونو تورونو یو یو وټکول شول.

د کال ۱۰۲۹م نه ترکال ۱۹۳۹م پورې د عمومي تصـــفیې یا ((ســتالین د مور غضـــب)) په دوران کې د زمکې د اشـــتراکي کوونې او د کارګري ګوند د دکتاتورۍ د قایمولو په پلمه خپلې مطلقه دکتاتورۍ ته د لار خلاصولو په هڅه مرګ ژوبلې دسته جمعي بنه غوره کړه، لکه څنګه چې د هر دکتاتور کند یا د دکتاتور شـخص ځانګړنه ده چې د یوې مشـخصـې ایډیالوژۍ په نوم د خپل تصور سره سم د ټولنې او انسان د ((سمون)) لپاره قالب جوړوي او په دغه قالب کې د ببلابېلو ټولنو اوسېدونکي انسـانان ور اچوي. دکتاتورانو ته تل د خدای مخلوق ټول انســـانان د موم یا ربړ څخه جوړ شـــیان ښـــکاري. د کمونست ګند د دکتاتورۍ په سر کې ولاړ لوی دکتاتور ستالین هم د کارګري ګوند دکتاتورۍ په نوم د خپل تصـــور ســـره ســـم خپل قالب جوړ ک او د شـوروي اتحاد د ببلابېلو ټولنو خلک چې په اجتماعي، سـیاسـي، اقتصـادي، مذهبي، فرهنګي، نژادي او ژبني لحاظ یې له یو بل ســـره توپیر درلود، دغه قالب ته ورګوزار کړل، طبیعي وه چې د شـــرایطو په لحاظ ځینې انســـانان د ســتالین د قالب لپاره لنډ او ځینې ترېنه اووږده وو. لنډ او اوږده دواړه د ده د شـخص قالب په اوږدوالي او پلنوالي کې سـم نه برابرېدل. ده لنډ بنیادمان دومره راکښـــل چې په لکونو انســـانان د ده په قالب کې وشـــلېدل، د لکونو اوږدو انسانانو سرونه، پښې، لاسونه او د بدن نور غړي د دې لپاره پرې کړل چې بې سرونو، بې پښو، بې لاسو او بې غړو انسانان د ده تصور په قالب کې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

برابر کړي. د ده قالب په بې شـــمېره زور ورکوونکو کوتو، د بیګار په بې شمېره کمپونو، زندانونو، د جاسوسی شبکو په دفترونو تر وروستي مرکزونو او اعدام ځایونو کې پروت و. په دې قالب کې د دوی په اصـــطلاح ((د انقلاب وارثان)) په لکونو کارګران او بزګران هم وشـــلېدل او په زرګونو د کمونست ګوند د غړو او نامتو خربي مشرانو غړي هم پرې کړلای شول.

څه وخت چې د ده د تصـــور په قالب کې د تزار د دورې بقایا قشـــرونه او اشـــخاص مات ګودل شـــول، نو ده د ((ســـوشـــلســـتي انســـان)) یا ((د نوي انســـان)) د جوړېدو لپاره په نویو موادو فکر وکړ او خپله ټوله توجه یې نویو موادو ته ورکړه. دغه نوي مواد د شـوروي اتحاد نوی نسـل او ماشـومان وو. ده د نوي نســـل لپاره نوی قالب جوړ کړ او دغه ټول مواد د ده د تصـــور په قالب کې ور واچول شـــول ((نوی انســـان)) راووت. اوس د ده د تصـــور ((د نوي نســـان)) د مغزو څخه ټول انســـاني ارزښـــتونه ((د زړو چټیاتو)) په نوم پرېمینځل شـوي وو او هغه د نویو ارزښـتونو په ګانه بنـکلی شـوی و. د نویو ازښـتونو په حکم ((نوی انســان)) د ګڼ ګوند د دکتاتور لپاره له حده زیات مطیع او وفادار، فعال جاسوس او پروپاګندچي، پوخ دروغجن او استفاده ګوونکی، تکړه قاتل او ډار اچوونکی یا په لنډ عبارت د ټولو انســـاني ارزښـــتونو یا د دوی په اصطلاح ((د زړو چټیاتو)) څخه بېخي پاک انسان و.

جارج ارول د شـــوروي اتحاد غولوونکي ایډیالوژي او د عمل په ډګر کې دمنحرفه انسـاني ټولنې د جوړولو او د منحرفه ټولنې تولید منحرف انسـان د انسـاني ارزښـتونو پر ضـد د لوی خطر په حیث درک کړ. ده د ژور درک په نتیجه کې په کال ۱۹٤٤م کې ((د ځناورو فارم)) او په کال ۱۹٤۹م کې د ((۱۹۸٤) په نومونو دوه لوی شـاهکارونه انسـاني ټولنې ته لوی سـوغاتونه ورکړل. د ده لومړنی شـهکار د شـوروي کمونسـتي ګوند عملي برخې سـره

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارتباط لري، په دې کې لیکوال په ډېره ماهرانه توګه د اکتوبر نه وروسته د مخکنیو ورکړل شویو وعدو هېرونه، د ګوند د مشرانو ترمنځ رقابت، د ګوند مشر مطلق دکتاتور کېدل، په ګوند کې د ممتازه طبقې منځ ته راتلل، د ممتازه طبقې په ګټه قوانین بدلول، د کارګرانو نا انساني استثمار، بیکار ته د وقار درجه ورکول، حقایق معکوس ښودل، خلک محض په پروپاګندو قانع کول، غولول، چل، وحشت، قتل او نور ناوړه عملونه تشریح کوي.

د لیک سبک: لکه څنګه چې د جارج ارول (۵۰- ۱۹۰۲) د سوانح څخه څرګندېږي، ده د شوروي اتحاد دکتاتوري رژیم برسېره د مختلفه تمدنونو او په مشخص ډول د شرقي تمدن د دکتاتوریانو پر ضد د لیکل شویو (لکه کلیه او د منه) او شفاهي کیسو په اړه هم پوره معلومات درلودل. د دې کیسو له مخې څه وخت چې یو ظالم دکتاتور خپل ظلم او استبداد له حده زیات کړی دی او د خلکو څخه یې د استبداد پر ضد د شکایتونو او د واقعیتونو د ویلو حق هم سلب شوی دی، نو د استبداد د لاندې ځینې خلک هم لاس تر زنې غلي نه دي ناست، که چېرې دوی به د دکتاتور له ډاره د ده د ظلم پر ضد په ښکاره اواز نه شو پورته کولای، نو بیا به دوی د استبداد پر ضد مجادلې ته د کیسو له لارې مجرا ورکوله. د دې لپاره چې خلکو ته د ظلم پر ضد پیغام ورسوي او هم د دکتاتور تور راونه پاروي، دوی تل خپلې کیسې د تېرو زمانو څخه او یا د لرې واقعې یا افسانوي ځایونو څخه شروع کولې او د خپلو کیسو د ویلو لپاره یې یا د لرې ځایو د خلکو نا اشنا نومونه یا ښاپېرې او دیوان، یا ځناور، یا مرغۍ او یا نور مخلوق انتخابوه.

((د ځناورو فارم)) هم د لوی استبداد پر ضد کیسه ده او دا لوی ښهکار هم د تېرو دکتاتورانو پر ضد د زړو کیسو په سبک لیکل شوی دی. د ((مانور

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

فارم)) چې وروســـته ((د ځناورو فارم)) په نوم بدلېږي او يا نور ګاونډي فارمونه او يا نور ځايونه د شوروي اتحاد څخه ډېر لرې په انګلستان کې پراته دي. جرج ارول د تېرو زړو کيســـو په پيروي خپله کيســـه د فارم د مختلفو ځناورو لکه د خوګانو، اســونو، ســپيو، مېږو، چرګو او نورو د وينا او عمل په رنا کې پرمخ بيايي او د ده په کيســه کې د ټولو انســانانو او ځناورو نومونه هم لکه جونز او ســنويال هم انګليســي نومونه دي. دا لوی فنکار تر پايه په خپله کيســه کې د ډکتاتورۍ او اســتبداد اصــلي مرکز د شــوروي اتحاد ځايونو او خلکو نوم هېڅ نه اخلي او نه ورته اشاره شوې ده.

د سمبولیک نومونو او پېښو لنډه تشریح

۱– جونز: د روسيې وروستني تزار الکزاند ته اشاره ده او د جونز په کړکې د دغه امپراتور د ضعف خصوصيات تشريح شوي دي.

۲– زور ميجر: د کمونستي ايډيالوژۍ لومړنی بنسټ ايښودونکی دی. ميجر د خوب له لارې لرغونی کميون، طبقاتي تضاد، د انسان او ځناور په مفهوم د پورته طبقې له خوا د کارګرو اســتثمار، د ځناورتوب اصــول يعنې کارګري ايډيالوژي، بغاوت د ((انقلاب)) په مفهوم او د بغاوت ترانه ترانه تشــريح شــوې ده. د ميجر تر مړينې وروســته د بغاوت لپاره جدي فعاليت شــروع کېږي.

۳– پېښـــه: د کتاب په دويم څپرکي کې د ځناورو بغاوت د اکتوبر د ((بغاوت)) په مفهوم تشريح شوی دی. د اکتوبر د پېښې په اړه په کې راغلې دي. کله چې په کال ۱۹۱۷م د فبروری په مياشت کې د پترزبورګ ښاريانو د کال ۱۹۰۵ د خونړۍ يکشنبې کليزه نمانځله، دغه نمانځنه ناڅاپه په خود

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخودي اعتصـاب بدله شـوه او د بغاوت بنه يې غوره کړه. د لومړۍ نړيوالې جګړې څخه سترو او ستومانو د پترزبورګ عسکرو د بناريانو په طرفداري اعلان وکړ. بغاوت لاپسې خپور شو، الکزاندر استعفا ورکړه، موقتي حکومت وټاکل شو. په دې مرحله کې بلشويسک دکمونست ګوند د سياسي قدرت لپاره فعاليت زيات کړ او ډېر په اساسنه بريالی شو.

۳- سنوبال او ناپولن: دا دواړه ځوان خوګان د دې کتاب اصلي کرکټرونه دي او جارج ارول د دې دوو کرکټرونو په واسـطه دکمونسـت ګوند دننه د تراتسکي (سنوبال) او ستالين (ناپولن) ترمنځ د سخت رقابت، مخالفت او دښمني تشريح کوي.

د پترزبورګ په يوه يهودي کورنۍ کې زېږېدلی تراتسکي (۱۸۷۹- ۱۹٤۰) او د ګرجسـتان په عيسـوي اداره کورنۍ کې زېږېدلی سـتالين (۱۸۷۹- ۱۹۵۳) دوه مختلفه شـخصـيتونه وو. دواړه د ځوانۍ راهيسې کمونسـتان وو، ليکوال، فصيح، په ايډيالوژۍ، سياسي او نظامي چارو پوه تراتسکي بين المللي شـهرت درلود او په ابتداکې اداره چې خپل سـره او په ډسـپلين مين ستالين د محلي شهرت څښتن و.

دکمونست ګوند له خوا د قدرت نيولو سره سم تراتسکي د سرو عسکرو د جنګ د وزير او په کال ۱۹۱۸ کې سـتالين د مليتونو دکميسـار په حيث وټاکل شـو، چې يو د سـرو عسـکرو په تنظيم او بل د مليتونو په نوي اداري چارو بوخت شول. په کال ۱۹۱۸ کې کورنۍ جګړې پيل شوې، دکمونست ګوند پر ضد د سپين ګارډ حملې روانې شوې، کازان ونيول شو او سپين ګارډ د ماسـکو د نيولو پر لور راروان و. تراتسـکي کازان ته ولاړ او دلته يې په لومړي محاذکې د مخالف قواوو د مرميو د باران لاندې د سـرو عکسـرو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارښـــوونه کوله. یو کال وروســـته کورنۍ جګړو شـــدت پیداکړ او دا ځل تراتســـکي د پترزبورګ (لیننګراد) دفاع وکړه. کال ۱۹۲۰ کې کمونســـت ګوند د تراتسکي بریالیتوب ونمانځه او ده ته ((د سـور بیرغ نښـان)) ورکړل شـو. د کورنۍ جګړو د پیل نه ترکال ۱۹٤٥ پورې د سـتالین په شـمول د کمونست ګون ټولو غړو تراتسکي، ((د لینن پسې په دویمه درجه)) د انقلاب لارښوود)) د سرو عسکرو جوړونکي او د بریالیتوب پلار)) باله او برعکس د کورنۍ جګړو په دوران کې د دغه وخت په لیکل شـوي تاریخ او یادښـتونو کې د ستالین د نوم ذکر نه دی راغلی.

په شـروع کې د تراتسـکي او سـتالین رقابت شـخصـي بڼه درلوده. دواړه د کمونسـت ګوند د مشـرتابه لپاره کاندید وو، دواړو دغه شـخصـي رقابت ته د سیاسي مخالفت بڼه ورکړه. د تراتسکي د مفکورې له مخې ((تر څو چې پرله پسـې انقلاب)) ونه شـي او مخصـوصـاً په یورپ کې ((انقلاب)) منځته را نه شـي، کېدای شـي چې د شـوروي اتحاد ((انقلاب)) یا د سـقوط سـره مخامخ شـي او یا انحرافي بڼه غوره کړي.)) له بلې خوا سـتالین د تراتسـکي ((د پرله پسـې انقلاب)) د مفکورې پرضـد په یو هېواد کې د سـوشـلزم ټینګښـت بیا په بـل هېواد کې د ((انقلاب هڅې)) نظریـه وړانـدې کړه. د دوی رقـابـت د اختلاف له حده تېر شـو او دښـمني یې د سـیاسـي بیرو نه نیولې د ګوندکښـته صفونو ته ورسېده. تراتسکي به ستالین ته غبي، قهرجن، شوړ او خپل سری ګورجي وایه او ســـتالین تراتســـکي د ماجراجو، د ((انقلاب)) ســـره لوبې کوونکی، تروریست، زوړ منشویک او د بورژوا فکره په نومونو باله.

په کال ۱۹۲٤م کې د لینن تر مړینې وروسـته د دسـیو پلار ډکتاتور سـتالین د تراتسـکي د مشـرتابه د مخنیوي لپاره د کمونسـت ګوند د سـیاسـي بیرو دوه غړي زینوویف اکامینوف د ځان ملګري کړل او د ګوند د عمومي ســـکرتر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکي يې په خپل لاس کې ونيولې. تر دې وروسته ډېر ژر په يو هېواد کې د سوشلزم ټينګښت کوند او دولت ته د وفاداری شعار اعلان شو. په کال ۱۹۲۵م کې د ((پولادي ډسپلين)) په نوم د سياسي بيرو او کوند څخه وويستل شو او په کال ۱۹۲۹م کې د شوروي اتحاد څخه تبعيد شو. ورپسې ستالين د تراتسکي ټول ملګري د کوند او دولت د اورګانونو څخه خارج کړل.

تر تبعيد وروسته د ستالين په حکم د دولت ټولو ارګانونو د تراتسکي پر ضد منظمه پروپاګنده پيل کړه، لکه څنګه چې تراتسکي د کورنۍ جګړو په دوران کې د ستالين رول د نشت برابر ګانه اوس ستالين د تراتسکي نوم د کورنۍ جګړو په دوران کې د نشت برابر کړ. د ستالين په حکم د تراتسکي نوم د کوند، نظامي کمېټې او د پترزبورک د شورا د کمېټې د تاريخونو او د تعليمي نصاب څخه بېخي وويستل شو. د ستالين په حکم نوي تاريخونه، نوی تعليمي نصاب وليکل شو او د کورنۍ جګړو په دوران کې تراستکي فعاليت ته د کمونست کوند د مرکزي کمېټې وروسته جمعي فعاليت نوم کېښودل شو. اوس د تراتسکي پر ضد پروپاګنده کې د شوروي اتحاد د ټولو دولتي مطبوعاتو د تراتسکي له نوم سره د غدار، ورانکاري، دسيسه کار او د کند، ايډيالوژۍ، دولت او د شوروي اتحاد د ولسونو پر ضد د خارجي اجير نومونه ور اضافه کړل.

د کال ۱۹۳۶ م څخه تر کال ۱۹۳۹م پورې د ((سور غضب)) د ساتول لاندې ملکي او نظامي بې شمېره غړي د پرله پسې پټو او بنکاره محاکمو په نتيجه کې پټ او بنکاره اعدام شول. د دې محاکمو له جملې څخه دري محاکمې ډېر شهرت لري؛ د کال ۱۹۳۶ په محاکمه کې د دولت دري ډېرش لوړ رتبه ملکي مامورين، د کال ۱۹۳۷ د محاکمې په دوران کې يو مارشال

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یو شـــمېر د لوړ رتبـه جنرالانو ډله او د کـال ۱۹۳۸ په محاکمه کې د کمونســت ګوند د ســیاســي بیرو او د مرکزي کمېټې یو ویشــت نامتو غړي محاکمه او اعدام شول. په دې محاکمو کې د تراتسکي او ستالین پرته د لینن د دورې ټوله ســیاســي بیرو، د مرکزي کمېټې یو شـــمېر نامتو غړي، یو صـدراعظم، د صـدارت څو مرستیالان، د بین المللي کمونیزم دوه رییسان، د کارګرې اتحادیې رییس، یو مارشـــال، یو لوی درســـتیز، لوړ رتبه جنرالان، نظامي عمومي سیاسي رییس، د ټولو مهمو قشلو لوړ رتبه قوماندانان، په اسیا او یورپ کې د شوروي اتحاد ټول سفیران او د دغه وخت د سیاسي پولیسو دوه مشران د محاکمې پر ځای کې ودرېدل.

د ټولو پر ضـد دا تورونه لګېدلي وو چې ((مجرمین)) د تراتسکي په لمسـون ستالین وژل غوښت، سرمایه داري یې راوستله، د هېواد اقتصـادي او نظامي بنســت یې رنګوه او د شــوروي زیارکښ کارګرانو ته یې د زهر ورکولو نیت درلود. ټولو وهل شـویو کمونسـتي سـیسـتم د پولیسـو په اصـطلاح په خپله خوښه اعتراف وکړ چې د ((انقلاب)) د پیل راهیسې دوی د برتانیې، فرانس، جاپان او جرمني د جاسـوسـي شـبکو غړي وو او دوی نازي جرمني او جاپان سره پټه موافقه کړې وه چې شوروي اتحاد به تجزیه کوي او د دغو هېوادونو ته به د شـــوروي اتحاد ځینې ســیمې ورکوي.)) د محاکمو په دوران کې د ستالین په حکم د جاسوسي شبکو او د ګوند د غړو مارشونه روان وو او ټولو به یو شعار ورکاوه چې ((دا لېونې سپي اعدام کړي.))

دلته ((د سور غضب)) د ساتول د لاندې ((د خپلې خوښې)) د اعتراف څخه دوه مثالونه وړاندې کېږي. دري ((مجرمینو)) هولزمات، داوید، او برمات یورین ((په خپله خوښه)) اعتراف کې وویل: ((موږ او تراتسکي د ډنمارک په یوه هوټل کې ولیدو او دلته مو د ســـتالین د قتل فیصـــله وکړه.)) د دوی د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

محاکمې او اعدام څخه وروسته ثابته شوه چې په دغه نوم هوټل د محاکمې نه لس کلونه مخکې ترل شوی و او لویه مغازه ترینه جوړه شوې وه. همدا شان پیاتاکوف ((په خپله خوښه)) اعتراف وکړ چې، ((زه د تراتسکي ارتباطي غړی یم. زه د نازي جرمني په یوه الوتکه کې د ناروې پایختخ اوسلو ته ولاړم، دلته مې د تراتسکي سره وکتل، ده ته مې راپورونه ورکړل او له دغه ځایه مې د ده هدایتونه راوړل.)) وروسته څرګنده شوه چې کومه نېټه تورن اوسلو ته د تګ نېټه ولې وه له دغه نېټې څخه څلور میاشتې مخکې او دوه میاشتې وروسته د جرمني یوه الوتکه هم د اوسلو په هوایي ډګر نه وه کښته شوې.

د محاکمو په دوران کې د ستالین دا فرمان چې ((دکور د یو غړي جرم دکور د ټولو غړو جرم ګڼل کېږي او کـه چېرې د کورغړي مجرم غړی یـا غړي پولیسـو ته ور نه کړي، نو په دې صـورت کې به د کورنۍ ټولوغړو ته سـخته سـزا ورکول کېږي.)) په شـدت عملي کېده. د دې فرمان له ډاره ډېر زامنو، لونو، مېرمنو، ورونو، خوینـدو او پلرونو د خپلو پلرونو، مېرونو، ورونو او زامنو پر ضـد ((د جرم)) شـهادت ورکړ. ځینو ((مجرمانو)) په دې هیله چې خپله کورنۍ د مرګ څخه وژغوري ((په خپله خوښـه په خپلو جرمنو اعتراف کاوه)) او د دوی د ((اعتراف)) وروسته دولتي څارنوال د ((هر غدار)) لپاره اعدام غوښـتنه کوله او مرګ ته چمتو ((مجرمان)) به سـم له لاسـه ((د سـور غضب)) د ساتول لاندې توتې توتې کېدل.

کال ۱۹۳۹ کې عممي تصفیه یا ((سـور غضـب)) لږ سـور شـو. د دغه کال د مارچ په میاشـت کې سـتالین وویل: ((د پخو اسـنادو او د ډېرو مجرمینو د اعترافاتو څخه اثبات شوې ده چې تراتسکي د انقلاب راهیسې د خارج اجیر جاسـوس و او اوس هم د خارجي جاسـوسـي شـبکو سـره یوځای د شـوروي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتحاد پر ضد دسیسې کوي. دې غدار جاسوس ته د مرګ سزا ټاکل شوې ده.))

کال ۱۹۳۹ یا ((د سور غضب)) په شروع کې تراتسکي د ناروې څخه لاتین امریکا مکسیکو ته ولاړ. دلته په ده باندې څو ځله د قتل حملې وشوې او د ده ټول ماشمان په ډېر مرموز ډول یو یو مړ شو. کال ۱۹٤۰ د اګست په شلمه نېټه د لوی دکتاتور اوږد لاس جاسوسي شبکې په تېره تبر تراستکي د هغه په کور کې په سر وواهه او د هغه ماغزه یې دکتاب په پاڼو وشیندل. کله چې ستالین خپل دښمن له منځه یوړ، نو اوس هغه د تراتسکي څخه ((د تراتسکیزم)) نوې لویه ټاپه جوړه کړه او تل یې دغه نوې ټاپه د نورو ټاپو سره یوځای په خپلو داخلي او خارجي مخالفینو لګوله او اوس هم تربنه استفاده کوي.

٤- سکیولر: سکیولر د ستالین د دورې د پروپاګندې او تبلیغاتو لوی ماشین ته اشاره ده. د لوی دکتاتور په حکم دغه لوی ماشین د اکتوبر نه مخکې او وروسته ټولې واقعي پېښې په معکوس شکل وړاندې کوي. د شوروي اتحاد لیکل شوي قوانین دکمونست ګوند د ممتازه طبقې او د لوی دکتاتور په ګټه تعبیروي (بنه مثال یې په دې کتاب کې د اوه احکامو تعبیر دی، چې په پای کې دا حکم چې ((ټول ځناور مساوي دي.)) په دې حکم چې ((ټول ځناور مساوي دي اما ځینې د ځینو په تناسب ډېر مساوي دي.)) بدلېږي.) د شوروي اتحاد ولس د تراتسکي د (((جرمونو)) او ((غداری)) په باره کې قانع کول غواړي او د ستالین نظر او عمل د شوروي اتحاد د خلکو او نړۍ دکارګرانو د ژوند د مشکلاتو د حل او د راتلونکې کارګرې ټولنې د هوسا ژوند لپاره د عملي اساساتو په حیث معرفي کوي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵– بوکسر، کلو ور او بنجامین: دا درېواړه د شوروي اتحاد د مختلفه کارګرانو د ژوند مختلفه سمبولونه دي:

۱) کارګر او وفادار بوکسر د شوروي اتحاد د هغو کارګرانو نماینده اصلي کرکټر دی چې په ((انقلاب)) عقیده لري. دی به بغاوت کې زخمي کېږي او ((د ځناورو قهرمان لومړی درجه نښان)) اخلي، د خپل صحت څخه بې پروا شپه او ورځ کار کوي اما څه وخت چې د ځوانۍ د کار انرژي له لاسه ورکوي، نو بیا د یوې استهلاک شوې متاع یا د یو استثمار شوي کارګر په توګه په قصاب خرڅېږي.

۲) کارګره کلو ور کار کوي، د خپل صحت خیال ساتي او بوکسر ته هم د صحت د ساتلو توصیه کوي. د ممتازه طبقې او دکتاتور په ګټه د قوانینو یا ((اوه احکام)) تغیر ته متوجه ده، خو په پټه خوله د نورو څخه د احکامو د تغیر په باره کې پوښتنه کوي. د بوکسر معکوس کلو ور د سنوبال په باره کې د سکیولر سره هېڅ استدلال نه کوي او ترپایه ژوندی پاتې کېږي.

۳) د فارم د ټولو ځناورو په تناسب هوښیار، دقیق او پټه خوله بنجامین د ((بغاوت)) په ماهیت او د ((بغاوت)) وروسته د ممتازه طبقې او دکتاتور په ټولو غولونکو تاکتیکونو پوهېږي اما دی په دې مسایلو د هېڅا سره خبرې نه کوي. د بوکسر غوندې د نړدې ملګري په مرګه خفه دی، خو هر څه په پټه خوله د ځان سره ساتي، هر څه زغمي او ترپایه د ټولو غمونو باوجود ژوندی دی.

٦– سپي: سپي د ستالین د دورې د جاسوسي شبکو یا خفیه پولیسو سمبول دی. ستالین جاسوسي شبکې له حده زیاتوي، جاسوسانو ته له حده زیات امتیاز ورکوي، شوروي اتحاد ته پولیسي دولت بنه ورکوي، د پولیسو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پواسطه خپل ((سور غضب)) عملي کوي، خپل ټول مخالفين د دوی پواسطه له منځه وړي او د جاسوسي شبکو له ډاره د شوروي اتحاد ولس د مرګ له ډاره د اطاعت پرته بله هېڅ لا نه لري.

۷– موسز: موسز د مذهبي موسی سمبول دی، د سیاسي قدرت تر نیولو وروسته کمونستي ګوند دوه فیصلې وکړې؛ د لومړۍ فیصلې له مخې د ګوند او دولت ټول ارګانونه به په ټول قوت په ماشومانو یا په نوي نسل تمرکز کوي. دوی به د ایډیالوژۍ په چوکاټ کې دننه د ټولو ملي عنعناتو پر ضد روزي او د دویمې فیصلې له مخې تر څو چې ((نوی سوشلستي انسان)) روزل کېږي، تر هغې به ځینو مذهبي مشرانو ته هر ډول امتیازات ورکوي چې د دوی پواسطه راتلونکي کمونستي ټولنې ته لاره خلاصه کړي.

۸– چرګې، بټې او نور د بزګرانو نماینده ګي کوي.

۹– مېړې: مېړې د ګوند د سیاسي بیرو او د مرکزي کمېټې د هغو غړو سمبول دی چې ستالین به د دوی پواسطه خپل ګوندي مخالفین تهدیدول او یا به یې د دوی ویناګانې وربانديې ګډوډولې.

۱۰–کوتري: دوی په خارجي هېوادونو کې د ستالین د پروپاګندچیانو او اجنټانو سمبول دی.

۱۱– مولي: د شوروي اتحاد دکتاتوري رژیم څخه د ناراضي خلکو تېښتې او په نوروهېوادونو کې پناه اخیستلو ته اشاره ده.

۱۲– د فوکس وود او پنجفیلډ فارمونه د خواشا سرمایه داري هېوادونو سمبول دی. د یوې خوا سرمایه داري هېوادونه د کارګري بغاوتونو څخه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارېږي او له بلې خوا رقيب هېوادونه د شوروي اتحاد سره د تجارتي کتو په هيله د تجارت د ټينګولو لپاره هلې ځلې کوي.

۱۳- ليکوال په وروستني لسم څپرکي کې د کمونستي ګوند د نظر او عمل ترمنځ تضـــاد، د دکتاتور په ګته د قوانينو بدلېدل، په ګوندکې د ممتازه طبقې منځته راتګ د کارګرانو اســـتثمار او تزاري امپراتوری ته د ســـوشـــلســـتي امپراتوری د رنګ ورکولو په باره کې په زړه پورې نتيجه ګيري کوي.

مننه: بنـاغلو جهاني او ثابت د مترجم سـره پوره مرسـته کړې ده او د دواړو څخه ډېره مننه کېږي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی څپرکی

د مانورفارم Man or Farm خاوند مسټر جونز Mr—Jones د چرګانو کوډلې وتړلې، خو هغه دومره نشه و چې د بوتل بندول یې له یاده ووتل. دهغه په لاس کې لانتین اخوا دېخوا ټوپونه وهل او د لانتین په رڼاکې یې د کور دغولې اړیکې واچاوه. خپل بوټونه یې په درب د دروازې تر شاه وغورځول. په اشپزخانه کې د پروت بیرل نه یې د بیرو وروستنی ګلاس په سر راواړوه او بیا نېغ بسترې ته ولاړ. مېرمن یې پر بستره ویده وه او په خوب کې خرېده.

کله چې د خوب کوټه تیاره شوه، د فارم په ټولو کوټو کې د ځناورو شور او د مرغیو د څانګونو پرکهار پیل شو. د ورځې داګونګسی روان و چې تېره شپه زور میجر عجیبه خوب لیدلی او غواړي چې خپل خوب نورو ځناورو ته هم ووایي. ټولو ځناورو دا فیصله کړې وه، څه وخ چې مسټر جونز یوې خواته ولاړ، نو هغوی به د زور میجر د وینا د اورېدو لپاره د انبار په لویه کوټه کې سره راټولېږي. د فارم ټولو ځناورو د زور میجر دېر درناوی کاوه او هر ځناور دې ته چمتو و چې د هغه د وینا د اورېدو په خاطر یو ساعت بې خوبي په ځان تېره کړي.

له مخکې نه میجر د انبار د لوېي کوټې دکنج په یو اوچت ځای د بوسو په بستره کې ډوب پروت و. د ده د بسترې له پاسه یو لانتین په موږي کې ځوړند و. په دې وخت کې دولس کلن و، جود یې غټ شوی و، خو د پخوا غوندې د ځوانۍ قوت په کې نه و پاتې. خو له ورایه له قاره ډک هوښیار او مهربان خوک ښکارېده. له ټولو ترمخه د انبار لوېي کوټې ته درې سپي بلوبل Blue bele ژیسي Jessie او پنچر Pincher رانغوتل، په دوی پسې خوګان راغلل او د راتلو سره سم د اوچت ځای مخامخ په بوسو کې پرېوتل. چرګانو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کړکیو په درشـــلو کې ځای ونیو، کوترې پورته لرګو ته والوتلې او مېږې د خوګانو تر شاه پرېوتلې او د پرې وتو سره سم يې په شخوند لاس پورې کړ. د کراچۍ دوه اسـونه بوکسـر Boxer او کلوور Clover يوځای راننوتل. د دې لپاره چې بوسوکې پټ پراته واړه ځناور تر پښو لاندې نه کړي، ډېر ورو ورو تلله او په ډېر احتياط يې خپل لوی او ببر سومان ايښودل.

کلوور پوخ عمر ته رســـېدلې قوي اســـپه وه، خو تر ځلورم بيان تر زېږولو وروسته په کې اوس د ځوانۍ هغه پخوانی خوند نه و پاتې. بوکسر د وجود نه ډېر لوی ځناور و. قد يې تقريباً اتلس لويشتې و او د دوو عادي اسونو قوت يې درلود. د شونډک د لاندې د سپينې کرښې له کبله څه ناڅه ساده غوندې معلومېده دا هم څرګنده وه چې دی لومړۍ درجه ځيرک ځناور نه و، خو د کړو وړو او د کار د زيات قوت په وجه ورته د فارم ټولو ځناورو په درانه نظر کتل.

تر اسونو وروسته سپينه اوزه موريل Muriel او زوړ خر بنجامين Benjomin د يو بل پســـې راغلل. بنجامين په فارم کې له ټولو نه زوړ او ډېر بد خويه ځناور و. هغه ډېرې لږې خبرې کولې، که چېرې به يې خبرې هم وکړې، نو د ده هره تبصره به د بدبينۍ نه ډکه وه. د مثال په ډول هغه به داسې ويل: ((خدای راته لکۍ د دې لپاره راکړې چې مچان پرې وشـــړم. که لکۍ يې نه وای راکړې، نو مچان به هم نه وو.)) په ټول فارم کې منجامين يوازينی ځناور و چې ده په ټول ژوندکې نه و خندلي. که چېرې به چا ترېنه وپوښـــتل چې ته ولې نه خاندې، نو هغه بد ورته تل دا ځواب ورکاوه چې ((ما په ټول عمر کې د خندا وړ هېڅ شـــی نه دی ليدلی.)) ســـره له دې چې منجامين به ښـــکاره اعتراف نه کاوه مګر هر چاته څرګنده وه چې هغه په ټول فارم کې يوازې د بوکســـر مخلص دوســـت و. دواړه به تل يوځای د باغچې نه وړاندې کور ته

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نږدې په وړوکي مالځړکي خوا په خوا څړېدل، خو يو تر بل يې هېڅ خبرې نه کولې.

ايله دواړه اســـونه پرېوتي و چې د بټې بچي د انبار لوبې کوټې ته راننوتل. له دوی نه مور ورکه شوې وه، ټول دکوټې دننه کتار ودرېدل او په ((څيو څيو)) يې شـــروع وکړه. دوی د يو ځای نه بل ځای ته منډې وهلې او دکښاســـتلو لپاره يې داســې ځای پلټه چې د پښـــو لاندې نه شـي. کلوور د خپلو مخکينيو اوږدو پښـــو څخه د دوی چاپېر دېوال جوړکړ د بټې بچي دکلوور د پښـــو دننه دېوال کې راټول شول او ډېر ژر خوبو يوړل.

مولي Mollie د مستر جونز نازولې، ښکلې مګر بېعقله سپينه اسپه وه. مستر جونز وربانديې تل د ښکار دامونه وړل. څه وخت چې هغه په ډېر ناز او مکېز انبار ته راننوتله، نبات يې په خوله کې وو او په خوند خوند يې وربانديې شخوند واهه. په دې ورځ هغې د څټ په ويښتوکې سرې پټې ترلې وې، دې په کوته کې دننه په مخکې کتارکې ځای ونيو او په دې اميد چې ځان ته د نورو پام راوګرځوي، مولي د څټ د سپينو ويښتو او په ويښتوکې ترلې شويو سرو پټيو سره لوبې شروع کړې.

تر ټولو وروسته پيشو راننوتله، د خپل عادت سره سم هغې د تود ځای په لټه اخوا دېخواکتل او په پای کې د بوکســـر اوکلوور ترمنځ غونجه پرېوتله. ډېر ژور خوب يوړله او په خوب کې په خرار شروع وکړه. په خواړه خوب ويدې پيشکې تر پايه د ميجر د وينا يو ټکی هم وانه وربېده او نه پر دې پوه شوه چې زور ميجر څه وويل.

دکورنۍ کارغه موســـز Mosses نه پرته چې د لوبې دروازې تر شـــاه په خپله جاله کې ويده و، نور ټول ځناور حاضـــر شـــوي وو. کله چې ميجر د بنو د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې وکتل چې د فارم ټول ځناور راغلي دي او هر یو په خپل ځای پروت دی او ټول د ده د وینا انتظار باســي، نو میجر لومړی خپله غاړه تازه کړه او بیا یې په خبرو پیل وکړ:

((ملګرو! پوره باور لرم چې تاسو به زما په تېرې شپې په عجیبه خوب خبر یئ. مخکې له دې چې د خوب په باره کې درته وګړېږم. د خوب تر ویلو دمخه درته یوه بله مهمه موضوع ویل غواړم.))

(ملګرو! زه فکر کوم چې یو څو میاشتې وروسته به زه ستاسو په منځ کې نه یم. مخکې له دې چې زه مړ شــم، دا خپله وظیفه ګڼم چې تاسو ته خپله هغه پوهه چې ما د اوږد ژوند د تجربې په نتیجه کې حاصــله کړې ده، منتقله کړم. ما په دې فارم کې اوږد ژوند تېر کړ، زه تل په غوجل کې ځانله پروت یم او په غوجل کې د ځانله پرېوتو په وجه زه د فکر کولو لپاره ډېر وخت لرم. په زغرده درته ویلی شــم چې زه د ژوند په ماهیت او په زمکه بانـدې د اوســېدونکو ځناورو په برخه کې له هر چا نه نــــه پوهېږم. زه غواړم چې د خوب د ویلو ترمخه تاسو ته په دې موضوع څه خبرې وکړم.))

ملګرو! زمونږ د ژوند ماهیت څه دی؟ راځئ چې د داســي ژوند مقابله وکړو، زمونږ ژوند د ستونزو او شاقه کارونو څخه ډک او ډېر لنډ دی. کله چې مونږ پیدا شــو، مونږ ته دومره خوراک راکول کېږي چې په دې خوراک مو ایله په بدن کې ســاه غړېږي. کله چې مونږ د کار وړ شــو او کار کولای شــو، نو مونږ مجبور یو چې د خپل قوت او توان تر وروستی شـېپې پورې کار وکړو او کله چې زمونږ څخه نوره ګټه نه شي اخیستل کېدای، نو بیا ټول په ډېره بې رحمي حلالېږو. تر یو کلنۍ وروســته په انګلســتان کې یو ځناور هم د خوشــالۍ او ارامۍ په مفهوم نه پوهېږي. په انګلســتان کې یو ځناور نــــاد او ازاد نه دی،

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې دا یو څرګند حقیقت دی، چې دلته د ځناور ژوند خواري او غلامي ده.))

((ایا دا د طبیعت حکم دی؟ ایا زمونږ وطن دومره غریب دی چې د دې زمکې اوسېدونکو ځناورو ته ښه ژوند نه شي برابرولای؟))

((ملګرو! واقعیت داسې نه دی، زر ځله درته ویلی شم چې واقعیت داسې نه دی. د انګلستان زمکه حاصل خېزه ده او اقلیم یې هم ډېر ښه دی، د انګلستان حاصر خېزه زمکه د دې ور ده چې د اوسنیو اوسېدونکو ځناورو په تناسب نورو ډېرو ځناورو ته پرېمانه خوراک برابرکړي. یوازې دا زمونږ فارم یو درجن اسونو، شلو غواوو او په سلګونو اوزو ته خوراک ورکولای شي، چې د دې فارم ټول ځناور به یو داسې هوسا او با وقاره ژوند ولري چې اوس یې مونږ هیڅ تصور هم نه شو کولای. نو مونږ بیا ولې په داسې ناوړه شرایطو کې ژوندکوو؟ د دې مسلې عامل دا دی چې زمونږ دکار او زیار د تولید شتمني راڅخه انسان پټوي.))

((ملګرو! زمونږ د ټولوکشالو علت درته په لنډه خلاصه کوم او هغه دا چې زمونږ د ژوند ټولې کشالې راته د انسان له لاسه راپېښې دي. زمونږ اصلي دښمن انسان دی او بس. زمونږ د ژوند ټولې کشالې له دغه دښمن سره نه جلاکېدونکې اړیکي لري. تاسو انسان له صحني وباسئ. زه ډاډ درکوم څه وخت چې دغه دښمن له منځه ولاړ، نو د ده سره یوځای زمونږ د لوړې او شاقه کارونو ټول عوامل هم په خپل له منځه ځي.))

((انسان یوازینی مخلوق دی چې تولید نه کوي، خو خوراک کوي. انسان شیدې نه ورکوي، انسان هګۍ نه اچوي، دی یوې نه شي راکښلای او نه دومره چټک زغاستلای شي چې سوی دې په منډه ونیسي. عجیبه ده چې بیا

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د ټولو ځناورو بادار انسان دی، ټول ځناور په کار اچوي، انسان د ځناورو د تولید دېره برخه په خپل جیب کې اچوي او د ځناورو له تولید څخه دومره لږه برخه ېېرته ځناورو ته ورکوي، چې دوی محض د لوږې مړه نه شي. زمونږ د کار په قوت زمکه یوې کېږي، زمونږ ســـرې دغه زمکې څرېوي، بیا هم په مونږ کې یو داســې ځناور نه پیداکېږي چې هغه دې د خپل پوســتکي نه پرته د نورو شیانو خاوند هم وي!)).

((ماته مخامخ پرتو غواوو! تاسو تېرکال څو زره ګلینه شیدې ورکړې؟ په دغه شیدو تاســو د خپلو خوســو یو قوي نســل روزلای شو، ســتاســو شــیدې څه شــوې؟ د دغو شــیدو هر څاڅکی زمونږ د دښــمنانو د ســتوني نه تېر شــوی دی.))

((تاســو چرګو ســږکال څومره هګۍ واچولې؟ له دغو هګیو څخه څومره چرګوړې راوتلې دي؟ د دغو هګیو دېره برخه د دې لپاره بازار ته ولاړه چې جونز او د هغه مزدوران پرې پیسې وکټي.))

((کلوور؛ هغه څلور بیان چې تا زېرولي وو، څه شول؟ دغه بیان چې باید ستا د زوړ عمر د ســاتنې او خوشــالتیا تکیه وای، هر یو د یوکلنۍ په عمر خرڅ شو، افسوس چې ته به له هغوی څخه یو هم په خپل ټول ژوند کې په سترګو ونه ګورې، تاته د څلور کرته بلاربېدو او په زمکه کې د شــپه او ورځ د کار په بدله کې له دېرې لږې ځیرې او د اخور نه پرته نور څه درکړل شوي دي؟))

((او ســـره له دې هم چې مونږ د خواریۍ او تکلیف ډک ژوند تېروو بیا هم مونږ ته دا موقع نه راکول کېږي چې خپل ژوند به طبیعي صـــورت تر پایه ورسوو. زه د خپل ځان په باره کې شکایت نه لرم، ځکه چې زه یو د نېکمرغه ځناورو څخه یم. زه اوس دولس کلن یم او تراوســه مې د څلور ســوه څخه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات بچي زېږولي دي او د یو خوک طبیعي ژوند هم دومره دی. په صراحت درته وایم چې یو ځناور هم د انسان د بې رحمه چرې څخه نه خلاصېږي. تاسو واړه خوګان چې زما مخامخ پراته یئ، په یو کال کې دننه به تاسو قصاب خانې ته یوړل شئ، دلته به تاسو ډېرې بغارې ووهئ خو ستاسو د بغارو سره سره به ستاسو ژوند ته خاتمه ورکړل شي. موږ ټول ځناور که غواوې یو او که خوګان، که چرګان یو او که میږې، بلکې زموږ څخه هر یو ځناور حتماً د دغه بوګنوونکي سرنوشت سره مخامخ کېدونکی دی. همدا شان اسونه او سپي هم څه ښه ورځ نه لري.))

((بوکسره؛ کله چې ستا لوی او قوي غړي خپل قوت او توان له لاسه ورکړي، په هم هغه ورځ دې جونز په قصاب پلوري، ته به د قصاب په بې رحمه چاړه حلالېږې او ستا غوښې به د ښکاري سپو لپاره پخېږي، په سپو هم دغه ورځ راتلونکې ده. کله چې دوی زاړه او بې غابنو شول، جونز به د دوی د ورمېږونو پورې لوی کانې وترې او په ډنډونو کې به یې غرق کړي.))

((ملګرو! ایا دا د لمر په شان روښانه واقعیت نه دی، چې زموږ د ژوند ټ،لې خواري او بدبختي د انسان د ظلم او استبداد له لاسه دي؟که غواړئ چې تاسو په خپله د خپل کار د تولید خاوندان شئ، بیا نو پورته شئ او د دغه ظالم انسان نه ځانونه خلاص کړئ. که د انسان نه مو ځانونه خلاص کړل، نو زه زېرې درکوم چې په یوه شپه کې به د ټولو شتمنیو او ازادیو خاوندان تاسو شئ.))

((څه باید وکړو؟ د انسانانو د نسل د غورزولو لپاره پرله پسې او نه ستړي کېدونکې مبارزه وکړي. ملګرو! تاسو ته زما یو پیغام دی او دغه پیغام دی ((انقلاب)) زه اوس نه پوهېږم چې دغه ((انقلاب)) به کله راشي، کېدی شي

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دغه ((انقلاب)) یا په یوه هفته کې راشي او یا په سلګونو کلونو کې، لکه څنګه چې زه د خپلو پښــو د لاندې دا بوس په خپلو رنو ســترګو وینم همدا شــان زه پوخ باور لرم چې ژر یا وروســته دغه ((انقلابي عدالت)) خامخا راتلونکی دی.))

((ملګرو! په دې لنډ او د ســتونزو نه په ډک ژوند کې د انقلاب نه پرته په بل هیڅ شــي فکر ونه کړئ. د دې لپاره چې راتلونکي نســلونه خپلو مبازو ته د انقلاب د بریالیتوب پورې دوام ورکړي، نو زما دغه پیغام راتلونکو نسلونو ته هم ورسوئ.))

((ملګرو! په خپله اراده او تصــمیم کې هیڅ تزلزل پیدا نه کړئ، پام کوئ چې د انســانانو اســتدلال مو بې لارې نه کړي. کله چې درته انســانان وایي چې د انســان او ځناورو کتې مشــترکې دي او یا د ځناورو او انســان خوشــبختي یو شی دی، دا ټول دروغ دي. دا پوچې خبرې دي، پام کوئ چې غوږ ورته ونه نیســئ، ځکه چې انســان د خپلو کتو پرته د بل هیڅ مخلوق د کتو خیال نه ســاتي راځئ چې د انســان پر ضــد مبازه کې موږ ټول ځناور په خپل منځ کې مکمل اتحاد او ملګرتیا وســاتو او باید چې موږ په یو اواز دا چیغه پورته کړو چې ټول انسانان زموږ دښمنان دي او ټول ځناور د یو بل ملګري او عزیزان دي.))

کله چې میجر بیانیه ورکوله په دې وخت کې درې غټې مرۍ د خپلو ســورو څخه راوتلې وې او په وروستیو پښو ولاړې د هغه خبرو ته یې غوږ نیولی و. ناڅاپه وربانديې د پیشو نظر ولګېد. هغوی په یو تراټ په منډه په خپلو سورو ورننوتلې او په ډېره چټکتیا یې ځانونه د مرګ له کومې خلاص کړل. په دې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبه‌کې د ځناورو شور پورته شو او میجر د شور د غلي‌کېدو په خاطر خپله مخکنۍ پښه پورته کړه.

((ملګرو! هغه ویل: ((دلته ستاسو سره فیصلې وړ یوه مهمه موضوع طرح کوم. ایا وحشـــي ځناور لکه مړې. ســـوي او نور زموږ ملګري دي او که دښمنان؟ ایا مړې ملګرې دې؟ راځئ چې دا موضوع رایې ته وړاندې‌کړو او زه غونډې ته د دوی سوال د وړاندې‌کېدو وړاندیز کوم.))

دېره ژر رایې واخیستل شوه او ټولو په مطلق اکثریت فیصله وکړه چې ملګرې دي. په ټوله غونډه‌کې درې سپي او یوه پیشو مخالف وو، اما وروسته د رایې د شـــمېرلو څخه څرګنده شـــوه چې دوی هم دواړو خواوو ته خپلې رایې ورکړې وې. میجر خپلو خبرو ته دوام ورکړ.

((ملګرو! لږ نور څه هم ویل غواړم او شـــاید چې دا زما د تېرو خبرو تکرار وي. د انســان او د هغه د لارو چارو پر ضـد د دښـمنۍ وظیفه هېره نه‌کړئ. هر څه چې په دوو پښـــو ګرځي هغه زموږ دښـــمن دی. هر څه چې په څلورو پښـــو ځي او یا ځانګونه لري هغه زموږ ملګری دی. پام‌کوئ چې حتی د انسان پر ضد د جګړې په دوران‌کې هم تاسو د انسان غوندې ښکاره نه شئ او هرکله چې تاســو په انســان بریالیتوب مومئ باید د انســان فســاد خپل نه کړئ. د انســان ټول عادتونه خراب دي او تاســو په‌کلکه د انســان د عادتونو څخه ځانونه وســـاتئ. د انقلاب وروســـته دې هېڅ ځناور په‌کورکې نه اوسېږي، په بستره دې نه ویده‌کېږي، جامې دې نه اغوندي، شراب او تمباکو دې نه څښـي، پیســو ته دې نه نږدې‌کېږي او تجارت دې نه‌کوي. یو ځناور دې په بل ځناور ظلم نه‌کوي، ضـعیف یو او که قوي هوښـیار یو او که ســاده،

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورِ ټول ځناور د یو بل ورونه یو. پام کوئ چې یو ورور بل ورو مړ نه کړئ، ټول ځناور مساوي دي.))

((ملګرو! اوس درته د تېرې شپې خوب وایم. زه درته د دې خوب تشریح نه شم کولای، ځکه چې دا د داسې نړۍ خوب دی چې د زمکې په سر به ټول انسان له منځه تللی وي او یوازې ځناور به د دې زمکې اصلي وارثان وي. ډېر وخت کېږي چې یو شی زما نه هېر شوی و او تېره شپه راته دغه شی په خوب کې رایاد شو. زه لا وړوکی خوک وم چې زما مور او نورو خوګانو به یوه زړه ترانه ویله او دوی ټول یوازې د دې ترانې په اهنګ او دریې مخکښیو ټکو پوهېدل. په ماشومتوب کې زه هم د دې ترانې په اهنګ پوهېدم لاکن ډېره موده کېږي چې د ترانې اهنګ مې له یاده وتلی و. د تېرې شپې په خوب کې راته هېر اهنګ بیا را په یاد شو. د خوب مهمه برخه دا ده چې په خوب کې راته د زړې ترانې ټول الفاظ هم راپه زړه شول. زه پوره باور لرم چې ډېر پخوا ټولو لرغونو ځناورو هم دا ترانه ویله خو له بده مرغه ورپسې نسلونو دغه ترانه هېره کړه.))

((ملګرو! زه به اوس درته دا ترانه ووایم، تاسو پوهېږئ چې زه اوس زوړ یم او اواز مې هم بغن دی خو چې زه درته د دې ترانې اهنګ یو ځل در زده کړم بیا یې تاسو په خپله ښه ویلی شئ. د دې ترانې نوم دی: د انګلستان ځناورو.))

((وړ میجر غاړه تازه کړه او ورپسې یې ترانه شروع کړه. لکه څنګه چې هغه ویلي وو چې اواز مې بغن دی، برعکس هغه ترانه په ډېر خوند وویله او د دې ترانې خورِ اهنګ د فارم ټول ځناور په مستۍ راوستل، د ترانې الفاظ دا دي:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځناورو د ایرسند او انګلستان
ځناورو د هر ملک او ټول جهان
د راتلونکي طلایي وخت په باره کې
واورئ زما د خوشالیو ډک ډک زېړی
ژر یا وروسته هغه ورځې دي راتلونکې
چې غورځېږي مستبد انسان له تخته
او دا زمونږ پر حاصل خبزو ښکلو زمکو
به یوازې ځناور کرځي راکرځي.

»»»

زمونږ د پوزو پېزوانونه به نور نه وي
او انسان به مو په خولو کې
ملونه نه شي اچولای
زنګ وهلي به پراته وي
ټول ملونه رکابونه
نور به نه وي شرکهاری د غمچینې

»»»

که غنم دي که اوربشې که جودر دي
که واښه دي که لوبیا که چغندر دي
که شوتل دي او که هر څه شتمني دي
دا به زمونږ وي، ټول به زمونږ وي
د دې ورځې تصور تاسو ته ګران دی.

»»»

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پتي د انګلستان به ټول سمسور وي
او اوبه به يې لا نورې هم رنې وي
خوږ نسيم به پرې چلېږي
په دې ورځ به موږ ازاد يو
د دې ورځې په خاطر به ټول جنګېږو
که څو مړه شو تر هغه سباوون مخکې
»««

که آسونه که غواګاني پيل مرغان دي
که څه بتې او يا نور ټول حيوانان دي
بايد يو شي په تلاش د ازادۍ کې
ځناورو د ايرلينډ او انګلستان
ځناورو د هر ملک او ټول جهان
د راتلونکي طلايي ژوندون لپاره
ماته ځير شئ او دا زما زېړي خپاره کړئ
»««

ترانې دفارم په ټولو ځناوروکې زبردست جوش راپيداکړ. ميجر لا ترانه پای ته نه وه رسولې چې تقريباً ټولو ځناورو د ميجر سره يوځا ترانه زمزمه کوله. ساده ځناورو اهنګ او ترانې څو ټکي زده کړي وو. د خوګانو او سپيو غوندې هوښيار ځناورو په څو دقيقوکې ټوله ترانه په يادې زده کړه. د څو کرته تکرار وروسته په ټول فارم کې ((د انګستان ځناورو)) د ترانې لړزوونکی اهنګ خپور شو. غواګانو په رمبړو، اوزو په بغ بغ، سپيو په سرنګېدو اسونو په شنېدو او بټو په قاقا سندره ويله. له دې خوشالۍ څخه د فارم ټولو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځناورو پنځه کرته دغه ترانه تکرار کړه. که چېرې د دوی د ترانې په ویلو کې مداخله نه وای شوې، ښایي چې دغه ترانه به ټوله شپه روانه وای.

له بده مرغه مستر جونز راویښ شو هغه د بستر نه راودانګل او فکر یې کاوه چې ګوندې د کور غولي ته ګیدړه رانوتې ده. هغه د خوب په کوټه کې ولاړ ټوپک ته لاس کړ او په تیاره کې په شپږم نمبر کارتوس ډزې وکړې. د ټوپک ګولي د انبار دکوټې په دېوال ورننوتلې او د ډز سره د ځناورو پټه غونډه ډېره ژر خپره شوه او ټول ځناور په یوه منډه د ویده کېدو ځایونو ته وتښتېدل. مرغیو خپلو جالو ته ودانګل او نورو ځناورو په سوکې ډوب پرېوتل او په یوه شېبه کې ټول فارم ویده شو.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم څپرکی

دري شپې وروسته زوړ میجر په خوب کې په ارامه ساه ورکړه او د هغه مړی د باغچې ترڅنګ ښـخ شـو. دی د مارچ د میاشـتې پر لومړنیو ورځـو کې مړ شو.

د زوړ میجر تر مړینې وروســـته د راتلونکو دري میاشـــتو په دوران کې ډېر جدي فعالیت روان و، ځکه چې د میجر وینا اوس د فارم هوښـیار ځناورو ته د ژوند په باره کې بالکل نوې جهان بیني ورکړې وه، سره له دې چې هوښیار ځناور هم په دې نه پوهېدل چې د میجر د وړاندوینې له مخې دغه انقلاب کله راتلونکی دی او نه د دې داسې کومې نښې نښانې لیدلې چې کوندې دغه انقالب به د دوی په ژوند کې راشي. خو بیا هم دوی دا خپله وظیفه ګڼله چې د راتلونکي انقلاب لپاره لار هواره کړي. خوګـان د فـارم تر ټولو ځنـاورو هوښـــیار وو، ځکه نو د فارم د ټولو ځناورو د تدریس او تنظیم کار یوازې د خوګانو پر اوږو پرېوت. د ټولو خوګانو په جمله کې ســـنوبال Snowball او ناپولن Napolean دوه مشهور ځوان خوګان وو او دوی دواړه مستر جونز د خرڅولو لباره ډېر ښـه ســاتلي وو. په ټول فارم کې ناپولن د برک شـیر Berk shire د خوګانو د نســل څخه یوازې خوګ و. دې د وجود نه لوی، ســخت مزاجه چپ او خپل ســـری حیوان و. د ده په مقابله ســـنوبال ژوندی زړې، فصـیح او ځیرک خوګ و، مګر سنوبال دناپولن غوندې د درونـد شـخصـیت څښتن نه و، له دوی برسېره د فارم نور ټول نر خوګان ارګجه پورکز Porkers وو. په دوی کې ســـیکولر لنډې او څورب خوګ و. ده ګرد غمبورې، رپنده ســترګې چســت حرکتونه او چیغنده اواز درلود. په خبرو کې ډېر تکړه و. کله چې به یې د ځینو مشـکلو مســایلو د تشــریح په باره کې اســتدلال کاوه، هر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت به يې يوې او بلې خوا ته ټوپونه وهل او دا دده مخصوصه طريقه وه، هما شان به يې خپله لکی ژر ژړ تاوولې راتاوولې چې دې کار د نورو د قانع کولو لپاره يو ډول تشويقي جنبه درلوده. د فارم نورو ځناورو د سيکولر د استدلال په برخه کې تل دا اعتراف کاوه چې سيکولر د خپل استدلال په قوت له تور څخه سپين او له سپين څخه تور جوړولای شي.

دې درېواړه خوګانو تل زياد اليست چې د وړ ميجر وينا ګانو ته د ((حيوانيت)) په نوم د يوې مکملې ايډيالوژۍ سيستم ورکړی، د مستر جونز د ويده کېدو وروسته خوګانو په هفته کې څو شپې په لوی ګودام کې پټې غونډې دايرولې او دلته به يې نورو ځناورو ته ((د ځناورتوب)) د اصولو تشريح ورکوله. د غونډو په پيل کې دوی د ځينو ځناورو د سادګۍ، حماقت او بې علاقګۍ سره مخامخ شول، ځينو ځناورو به ويل چې موږ مستر جونز ته د وفاداری وظيفه په غاړه لرو او دې ځناورو په خپلو خبرو کې تل جونز د بادار په نوم باله. يا به يې په ځينو غونډو کې خبره داسې پيل کوله ((مستر جنز موږ ته خوراک راکوي، که چېرې هغه نه وي نو موږ خو به له لوږې مړه شو.)) ځينو به دا پوښتنې کولې ((هغه انقلاب)) چې زموږ تر مرګ وروسته راځي نو ولې اوس پرې ځانونه زهير کړو؟)) که چېرې دغه ((انقلاب)) خامخا راتلونکی دی، نو د ((انقلاب)) لپاره زموږ کار او زياکول او يا نه کول به په ((انقلاب)) څه تاثير وغورځوي؟)) خوګانو به تل نورو ځناورو ته قناعت ورکاوه چې دغه ډول فکر کول ((د ځناورتوب)) د روحيې پر ضد يو عمل دی، خو دوی به تل د دا ډول سوالونو په مقابل کې د مشکلاتو سره مخامخ کېدل. سپينې اسپې مولي به له ټولو نه زيات بېعقله پوښتنې کولې. د هغې لومړی پوښتنه د سنوبال نه دا وه ((ايا د انقلاب نه وروسته به نبات وي؟)) سنوبال د هغې سوال ته په قهرجنه لهجه ځواب ورکړ، ((نه! تر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

انقلاب وروسته به نبات نه وي. مور په فارم کې د نبات د جوړولو وسایل نه لرو. د انقلاب نه وروتسه به د فارم ټول جودر او وچ وابنه ستا د ضرورت پر اساس ستا په اختیار کې وي.)) ایا د انقلاب نه به وروسته ماته د خپل څټ په ویښتو کې د پټو د ټرلو اجازت وي؟)) مولي بله پوښتنه وکړه.

((ملګري! په دغه پتې چې ته وربانديې دومره میبنه یې او ورپســـې مرې، په واقعیت کې دغه ستا د غلامۍ نښه ده. ایا ته په دې نه پوهېږې چې ازادي ډېر ارزښت لري او که په څټ کې یوه پتې ټرل؟)) سنوبال ورته ځواب ورکړ. په ظاهر کې مولي د سنوبال ځوابونه ومنل اما په زړه کې قانع نه و.

خوګانو د کورنۍ کارغه موسز د دروغو پر ضد ډېره سخته مبارزه کوله. موسز یو چوغلګر، هوښیار او خبرلوڅ مارغه و او ده به تل جونز ته د جاسوسۍ کار کاوه. موســـز به تل ویل چې هغه په یو مرموز ځای کې د نباتاتو د غر په باره کې معلومات لري او کله چې ځناور مړه شـــي، د مړینې نه وروســـته ټول ځناور دغه غر ته ځي. د نباتو په غر کې ټوله اوونۍ رخصـــت دی، دلته کال دولس میاشـــتې شـــنه شـــوتل ولاړ وي او د دې غر په لمنو کې د زغرو په تېلو کې پاخه د نباتو او د کېکونو بوټي ولاړ دي. نورو ځناورو د موســـز نه نفرت کاوه، ده به تل دروغ ویل او ټک کار یې نه کاوه، خو ســـره له دې هم ځینو ځناورو د نبات په غره عقیده پیدا کړې وه. خوګانو به تل د نورو ځناورو په منځ کې دا تبلیغ کاوه چې موســـز دروغ وایي او دنباتو د غره په نوم هېڅ غر وجود نه لري.

د کراچۍ دوه اسونه بوکسر او کلوور د خوګانو وفادار شاګردان وو، دوی په یوه مسله باندې په خپله فکر او غور نه شـو کولای، دوی خوګان د استادانو په توګه منلي وو. هر څه چې به ورته خوګانو ویل دوی په پټو ســـترګو منل او

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوګانو خبرې به يې په خپل ساده استدلال نورو ځناورو ته هم رسولې. دواړه به تل د ګودام په پټو غونډوکې حاضر وو او د هرې غونډې په پای کې به دوی ((د انګلستان ځناورو)) ترانه شروع کوله.

د ټولو ځناورو د توقع خلاف ((انقلاب)) ډېر ترمخه او ډېر په اسانه د بریالیتوب پړاو ته ورسېد. سره له دې چې مستر جونز یو سخت مزاجه بادار او لایق بزګر و، خو په ټېرو ځوکلونوکې هغه په بده ورځ اخته شوی و. هغه په محکمه کې په یوه دعوا ډېرې پیسې وبایللې او د پیسو د بایللو په وجه یې زړه غورځولی و. هغه اوس ډېر شراب ځښل او د خپل صحت د ساتلو نه یې پروا شرابي شوی و. ټوله ورځ به د اشپزخانې په ارام کرۍ ناست و، اخبار به یې لوست، شراب به یې ګوتل او کله کله به یې په بیروکې د لمدې ډوډۍ پوټي موسز ته اچول. د ده نوکرام هم تنبل او بېمانه شوي وو. د فارم ټول پټي چټي او وحشي وښو نیولي وو، د کورونو چټونه ببخي رنګ شوي وو، د فارم غاړې او ځنډې په بد حالت وې او په فارم کې ټول ځناور په ټوله ورځ نیم ګېډي وړې ولاړ وو.

د جون میاشت راورسېده او اوس د فارم د وښو د رېبلو وخت و. د شنبې پر ورځ د دوبي د اختر ورځ وه، په دې ورځ مستر جونز ولیکدن ته تللی و او په ریدلاین Redloin کې دومره نشه شو چې د یکشنبې د نیمې ورځې پورې ببرته رانغی. د ده نوکرانو سهار د وخته غواګانې ولوشلې او بې له دې چې د ځناورو په خوراک چرت خراب کړي، دوی هم د سویو ښکار ته ولاړل. کله چې مستر جونز ببرته راغی هغه نېغ دناستې دکوټې په نرم پالنګ باندې د ویده کېدو لپاره ننوت. د ((نړۍ اخبار)) په نوم ورځپاڼه یې په مخ پرته وه او ځای پر ځای ویده شو. همد شان په مانښام کې هم ځناور وړې پاتې شول.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو ځناورو د لوړې مقاومت نه شوکولای، یوې وړې غوا د لوی انبار ورته بنـکرونه اړم کړل. دروازه یې ماته کړه او ټول ځناور په منده انبار ته ننوتل په انبار کې یې د غلې په کندوانو خولې خښـې کړې او په پرتو غلو دانو تالان گډ شـــو. په دې وخت کې مســـتر جونز له خوبه راویښ شـــو او هغه د ځلورو مزدورانو سـره غمچینې په لاس په منده د انبار کوټې ته ورغلل او په هره خوا یې د غمچینې گوزارونه شـــروع کړل. وړو ځناورو د لوړې او د غمچینو د وهلو زغم نه درلود. سـره له دې چې ځناورو ترمخه هیڅ پلان نه درلود، خو بیـا هم ټولو ځنـاورو پـه یوه اتفـاق پـه گـډه پـه جونز او د هغـه پـه نوکرانو وروداڼګل، ناڅاپه ځناورو د هرې خوا نه جونز او د هغه نوکران د لغتو لاندې ونیول او ډېر ژر وضـعه د جونز او د هغه د نوکرانو دکنټرول څخه ووتله. د دې نه مخکې دوی د ځناورو د داسې عکس العمل سره نه وو مخامخ شوي، دوی چې به مخکې څنګه غوښـتل هم هغه شـان به یې ځناور په خپله خوښـه وهل او ځوړول. اوس د ځناورو ناڅاپي پاڅون او بلوا څخه ټوکه نه وه، د ځناورو ناڅاپي پاڅون دوی ډېر زیات ووېرول، څو شـــپې وروســـته د دوی دفاعي هلې ځلې ختمې شـــوې او پنځه واړه پـه یو تراټ د انبـار کوټې نـه وتښتېدل. پنځه واړه د لوی سرک په طرف دکراچۍ په لار چارنال زغاستل، بریالي ځناور ورپســـې وو او په یوه دقیقه کې یې فارم له ســـاحې څخه په یوه منده وویستل.

د جونز میرمني دا هر څه د خوب دکوټې نه په خپلو ســـترګو لیدل. هغې په ډېره وارخطایی د خپل سـامان ځینې شـیان د قالینې په خورجین کې ورومنډل او ډېره غلې په بله لار د فارم نه ووتله. موسز له خپلې ځالې نه راټوپ کړ. په زور چیغې یې ووهلې او نېغ د جونز د میرمني پسې وتښتېد. تر دې وروسته بریالیو ځناورو جونز او د هغه ځلور نوکران د فارم نه بیدیال لوی ســـرک ته

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسول او ورپسې يې د فارم هغه لويه دروازه چې پنځه پنجرې يې لرې پورې کړه. سره له دې چې ځناور وربانديې هېڅ پوه نه شول، اما په واقعيت کې د ځناورو انقلاب په بريالیتوب ترسره شوی و، ځکه چې اوس جونز او د هغه نوکران شړل شوي وو او د مانور فارم اوس يوازې د ځناورو په تصرف کې و.

په لومړنيو څو دقيقو کې د ځناورو په خپل بريالیتوب هېڅ باور نه کېده. خو بيا هم د دې لپاره چې ځانونه په دې متيقين کړي چې د فارم دننه انسانانو ځانونه نه واى پټ کړي، ټول په يو تراټ د فارم دننه او د فارم د ټولو سر حدونو چاپېره وګرځېدل او بيا يې په يوه منده ځانونه د فارم مېنې ته راورسول چې دلته د جونز د ظلم او استبداد د دورې ټولو بقاياوو ته د تل لپاره خاتمه ورکړي. دوى د غوجل وروستى ګوټ ته پرتې د ملونو کوټې ماتې کړې او له دغو کوټو څخه يې د اسونو د وسپنې ملونه، کيزې، د ځناورو پټوانونه او مهارونه، د سپو زنځيرونه او هغه ټپرې چې مستر جونز به وربانديې خوګان او وري خصي کول را وويستلې او دغه ټول شيان يې ځاه ته کښته وغورځول، د غوجل ترڅنګ د خزلو اور بلېده او ځينې کيزې ترسري او د ځناورو د خوراک توبرې يې د خزلو اور ته وغورځول. همدا شان د جونز د استبداد ځورونکې بقايا متروکې او غمجينې هم دې اور ته ګوزار شوې او څه وخت چې ځناورو وليد چې غمجينو اور واخيست او سرې لمبې يې پورته شوې، ټولو ځناورو د ډېرې خوشالى نه پورته پورته ټوپونه شروع کړل. سنوبال هغه پټى چې د بازار په ورځ به وربانديې جونز او د هغه نوکرانو د اسونو د څټ ويښته او لکى سنګارولې هم دې اور ته وارتولې.

((ملګرو! پټى د جامو حيثيت لري او جامې د انسان نښه ده، بايد ټول ځناور بربنډ وګرځي.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنوبال په جګ اواز وویل:

کله چې بوکســـر د خپل اســـتاد خبرې واورېدې هغه ژر ولاړ او د دروځو وړوکې خولې یې هم راوړه او د خزلو اور ته یې وغورځوله. دا هغه خولې وه چې ده به د دوبي په ګرمۍ کې د مچانو له لاســه په ســرکوله. څو چې مچان یې غوړونو ته ورنه نه وځي.

ځناورو په ډېر لږ وخ کې د مســتر جونز د اســتبداد ټوله بقایا له منځه یوړه. د ناپولن په بلنه ټول ځناور د انبار لویې کوټې ته ولاړل او دلته هغه هر ځناور ته یو په دوه خوراک او هر ســـپي ته دوه دانې بســـکټ ورکړل. د خوراک نه وروسته ټولو ځناورو په ګډه ((د انګلستان ځناورو)) ترانه پرله پسې اوه ځله وویله. په دغه شـــپه کې ټول ځناور یوځای څنګ په څنګ ویده شـــول او د لومړي ځل لپاره یې داسې خوږ خوب وکړ چې مخکې له دې هغوی هېڅکله داسې خوږ خوب نه وکړی.

دوی د معمول سره سم سهار د وخته راویښ شول. ناڅاپه ورته خپل بریالی انقلاب ور په زړه شـو او ټول ځناور یوځای څړ ځای ته په ځغاسـته ورغلل. دلته بالځړ ته نږدې یوه وړوکې غونډۍ وه او له دې غونډۍ له ســـر نه ټول فارم ښکارکېده، دوی په یوه منډه د غونډۍ څوکې ته وختل او د سباوون په روښانه رڼاکې یې چار چاپېره په ځیر ځیرکتل. هو، اوس فارم د دوی ملکیت و او چار چاپېره هر څه چې د دوی په نظر راتلل دغه ټول د دوی ملکیت دی. ځناورو د خوشـــالۍ له ډېره جوشـــه پورته هوا ته توپونه وهل، هغوی د سباوون په پرخه کې منډې رامنډې وهلې، دلته او هلته یې شنو وښو ته خولې اچولې، د څربې زمکې لوټې یې په پښـــو میده کولې او د خاورې مســـت بوی یې بویوه. دوی د ټول فارم چکر ولګاوه او په ډېر غور یې په پټه خوله د فارم

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرلې زمکو، د وښـــو د پټو، باغچو، ډندونو او چاپېره ولاړو بوټو معاینه وکړه. دوی د معاینې په دوران کې هر شـــي ته په داســې حیرت کتل لکه چې دغه شی دوی له دې مخکې هېڅ نه وي لیدلای، همدا شان د دوی هېڅ باور نه کېده چې ګوندې دغه پراخه کرونده به اوس د دوی خپل ملکیت وي.

د فارم تر لیدنې وروسته ټول ځناور د مســتر جونز مېنې ته راغلل او دوی په کتار د دغې مېنې د دروازې مخکې غلي ودرېدل. ســره له دې چې اوس دغه مېنه د دوی ملکیت و، خو بیا هم دوی دغې تـه د ننوتلو څخـه ډارېدل، سـنوبال او ناپولن سـکوت مات کړ. دوی رامخکې شـول، د مېنې دروازې ته یې اوږې ورکړې او په یوه شـېبه کې یې د مېنې دروازه ورماته کړه او د ماتېدو سره ټول ځناور په یو کتار مېنې ته ورننوتل. له دې ډاره چې په مېنه کې پروت سامان ګډوډ نه شي، ټولو ځناورو د مېنې دننه په ډېر احتیاط چلند کاوه، دوی د پښـــو په څوک د یوې کوتې نه بلې کوتې ته تلل او د خبرو پرځای یې د یو بل په غوږ کې پس پســی کاوه. دوی د مســتر جونز په مېنه کې د بېکو څخه د ډکو توشکونو، د ځان د لیدنې ښـېښـو، د اسونو د ویښتو نه ډک پالنګونو او سرفو، د بروسل قالینو او دناستې په کوټه کې د ملکې وکټوریا چوکاټ شوی لوی عکس نندارې په ډېره حیرانتیا کوله.

کله چې دوی جونز د مېنې د پورو څخه راکښـــته کېدل، مولي د ځناورو په ډله کې نه ښـکارکېده، بلکې د مېنې دننه یې ځان پټ کړی و. ځینې ځناور په مولي پســـې وګرځېدل، ګوري چې هغه د جونز د ویده کېدو په کوټه کې پاتې شوې ده او د جونز د مېرمنې په سینګار مېز پروت نیلي پټي یې په خپلو اوږو اچولې ده. ښـېښـې ته ولاړه ده په ښـېښـه کې ځان ته ګوري او په ډېره ســاده توګه په خپله د خپلې ښـــکلا ســـتاینه کوي. ځینو ځناورو د هغې دغه عمل وغاندې. دوی ببرته اشـــپزخانې ته ولاړل، دوی په اشـــپزخانه کې د خوګانو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

زورندې غوښې د پخولو لپاره د ځانونو سره بیدیا ته راوړي. یوازې د بوکسر په اشــپزخانه‌کې د جونز د بیرو ډک برل په خپلو ســومانو چیت پیت کړ. له دې پرته په کوټو کې په پرتو ټولو شیانو هیڅ غرض ونه شو.

له دې نندارې په پای کې یو ځل بیا ټول ځناور د مســتر جونز د مېنې په مخکې راټول شــول دلته ټولو دا فیصــله وکړه چې د مســتر جونز مېنه دې د ځناورو د فارم د موزیم په حیث خوندي وســاتل شــي او تر دې وروســته به هیڅ ځناور په دې مېنه‌کې نه اوسـېږي. ټولو په یو اواز دا فیصــله ومنله او له دې فیصلې وروسته د ځناورو غونډه خپره شوه.

تر ســبا ناري وروســته ســنوبال او ناپولن د ځناورو غونډه راوبلله. ((ملګرو! ((ســنوبال غونډې ته ویل،)) اوس پوره شــپږ نیمې بجې دي او ټوله ورځ راته مخکې پرته ده. نن مورِ د وښــو لوګډوو، د لوګډېدو نه دمخه ســتاســو پام یوې بلې موضــوع ته راګرځول غواړم،)) ((درې میاشــتې مخکې د جونز ځامنو د زړې لهجې د زده‌کړې یو کتاب ډېٔان ته غورځولی و. مورِ خوګانو دغه کتاب پیدا کړ او مورِ ټولو په تېرو درې میاشــتو کې له دغه کتاب څخه لیک لوست زده کړي دي.))

ناپولن تور او سپین رنګ راوغوښت او بیا ټول ځناور د لوی سړک په طرف د فارم د لوېې دروازې پر لور روان شول. په ټولو خوګانو کې د سنوبال لیک ډېر ښــه و، هغه د مخکې پښــې په ګوتو د لیک برش ونیو. لومړی یې د لوېې دروازې د تختې څخه ((د مانور فارم)) پخوانی لیک پاک کړ او د دې پر ځای یې ((د ځناورو فارم)) ولیکه. تر دې وروســته دغه فارم پر همدې نوم مشهور شو.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې وروسته ټول ځناور د فارم ودانیو ته ولاړل. سنوبال ا ناپولن زینه راوغوښته، دوی زینه د لوی ګودام دېوال ته ودروله، دلته سنوبال او ناپولن نورو ځناورو ته د تشریح په ترڅ کې وویل:

((ملګرو! مورِ خوګانو کړای شول چې په دې ټپرو درې میاشتو کې د ((ځناورتوب)) ټول اصول په ((اوه حکمونو)) کې خلاصه کړو. اوس دا اوه حکمونه په دې دېوال لیکل کېږي. له دې وروسته به دغه لیکل شوي احکام هم ستاسو او هم د راتلونکو ځناورو د ژوند لپاره د نه بدلېدونکو قوانینو حیثیت لري.))

د یو خوګ لپاره په زینه باندې د ځان د موازنې ساتل څه اسانکار نه و، خو بیا هم د ځینو مشکلاتو سره سنوبال په زینه پورته شو، یو څو پوړۍ کښته سکیولر ورته د رنګ بوتل نیولی و او په اخره پوړۍ ولا سنوبال د لیک کار شروع کړ. هغه په قیر دېوال دغه اوه احکام په ډېر روښانه سبینو تورو ولیکل. دغه توري د ډېرش ګزه فاصلې څخه هم په اسانه لوستل کېدل. احکام دادي:

اوه احکام

۱- هر څه چې په دوو پښو ځي، دښمن دی.

۲- هر څه چې په څلورو پوښو ځي یا څانګونه لري، ملګری دی.

۳- هېڅ ځناور به جامې نه اغوندي.

٤- هېڅ ځناور به پر بستره نه ویده کېږي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- هیڅ ځناور به شراب نه څښي.

٦- هیڅ ځناور به بل ځناور نه وژني.

۷- ټول ځناور مساوي دي.

په املاکي د دوو وړوکو غلطیو پرته دغه اوه احکام ډېر سوتره ولیکل شول. سنوبال د نورو ځناورو د پوهېدو په خاطر دغه اوه احکام څو ځله په اوچت اواز ولوستل. د لوستلو نه وروسته ټولو ځناورو د مکملې موافقې او تائید په توګه خپل سرونه وخوځول او په ځناوروکې هوښیار ځناورو دغه ټول احکام ډېر ژر په یادو یادکړل. سنوبال د لیک د بورس د غوځولو وروسته وویل:

((ملګرو! وړاندې د وښـــو د ځمکې پر لور! راځئ چې کار وقار وکړو راځئ چې دا په عمل کې اثبات کړو چې موږ ځناور د جونز او د هغه د نوکرانو په تناسب چټک کار کولای شو.))

په دې وخت کې هغه درې غواوې چې د څه وخت راهیسې نارامه معلومېدې په پای کې په رمبړو ســر شــوې. په تېرو څلورویشــتو ســاعتونوکې هغوی نه وې لوشـل شـوې. تیونه یې د شـیدو څخه داسې ډک شـوي وو، نړدې و چې وچوي. د لږ فکر کولو وروســته خوګانو ســتلونه راوغوښــتل او خوګانو دغه درې واړه غواوې ولوشــلې.ددې لوشــلو څخه معلومه شــوه چې د خوګانو مخکې پښې د لوشـلو لپاره مناسـبې وې. د غواوو د ټینګو شـیدو څخه پنځه ستلونه ډک شول او په ستلونوکې پرتو شیدو ته ټولو ځناورو په ډېره مینه او علاقه کتل.

((په شــیدو به څه کوو؟)) یو ځناور پوښــتنه وکړه. ((کله کله به جونز زموږ د خوراک د پوټیو ســره شــیدې ګډولې)) یوې چرګې وویل: ((ملګرو! په شــیدو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ فکر مه کوئ، د شـــيدو چاره به وشـــي!)) ناپولن چيغه کړه او په خپلهد شـــيدو د ســـتلونو نړدې ودرېد.)) په دې وخت کې لو ډېر مهم دی. ملګرو ســـنوبال به درته لاربښـــوونه وکړي او زه به يو څو دقيقې وروســـته درپســـې درشم.))

((ملګرو! په وړاندې د وښـو پر لور! وابنـه ستاسـو د لو انتظار باسي.)) ټول ځناورکتار د لو لپاره ولاړ خوکله چې دوی مابنـــام د وښـــو له پټيو ســـټرې ستومانه بېرته راغلل. ګوري چې شيدې غيب شوي دي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

درییم څپرکی

څومره په ډېر زیار او د خولو په تویولو ځناورو وچ وابښه ځای پر ځای کړل! دوی د خپل کار او زیار په برکت ډېر حاصـــل ترلاســـه کړ. دا ځل د دوی د توقع نه پورته لو په بریالیتوب ترســـره شـــو او زمکې هم ډېره غله وکړه. په ځینو وختونو کې به کار ســخت و، ددې علت دا و چې په فارم کې د کار ټول وســایل د ځناورو پر ځای د انســانانو د کار لپاره جوړ شــوي وو او دغه ډول وســایل د ځناورو د کار په لار کې لوی خنډ و. ځناورو دغه وســایل ځکه نه شــو اســتعمالولای چې دوی باید د اســتعمال په وخت کې پر وروســتیو دوو پښو نیغ ودرېدلي وای. سره له دې مشکلاتو بیا هم خوګانو دموره هوښیارتیا درلودله چې دوی به د هر مشـــکل د حل لار پیداکولای شـــوه. د بلې خوا د فارم اســـونه د فارم د ټولې زمکې د لوېشـــت لوېشـــت ســـره بلد وو چې په واقعیت کې دوی د جونز او د هغه د نوکرانو په تناســـب د درمن (درمند) د جوړولو او په ښـــاخې باندې د درمن د بادولو په کار ښـــه پوهېده. خوګانو په خپله ټک کار نه کاوهن خو د نورو ځناورو په لارښـــوونه او ځارنه کې بېخي تکړه وو. خوګانو د نورو ځناورو په تناسب ډېره پوهه درلوده. طبیعي وه چې دغه خوګان دې د نورو ځناورو مشـــرتوب په لاس کې ونیســـي. بوکســـر او کلوور به ټوله ورځ د کراچې د راکښـــلو په درمند د ګرځېدو او د درمند د بادولو په کار مصروف وو. په دې ورځو کې خپلواک اصونو ملونو او واکو ته هېڅ ضـــرورت نه درلود. د کار پر وخت به یو خوګ د ټولو ځناورو تر شـــا روان و، دې خوګ به نورو ځناورو ته ویل: ((مګلرو! ښي طرف ته وګرځئ، ملګرو! چپ طرف ته وګرځئ، ملګرو! شـــاته وګرځئ، ملګرو! اخوا وګرځئ، ملګرو! دېخوا وګرځئ.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلیو او چرګو هم ټوله ورځ په غرمو کې اخوا دېخو منډې رامنډې وهلې او تر خپله وســه یې زیار ویســت، چې د غلې دانې او د وښــو ډنډرې په خپلو مښوکو کې درمند ته یوسي. د معمول سره سم د فصل او وښو لو او دردمند جوړېدو د جونز او د هغه د نوکرانو ډېر وخت نیوه، برعکس ځناورو دغه ټول کارونه په دوو ورځو کې ترســره کړل. د فارم په تاریخ کې د فارم زمکو دومره غله نه وه کړې. دا لومړی ځل و چې د غلې یوه دانه او د وښــو یو ډنډر ضایع نه شو، ځکه چې چرګو او هیلیو د خپل تیز نظر په برکت د پټو نه د غلې هره دانه او د وښــو هر ډنډر راټول کړ او دوی د فصــل یوه دانه او یو ډنډر ضــایع کېدو ته پرې نه ښــود. همدا شــان د فارم په تاریخ کې دا لومړی ځل و چې د لو او د درمند په وخت کې یو ځناور هم یوه خوله خوراک پټ ونه خوړ.

په ټول دوبي کې د فارم نه د سترې کېدونکي کار ډېر په بیړه روان و. ځناورو دا تصور نه کاوه چې د فارم کارونه به دومره په بیړه ترسره شي. اوس دوی د کار په کولو او د وخت نه مخکې د هر کار ســرته رســولو په وجه ډېر زیات خوشــاله وو. اوس واقعاً د خوړو هرې مرۍ دوی ته له حده زیات خوند ورکاوه، اوس دغه ټول خواړه دوی خپل خواړه ګڼل. دغه ټول خواړه دوی په خپلو متو او په خپل زیار پیداکول او اوس دغه خواه ورته د مخکې لانجه مار بادار له خوا د خیرات په توګه نه ورکول کېدل، اوس د بې ارزښــته او مفت خور انسان د تګ وروسته د فارم هر اوسېدونکي ځناور ته د خوراک هر شی پربمانه ښکاره کېده، سره له دې چې ځناورو د ساعت تېرۍ مخکې تجربه نه درلوده، خو بیا هم دوی اوس د ســاعت تېرۍ د هرې شــېبې نه ډېر خوند اخیست.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له دې هم ځناورو به کله کله د یو لړ مشکلاتو سره مخامخ کېده. د مثال په توګه په فارم کې د غلې د ټکولو او پاکولو ماشین نه و، کله چې دوی د کال په وروســتنۍ موده کې غنم درمندکړ، لومړۍ وربانديې وګرځېدل او بیا یې د خولو په پوکي بوس ترېنه پاک کړ دا ببخي لرغوني طریقه وه، خو بیا هم د خوګانو د هوښیارتیا په برکت او د بوکسر د جسمي طاقت په زور غنم پاک شول. د فارم ټولو ځناورو د بوکسر د قوت او کار ډېر صفت کاوه، بوکسر د جونز په وخت کې هم ســخت کارونه کول خو اوس ده د درې اســونو کار یوازې په خپله کاوه، کله به داســې ورځې هم راتلې چې د فارم ټول کار به د بکســر په قوي اوږو پرېوت، په کوم ځای کې چې به ډېر ســخت یا ډېر کار و بوکســر به د ســهار نه تر مابنــام دلته بوخت و او ټول روځ به یې ټپل وهل او راکښل کول. بوکسر د فارم د یو چرګ څخه داسې خواهش کړی و. ((ما هر ســهار د نورو ځناورو نه مخکې راویښــوه. زه غواړم چې د ورځې د منظم کارد شــروع نه مخکې ځینې مهم کارونه ((د خپلې خوښــې کار)) د روجې پر اســاس مخکې ترســره کړم.)) بوکســر د هرې کشــالې د حل او د هر نیمګړي کار د پوره کولو لپاره یو ځواب ورکاوه او هغه دا چې ((زه په لاپســې ســخت او ډېر کار کوم.)) په بل عبارت د ډېر او ســخت کار کولو ځواب د بوکســر تکیه کلام ګرځېدلی و او کله چې به خوګانو نور ځناور کار ته هڅول نو دوی به ورته د بوکسر د ډېر او سخت کار روحیه د نمونې په توګه ستایله.

د فارم هر ځناور د خپل استعداد سره سم کار کاوه. د مثال په ډول چرګو او هیلیو د درمندونو په وخت کې د پټو نه تیت و پرک غنم دانې راټولولې چې په پنجه کې له دغو دانو څخه د غلې پنځه پیمانې نوره سپما هم وشوه. اوس هېڅ ځناور غلا نه کوله او یو ځناور هم په خپله ځیره مرورتیا او خفګان نه بښکاره کاوه. پخوا د ځناورو ترمینځ جګړې، یو بل چیچل، یو بل خوړل او د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بل پر ضد کینه درلوده، د ورځني ژوند عادي خصوصیات ګنل کېده، خو اوس دغه ټول شیان له منخه تللي وو یوازې کار وقاګنل کېده او هېڅا د خپل کار نه غاړه غړوله.

دا یو واقعیت و چې مولي سهار د وخته نه شوه پاڅېدلای، کله چې به مولي کار ته راغله، نو هغې په دې پلمه چې په سوم کې یې کاني ننوتي دي، خپل ورسپارل شوی کار ډېر د وخته پرېښود او په خپله مخه به تلله. د فارم د پیشو رویه هم څه عجیبه غوندې وه. د کار شروع سره به هغه په ساعتونو ورکه شوه خو څه وخت چې به د مابنام په مهال کې کار خلاص شو او ځناور به خوراک ته راټولېدل نو هم په دې وخت به پیشو راپیدا شوه او د راتګ سره به یې داسې بنودل لکه چې هېڅ نه دي پېښ شوي. پیشو د پلمو په جوړولو کې ډېره تکړه وه، هغې به هر ځل دمره بنه پلمه جوړوله او دغه پلمه به یې په دومره احساساتي لهجه بیانوله چې د فارم هر ځناور به د هغې په ارادو او بنه نیت د زړه له کومي باور کاوه. ((د انقلاب)) راهیسې به زور بنجامین کې هېڅ بدلون نه لیدل کېده. بنجامین په ((انقلابي)) دوره کې هم د پخوا غوندې په کرار اما په سرزورۍ خپل کار ه دوام ورکاوه، هغه د هر کار کولو څخه غاړه نه غړوله خو د بوکسر او یا نورو ځناورو غوندې د اضافي او د خپلې خوبنې د کارونو داوطلب هم نه و، بنجامین د ((انقلاب)) او د ((انقلاب د نتایجو په باره کې هېڅ ونه ویل. که چېرې یو ځناور به ورځني دا پوښتنه وکړه چې ((ایا تاسو د جونز په شړلو او د ((انقلاب)) په راتګ ډېر خوشحاله نه یاست؟)) نو بنجامین به دغه سوال ته تل دا ځواب ورکاوه چې ((د خرو عمر ډېر اوږد وي او تاسو تراوسه په فارم کې یو خر هم مړ نه دی لیدلی)) نور ځناور مجبور وو چې د بنجامین په اسرار امیزه ځواب قناعت وکړي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فارم کې د یکشنبې ورځ عمومي رخصت و او په دې ورځ به د نورو ورځو په تناسب سباناری پوره یو ساعت ناوخته کېده. د رخصتی پر ورځ به د سبا ناري وروسته د فارم ټول ځناور د ((تیوري)) درسونو ته حاضرېدل او د ((تیوري)) د درسونو څخه یو ځناور هم غیر حاضري نه شوه کولای. د ((تیوري)) درسونو د غونډو مراسمو کې به لومړی د فارم بیرغ پورته کېده. د دې بیرغ ټوکر یو زوړ شین میز پوښ و او دغه میز پوښ سنوبال د جونز د میرمنې په کوته کې موندلی و. سنوبال په دغه میز پوښ په سپین رنګ د ځناورو سوم او بنکر رسم کړی و او د هرې یکشنبې په سهار به دغه میز پوښ د فارم د خونې په باغ کې د بیرغ په ولاړه جنډه پورته کېده. د سنوبال د تشریح له مخې د بیرغ شین ټوکر د انګلستان د شنو پټو او د بیرغ سوم او بنکر د راتلونکي ((حیواني جمهوریت)) نمایندګي کوي. سنوبال به تل په خپلو خبرو کې په دې تاکید کاوه چې دغه ((حیوانی جمهوریت)) هله منځته راځي کله چې د انسانانو نسل له منځه ولاړ.

د بیرغ د پورته کېدو او د تیوریکي درسونو وروسته به بیا ټول ځناور د فارم د لوی ګودام په مینه کې د عمومي غونډې لپاره راټولېدل. دغه غونډه د ((مجلس)) په نوم بلل کېده. په ګودام کې به ټول ځناور ډلې ډلې په کتار ولاړ وو. په دې مجلس کې به د راتلونکي هفتې دکار پلان جوړېده او هم د بحث لپاره نوي پیشنهادونه وړاندې کېدل. په هر مجلس کې یوازې خوګانو د راتلونکي هفتې دکار پلان اعلاناوه او نوي پیشنهادونو په وړاندې کولو هېڅ فکر نه شو کولای اما هغوی په دې بنه پوهېدل چې خپله رایې څنګه ورکړي. د مجلس په ټولو بحثونو کې سنوبال او ناپولن له ټولو نه زیاته جدي او فعاله برخه اخیستله.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بحثونو څخه تل څرګندېدله چې هېڅ وخت دوی دواړو په یوه موضـــوع موافقه نه‌کوله. که یو به پیشنهاد وکړ، نو بل به حتماً د پیشنهاد پر ضـد دریځ نیوه. که چېرې به یو داسې پیشنهاد وکړ چې دغه پیشنهاد به د بحث او تنقید وړ هم نه و. نو بل به خامخا په دغه شان پیشنهاد بحث او تنقیدکاوه. د مثال په توګه کله چې سنوبال مجلس ته دا پیشنهاد ((د باغچې شاته وړوکی مالځړ دې د هغو ځناورو لپاره چې زاړه شـوي او د کار نه پرېوتي دي د اسـتراحت ځای پحیث وټاکل شي.)) وړاندې کړنو په دې موضـوع هم ناپولن د شور نه ډک بحث او تنقیـد وکړ. هغـه د ځنـاورو د هرې طبقې د ((تقـاعـد عمر)) پوښـتنې شـروع کړې. ((غونډه)) به تل د ((انګلسـتان د ځناورو)) د ترانې په ویلو پای ته رسېده او تر غرمې وروسته وخت د ساعت تېرې د وخت په نوم اعلان شو.

د خوګانو مرکز د ځناورو د ســامان پخوانی کوټه وه. د مابنــام په وخت کې ځناورو په دې کوټه کې د اهنګرۍ، نجارۍ او نورو کســبونو د کتابونو مطالعه کوله. د مطالعې کتابونه د جونز د اوســبدو د کوټې څخه راوړل شــوي وو. ســنوبال د فارم ټول ځناور په ((بېلابېلو کمېټو)) کې تنظیمول او هغه د کمېټو په جوړولو او په دې کمېټو کې د ځناورو د تنظیمولو لپاره نه سترې کېدونکې هلې ځلې کولې. ســنوبال د چرګو لپاره ((د هګیو د تولید کمېټه)) د غواوو لپاره ((د پاکو لکیو د ساتلو اتحادیه)) د وحشي ملکرو لپاره ((له سره د زده کړې کمېټه)) (د دې کمېټې څخه د مېړو او ســویو اهلي کول و) د مېړو لپاره ((د ســپینو وړیو د تولید نهضـت)) د ځناورو د سـواد لپاره ((د لیک لوسـت کورســونه)) او دا شــان نورې مختلفه کمېټې او اتحادیې جوړې کړې. په مجموعي لحاظ د سنوبال ډېرې پروژې له ناکامۍ سره مخامخ شوې. د مثال په توګه له ټولو نه مخکې د وحشــي ځناورو د اهلي کولو هلې ځلې ډېر ژر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکامه شوې. سره له دې چې د وحشي ځناورو په اهلي کولو ډېر کار وشو، خو بیا هم د وحشي ځناورو د پخوا غوندې وحشي چال چلند ته دوام ورکړ. که چېرې به خوګانو د وحشي ځناورو سره ښه سلوک کاوه، نو وحشي ځناورو به له دغه سلوک نه ناوړه استفاده کوله او که چېرې به ورسره سخت سلوک کېده، نو بیا به دوی ((له سره د زده کړې کمښتې)) غوندو ته نه راتلل او هم به يې دغه سلوک د ځناورو دملګرتیا او وروروليۍ د روحيې پر ضد عمل ګانه. وحشي مړه له ټولو نه مخکې ((له سره د زده کړې کمښته)) کې شامله شوه او تر څو ورځو پورې يې د ټولو وحشي ځناورو نه زياته په دې کمښته کې فعاله برخه واخيستله. خو يوه ورځ هغه د بام پر سر ناسته وليدل شوه چې د چنچنو سره په ډېره نرمه لهجه خبرې کوي. مړې چنچنو ته ويل، ((ملګرو! اوس مورِ ټول ځناور ملګري يو زه يې درته عمل کې ثابتوم. که ستاسو له ډلې نه هره چنچنه غواړي هغه کولای شي چې دلته راشي او زما په سينه ببخي ببغمه کښي.)) سره ددې هم د مړې نرمې لهجې په چنچنو مثبت تاثير ونه کړ، هغوی د پخوا په شان د مړې نه لرې ناسته وې او تر پايه يې د مړې او ځان ترمنځ فاصله ساتله.

د لیک لوست کورسونه په ډېر بریالیتوب پرمخ روان وو او د مني د موسم پورې تقریباً د فارم هر ځناور د خپل استعداد په اندازه څه نا څه سواد زده کړ. خوګانو خو د مخکې نه پوره لیک لوست کولای شو. سپې په لیک لوست کې تکړه وو، خو هغوی د ((اوه احکامو)) د لوست نه پرته د بل شي په لوست کې علاقه نه درلوده. موریل د سپیو په تناسب په لوست کې ښه معلومېده. هغې د فارم د خزلو له ډېران څخه د جونز د اخبارونو توټې راټولې کړې وې او د مابنام په وخت کې هغې نورو ځناورو ته د دغو اخبارونو د ټوټو نه درس ورکاوه. زوړ بنجامین د خوګانو غوندې د لوست ډېر ښه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعداد دلود، خو هغه هېڅکله دا سرخوړی نه کاوه چې خپل طبیعي استعداد په کار واچوي. بنجامین به ویل ((زما په فکر هېڅ شی د لوست لپاره ارزښت نه لري)) کلوور ټوله الفبا په یادو زده کړې وه، خو هغې لیکل شـــوي ټیکي یوځای کولای او لوستلای نه شـول. بوکسـر تر پایه د ((دې)) له توري څخه پرمختګ ونه کړلای شـو. کله چې بوکسـر په خپلو لویو سـومونو په خاوره کې د ای، بي، ســـي او دي توري ولیکل، بیا به ورت څوړ غوږونه ودرېد او په ځیر ځیر به یې لیکل شـویو تورو ته کتل. کله کله به بوکسـر د تندي له پاسـه پیکی اخوا دېخوا غورځاوه راغورځاوه او په ټول قدرت به یې په خپل حافظه فشار اچاوه. چې د دې پسې توري هم زده کړي، بوکسر څو ځله د ای، ایف، جي، ایچ توري هم زده کړل خو چې کله به یې دا توري زده شـــول نو بیا به ورځني د ای، بي، سي، دي توري هېر شـول، په پای کې بوکسـر فیصـله وکړه چې دنورو تورو د زده کړې څخه تېر شي او یوازې د څلورو لومړنیو تورو په یادولو قناعت وکړي، د دې لپاره چې خپله حافظه تازه وســـاتي بوکســـر به معمولاً هره ورځ دغه څلور توري یو یا دوه ځله په خاوره لیکل. مولي د هغو شـــپږو تورو پرته چې د دې په نوم کې راتلل، د نورو ټولو تورو د زده کړې څخه بېخي انکار وکړ، مولي د وړوکو لرګو څخه د خپل نوم شـپږ توري جوړ کړي وو او د نوم د لرګو ټوټې یې په ګلونو ســـینګار کړې وې. هغه به ددې سینګار شویو ټوټو چاپېره تل خوشاله ګرځېده راګرځېده.

لکه څنګه چې د فارم د اوســـبدونکو بې عقله ځناورو یعني مېږو، چرګو او هیلیو د درســـونو څخه څرګنده شـــوه دوی ((اوه احکام)) هم په یادو یاد نه کړلای شـــول او تر پایه د ای د توري څخه پرمخ نه ولاړ، له ډېر فکر او غور نه وروســـته ســـنوبال د پخ ذهنو ځناورو داســـانتیا په خاطر دا اعلان وکړ چې ((دغه اوه احکام)) په یوه وجیزه کې چې ((څلور پښـیز بشـه دي او دوه پښـیز

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خراب دي)) خلاصه شول. د سنوبال د اعلان له مخې دا نوې وجيزه ((د حيوانيت)) د ټولو اصولواساسي بنسټ دی او هر څوک چې دا اساسي اصول زده کړي هغه حتماً د انسان د ناوړه اغېزې څخه په امن پاتې کېږي. دفارم اوسېدونکو مرغيو د سنوبال په دې وجيزه او احتجاج وکړ ځکه چې مرغيو هم دوه پښې درلودې او دوی هم د نوې وجيزې له مخې چې ((دوه پښيز خراب دي)) د رټل شويو ځناورو په جمله کې راتلې. اما سنوبال ورته اثبات کړه چې د دوی احتجاج او اعتراض منطقي نه دی.

(ملګرو!) سنوبال ورته ويل، ((مرغۍ په خپلو ځانګونو هېڅ شی نه شی نيولای، بلکې دوی د خپلو ځانګونو په قوت يوازې الوتنه کوي او بس. مورِ دمرغيو ځانګونه د پښو په صفت پېژنو، د انسان او د ځناورو ترمنځ د توپير اصلي او اساسي نښه د انسان لاسونه دي. انسان يوازې د دې شيطاني وسيلې پواسطه تل د شيطانۍ او ورانکارۍ کارونه ترسره کوي.))

مرغۍ د سنوبال په لويو اوګرانو لغتونو پوه نه شوې، خو هغوی د سنوبال تشريح ته سرونه وخوځول له دې وروسته پخه ذهنه ځناور د نوې وجيزې په يادولو بوخت شول. د ګودام په دېوال د ((اوه احکامو)) له پاسه نوې وجيزه ((ځلور پښيز ښه دي او دوه پښيز خراب دي)) په غټو تکو وليکل شوه. دېرو ځناورو نوې وجيزه په يادو يادکړه لاکن د ټولو ځناورو په تناسب دا وجيزه د فارم د مېړو له حده زياته خوشه شوه. کله چې په مېړې په پټوکې راپنډې شوې، دوی به په رمبارو کې ((ځلور پښيز ښه دي او دوه پښيز خراب دي)) څو ساعته پرله پسې تکراروله او د دې د وجيزې په تکرار هېڅ نه سترې کېد.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناپولن د سنوبال د کمپټو په جوړولو او تنظیم کې هېڅ علاقه نه اخیستله او د ده په نظر د لویانو د زده کړې او روزنې پر ځای د ماشومانو یا د ځوان نسل زده کړې او روزنې ډېر اهمیت درلود. د فارم د وښـو تر لو ډېر ژر وروسته دوه ســپیو، ژیې او بلوبل نهه چاغ کوکري وزېږول او کله چې دغه کوکري د میاندو د تیوو رودلو وروسته لږ څه لوی غوندې شول، ناپولن دغه کوکري د غوجل بالاخانې ته یوړل. هغه د کوکرو تعلیمي چارې په خپله غاړه واخیستلې او دغه کوکري یې یو داســې پټ ځای کې د تعلیم لاندې ونیول چې ډېر ژر د فارم نور ځناورو د دغو کوکرو موجویدت هېر کړ.

د شیدو د ورکېدو اسرار هم کشف شول. د فارم ځناورو ته څرګنده شوه چې دغه ورکې شوې شیدې به هره ورځ خوګانو د ډوډۍ وروسته څښـلې. اوس په باغ کې منې پخې شـوې او د ونو نه شـمال غورځولې منې دونو دلاندې په وښـــو هره خوا تیتې پرتې دي. ځناورو فکر کاوه چې دغه منې به د ټولو ځناورو ترمنځ په مســاوي ډول وېشـل کېږي، اما د دوی د هیلو برعکس امر وشو چې ځناور دې دغه توی شوې منې راټولې کړي او د خوګانو د خوراک لپاره دې غوجل ته راورسوي. د فارم ځینې ځناور د دې حکم په اوږدو خفه شـول خو دوی ته خفګان هېڅ ګټه ونه کړه. ځکه چې د ســنوبال او ناپولن په شـــمول ټولو خوګانو دا فیصـــله کړې وه چې د باد غورځولې منې دې یوازې خوګان وخوري. یوه ورځ خوګانو پټه غونډه وکړه او په دې غونډې کې سکیولر وګمارل شـو چې د شـیدو او منو په باره کې دې نورو ځناورو ته تفصـیلات ورکړي.

((ملګرو!)) ســکیولر چیغه کړه. ((تاســو هېڅ داســې تصــور ونه کړئ چې ګوندې موږ ســتاســو ملګري خوګان دغه منې د خود غرضـي یا د شـخصـي امتیاز په وجه خورو، زه پوره باور لرم چې تاســـو د خپلو ملګرو خوګانو په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

باره کې هېڅکله دا فکر او تصـــور نه کوئ، زه درته د يو ملګري په صـــفت رښـتيا وايم چې سـتاسـو رښـتيني ملګري ډېر خوګان شـيدې ځنښـل او منې خوړل نه خوښـوي، چې سـتاسـو مخامخ ولاړ دا رښـتيني ملګري هم په دغه جمله کې وګنئ. د منو د خوراک څخه اصـلي او يواځينی هدف دا دی چې د دوی په قوت ستاسو د رښتيني ملګرو خوګانو روغتيا ساتل کېږي.))

((ملګرو! سـاينس ثابته کړې ده چې شـيدې او منې څه داسـې مواد لري چې دغه مواد د خوګانو د روغتيا او هوســاينې لپاره ډېر مهم او ضـــروري ګڼل کېږي، تاســـو ټولو ته څرګنده ده چې مورِ خوګان ذهني کارګران يو او ددې فارم ټوله اداره او تنظيم زمورِ پر غاړه دی. تاســـو ټولو ملګرو ته څرګنده ده چې مورِ يوازې ستاسو د خوشالتيا او هوسا ژوند لپاره شپه او ورځ ذهني کار کوو.)) ملګرو! مورِ يوازې ستاسو د ښېګڼې لپاره دغه شيدې او منې خورو. که چېرې مورِ دغه شـــيدې او منې و نه خورو، نو مورِ ناروغه کېږي او چې ناروغه شـو، نو بيا مورِ د ذهني کارګرانو په څېر سـتاسـو په خدمت کې ناکامه شو ايا تاسو پوهېږئ چې زمورِ د ناکامۍ په نتيجه کې څه پېښېږي؟ زه يې درته وايم. که چېرې مورِ ناکامه شـــو، نو جونز بېرته دلته راځي، بيا درته وايم چې جونز بيا راځي.!))

سـکيولر د خوګانو څخه د دفاع په دوران کې د خپل عادت سـره سـم اخوا دېخوا ټوپونه وهل او خپله لکۍ يې تاووله او راتاووله او په پای کې يې وويل: ((ملګرو! زه پوه باور لرم او په پوره ډاډ ويلی شم چې تراوسه په تاسو ملګرو کې يو ځناور هم داسـې نه شـت چې هغه دې زمورِ فارم ته د جونز بيا راتګ وغواړي.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د فارم ټولو ځناورو د جونز ببرته راتګ نه غوښت او کله چې سکیولر د شیدو او منو موضوع د جونز د بیا راتګ په ارتباط ځناورو ته تشریځ کړه، نو تر دې وروسته ځناورو نور هیڅ ونه ویل، د سکیولر د استدلال څخه د ټولو ځناورو ته د خګانو د صحت اهمیت ښکاره شو. ټولو ځناورو په یوه خوله فیصله وکړه چې تر دې وروسته د فارم د غواوو شیدې، باد غورځولې په زمکه پرتې منې او د باغ په ونو کې پخې منې او نوره ټوله میوه به یوازې د خوګانو د روغتیا د ساتلو په خاطر د دوی د خوراک لپاره خوندي ساتل کېږي.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور څپرکی

د دوبي په وروستيو شپو ورځوکې د ځناورو د فارم ((د انقلاب)) خبر په خواوشا سيموکې خپور شو. تر دې پېښې وروسته سنوبال او ناپولن دواړو هره ورځ دکوترو سيلونه خواوشا سيمو ته لېږل او دوی به دکوترو سيلونو ته دا هدايت ورکاوه چې دګاونډيو فارمونو د ځناورو په صفونوکې ورننوځي، د دغو فارمونو ځناورو ته د ((انقلاب)) کيسه وکړي او هم ورته ((د انګلستان ځناورو ترانه)) ورزده کړي.

شړلی مستر جونز به تل د ويلنګډن په شراب خانه‌کې ناست و او دچا چې د ده د خبرو د اوربدو حوصله درلوده هر يو ته به يې دا شکايت کاوه چې ((زما سره ډېره زياته ظالمانه بې انصافي شوې ده. زه د خپل فارم د چتې ځناورو د ډلې له لاسه د خپل فارم څخه وشړل شوم او دغه چتې ځناورو د خپل ملکيت څخ محروم کړ.)) د اصولو له مخې د خواوشا زميندارو تش په خوله د مستر جونز سره خواخوږي نښکاره‌کوله، اما په لومړنی مرحله‌کې هېڅوا د هغه سره عملي مرسته ونه‌کړه، دهر فارم خاوند به په زړه‌کې ويل چې بايد هغه دې د جونز تر بدې ورځې څخه يوازې خپله‌ګټه ترلاسه‌کړي. خو د نېکه مرغه د ځناورو فارم ته د نږدې پراتهوو دوو فارمونو خاوندان تل د يو بل سخت مخالف وو. دغه فارموله د فوکس وود Fex wood او پنچفيلډ Pinchfield په نومونو بلل‌کېدل. د فوکس وود څنبستن مستر پيلکينګټن Pilkinjton يو بې پروا زميندا و، ده به تل د هر موسم سره سم خپل وخت يا دکبانو په نيولو او يا د وحشي ځناورو په ښکار تېرولە. د ده فارم ډېر لوی و خو له يوې خوا دی بې پروا و او له بلې خوا يې د فارم د روزلو طريقه ډېره زړه وه، ځکه نو د فارم ډېره برخه وحشي وښو او ځنګل نيولې وه. د فارم

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګايونه له استعمال څخه وتلي وو او د دغه لوی ارم غاړې څنډې ببخي په بدو شـــرايطو کې وې. له بلې خوا د پنچفيلډ فارم څښتن مســـتر فريدرک Frederick سخت کاري او څيرک سړی و. د فريدرک د لوی دعوې جلاب او په تجارتي معاملو کې د خپلې شخصي ګټې لپاره د لوی ماهر په نوم شهرت درلود. ســـره له دې چې پنچفيلډ فارم وړوکی و لاکن فريدرک دغه وړوکی فارم ډېر ښه ساته.

د دواړو فارمونو خاوندانو د يو بل څخه دومره بد راتلل چې دوی د خپلو مشترکو ګټو ددفاع په خاطر هم د يو بل سره اتفاق ته نه حاضـرېدل. د خپل منځي کرکې او نفرت ســـره ســـره د دواړو فارمونو خاوندان د ځناورو د ((انقلاب)) څخه ډېر زيات ډارېدل او دې انـدېښـــمن خاونـدانو تـل زيار ويســـت، چې د خپلو فارمونو ځناورو د ځناورو د فارم له ((انقلاب)) څخه ببخي ناخبره وســـاتي. د ((انقلاب)) په لومړۍ مرحله کې دوی دواړو د دې مفکورې پورې چې ((ځناور د فارم اداره په خپله کولای شـــي.)) خندل، دواړو به تل دا پروپاګنده کوله چې د دغه فارم ټول نظم په لس پنځلس ورځو کې ببخي له منځه تلونکی دی. دوی هېڅکله دا زغم نه شـــو کولای چې دغه فارم د ((د ځناورو فارم)) په نوم يادکړي، بلکې تل يې په خپلو خبرو او پروپاګنده کې دغه فارم ((د مانور فارم)) په نوم باله. دواړو به خلکو ته ويل چې د ((مانور فارم)) ځناور خپل منځ کې په ابدي جګړو اخته شـــوي دي او دغه ځناور به ډېر ژر د لوړې مړه شـــي. خو ورو ورو کله چې فريدرک او پيلکينګټن ته څرګنده شـــوه چې د فارم ځناورو د لوړې مړه نه شـــول، نو وروســـته هغوی د ځناورو پرضـــد پروپاګنډې ته هم تغير ورکړ. دوی اوس دا پروپاګنده پيل کړه چې د ځناورو په فارم کې خطرناک ګناهونه او بدکاری روانې دي. د فارم ځناور يو بل خوري، د اســونو نعلونه په اورکې ږدي او بيا

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تک سـرو نعلونو په داغولو یو بل ته جزا ورکوي او همدا شـان د فارم نر ځناور په کډه ټولې بنـځینه ځناورې اسـتعمالوي. فریدرک او پیلکینګټن به د پروپاګندې په پای کې د اوسـپلو ډک په غمجنه لهجه وویل ((دا انقلاب نه دی، بلکې د طبیعت د قوانینو پر ضد بغاوت دی.))

ځینو خلکو د پیلکینګټن او فریدرک په پروپاګندو باور نه کاوه لاکن د انسانانو د شړلو نه وروسته د دې عجیبه فارم په باره کې دا خبر چې ځناور د دغه فارم د چارو اداره په خپلو چلوي، په مبهم او تحریف شوې بڼه خپرېده. دکال په اوږدوکې په ټوله سیمه د بغاوت څپه روانه وه، کورني غویان وحشي شـول او ناڅاپه پې د یو یو جفر نه مات کړل. مېږو د شـپول نه ودانګل او خواوشا ولاړ شوتل پې وخوړل، غواګانو د شیدو ستلونه په لغتو چپه کړل او د بنکار اسونو سوارکاران په زمکو وویشتل او یوازې خپلو اخورو ته به ولاړ وو.

((د انګلسـتان ځناورو)) د ترانې اهنګ او الفاظ هرځای ته ورسـطدل او په حیرانوونکې توګه دغه ترانه ډېره چټکه خپره شـوه. د دې ترانې په اورېدو انسانانو خپل قهر او غضب داسې ایست ((دغه ترانې محض چټیات دي موږ په دې نه پوهېږو چې دغه چټي ځناورو ولې دغه چټي سـندرې او ترانې وایي؟))

په هر فارم کې چې به یو ځناور د دې ترانې په ویلو او یا زمزمه کولو ونیول شـو، نو انسـانانو به دغه ځناور په هغه ځای په لختو او غمچینو واهه. د انسانانو د مخنیوي سره سره د ځناورو ترانه په شاته تلونکې سندره شوه. د کورونو په انګړکې تورو مرغیو په شپېلو او په ونوکې کوترو په ((کوکو)) دغه ترانه ویله چې په پای کې دغه ترانه د اهنګرانو دکار ځایونو له پاسـه او د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلیسا د زنګونو ترڅنګ په ډېر جګ اواز وویل شوه. کله چې انسانانو دغه ترانه په جګ اواز وورېده، نو دوی به په زړه کې ډېره سخت ډارېدل ځکه چې دې ترانې انسان ته د خپل راتلونکي زوال او فنا په حقله د خطر زنګ واهه. د اکتوبر په لومړنیو ورځو کې د غنمو لوګه شو په ځینو پټو کې د غنمو د دانو درمندونه ولاړ وو او په ځینو ځایونو کې د غنمو ګېډې درمند شوې وې. په دې وخت کې په هوا د کوترو سیل راغی، د کوتروسیل څو ځله د ((ځناورو فارم)) له پاسه چاپېر وګرځېد او وروسته په هیجاني ډول د فارم په انګړ کې کېناست. د کوترو د کېناستو سره جوخت جونز د خپلو نوکرانو او د فوکس وود او پنجفلډ د ځینو کارګرانو سره د فارم په لویه دروازه راننوت. جونز توپک په لاس د ټولو په مخکې چټک راروان و، نورو په خپلو لاسونو کې کوتکې نیولې وې، دوی ټول د کراچي په لار د فارم د ودانیو پر لور چټک راتلل. دا ځل دوی د فارم د بیا نیولو په اراده راغلل.

د پخوا راهیسې هر وخت د فارم د بیا نیولو د یرغل پیش بیني کېده او د دې پیش بیني پر اساس له مخکې نه هر اړخیزه دفاعي امادګي نیول شوې وه. سنوبال د مستر جونز په مینه کې د جولین سسیزر Jvlios Caesar د عسکري عملیاتو په باره کې یو زوړ کتاب پیدا کړی و. سنوبال تل دغه کتاب لوست او د دې کتاب د مطالعې په وجه د فارم د دفاعي عملیاتو مسووأیت هم د سنوبال پر غاړه و، سنوبال ډېر ژر احکام جاري کړ او په څو دقیقو کې دننه هر ځناور په خپل سنګر کې ځای پر ځای شو.

کله چې انسانان د فارم ودانیو ته راورسېدل، سنوبال لومړنی حمله پیل کړه، پنځه ډېرش کوترې د انسانانو له پاسه اخوا دېخوا الوتې او د هوا نه په انسانانو ورغوټه کېدې. انسنان لا د کوترو په دفاع بوخت و چې بټو د بوټو له جارګې نه حمله پیل کړه، په یوه منډه یې ځانونه وروسول او د انسانانو په پندیو یې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې تېرې منبوکې ورښخې کړې. د سنوبال د جنګي تاکتیکونو له مخې دا لنډه نښته یوه وړوکې جنګي مناوره وه. سنوبال غوښته چې په دې وسیله د انسانانو په صفونو کې ګډوډي پیدا کړي، خو انسانانو د کوتکو په وسیله بټې په ډېره اسانۍ وشړلې. دا ځل سنوبال د جنګ د دویم تاکتیک پر اساس دویمه حمله شروع کړه. سنوبال مخکې شو او موریل، بنجامین او ټولې مېږې ورپسې شوې. ټولو ځناورو څلورو خواو نه پر انسانانو حمله وکړه. په دې یرغل کې ځناورو د لغتو او نښکرونو څخه پوره کار واخیست. بنجامین به د انسانانو چاپېر کړځېده او هر یو ته به یې د لغتې کلک ګوزار ورکاوه. دا ځل هم انسانانو د کوتکو او مېخ لرونکو بوټونو د درلودلو په وجه د ټولو ځناورو پر ضد قوي ثابت شول. سنوبال ناڅاپه کړیکه وکړه. دغه کړیکه د پر شاه راتللو اشاره وه، ټولو ځناورو ((شاګرز)) وکړ او په یوه منډه د ودانۍ غولې ته په لویه دروازه وتښتېدل. انسانانو په دې بریالیتوب د خوشالۍ چیغې پورته کړې، لکه څنګه چې مخکې یې فکر کړی و، هم هغه شان یې د دښمنانو ماتې او تېښته په خپلو سترګو ولیده. ځناورو اخوا دېخوا ګډې وډې منډې شروع کړې او انسانانو هم ډګډوډۍ په حالت کې تښتېدونکي ځناور تعقیب کړل. سنوبال دغه ګډوډي غوښتله دري اسونو، دري غواګانو او ټولو خوګانو د ((غواوو څېر)) کې د مخکې نه پټ سنګرونه نیولي وو. څه وخت چې انسانانو د ګډوډۍ په حالت کې د ودانۍ غولې ته رانوتل ناڅاپه ټول ځناور د دوی تر شا راپورته شول او ډېر ژر یې د انسانانو ترمنځ رابطه قطع کړه. سنوبال د حملې اشاره ورکړه او ده په خپله نېغ په جونز ورمنډه کړه. جونز توپک راپورته کړ او په سنوبال یې ډز وکړ. د توپک چرې د سنوبال په ملا ورننوتلې. د چرو د سورو څخه غوټۍ غوټۍ وینه راووتله. وینې د زخمي سنوبال په ملا لیکې جوړې کړې. په دې ډز یوه مېږه هم ځای پر ځای مړه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه. سنوبال په ډز تم نه شو او په یوه شیبه یې د جونز په پندیو پنځلس تیرې ورګوزار کړې. جونز د غوشیانو په ډېران راګوازر شو، توپک یې له لاسه والوت او وړاندې ترښه وولوېد. په دې جګړه کې د بوکسر نداره د ټولو نه خطرناکه او بوګنوونکې وه، د جګړې په دوران کې به بوکسر په وروسته دوو پښو نېغ ودرېد او د مخکینو دوو پښو په نعل شویو لویو سومانو به یې د پلک په څېر ګوزار کاوه. هغه د فوکسوډ فارم د استبل یو ځوان هلک په کوپړۍ ووایه او په یوه لغته یې پرمخې په ختو کې بې هوښه وغورځاوه. کله چې څو تنو انسانانو دا پېښه ولیده، ډېر ژر یې خپل سوتې وغورځول او تېښتې ته چمتو شول. انسانان له ډاره ډېر وارخطا شول. په یوه شیبه کې ټولو ځناورو هغوی د غولې چاپېره وځغلول. د ځغاستې په دوران کې د انسانانو جامې څیرې شوې، په لغتو ووهل شول، وچیچل شول او د پښو لاندې ښه وسولېدل. په ټول فارم کې داسې ځناور نه و چې په خپله طریقه یې د انسان نه بدل وانه خیست، د فارم وحشي پیشو هم د بام نه ناڅاپه د پادوان په اوږو راودانګل، په مړۍ یې خپلې تېرې نوکې ورخښې کړې او ښې چیغې یې ورنه وویستلې.

کله چې د غولې درازه برسېره شوه ټول انسانان په یوه مانده د غولې نه وتښتېدل او په یوه مانده د سړک پر لور د فارم د لویې دروازې نه ووتل او د وتلو سره یې لویه دروازه له ځانونو پسې پورې کړه. د تېښتې په دوران کې د فارم بتو په ټوله لار د هغوی پندۍ په تېرو مښوکو چیچلې او د حملې نه پنځه دقیقې وروسته انسانان په کومه لار چې راغلي وو په هغه لاره ووتل او د شرم نه ډکه ماتې یې وخوړه.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوکســـر ببرته غولي ته راغی او دلته يې کوښـــښ وکړ چې په خټوکي پرمخې پروت هلک د خپل سوم په وسيله په ډډه راواړوي، خو بې هوښه هلک هېڅ ونه خوځېد.

بوکسر د ځان سره وويل: ((دا خو مړ دی! ما دی نه واژه، زه نه وم خبر چې زما نعلونه نوي دي. دا به ځوک ومني چې ما دا هلک قصـداً نه دی وژلی؟!! د سنوبال له زخمونو څخه وينې څڅېدلې او چيغه يې کړه.

((ملګرويه! احساساتي کېږه مه! جنګ دی، زمونږ لپاره يوازينی ښه انسان مړ انسان دی.))

د بوکسر سترګې له اوښکو څخه ډکې وې او داسې يې وويل: ((زه نه غواړم چې ځوک دې خپل قيمتي ژوند څخه محروم کړم. د انســـان وژل هم نه غواړم.))

((مولي څه شوه؟)) يو ځناور په تعجب پوښتنه وکړه، مولي نه ښکارېده، هغه واقعاً ورکه شـوې وه، د دوی سـره دا وېره وه چې انسـانانو مولي ته تاوان نه وي رسـولی او يا يې د ځان سـره بيولې نه وي، خو په پای کې ځرګنده شـوه چې مولي د جونز د ډزو له ډاره غوجل ته تښـــتېدلې وه او هلته پټه ولاړه وه او له ډېره ډاره يې سـر د اخور په وښـوکې مندلی و او نور بدن يې لړزېده. د مولي تر لټون وروسته ځينې ځناور ببرته غولي ته راغلل. ګوري چې په غوجل کې بې هوشـه هلک نه شـته، ځناورو ته معلومه شـوه چې دغه هلک بې سـده شوی و او څه وخت چې په سد شو نو هغه هم په يو ترپ وتښتېد.

ټول هيجاني ځناور په غولي کې راغونډ شـول، لومړی هر ځناور په جګ اواز د خپلې تورې او مېرانې لاپې ووهلې او بيا يې ډېر ژر دغه لوی بريالیتوب تجليل کړ. د تجليل په سرکې فارم ببرغ پورته شو او د ((انګلستان ځناورو)) ترانه څو ځله وويل شـوه. مړه مېږه يې په ډېر درناوي خاورو ته وسپارله او د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې قبر يې د ګلونو بوټی نیال کړل. سـنوبال د مړې مېړې په قبر په یوه لنده ویناکې ځناورو ته وویل: ((کله چې د ځناورو فارم د دفاع ته ضـرورت فلري، موږ ټول ځناور باید په دغه وخت کې هر ډول سـربنـدنې ته چمتو اوسېږو.))

ټولو ځناورو هم دلته ((د ځناورو لومړی درجه قهرمان)) په نوم د عسـکري نښـان د جوړولو لپاره عمومي فیصـله وکړه چې دغه اوله درجه نښـانونه سنوبال او بوکسر ته ورکړل شول. دغه نښانونه د مسو څخه جوړ شوي وو او دوی به دغه نښـانونه د یکشـنبې پر ورځ او د نورو رخصـتیو پر ورځ ځړول. همدا شـان مړې مېړې ته هم پس له مرګه ((د ځناورو دویمه درجه قهرمان)) نښان ورکړل شو.

په دې غونډه کې د جګړې د نامه په ټاکلو اوږد بحث وشـو او په پای کې دې نتیجې ته ورسېدل چې دا جګړه د غواوو د څېر له سنګر څخه بریالی شوې ده، نو ځکه یې نو باید ((د غواوو د څېر جګړه)) وبولو.

د مستر جونز ټوپک په ختو کې وموندل شو. د دې ټوپک کارتوس د جونز په کوټه کې موجود وو. د فیصـلې له مخې ټوپک د فارم د بیرغ د جنډې لاندې د توپ په څېر کېښـودل شـو، داسې هم فیصله وشـوه چې په دې ټوپک به په کال کې یوازې دوه ځله ډزې کېږي. یو وار د اکتوبر پر دولسمه د ((غواوو د څېرو جګړې)) کالیزه او بل وار به ((د دوبي منځ ورځ)) یا د ((انقلاب)) کالیزه وربانديې نمانځل کېږي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم څپرکی

په ژمي کې د مولي له لاسه تکلیف نور هم زیات شو، هر سهار به ناوخته له خوبه پاڅېدله، ناوخته به کار ته راتله او هره ورځ به یې د ناوخته پاڅېدلو لپاره پلمې جوړولې. خوراک یې ډېر کاوه، خو د کار پر وخت به یې ځان په ناجوړۍ اچاوه او په یوه او بله پلمه به یې ځان له کاره خلاصاوه، هر وخت چې به یې په ټکسیو ځان له کاره خلاص کړ، نو بیا به د فارم د اوبو ډنډ ته تلله او هلته به یې په اوبو کې د خپل مخ ننداره کوله. یوه ورځ مولي د کور په غولي کې خوشاله خوشاله چکر واهه. د چکر په دوران کې خپله لکۍ یې په مکېز مکېز تاووله راتاووله او ورسره یې د وچو وښو په ډنډرو شخوند واهه چې کلوور ته په مخه ورغله او د لیدو سره یې مولي یو خواته بوتله او پټ یې ورته وویل:

((مولي! زه درته یوه جدي خبره کوم. تاپسې د څو ورځو راهېسې دا ګونګوسې روان دی چې ته د انسانانو سره پټ روابط لرې. ما په دې ګونګوسې باور نه کاوه، خو نن سهار مې ته په خپلو سترګو د فارم په څنډه ولاړه ولېدلې چې تا له هغو ځایه فوکسوډ فارم ته کتل. زه ستا څخه لږه لرې ولاړه وم، خو زه پوره باور لرم، بلکې ما په خپلو سترګو ولیدل چې د پیلکتیکټن د نوکرانو څخه یو د ونو د جارګي اخوا ولاړ و، هغه تاته څه خبرې کولې او تا ورته اجازه ورکړې وه چې هغه ستا شوندک در وموښي. مولي! د دې کار څخه ستا مقصد څه دی؟ ((دا سمه نه ده! زه هلته هېڅ نه وم، ما دا کار نه دی کړی!)) مولي چیغه کړه او ورسره پورته پورته غورځېدله او ځمکه یې په سومانو وهله.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((مولي! ته خو يو ځل نېغ راته وګوره! ايا ته به قســـم وخوري چې ته هلته نه وې ولاړه او دغه سړي ستا شوندک نه مښه؟)) کلوور ترېنه پوښتنه وکړه.

((دا دروغ دي! دا په ما تور لګول دي!)) مولي تکرار وکړ، اما مولي کلوور ته مخامخ نېغ نه شو کتلای، يوه شېبه وروسته مولي پښې سپکې کړې او په يوتراټ ورشو ته وتښتېده.

کلوور تر يوې شـــېې په ســـوچ کې ډوبه ولاړه وه او غير له دې چې نورو ځناورو ته څه حال ووايي. د مولي اســـتبل ته ولاړه او په خپلو ســـومانو يې بوس اخوا دېخوا کړل. ګوري چې دلته د بوسو د لاندې د نباتو د وړوکو توتو ډېرې او ورسره د ښلو ښلو رنګونو د پټيو څوګډې هم پرتې دي. پوره درې ورځې وروسته مولي ورکه شوه او څو اوونۍ د هغې درک معلوم نه شو. يوه ورځ د فارم کوترو خبر راوړ چې مولي د ويلنيګډن اخوا د يو هوټل په مخکې د يوې دوه اړخيزه کراچۍ د ســـور او تور رنګ تيرونو ترمنځ ولاړه وه، د کراچۍ ترڅنګ يو چاغ ســـور مخې ســـړی ولاړ و. دې ســـړي تنګ پتلون اغوســـتی و، پايځې يې ترلې وې او د هوټل خاوند برېښـــېده. ده د مولي شوندک ورمښه او په خوله کې يې نبات ورکول. د مولي ويښته غيچې شوي وو او د تندي د وربل چاپېره يې تکه ســـره پټۍ ترلې وه. د کوترو د خبر له مخې دلته مولي ډېره خوشاله ښکاره کېده.

دا د مولي په باره کې لومړنی او ورستی راپور و او له تر دې وروسته ځناورو د مولي نوم په خوله وانه خيست.

د جنوري مياشـــت ډېره ســـړه وه او کنګل وله ځمکه د تيږې غوندې ســـخته کړې وه، همدا علت و چې اوس په ځمکه کار نه کېده، خوګانو په لوی ګودام کې ډېرې غوندې دايرې کړې او هغوی د راتلونکي موســـم لپاره خپل پلانونه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوندو ته وړاندې کړل. دا يو منل شوی واقعيت و، چې د فارم د ټولو ځناورو په تناسب خوګان ډېر هوښيار وو. ((د ځناوروتوب)) د مساواتو د روحيې پر اساس خوګانو د ډيموکراسۍ اساسات منلي وو. د دې اساساتو له مخې دوی د فارم اړوند پروګرامونه، پلانونه، پاليسي او وړانديزونه د ځناورو غونډې ته وړاندې کول او د هرې پرېکړې لپاره يې د مجلس اکثريت ترلاسه کول، ضروري باله. د خوګانو غوښتنې به هر وخت د ټولو ځناورو له خوا په مطلق اکثريت تصويبېدلې. که چېرې د سنوبال او ناپولن ترمنځ مخالفت نه وای، ښايي د خوګانو ځينو پروګرامونو په زړه پورې نتيجې ورکړې وای، دوی به په هره موضوع کې د يو بل ډېر سخت مخالفت کاوه. که چېرې يو به د اوربشو د کر وړانديز وکړ، نو بل به حتماً د جودرو د کر وړانديز کاوه. که چېرې يو به وويل چې په هغه يا دغه ځای کې دې ګوپې وکرل شي، نو بل به حتماً ويل چې دغه ځمکه يوازې او يوازې د کبلو د کر لپاره ورکړ ده او د کبلو پرته بل هېڅ شی نه کوي. دواړو خوګانو په غونډه کې ملګري درلودل، په هره غونډه کې د دوی ترمنځ بحث تودېده او يو په بل به يې شديد تنقيدونه کول. سنوبال ماهر نطاق او نامتو خبر لوڅ و او ده به تل په هره غونډه کې د ښه فصاحت او بلاغت په برکت اکثريت ترلاسه کاوه. په ځينو غونډو کې ناپولن هم د رايې او ملاتړ په جلبولو کې ښه و. ده به په غونډو کې د مېړو څخه رايې اخيستلې. کله چې به د بحث په دوران کې سنوبال د يوې موضوع د تشريح په باره کې يوې حساسې مرحلې ته ورسېد، نو دلته به يو وار مېړو رمبارې پيل کړې او ((ځلور بولي ښه دي، دوه بولي خراب دي)) يې ويل. مېړو به تل اوچتې رمبارې وهلې او د سنوبال وينا به يې ګډوډوله. سنوبال د مستر جونز په مينه کې ((د بزګرۍ او مالدارۍ انکشاف)) په نامه کتاب وموند او له څه مودې راهيسې يې د دغه کتاب ژوره مطالعه کوله. د دې کتاب د مطالعې په برکت

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنوبال د فارم د اصلاحاتو لپاره ډېر نوي نوښتونه او پلانونه درلودل. هغه په ډېر عالمانه توګه د ځمکې د زېم ایستلو، د وچو وښو د کوتې کولو او د اوبو ځغه د ځګ د تصفیه کولو خبرې کولې. همدا شان یې په کراچۍ کې پتو ته د سرې د وړلو د کار او زیاره مخنیوي لپاره پلان جوړ کړی و، چې د هغه له مخې د فارم ټول ځناور مکلف وو چې هر وخت مستقیماً پتو ته ولاړ شي او د پتو په ببلابېلو ځایونو کې دې پچې او غوشایي وکړي. له بلې خوا ناپولن غوندو ته خپل پلان نه وړاندې کاوه. د سنوبال د خبرو په دوران کې به یط د ځان سره غلي ویل ((ستا پلانونه به هېڅ مثبته پایله ونه لري.)) د ناپولن د کړو وړو څغه داسې څرګندېدله لکه د یو مناسب وخت انتظار چې یې کاوه. سنوبال او ناپولن تر هر څه زیات د یادې ژرندې د جوړولو په باب سخته شخړه وکړه.

د فارم ودنې ته نړدې په اوږد مالځړ کې یوه وړوکې غونډۍ وه او دا غونډۍ د ټول فارم اوچته نقطه وه. کله چې سنوبال د دې غونډۍ اوچته برخه بنه وکتله وروسته یې د ځناورو په غونډه کې خپل راپور داسې اعلان کړ.

((ملګرو! زه د یوې ژورې سروې په پای کې دې نتیجې ته ورسېدم، چې د فارم د غونډۍ اوچته برخه د بادي ژرندې د جوړېدو لپاره ښېخي مناسب ځای دی. زه پوره باور لرم چې په دغه ځای کې جوړه بادي ژرنده به ټول فارم ته د برق د ورکولو لپاره د یو قوي ډاینمو د چلولو توان ولري. دغه برق به په شپه کې د ټولو ځناورو غوجلې، استبلونه او د ویده کېدو ځایونه رڼا کړي. دا برق به په ژمي کې د ځناورو د اوسېدو ځایونه تاوده او په اوړي کې سارې ساتي. دا برق به د فارم برقي اره، د بوسو او چغندرو پرې کوونکي ماشینونه او د فارم د غواوو د لوشلو ماشین هم وچلوي. دغه ماشینونه به یوازې د ځناورو لپاره کارکوي. څه وخت چې دې ماشینونو کار پیل کړ، نو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دغه وخت وروسته به تاسو ټول ېې غمه په مالځرونو کې ځرېږئ او تاسو به د خپلو ذهنونو د انکشاف په خاطر د مطالعې، مباحثې او مفاهمې لپاره ډېر وخت ولرئ.))

له دې نه مخکې د فارم ځناورو دا ډول خبرې نه وې اورېدلې. د ځناورو فارم ډېره زړه بنه درلوده او په فارم کې موجوده یو څو ماشینونه هم ډېر زاړه وو. کله چې سنوبال ځناورو ته د خپل پلان له مخې د عجیب و غریب ماشینونو د عکسونو په باره کې تشریح ورکوله، په غونډه کې د ټولو ځناورو خولې د حیرانتیا څخه وازې پاتې وې.

سنوبال په څو اوونیو کې د بادي ژرندې پلانونه سرته ورسول. د دې پلانونو جزیات د مستر جونز له درې کتابونو ((په خپل کورکې یو زر زر مفید شیان کول.))، ((هر سړی په خپل ځټکر دی.)) او ((د مبتدیانو لپاره د برق زده کړه)) څخه اقتباس کړي وو. سنوبال د هغه څېر لاندې مطالعه کوله، کوم چې د چرګوړو د ماشین لپاره جوړ شوی و. د دې څېر فرش په تودېل شویو هوارو لرګیو پوښل شوی و او ده به پر دې هوار فرش د خپلو پلانونو رسمونه ایستل. سنوبال به په ساعتونو د دې څېر لاندې به د مخکې پښې په ګرت کې تباشیر نیولی و، یوه خوا او بله خوا یې چټک حرکتونه کول. په هوار فرش یې پرله پسې رسمونه ایستل او کله کله به په هیجاني حالت کې سرنګېده. څه موده وروسته د هغه پلانونه د ماشین په پېچلو پرزو او د ځمکې د غاښور ماشینونو په رسمونو تبدیل شول، سره له دې چې دغه پېچلي رسمونه د نورو ځناورو د فهم او درک څخه ببخي اوچت وو، خو بیا هم دغو رسمونو ټول ځناور دومره د تاثیر لاندې راوستلي وو چې هره ورځ به ټول ځناور د دغو رسمونو د نندارې لپاره دلته راتلل. چرګو او هیلیو د نندارې پر وخت له دې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاره چې په فرش باندې د تباشیر نښې او رسمونه د پښو لاندې وران نه کړي، په ډېر تکلیف ګرځېدلې راګرځېدلې.

ناپولن د لومړۍ ورځې نه د بادي ژرندې پر ضد خپل مخالفت اعلان کړی و. همدا علم و چې یوازې ده د سنوبال په رسمونو کې هېڅ علاقه نه ښودله. د سخت مخالفت سره سره یوه ورځ ناڅاپه ناپولن د سنوبال د پلانونو د لیدو لباره څېر ته راغی. هغه لومړی د څېر چاپېر په درندو ګامونو وګرځېد. د هر پلان جزیات یې به ډېر غور وکتل. دغه جزیات یې څو ځله په پوزه سونګړل. بیا د لږ وخت لپاره ودرېد د هر پلان ټول جزیات یې د بنو لاندې په ځیر ځیر کتل او په ټولو جزیاتو یې ژور فکر کاوه. ناڅاپه یې پښه پورته کړه او د سنوبال په پلانونو یې متیازې وکړې او له دې وروسته چوپ چاپ د څېر څخه بهر ووت.

په ټول فارم کې د بادي ژرندې په موضوع ډېر ژور اختلاف راغی. سنوبال دا خبره منله چې د بادي ژرندې جوړول ګران کار دی او ډېر زیار غواړي. ده به ویل:

((موږ مجبور یو چې د دېوالونو د جوړېدو لپاره د کانونو څخه توږل شوې تیږې راوړو. بیا د ژرندې بادوانونه جوړ کړو او ورپسې د ډاینمو اوکلک کېبلونو ضرورت وپوره کړو.)) ځنګه دا شیان ترلاسه کېدای شي؟ سنوبال دې سوال ته هېڅ ځواب نه ورکاوه. خو ویل به یې چې دا ټول کار په یو کال کې ترسره کېږي. ده په غونډه کې اعلان وکړ. ((د ژرندې تر جوړېدو وروسته به په فارم کې د ځناورو د کار دومره انرژي وسپمول شي، چې ځناور به په یوه اوونۍ کې درې ورځې کار کوي او په مقابل کې به پوره د یوې اوونۍ اجوره اخلي.)) هم په دې غونډه کې ناپولن د سنوبال پر ضد دا استدلال

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې کړ چې ((د دې وخت لوی او مهم ضـــرورت د خوراکي شـــیانو او موادو پربمانه تولید دی. مورِ باید چې خوراکي شیان ډېر تولید کړو او په دې وخت کې له هر څه نه لومړی تولید ته پاملرنه وکړو. که چېرې ځناور د ډېرو خوراکي شـــیانو د تولید پر ځای خپل قیمتي وخت د بادي ژرندې په جوړېدو ضـــایع کړي، نو په دې صـــورت کې په ټول ځناور د لوړې مړه شـــي.)) د فارم ټول ځناور د دې دوو شـــعارونو پر اســـاس. ((که څوک غواړي چې په اوونۍ کې درې ورځې کار وکړي او د یوې اوونۍ اجوره مکمله واخلي، نو ســـنوبال ته دې رابې ورکړي.)) او ((که څوک غواړي چې اخور یې ډک وي، نو ناپولن ته دې رابې ورکړي.)) په دوو ډلو ووېشـــل شـــول. په ټول فارم کې بنجامین یواځینی ځناور و چې د یوې ډلې طرفداري یې هم ونه کړه هغه په دې دواړو شعارونو چې یا به بادي ژرنده د ځناورو دکار او زیار سپما وکړي او یا به په اخور کې د خوراک شـــیان پربمانه شـــي، هېڅ باور نه درلود. بنجامین به پټ ویل ((که ژرنده وي او یا نه وي په دواړو حالاتو کې به د ځناورو ناوړه ژوند د پخوا غوندې دوام لري.))

د ناپولن او ســـنوبال ترمنځ د بادي ژرندې په موضـــوع د مخالفت ســـربېره د فارم د دفاع په موضـــوع هم شـــدید مخالفت وجود درلود، اوس د فارم ټولو ځناورو دا احســـاس کاوه چې انســـانان ((د غواوو څېر)) په جګړې کې د ماټې د خوړلو په نتیجه ک؟ې حتماً یو ځل بیا د فارم د نیولو او د مستر جونز د بیا راوســـتلو لپاره په فارم قاطع یرغل کوي. د ځناورو په نظر د انســـانانو د بل قاطع یرغل اســـاســـي علت د دوی د ماټې د اوازې خپرېدل دي. اوس د دوی د ماټې خبر په خواوشـا سـیمو کې خپور شـوی دی او د دې خبر په اورېدو د ګاونډیو فارمونو ځناور یاغي شـــوي دي. انســـانان د دې لپاره چې د خپلو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

فارمونو د ځناورو د بغاوت مخنیوی وکړي، شـــاید چې هغوی ډېر ژر د ځناورو په فارم یوه بله قاطع حمله وکړي.

کله چې په غونډه کې د فارم د دفاع موضـوع طرح شـوه، سـنوبال د ناپولن د یو بل پر ضد سخت موقف ونیو، ناپولن وویل: ((ملګرو! زما په نظر تر هرڅه مخکې د فارم د دفاعي کمیټې تقســیم کړي. موږ باید د جګړې وســله حتماً ترلاســه کړو او د فارم ټول ځناور دې د وســلې اســتعمال او جنګي تاکتیکونه زده کړي. که چېرې موږ د انسـانانو پر ضـد موثره دفاع وکړه او لومړی مو په دې فارم کې ((انقلاب)) کامیابه کړ، نو زه پوره باور لرم چې په راتلونکي کې موږ د له دې فارم څخه نورو ګاونډیو فارمونو ته ((انقلاب)) صادرولای شو. اما برعکس که چېرې موږ د خپل فارم څخه دفاع ونه کړلای شـوه، نو په دې صــورت کې موږ حتماً ماتې خورو او د ماتې په نتیجه کې زموږ ((انقلاب)) د تل لپاره ناکامه کېږي.))

سنوبال د ناپولن د نظر په مخالفت کې وویل: ((ملګرو! زموږ فارم د ګاونډیو فارمونو له خوا محاصــره شــوی دی. تر هرڅه مخکې موږ باید چې دغه محاصره حتماً ماته کړو. موږ باید چې ډېرې کوترې خواوشا فارمونو ته ولېږو او د دغو کوترو اصــلي دنده به دا وي، چې د ګاونډیو فارمونو اوسـېدونکي ځناور ((بغاوت)) ته راوپاروي. کله چې موږ له دغو فارمونو څخه انســانان وشــړل او ((انقلابونه)) مو بریالي ســرته ورســول، نو له یوې خوا موږ د محاصـرې له حالت څخه خلاصـېږو او له بلې خوا یوازې په دې صـورت کې زموږ د فارم واقعي دفاع کېدلای شي او بس.))

ځناورو لومړی د ناپولن او بې د ســنوبال دلایل واورېدل، د دواړو خوګانو دلایل قوي ښکاره کېدل. کله چې ناپولن غونډې ته خپل دلایل وړاندې کړل،

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو ټولو ځناورو د ده استدلال ته سرونه خوځول او کله چې سنوبال خپل دلایل وویل، نو بیا ټولو ځناورو د ده استدلال ته سرونه خوځول شروع کړل. ځناورو تر پایه دا پریکړه ونه کړه، چې په دوی کې د کوم خوک دلایل سم دي.

بلاخره د سنوبال د پلانونو د تکمیل ورځ راورسېده. کله چې د یکشنبې د غونډې لپاره د فارم ټول ځناور لوی ګودام ته راغلل، سنوبال ودرېد او د غونډې رایې ته یې د بادي ژرندې د کار د پیل کېدو او نه پیلېدو موضوع وړاندې کړه. سره له دې چې مېږو د هغه وینا څو ځله په رمبړو ګډه وډه کړه، خو بیا هم هغه د بادي ژرندې د جوړېدو څخه پوره دفاع وکړلای شوه.

ناپولن د سنوبال پر ضد ودرېد او په ټیټ غږ یې غونډې ته وویل: ((مګلرو! د بادي ژرندې جوړېدل یو چټي کار دی. زه ستاسو له ټولو ملګرو څخه هیله کوم چې د دغه چټي کار لپاره خپله رایه ور نه کړئ.))

تر دې لنډې وینا وروسته ناپولن ډېر ژر په خپل ځای پرېوت. ده یوازې دېرش ثانیې خبرې وکړې. ناپولن د خپلې وینا د مثبتې اغېزې په باب هېڅ چرت ونه واهه.

کله چې سنوبال د ناپولن لنډه وینا واورېده، نو هغه نېغ ودرېد، لومړی یې په ډېر قهر مېږې تهدید کړې، هغوی یې د بې ځایه رمبړو وهلو څخه منع کړې او بیا یې خپله احساساتي وینا داسې پیل کړه:

((ملګرو! کله چې زما پلانونه سرته ورسېږي او بادي ژرنده جوړه شي، نو زه ورته په ډاډ ویلای شم چې د فارم ټول ځناور به هوسا ژوند کوي او له ټولو سختو کارونو څخه به یې اوږې سپکې شي. اوس زما تصور بوسو، وښو او د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیپرو پربکوونکو ماشـــینونو څخه ډېر پورته تللی دی. زه د خپلو پلانونو له مخې تاسو ته دا زېری درکوم چې د بادي ژرندې برق به له یوې خوا ستاسو د فارم یوې، غابنوري، لرونه، د فصل د راټولولو او کښلې کولو ماشینونه او د درمندونو د ټکولو او میده کولو ماشـــینونه چلوي. له بلې خوا به دغه برق ستاسو د فارم ټولې غوجلې رناکړي، د دې برق په برکت به ستاسو لپاره په ژمي کې تودې اوبه او په ژمي کې سړې اوبه موجودې وي او تاسو به د ژمي په سړو کې په هر غوجل کې برقي منقلونه لګولي وي.))

تر دې وخته پورې د ژرندې په موضوع ټول ځناور په دوو ډلو وېشل شوي وو اما په دې غونډه کې سنوبال د خپل فصاحت او بلاغت په قوت د ځناورو لوی اکثریت ترلاسه کړ او د هغه د وینا په پای کې په غونډه کې حاضر ځناور په دې ښه پوهېدل چې اوس د غونډې رایې په کومه خوا ځي. هم په دې شېبه کې ناپولن ودرېد، ســـنوبال ته یې په ترخ وکتل او بیا یې په ډېر لوړ غږ سونګېدنه شروع کړه. له دې ترمخه د فارم یو ځناور هم د ناپولن څخه دغه شان سونګېدل نه و اورېدلي.

د دې عجیبه سونګېدنې سره جوخت د لوی کودام د باندې د سپو د غپا اواز راغی. دغه ډېر خطرناک غپېدل وو، نه لوی سپي چې کړی یې په غاړه وې په یو تراټ په دانګونو کودام ته رانوتل او د رانوتلو ســـره یې نېغ په ســـنوبال ورمنډه کړه. د دې لپاره چې د ســـپو د خولې اچولو څخه ځان بچ کړي، سنوبال له خپل ځایه ټوپ وواهه او د سترګې د رپ سره د کودام د دروازې څخه ووت. هغه مخکې او سپي ورپسې په منډه ورخلاص وو. د دې پېښې په لیدو حیران او وډار شو، ځناورو چوپ چاپ د لوی کودام د لوېې دروازې نه د سنوبال د منډې او د سپو د تعقیب نندارې کوله. د کودام او سړک ترمنځ په اوږد مالځړ ســـنوبال دومره چټکه منډه وهله څومره منډه چې یو خوک

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهلی شي. ګرندي سپي د هغه پندیو ته نږدې شول. په دې وخت کې سنوبال وښـویښد او نندهرکوونکو ځناورو دا فکر وکړ چې ګوندې سـپو په خوله کې ونیو. تر ښـویښدو وروسـته سـم له لاسـه ډېر ژر راپورته شـو او خپله منده یې پسې چټکه کړه. بیا ورپسې سپي ورور سبدل او یو سپي د هغه لکۍ ته خوله واچوله. د خولې له اچولو سـره سـنوبال خپله لکۍ په ډېره چټکتیا تاوکړه او د سپي د خولې د اچولو څخه یې لکۍ خلاصـه کړه. تر دې وروسته سنوبال لاپسې چټک شو. د ده او د سپو ترمنځ څو انچه واټن پاتې و، چې سنوبال د بوټو په منځ کې په یو لوی سوري کې کښته پرېوت او تر دې وروسته سنوبال هېڅ ونه لیدل شو.

ډار شوي ځناور ډېر غلي ګودام ته ښرته ننوتل. یوه شېبه وروسته نهه سپي په دانګونو ښرته راغلل. د سـپیو په لیدو ټول ځناور حیران شـول، ځکه چې یو ځناور هم په دې نه پوهېده چې دغه خطرناک مخلوق له کوم ځایه راپیدا شو. اما ډېره ژر دغه معامله حل شـــوه. ځناورو ته څرګنده شـــوه چې دا هم هغه کوکري دي، چې ناپولن د دوو ســپیو څخه اخیســتي وو او په خپله یې په یو ځانله ځای کې د تربیې لاندې ونیول، تراوسـه دغه سـپي پوره لوی شـوي نه وو، خو بیا هم دوی د خپل عمر په تناســب ډېر غټ او د خطرناکه لېوانو غوندې معلومېدل. څه وخت چې دغه ســپي راغلل د راتګ ســره ناپولن ته نږدې ودرېدل او ټولو ځناورو په خپلو سترګو ولیدل چې دغه سپي ناپولن ته داسې لکۍ وهي، لکه څنګه چې د دوی میاندو او پلرونو مستر جونز ته لکۍ وهلې.

ناپولن مخکې او سپي ورپسې روان شول. هغه د ګودام دننه هغه اوچت ځای ته پورته شول، کوم ځای چې یو وخت وړ میجر د فارم ځناورو ته خپل خوب ویلی و. له دغه ځایه ناپولن اعلان وکړ: ((ملګرو! سـر له نن یکشـنبې سـهار

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوندې له منځ ولاړې. دا غوندې يو چتې او غير ضـــروری شـــی دی او دغه چتې شـــی زموږ قيمتي وخت ضـــايع کوي. په راتلونکي کې به د خوګانو يوه ((مخصـــوصـــه کمپټه)) د فارم ټولې چارې چلوي او ددغې کمپټې رياســـت به زما پر غاړه وي. تر دې وروسته به موږ خوګان پټې غوندې کوو او د دغو پټو غوندو فيصلې به تاسو ته ابلاغ کېږي. تاسو ټول ځناور به د يکشنبې پر سهار راټولېږئ، د فارم بيرغ ته به ســلامي ورکوئ. ((د انګلســتان ځناورو)) ترانه به وايئ او د ټولې اوونۍ دکار اوامر به اخلي. پام کوئ چې تر دې وروسته په يوه موضوع هم بحث او مباحثه ونه کړئ.))

له يوې خوا د ســنوبال د شــرلو له امله د فارم ټولو ځناورو ته لويه صــدمه رســـېدلې وه او له بلې خوا د ناپولن دې اعلان د هغوی په زخمونو مالګه ودوړوله. که چېرې د فارم ځناور د مخکې نه په ســم اســتدلال اموخته وای، شايد چې هغوی د دې اعلاميې پر ضد احتجاج کړی وای. د سنوبال پر شرلو او د ناپولن د نوي اعلان په اورېدو د بوکســر غوندې يو ســور ځناور ته هم صدمه ورسېدله. بوکسر خپل غوږونه ځوړ ونيول. ځو ځله يې په تندي پروت وربل اخوا دېخوا وغورځاوه او د ســم اســتدلال لپاره يې له حده زيات فکر وکړ، خو له بده مرغه چې مغزو يې تر پايه ورســـره مرســـته و نه کړه، ټولو ځناورو له جملې څخه يوازې ځلور ځوان خوګانو په ډاګه خپل خفګان څرګند کړ. دغه ځلور خوګان په لومړي کتار کې ناســـت وو. ځلور وارو يو ځای د نوي اعلان پر ضـــد کړيکې پيل کړې. ځلور واړه يو ځای راپورته شـــول او ځلور واړو يو ځای په خبرو شـــروع وکړه. د ناپولن ترځنګ پراته سپي د خوګانو دکړيکو په اورېدو راپورته شول. دوی خوګانو ته وغرېدل او د دوی د ډارېدونکي غرېدو له وېرې خوګان غلي او چوپ چاپ په خپلو ځايونو کېناستل. تر دې وروسته مېږو په جګ اواز رمبارې شـروع کړې او

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلس دقیقې یې په رمبارو ((څلور پنښیز ښه دي او دوه پنښیز خراب دي)) تکرارکړه او د دې دستوري رمبارو په وجه د ګودام دننه بحث ته خاتمه ورکړل شوه.

ناپولن د ((انقلاب د تکاملي پړاو)) د نوي تنظیم د شریح لپاره سکیولر فارم ته ولېږه. دلته سکیولر د فارم ځناورو ته په ویناکې وویل: ((ملګرو! زه پوره باور لرم چې د فارم ټول ځناور د ملګري ناپولن له دې قربانۍ څخه د زړه له کومې مننه کوي چې ده نور اضافي کارونه هم په خپلو مبارکو اوږو واخیستل.))

((ملګرو! تاسو هېڅ داسې تصور ونه کړئ چې ګوندې مشرتوب د ساعت تېرې شی دی. برعکس مشرتوب یو ډېر درود مسولیت دی. تاسو په دې پوهېږئ چې زمونږ د فارم یو ځناور هم د مګلري ناپولن غوندې په دې اصولو چې ((ټول ځناور مساوي دي)) کلکه عقیده نه لري.))

((ملګرو! زه پوره ډاډ لرم چې ستاسو دیموکرات ملګری ستر ناپولن د زړه نه دا غواړي چې تاسو دې په خپله د فارم چارې وچلوئ، خو باید مونږ له دې واقعیت څخه هم هېڅ انکار ونه کړو، که چېرې مونږ په ځینو وختونو کې د فارم د چارو په برخه کې غلطې پرېکړې وکړې، نو ایا تاسو د دغو غلطو پرېکړو په انجام پوهېږئ؟ د مثال په توګه تاسو ته څرګنده شوه او اوس وربانديې ښه پوه شوي یاست چې سنوبال زمونږ فارم لوی مجرم دی. که چېرې د ژرندې د موضوع په رایې شمېرنه کې تاسو سنوبال ته رایه ورکړې وای، نو په واقعیت کې به تاسو د سنوبال غوندې د یو لوی مجرم د پرېکړې تاییدکړی وای. دا حقیقت باید ومنو چې اوس سنوبال د یو لوی مجرم پرته بل هېڅ حیثیت نه لري.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ځناور سکیولر ته وویل: (((زه شاهد یم چې ((د غواوو څپر)) په جګړه کې سنوبال په ډېر زړورتوب وجنګېد.))

((ملګرو! یوازې زړورتوب کفایت نه کوي، بلکې زموږ په فارم کې له ټولو څخه مهم شرط وفاداري او اطاعت دی. موږ ټول خوګان دا عقیده لرو چې ((د غواوو څپر)) د جګړې په باره کې سم معلومات نه دي راټول شوي. ډېر ژر به تاسو ته روښانه شي چې په دې جګړه کې د سنوبال د زړورتوب په برخه کې څومره مبالغه شوې ده.))

((ملګرو! موږ یو پولادي ډسپلین ته اړتیا لرو. زموږ د نن ورځې شعار دا دی: که چېرې تاسو یو ناسم ګام پورته کړ، نو زه باور لرم چې زموږ دښمنان ببرته راځي، ایا تاسو دې فارم ته د جونز بیا راتګ غواړئ؟))

یو ځل بیا د سیکولر استدلال ته چا ځواب ور نه کړ. ټولو ځناورو د زړه نه د جونز بیا راتګ نه غوښت. ټولو ځناورو په یو اواز دا پربکړه وکړه که چېرې د یکشنبې د سهار بحثونه د جونز بیا راتګ ته لار هواروي، نو دغه غونډې دې د تل لپاره له منځه یوړل شي. د سیکولر د خبرو تر اورېدو وروسته بوکسر څه ناڅه فکر وکړلای شو. ده د ځناورو په استازی د عمومي احساس اظهار په لاندې شعار وکړ او دا شعار یې څو ځله تکرار کړ:

((که دا د ملګري ناپولن نظر وي، نو بیا خو دا نظر ببخي سم دی. مګلری ناپولن تل رښتیا وایي. زه به د ملګري ناپولن د پاک هدف په خاطر لاپسې سخت کار کوم.))

اوس د ژمي موسم تېر شو او د پسرلي دکرکیلې وخت راورسېد. د سنوبال د بادي ژرندې د پلانونو څېړ وتړل شو. هر ځناور فکر کاوه چې د پلانونو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسمونه به د څپر د فرش څخه حتماً پاک شوي وي. اوس د هرې یکشنبې د سهار په لسو بجو ټول ځناور لوی ګودام ته راټلل او دلته یې د خوګانو څخه د یوې اوونۍ د کار امرونه اخیستل.

د ناپولن په امر د زوړ میجر کوپړۍ د قبر څخه راوکښل شوه. د دې کوپړۍ پورې یو پوتی غوښه او پوستکی نه وو پاتې، د کوپړۍ لپاره د فارم د بیرغ جنډې ترځنګ یو اوچت ځای جوړ شو او ناپولن په خپله دغه ځای توپک ته نږدې د زوړ میجر کوپړۍ په ډېر درناوي کېښوده. ناپولن د کوپړۍ د ایښودو په مراسمو کې دا حکم وکړ:

((تاسو ټول ځناور مکلف یاست چې د بیرغ تر پورته کېدو وروسته په کتار ودرېږئ. لومړی به د ملګري زوړ میجر د کوپړۍ احترام کوي او بیا به په کتار لوی ګودام ته ننوځي!))

تر دې وروسته ځناور د پخوا غوندې په ګودام کې ګډ وډ نه شو کېناستلای. اوس ناپولن، سیکولر او مینې موس minimvs (دې خوک په سندرو او شاعرۍ کې ځانګړی استعداد درلود) د ګودام دننه د یو اوچت ځای په لومړۍ کتار کې کېناستل، نهه سپو به د ناپولن خواو شا په نیم دایره شکل ځای نیوه او د فارم نور خوګان به د هغه تر شاه په کتار کې ناست وو. له دوی پرته د فارم نور ټول ځناور مکلف وو چې د ګودام دننه ناپولن ته مخامخ په کتار ودرېږي. ناپولن به له دغه اوچت ځای څخه راپورته کېده او په ډېر ځیرې اواز به یې د اوونۍ د کار امرونه لوستل. په پای کې به ټولو ځناورو یو ځل ((د انګلستان ځناورو)) ترانه ویله او بیا به ټول ځناور د خپلو کارونو پسې خوږېدل.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سنوبال تر شرلو وروسته د درېيمې يکشنبې په سهار ناپولن غونډې ته وويل: ((له دې اوونيو راهيسې د خوګانو ځانګړې کمېټې پټې غونډې وکړې او په دې غونډو کې د بادي ژرندې د تکميل په پلانونو هر اړخيز غور وشو. د دې پلانونو له مخې اټکل شوی دی، چې د فارم بادي ژرنده به په راتلونکو دوو کلونو کې بېخي سرته ورسېږي. په بل عبارت دا ژرنده به تاسو حتماً په دوو کلونو کې جوړوئ. د ژرندې جوړېدل له تاسو څخه اضافي کار او ډېر سخت زيار غواړي. ممکنه ده چې زما په امر د اضافي کار په دوران کې ستاسو ځيره هم لږه شي.))

د دې اعلان په اورېدو ټول ځناور هک پک شول، ناپولن په دې غونډه کې د خپل نظر د ناڅاپه تغير په باره کې هېڅ ونه ويل. اما په دغه شېپه د خوګانو د ځانګړې کمېټې نطاق سکيولر د ناپولن اعلان نورو ځناورو ته داسې تشريح کړ:

((ملګرو! له پيل څخه مګلري ناپولن د باي ژرندې د جوړېدو هېڅ مخالفت نه دی کړی، بلکې ملګري ناپولن لومړنی شخص دی، چې د بادي ژرندې د جوړېدو مفکوره يې وړاندې کړې ده. هغه پلان چې سنوبال د چرګوړو د ماشين د څېر په فرش رسم کړی و اصلاً غدار او غل سنوبال د ملګري ناپولن د مغزو تخليق دی.)) يو ځناور پوښتنه وکړه: ((که بادي ژرنده د ستر لارښود ملګري ناپولن تخليق وي، نو بيا ولې هغه د بادي ژرندې پر ضد په دومره سختو الفاظو مخالفت کاوه؟))

د دې سوال په اورېدو سکيولر د يو پوخ مکار غوندې لومی اخوا دېخوا وکتل او بيا يې ورته داسې ځواب ورکړ: ((مګلرو! دا خو د ملګري ناپولن هوښيارتيا وه، هغه خو په ظاهره داسې ښکاره کېده لکه چې د بادي ژرندې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخالفت کوي. دا خو د مګلري ناپولن يوه عالمانه مناوره ده. ملګري ناپولن غوښت چې د دغه ظاهري مخالفت په وجه د سنوبال غوندې د يو خطرناک کرکټر څخه هم ځان خلاص کړ ياو هم د دې خطرناک کرکټر له شـــر او بدې اغېزې څخه ټول فارم وژغوري. سنوبال د دې پلان د عملي کېدو په لاره کې يوازې اســاســي خنډ و، اوس دغه اســاســي خنډ له منځه تللی دی او مورِ پوره ډاډه يو چې اوس به د ژرندې پلان د هغه د بې ځايه مداخلې پرته په ارامه فضا کې ترسره شي.)) ((ملګرو! دې ته تاکتيک وايي! دا د ملګري ناپولن تاکتيک و!))

د تشـــريح په دوران کې ســـکيولر پورته پورته دانګونه وهل، لکۍ يې تاووله راتاووله او د ځان ســـره موســـکېده. هغه د ((تاکتيک)) ټکی څو ځله تکرار کړ. ببچاره ځناور تر پايه د ((تاکتيک)) په مانا او مفهوم پوه نه شـــول. د سکيولر فصاحت او بلاغت او ورسره دريو سپو غورېدو ټول ځناور مجبور کړل چې دغه تشـريح ومني او تر دې وروسـته د سـنوبال د شـړلو او د بادي ژرندې په هکله سوال ونه کړي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم څپرکی

سره له دې چې په دغه کال د فارم ټولو ځناورو د غلامانو غوندې کار وکړ، خو بیا هم هغوی په خپل کار او زیار ډېر خوشاله معلومېدل. ځناور په دې ښه پوهېدل چې اوس د دوی کار د پخوا غوندې د انسانانو د یوې تنبلې او غلې ډلې په خدمت کې نه دی، بلکې اوس هغوی هر څه د خپلې ګټې او د خپل فارم د راتلونکو ځناورو په خاطر کوي.

ځناورو په ټول پسرلي او دوبي کې په یوه اوونۍ کې شپېته ساعته کار کاوه. ناپولن د دغه کال د اګست په میاشت کې دا اعلان وکړ: ((تر دې وروسته د فارم ټول ځناور مکلف دي چې د یکشنبې د ورځو تر ماسپښین وروسته هم کار وکړي. ما د یکشنبې د رخصتیو ورځو ته ((د خپلې خوښې کار)) نوم ورکړی دی. د دغو ورځو کار واقعاً د خپلې خوښې کار دی. خو که تاسو د ځناورو څخه یو ځناور د خپلې خوښې د کار څخه پټ شي او په دغه ورځ غیر حاضري وکړي، نو زما په حکم به دغه ځناور ته د نیمې ورځې ځیره ورکول کېږي.))

((تاسو ته څرګنده ده چې د تېر کال په تناسب سړ کال سړ کال د غلې حاصل لږ دی. په هغو دوو پټیو کې چې مونږ د دوبي په پیل کې ګازرې کرلې وې، دغه دواړه پټي د مني په فصل کې ونه کرل شول، د نه کر علت دا دی چې دغه دواړه پټي د مني د کر لپاره ښه نه وو، یوې شوي. ستاسو د خبرتیا لپاره د اوس نه درته دا وړاندوینه کوم چې د فارم لپاره به راتلونکی ژمی ډېر سخت وي.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بادي ژرندې دکار په شروع کې یو لړ ناڅاپي مشکلات پیښ شول. سره له دې چې د ژرندې د ودانۍ لپاره د فارم دننه د تیږو یو ښـــه کان او په ځینو ګودامونو کې پرېمانه شـــکې، ســـمنټ او نور ټول مواد موجود وو اما لومړنی مشکل چې ځناورو حل نه کړلای شو، دا و چې دوی د ژرندې د دېوالونو په اندازه دغه لوی پرښـــې څنګه ماتې کړي. د دغو لویو پرښـــو د ماتېدو کار د پلکونو او ارمونو پرته ممکن نه و. له بلې خوا د فارم ځناورو ته د پلکونو او ارمونو د استعمال کار ډېر ســخت و، ځکه چې یو ځناور هم د پلک او ارم د استعمال لپاره په وروستیو دوو پښو نېغ نه شو ودرېدلای. د څو اوونیو د بې نتیجې کوښښونو وروسته بلاخره یو ځناور په مغزو کې دا ســمه مفکوره چې ((د زمکې د جاذبې قوې څخه دې استفاده وشي.)) راپیدا شوه او ډېر ژر په دې مفکوره عمل پیل شو.

د تیږو د کان په پورتنۍ برخه کې تیت و پرک ډېرې لویې پرښـــې پرتې وې. ځناورو دغه پرښې په پېړو رسیو وترلې. غواوو، اسونو، ګډ وو، بلکې هر هغه ځناور چې دغه رسۍ نیولای شوه په خورا ډېر تکلیف دغه پرښې ډېر په کرار د کان مخ ځوړ ځای ته راکښلې چې په ځینو خطرناکو شېبو کې به خوګانو هم کله ناکله د رسۍ په نیولو کې برخه اخیستله. کله چې به ځناورو یوه پرښـه د کان څوکې ته راورسوله، بیا به یې له دغه ځایه پرښه په مخ ځوړ پرېښوده. په ډېر سرعت به دغه پرښـه په مخ ځوړ راراوانه شوه او څه وخت چې به د کان تل ته راورسېدله، نو ده لویه پرښـه به توتې توتې شوې وه. تر دې وروسته د ماتې پرښـــې د چلولو کار ډېر اســـان و. اســـونو په یوه کراچۍ کې بنجمین او موریل په بله کراچۍ کې او مېړو یوه یوه تیږه د ژرنـدې د ودانۍ ځای ته ورلې. د دوبي تر پایه د تیږو لویه ذخیره راټوله شـــوه او د تیږو د ذخیرې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروســـته د خوګانو د نګرانۍ او ځارنې د لاندې د ژرندې د ودانۍ کار پیل شو.

د پرښو د ماټېدو کار ډېر سخت او د ستونزو ډک و. کله چې به یوه پرښه د کان ســـرته راکښـــل کېده، دې یوې پرښـــې به تل پوره د یوې ورځې ســـترې کېدونکی زیار غوښـــت. په ځینو ورځو کې به غورځول شـــوې پرښـــې نه ماټېدلې.

د بوکسر نه پرته د ژرندې د ودانۍ کار ناممکن و. یوازې د ده قوت د فارم د نورو ټولو ځناورو برابر و کله چې به یوه پرښـــه په مخ ځوړ وښـــوېدله، نو ورسره به د رسۍ پورې نښتي ځناور هم راوښوېدل. د ښویدو په دوران کې به ځناورو د وارخطایۍ او نا امیدۍ چیغې شـــروع کړې. په دې خطرناک وخت کې به بوکســـر ځان ارام کړ. په ټول قوت به یې رســـۍ تینګه کړه او دغه ښویدونکې پرښه به یې پر ځای ودروله. کله چې به ځناورو ولید چې بوکسر د خپل قوت په برکت دوی له مرګ ژغوري، هغه دکان دننه کښته پورته ساه ســـوځېدلې منډې رامنډې وهي، زیار باسي، د درندو تیزرو د راکښـــلو په وجه د هغه ســـومان په خاوره کې ننوځي او د وجود نه یې خولې ځاڅي، نو هر ځناور به د بوکسر د قوت او زیار ډېره ستاینه او صفت کاوه.

((بوکســـره! ته د خپلې روغتیا پروا نه کوې، زه درته د یوې نړدې ملکرې په صـفت اخطار درکوم چې دغه د دېوانو کار او دغه زیات فشـار به دې ډېر ژر مړ کړي.)) کلوور ورته وویل: بوکســـر ورته په ځواب کې وویل ((زه دومره وخت نه لرم چې ستاسو په چټي خبرو وخت ضـایع کړم، زه د ټولو کشـالو د حل لپاره یو شعار لرم، چې زه به لاپسې سخت کار کوم او ملکرۍ ناپولن تل رښتیا وایي.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوکسـر یو ځل بیا د یو چرګ ځخه دا هیله وکړه: ((ملګریه! ما هر سـهار د نورو ځناورو ځخه د نیم سـاعت پر ځای پنځه څلوېښـت دقیقې مخکې ویښوه.))

د ژرندې د جوړېدو کار ډېر په بیړه روان و او د بېکارۍ وخت ډېر لږ و، خو بوکسـر به په دې ډېر لږ بېکاره وخت کې هم کار کاوه. هغه به یوازې کان ته تللو، دلته به یې ماتې تیږې راټولولې او د نورو ځناورو د کومک نه پرته به یې دغه تیږې د ژرندې ځای ته چلولې. سره له دې چې ځناورو د ژرندې په ډېر سخت کار بوخت وو، خو بیا هم د ټول دوبي په مودې کې د دوی خوراک بد نه وو. د ځناورو خوراک د جونز له وخت ځخه تراوسـه پورې دومره توپیر نه وکړی. د ډېر کار او زیار سره سره ځناور خوشاله وو. دوی اوس د پنځه پراذیت او بې فایدې انسـانانو پر ځای یوازې د خپلو خپټو لپاره کار کاوه. اوس د انسانانو په تناسب په ډېرو برخوکې د ځناورو دکار میتود ډېره موثره او ګټوره نتیجه ورکوله او د دغه میتود په برکت د ډېرو کارونو سـمپاکېدله. د مثال په توګه ځناورو د وښو د للون کار دومره مکمل کاوه چې دغه شان باک للون د انسانانو لپاره ناممکن و. په فارم کې غلا او پټ خوراک نه کېده. اوس دا ضرورت نه و چې ځناور دې د مالځړ ځایو او دکر د زمکو ترمنځ دکتارو په ودرېدو د اړیکي په اچولو او د دروازو په جوړېدو دکار انرژي خرڅه کړي.

بیا هم د دوبي په پای کې د فارم دننه د ځینو شیانو لکه د سپیو لپاره بسکټ، د اسـونو د نعلونو لپاره اوسـپنه، د غوړو، مېخونو، تارونو او د داسـې نورو شـیانو د اړتیا احسـاس شـروع شـو. له دغو شـیانو ځخه یو هم په فارم کې نه تولیدېده، له دغو شیانو برسېره دا احساس هم کېده، چې د مني د فصل لپاره به تخمونو، مصنوعي سرې او دکر اوزارونه هم شدید ضرورت پیداکړي. له

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی برسېره د بادي ژرندې ماشين الات له ټولو مهم ضرورت ګڼل کېده، ځنګه به دا شيان لاس ته راوړل کېږي؟ يو ځناور هم د دې وړ نه و چې دې سوال ته ځواب ورکړي او يا د راتلونکو مشکلاتو د حل په باره کې تش تصور قدرې هم وکړلای شي.

کله چې د يکشنبې په سهار ځناور د امرونو د اخيستلو لپاره راټول شول، ناپولن ورته دا ابلاغيه واوروله:

ما د يوې نوې پاليسۍ فيصله کړې ده. زه غواړم چې د ((ځناورو فارم)) دې د ګاونډيو فارمونو سره تجارتي اړيکي ټينګ کړي، البته دا تجارتي اړيکي يوازې د تجارتي کتو په خاطر نه ټينګېږي، بلکې زه غواړم چې د دې تجارتي راکړې ورکړې پواسطه هغه مشخص مواد چې د فارم لپاره عاجل ضرورت دی، لاس ته راوړم. تاسو بايد په دې ښه پوه شئ چې به دې حساسه مرحله کې د ژرندې د اړتيا وړ شيان له بل هر څه نه لوی او مهم ضرورت دی، ما عاجل تصميم نيولی دی. چې به دې حساسه مرحله کې د وښو يو ټوپ او د غنمو د فصل يوه برخه خرڅه کړم. سره له دې هم که چېرې دېرو پيسو ته ضرورت پيدا کېږي، نو زه دغه ضرورت د ويلنګډن په مارکېټ کې د هګيو خرڅلاو له لارې پوره کولای شم. تاسو د فارم ټولې چرګې بايد ځانونه دې قربانۍ ته چمتو کړئ. دا قرباني به د چرګو له خوا د ژرندې د ودانۍ لپاره يو مخصوص کومک وي. تاسو چرګې له نن څخه داکوښښ وکړئ چې د دې مخصوص کومک په خاطر غټې او ډېرې هګۍ واچوئ. پام کوئ چې يوه هګۍ درنه خوسا او ماته نه شي.))

د دې اعلاميې په اورېدو يو ځل بيا په ځناورو کې نا ارامي خپره شوه. ځناورو د يو بل نه دا پوښتنه شروع کړه: ((ايا د جونز تر شړلو وروسته په لومړنۍ

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتمینه غونډه کې دا پربکړې ونه شوې، چې ځناور به له انسانانو سره هېڅ ډول روابط نه ټینګوي. تجارت به نه کوي، پیسې به نه استعمالوي؟)) دا پربکړې ځینو ځناورو ته یادې وې اما ځینو ځناورو فکر کاوه چې کوندې دغه پربکړې شوې وې. هغو ځلور خوګانو چې د ناپولن په امر د غونډې له منځه تګ پر ضد یې احتجاج غږ پورته کړ. د دوی دا احتجاج د اواز په اورېدو سپیو ورباندې راغړم وهلې او ډېر ژر یې د دغو خوګانو اواز غلې کړ. په دې شېبه کې مېږو بیا د عادت سره سم ((ځلور بولي بښه دي او دوه بولي خراب دي)) په رمبارو شروع وکړه چې د ځو شېبو ګډوډۍ وروسته حالت بېرته عادي شو. ناپولن د ځناورو د غلي کېدو لپاره مخکنۍ پښې پورته کړه او څ وخت چې ټول ځناور چوپ شول هغه خپلې وینا ته داسې دوام ورکړ:

((ما د مخکې نه ټول ترتیبات نیولي دي. زما د ترتیباتو له مخې تاسو ځناور د انسانانو سره د مستقیم او غیر مستقیم تماس د نیولو حق نه لرئ. زما په عقیده ستاسو او د انسانانو ترمنځ تماس یو ناوړه عمل دی. ما اراده کړې ده چې د تماس د چارو ټول بار په خپلو اوږو واخلم، ما او د ویلنګډت تجار مستر ویمپر Whymper موافقه کړې ده چې دغه تجارت به د ځناورو د فارم او خارجي نړۍ ترمنځ د ارتباط وظیفه اجرا کوي هغه به د هرې دوشنبې په سهار دلته راځي او زما نه به لازم هدایتونه اخلي.))

ناپولن خپله وینا په کرغېړن او چیغنده اواز د دې شعار په ویلو چې ((ژوندی دې وي د ځناورو فارم)) پای ته ورسوله او ((د انګلستان ځناورو د ترانې تر ویلو رووسته ټول ځناور خواره شول.

تر دې اعلامیې وروسته سکیولر د ځناورو د قانع کېدو لپاره د فارم دننه وګرځېده او ځناور یې داسې مخاطب کړل.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ملګرو! زه درته پوره ډاډ درکوم چې د تجارت او د پیسو د استعمال پر ضد نه‌کومه فیصله شوې ده او نه‌کوم وړاندیز. کېدی شي چې دا ستاسو محض یو تصور وي او یا دا هغه دروغ وي چې د ((انقلاب)) په شروع کې غذار سنوبال ځپرول.)) د سکیولر د خبرو په دوران‌کې یو ځناور ډېر ضعیف شک بنکاره‌کړ چې‌ګوندې دغه پربکړې شوې دي اما سکیولر په ډېره چالاکۍ د ټولو ځناورو څخه دا پوښتنې وکړې: ((ایا د تجارت او د پیسو د استعمال پر ضد فیصلې ستاسو خوب لیدل نه دي؟که دا ستاسو خوب لیدل نه وي، ایا تاسو د دغه شان پربکړو کوم ثبت شوې ثبوت وړاندې‌کولی شئ؟ یو ځناور هم د سکیولر پوښتنو ته ځواب نه شو ورکولای، ځکه چې د دغو پربکړو ثبت شوي ثبوت وجود نه درلود. په پای‌کې ټول ځناور قانع شول چې د تجارت او د پیسو د استعمال پر ضد پربکړې د دوی د یو غلط تصور او خیال پرته بل هیڅ مفهوم نه لري.

د ناپولن د ترتیباتو سره مستر ویمپر فارم ته تګ راتګ شروع کړ. مستر ویمپر یو برېتور، لنډ، مکار او چالاک شخص و. دې لوی مکار د بل هر چا څخه مخکې دا احساس کړی و چې د ځناورو فارم به حتماً یو تجارتي دلال ته ضرورت پیداکوي او یوازې دی به دلالۍ له لارې ډېره‌ګټه ترلاسه‌کړي. په لومړنیو ورځو کې ځناورو هغه د تګ راتګ څخه ترهه‌کوله او هر ځناور تر خپله وسه‌کوښښ‌کاوه چې د ویمپر سره مخامخ نه شي، خو‌کرارکرار ځناورو د نورو شرایطو سره ځانونه عیارکړل. هغوی په دې نندارې چې اول ځل یو څلور بول دوه بولي ته امرونه‌کوي، خوشحالېدل او افتخار یې وربانديکاوه. اوس دوی په دې واقعیت پوره پوهېدل چې د انسانانو سره د دوی روابط د پخوا په شان نه دي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځناورو او انسانانو ترمنځ سرچپه روابط ټینګ شول اما د ځناورو د فارم پر ضد د انسانانو کرکه او نفرت د پخوا نه لاپسې زیات و، انسانانو د فارم هر انکشاف او بریالیتوب ته د نفرت په نظر کتل. ټولو انسانانو کلکه عقیده درلوده چې دغه فارم د افلاس او د ژرندې پروګرام د ناکامۍ سره مخامخ کېدونکی دی. کله چې به انسانان په شر انجانو کې راټول شول، دوی به دلته د رسمونو پواسطه یو بل ته اثباتوله چې دغه ژرنده به یا حتماً راولېږي او که رانه ولېږي، نو دغه شان جوړه ژرنده تر پایه د کار کولو وړ نه ده. د دې بدنیتۍ سره سره ځناورو د خپل فارم چارې د یو موثر تنظیم لاندې چلولې او انسانانو زړه نا زړه د دغه موثر تنظیم ستاینه کوله. د ستاینې یوه نښه دا وه چې انسانانو د ((مانور فارم)) پر ځای اوس دغه فارم ((د ځناورو فارم)) په نوم باله. انسانانو د مستر جونز د ادعا څخه لاس واخیست. مستر جونز مجبور شو چې د خپل فارم د بیا نیولو څخه نا امیده او مایوسه بل ځای ته ولاړ شي او دلته د تل لپاره مېشت شو. د ویمپر پرته د ((ځناورو فارم)) او خارجي نړۍ ترمنځ نور تماس او ارتباط وجود نه درولد، لاکن د ویمپر د تګ راتګ وروسته داګونګسې شروع شوې چې ناپولن یاد فوکسوود فارم د خاوند مستر پلینګټن او یا د پنجفیلد فارم د خاوند مستر فریدرک سره یو تجارتي ټرون لاسلیک کوي. ناپولن په یو وخت کې د دواړو فارمونو د خاوندانو سره تجارتي ټرونونه لاسلیک کول نه غواړي. ناڅاپه خوګان د مستر جونز مېنې ته ولاړ او دلته یې هستوګنه شروع کړه. یو ځل بیا ځناورو ته په زړه شوه چې په لومړۍ پرتمینه غونډه کې د مستر جونز په مېنه کې د اوسېدو پر ضد پرېکړه شوې وه، یو ځل بیا سکیولر د دې موضوع تشریح او د ځناورو د قانع کېدو لپاره ولېږل شو. هغه ځناورو ته وویل:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ملګرو! تاسو ته اوس بېخي په اثبات رسېدلې ده چې ستاسو ربنتيني ملګري خوګان د دې فارم د ذهني کارګرانو وظيفه اجراکوي. تاسو پوهېږئ چې ستاسو د ذهني کارګرانو د استراحت لپاره يو ټاکلی ځای ډېر ضروري دی. زمونږ د ((ستر لارښود)) سکيولر به ناپولن د ستر لارښود په نوم باله، لوړ مقام، لوی حيثيت او د ده د قيمتي ژوند حفاظت اوس دې ته ضرورت لري چې زمونږ ستر لارښود دې تر دې وروسته د غوجل پر ځای په يو مجهز کور کې تشريف ولري.))

ځينو ځناورو د دې خبر په اورېدو چې خوګان د مستر جونز د مېنې په اشپزخانه کې ډوډۍ خوري، د هغه د ناستې کوټه د ساعت تېرې د ځای پحيث استعمالوي او د دغې مېنې په بسترو ځملي ډېر خفګان ښکاره کړ. بوکسر چې دا خبر واورېد، نو خپل شعار يې ((ناپولن تل ربنتيا وايي)) په جګ اواز تکرار کړ. کله چې کلوور دا خبر واورېد هغې د ځان سره فکر شروع کړ او د يوې شېبې فکر نه يې د ځان سره وويل: ((ما ته په بستره باندې د ويده کېدو پر ضد فيصله تراوسه يادە ده.)) کلوور ډېر ژر د ګودام دېوال ته ولاړه او کوښښ يې وکړ چې د ګودام په دېوال ليکل شوي اوه احکام ولولي، خو چې هر څه يې وکړ ويې نه شو لوستلای او په پای کې يې د دې کار لپاره موريل راوستله.

((موريل! دغه ځلورم حکم راته ولوله. ايا دغه حکم په بستره باندې د نه ويده کېدو امر نه کوي؟

موريل تر ډېر کوښښ وروسته حکم داسې ولوست: ((هېڅ ځناور به په هغه بستره نه ويده کېږي، چې روجايي ورابندې هواره وي. کلوور د اول ځل لپاره د ((روجايي)) نوم واورېد او هغه د دې نوم په اورېدو حيرانه غوندې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــوه. هغې ته دا هېڅ یاد نه و چې په ځلورم حکم کې د ((روجایي)) شـــرط لیکل شـوی و. د دې شـرط په اوربدو هغه تر یو وخته هک پک ولاړه وه او وروســته یې د ځان ســره دا فکر وکړ. کېدی شــي چې د روجایي شــرط په لومړۍ ورځ لیکل شوی وي او دغه شرط زما له یاده وتلی وي.

هم په دې وخت کې ســکیولر د دریو ســپیو ســره دغه ځای ته راغی او د روجایي په موضوع یې رنا واچوله:

((ملګرو! ممکنه ده چې تاسو د دې خبر په اوربدو چې مورِ خوګان په بستر ویده کېږو، حیران شــوي غوندې یاســت. مورِ ذهني کارګران په بســترو ولې ویده نه شــو؟ زه تاســو ته ډاډ درکوم چې زمورِ په لومړنۍ پرتمینه غوډه کې نه د بسترو پر ضد څه فیصله شوې ده او نه دغه شان فیصلې وجود لري.))

((ملګرو! راځئ چې په دې ځانونه پوه کړو چې بســتره څه ته وایي، بســتره د ویده کېدو ځای ته وایي، که چېرې مورِ د بســترې تعریف وکړو، که په یوه غوجل کې پاسته وانبــه پراته وي او په دغه وښو یو ځناور ویده کېږیو، نو دې ته هم بســتره ویلی شــو. بســتره نه بلکې ((روجایي)) د انســانانو ایجاد دی او ماته ډېره ښه یاد دي چې دغه فیصله د بسترې پر ځای ((د روجایي)) پر ضد وشوه. مورِ د دې فیصلې د روحیې سره سم له ټولو بسترو څخه ((روجایي)) لرې کړي دي او اوس مورِ ټول په دغه بې روجایي بســترو باندې محض د کمپلو ترمنځ ویده کېږو. واقعاً چې دغه مســتریح بســترې دي، اما دومره مستریح نه دي، لکه څومره چې مورِ خوګان مستریح بسترو ته اړتیا لرو.))

((ملګرو! تاســو په خپله پوهېږئ چې مورِ خوګان ســتاســو د هوســا ژوند او خوشــالۍ لپاره څومره ذهني کار کوو؟ زه پوره باور لرم چې تاســو به د خپل فارم د ذهني کارګرانو په ارام هېڅ رخه نه کوي. ایا تاسو ملګري د خپلو ذهني

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارګرانو په نا ارامۍ خوشالېږئ ځه؟ ایا تاسو غواړئ ستاسو ذهني کارګران دې سترې ستومانه او نا ارامه خپلو وظیفو ته دوام ورکړي؟ ایا تاسو غواړئ چې د دې فارم ذهني کارګران دې په خپلو وظیفو کې ناکامه شي او جونز دې ببرته راشي؟ زه پوره باور لرم چې ستاسو د ملګرو څخه یو ملګری هم د جونز ببرته راتګ نه غواړي.))

دېر ژر ځناورو سکیولر ته ډاډ ورکړ چې هغوی په بسترو باندې د خوګانو په ویده کېدو هېڅ اعتراض نه لري. همدا شان څو ورځې وروسته چې دا اعلان وشو چې د دې وروسته به خوګان په سهار کې د نورو ځناورو نه یو ساعت ناوخته راپاڅېږي، ټولو ځناورو د دې اعلان پر ضد هېڅ شکایت او مخالفت ونه ښود.

ځناور د مني په موسم کې سترې اما خوشاله ښکاره کېدل. د وښو او غنم دانو د یوې برخې د خرڅلاو له کبله د ژمي د خوراک ذخیره لږه وه. سخت کال راتلونکی و، خو بیا هم د ژرندې جوړېدل د ځناورو د ټولو مشکلاتو د جبران یواځینی امید و. اوس ژرنده نیمه جوړه وه، څه موده اسمان پرله پسې شین و او په دې موده کې ټولو ځناورو د ژرندې د تکمیل لپاره سخت زیار ویست. ځناورو تصمیم نیولی و چې په دې موده کې دېرې تیږې ذخیره کړي او د ژرندې دېوالونه سرته ورسوي.

بوکسر به هره شپه دلته راتلو او د سپوږمۍ په رڼاکې به یې یو یا دوه ساعته ((د خپلې خوښې کار)) کاوه. د بې کارۍ په وخت کې به نور ځناور هم دلته راتلل، د ژرندې چاپیر به ګرځېدل او په خپلو منو جوړ د ژرندې د دېوالونو د عمودي جوړښت ستاینه کوله او ټ،ل د خپلې ژرندې په جوړېدو د زړه له تله خوشاله وو. د ټولو ځناورو د جملې نه یوازې زور بنجامین د ژرندې په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

باره کې هېڅ ډول علاقه نه ښـــودله. هغه د خپل زوړ عادت له مخې د دې مرموزې تبصرې پرته چې ((خره اوږد عمر لري)) نور هېڅ نه ویل.

د نومبر د میاشتې د راتګ سره د جنوب لویدیز سارې بادونه شروع شول. د ژرندې د ودانۍ کار له دې امله چې اوس د ډېر رطوبت په وجه سمنټ نه شو کلکېدلای، ودرېد. یوه شـــپه ډېر شـــدید توپان راغی، دې توپان د فارم ځینې ودانۍ راوغورځولې. د لوی ګودام د بـام پخې خښـــتې یې والوځولې. څـه وخت چې د ســـهار په مهال کې ځناور د خپلو غوجلو څخه راووتل، ګوري چې د فارم د بیرغ جنډه وړاندې پرته ده او د باغچې ترڅنګ ولاړه لویه ونه لکه د مولۍ له بېخه ویســتل شـوې ده. ناڅاپه د ځناورو نظر په رنګ شـوې ژرنده پربوت او د رنګ شـــوې ژرندې په لیدو د ټولو ځناورو د خولې نه د ((اخ)) او مایوســـۍ چیغې ووتلې، ټولو یو ځای د ژرندې په لور منډه کړه. ناپولن چې د دې نه مخکې هېڅ چا په منډه نه و لیدلی په دې منډه کې د ټولو ځناورو نه مخکې په منډه روان و.

هو، د دوی د ټولو هلو ځلو ثمره له بېخه راولېدلې وه او هغه تیږې چې دوی په ډېر تکلیف ماتې کړې او دلته راوړې وې خواوشـا تیت و پرک پرتې وې. ټول ځناور د ژرندې چاپېر هک پک ودرېدل او په ډېره خواشینۍ یې تیت و پرک او ګډوډ د پرتو تیږو ته په ځیر ځیر کتل ناپولن په کرارکرار اخوا دېخوا قدم واهه. لکۍ یې شـــخه نېغه ولاړه وه او یوې او بلې خوا ته یې اړوله را اړوله. کله به یې ځمکه بویوله او کله به ډېر ژور فکر کې ډوب و. ناڅاپه د ناپولن مغزو ته څه خیال راغی او ډېر ژر په ځای ودرېد. په ډېر جګ اواز یې هک پک ځناور داسې مخاطف کړل:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ایا تاسو پوهېږئ چې زمونږ د فارم اصلي دښمن او د دې لوبې فاجعې مسول شخص څوک دی؟ ایا تاسو پوهېږئ چې څوک د شپې په تیاره کې راغی او زمونږ ژرنده یې تباه او بربادکړه؟ زه به درته د فارم اصلي دښمن او د دې فاجعې مسوول شخص دروښیم. زمونږ اصلي دښمن او د دې فاجعې واقعي مسوول شخص غدار سنوبال دی. دغه خاین داکارکړی دی. کله چې دغه غدار له دې فارم څخه وشړل شو له دغې ورځې راهیسې دغه خاین شپه او ورځ کوښښ کوي چې زمونږ د ټولو څخه بدل واخلي او د دې فارم د هوسا ژوند لپاره زمونږ پلانونه شنډ کړي. دغه غدار پرون شپه په تیاره کې راغی او زمونږ د یو کال کار او زیار یې له منځه یوړ.))

((زه دلته او په دې وخت ستاسو پر وړاندې دغه غار ته د مرګ سزا اعلانوم. که چېرې ستاسو څخه هر چا دغه غدار ((د ځناورو عدالت)) ته مړ راوړ دغه شخص ته د ((ځناورو قرمان دویمه درجه نښان)) او نیمه ټوکرۍ مني جایزه ورکوم او که چا دغه خاین ژوندی راوست دغه شخ ته ((د ځناورو قهرمان لومړۍ درجه نښان)) او پوره یوه ټوکرۍ مني انعام ورکول کېږي.))

کله چې ځناورو دا واوریدل چې دغه لوی جرم سنوبال کړی دی او سنوبال د فارم اصلي دښمن دی، نو دوی ټولو ته له حده زیاته صدمه ورسېدله. ټولو ځناورو د سنوبال پر ضد د نفرت چیغې پورته کړې او هر ځناور د سنوبال د وژلو او یا د ژوندي نیولو په تکل کې شو. ناپولن د ژرندې څخه لږ لیرې د یو خوک د پښو منډونو ته اشاره وکړه او ویې ویل: ((تاسو ورته ښه وګورئ چې دغه منډونه د هغه سوري په لور تللي دي چې غدار سنوبال په کې پټ شوی دی. دغه منډونه چې تر څو ګزه پورې تاسو یې وینئ او وروسته تاسو ته نه ښکاري خو زه د خپل اصلي دښمن پلونه د هغه د بوی څخه پېژنم. د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښو د منډونو څخه دا هم څرګندېږي چې دغه خاين د فاکسووډ فارم له خوا د دې ورانکارۍ لپاره رالېږل شوی دی.))

((پام کوئ چې د ژرندې د جوړېدو په کار کې هېڅ ډول ډیل رانه ولئ. موږ د نن سهار نه د ژرندې د بیا جوړېدو کار شروع کوو. که اوړی وي او که ژمی. که اسمان شین وي او که وریځ وي، موږ به دغه ژرنده بیا جوړوو او په عمل کې به دغه بدبخت غدار ته دا ثابتوو چې هغه په دومره اسانۍ زموږ د کار د لارې خنډ کېدلای نه شي.))

((زموږ پلانونه هېڅ ډول تغیر نه مني. زموږ پلانونه به حتماً پرمخ درومي او ترپایه به دغه پلانونه عملي کېږي.))

((مخ پر وړاندې! ژرندې دې وي زموږ بادي ژرنده! ژوندی دې وي د ځناورو فارم.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم څپرکی

ژمی ډېر ســخت و، د طوفاني موســم پســې ګړي ګړی او واوره وورېدل او وروســته دومره ډېره پرخه پرېوته چې د جنورۍ د میاشــتې پورې کنګل مات نه شو. ځناور پوهېدل چې خواوشا اوسېدونکي انسانان د هوی د فارم چارې په ډېر غور څاري. که چېرې هغوی په ټاکلي وخت ژرنده جوړه نه کړي، نو انســانان به د دوی د ناکامۍ له امله د خوشالۍ جشــنونه وکړي. همدا علت و چې ځناورو تر خپله وســه د ژرندې د بیا جوړېدو لپاره ډېر زیات زیار وویست.

یوازې د رڅې له مخې انســانانو تر پایه په دې باور نه کاوه چې دغه ژرنده ســنوبال رنګه کړي ده، انســانانو به ویل: ((ژرنده ځکه رنګه شــوه چې د دغې ژرندې دېوالونه ډېر نري جوړ شــوي وو)) اما ځناور پوهېدل چې قضــیه دغه شان نه وه. بیا هم ځناورو فیصله وکړه چې دا ځل به د اتلس اینچونو پر ځای درې فوټه پلن دېوالونه جوړوي. د پلنو دېوالونو د جوړېدو لپاره ډېرو تیږو ته اړتیا وه. له بلې خوا تر ډېرې مودې پورې د تیږو کان له واورو نه ډک پروت و او په دغه کان کې د تیږو د ټولولو کار ډېر ګران و. د وچو ســرو په موسم کې کار څه نا څه پرمختګ وکړ، لاکن په دغو وچو سرو کې کار ته دوام ورکول یو ظالمانه عمل و. اوس ځناور د پخوا غوندې امیدوار نه وو، په دې موســم کې د ځناورو ســاړه کېدل او تل به وړې وو. د لوړې په مقابل کې یوازې بوکســر اوکلوور حوصــله له لاســه ور نه کړه، د لوړې په مودې کې ســکیولر د خدمت خوند ((او دکار درناوښــت)) په باره کې په زړه پورې ویناګانې کولې، لاکن ځناورو د سکیولر د ویناګانو پر ځای یوازې د بوکسر د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوت او د هغه له دې شعار څخه چې ((زه به لاپسې سخت کار کوم)). دې الهام اخیست.

د جنورۍ په میاشت کې د خوړلو شیان لږ شول او ورسره د غنمو ځیره هم لږه شوه. په دې میاشت کې ناپولن اعلان وکړ چې که د غنمو ځیره لږه شوې ده، نو د دې پر ځای به دې الوګان ورکول کېږي. له دې اعلان وروسته دې ژر ځناورو ته څرګنده شوه چې د ژمي په سړو کې خوګانو د فارم الوګان نسه نه و پوښلي، الوګان سړو وهلي وو، خوسا شوي و او دې لږ الوګان د خوراک وړ وو. اوس ځناورو د بوسو او چغندرو پرته د خوراک لپاره بل هیڅ شی نه درلود او په فارم کې لوږه ورځ په ورځ په زیاتېدو وه.

د قحط په ورځو کې ناپولن دا فرمان خپور کړ:

((د فارم ټول ځناور باید د شاوخوا انسانانو څخه دې لوږه او قحطي پټه وساتي. د ژرندې د جوړېدو په پېښه انسانان بیا زړور شوي او هغوی یو ځل بیا ((د ځناورو فارم)) پر ضد پروپاګنده پیل کړې ده. انسانان وایي چې د فارم ځناور په قحطي او ناروغتیا ګانو اخته شوي دي. هره ورځ ځناور له لوږې او ناروغتیا څخه مري. ځناور خپل ترمنځ جګړې کوي، ځناور یو بل سره خوري او حتی کله کله خپل بچي هم خوري.))

((زه په دې نسه پوهېږم که چېرې د قحطي او لوږې د واقعیتونو څخه خواوشا اوسېدونکي انسانان خبر شي، نو دغه کار به ((د ځناورو فارم)) پر ضد د انسانانو پروپاګندې ته مستند مواد ورکړي او په نتیجه کې به زموږ فارم د دېرو ناوړو عواقبو سره مخ شي. ما تصمیم نیولی دی چې د انسانانو د پروپاګندې د مخنیوي لپاره د نسا غلي ویمپر څخه استفاده وکړم او انسانان ببخي سرچپه وپوهوم. ما یو څو اعتمادي خګانو او مېږو ته امر وکړی دی

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د ګودام خالي کندوان او بېلرونه د شـــګو نه ډک کړي، له پاســـه دې وربانديې غله او نور خوراکي شـــيان واچوي او دغه کندوان او بېلرونه دې د ګودام په مخ کې کېږدي، زما دغه اعتمادي ځناور بـه د ويمپر د راتګ په وخت کې د هغه نږدې ولاړ وي او دوی به يو بل ته په جګ اواز وايي چې د فارم د ځناورو ځيره ډېره شوې ده.))

د دوشـنبې پر ورځ ويمپر راغی. له مخکې نه ورته ناپولن تيار ولاړ و. ناپولن هغه په يوه او بله پلمه د ګودام مخې ته بوتلو. دلته ويمپر په خپلو ســـترګو د غلې او خوراکي موادو څخه ډک کندوان او بېلرونه وليدل. تر دې وروســـته غوليدلي ويمپر تل خواوشـا انســانانو ته دا راپورونه ورکول چې د ځناورو په فارم کې د خوراکي موادو هېڅ ډول قلت، قحطي او لوږه نه شته.

د ټول احتياط ســره ســره د جنورۍ د مياشـتې په پای کې د بل ځای څخه د غلې د اخيستلو ضرورت راڅرګند شو، په دې ورځو کې ناپولن ډېر لږ په نظر راتللو. هغه ټول وخت په خپله کوټه کې تېراوه. کله چې به ناپولن د فارم د مېنې څخه باهر ته راته اوس نو په ډېر تشـــريفاتي ډول بنـــکاره کېده. دی به شېږو سپيو بدرنګه کاوه او دغو سپيو به ډېر نږدې د ده چاپېره منډې وهلې. د فارم کوم ځناور چې به ناپولن ته ډېر نږدې کېدل غوښتل، د بدرنګې سپې به ورته غږېدل او دغه ځناور به مجبورېده چې د ناپولن څخه ليرې ودرېږي. په دې موده کې هغه د يکشنبې د سهار غونډو ته هم نه راتللو او دغو غونډو ته يې خپل امرونه تل د سکيولر او کله د نورو خوګانو په خوله اعلانول.

د يوې يکشنبې د سهار په غونډه کې سکيولر دا اعلان وکړ: ((ملګرو! د دې لپاره چې زمونږ فارم ســقوط ونه کړي، زمونږ ســتر لارښــود ملګري ناپولن د ويمپر په واســطه يو قرارداد منلی دی چې د دې قرارداد له مخې به فارم هره

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوونۍ ځلور ســوه هګۍ ورکوي او د دې هګيو پيســې به د راتلونکي دوبي پورې يانې چې شــرايط ښــه شــي، د غلې او نورو خوراکي موادو په اخيســتو لګېږي. هغو چرګو چې اوس هګۍ اچولي دي، دوی دې دغه هګۍ ډېر ژر مورِ ته وسپاري.))

ســره له دې چې ناپولن مخکې چرګو ته د قربانۍ ورکولو خبر ورکړی و اما چرګو د دې اعلاميې تر وخته ددغه شــان قربانۍ په عملي اړخ باور نه کېده. ټولو چرګو د دې قرارداد پر ضــد احتجاج اوازونه پورته کړل او د دوی د احتجاج دلايل دا وو: مورِ اوس د پســرلي د چرګورو د را ايســتلو په هګيو ناســتې يو. هوا ډېره ســړه ده که چېرې تاســو په دې ســړوکې زمورِ نه هګۍ واخلئ نو د سړو نه زمورِ مرګ حتمي دی.))

مســتر جونز د شــرلو راهيســې د لومړي ځل لپاره په فارم کې ((بغاوت ته ورته)) پېښــه وشــوه. د دې بغاوت لارښــوونه دړې چرګوکوله او د دوی په لارښوونه د فارم ټولو چرګو د ناپولن د اجباري غوښتنو د شنډولو لپاره بېخي نوی ميتود په کار واچوه. دوی د هګيو د اچولو مخکنې ځايونه پرېښــودل اوس به د هګيو د اچولو لپاره پورته الوتنې او د لرګو دپاســه به يې هګۍ اچولې. دغه هګۍ به کښــته راپرېوتلې او ټولې هګۍ به د فرش له پاســه ټوټې ټوټې کېدې. ناپولن هم د دوی پر ضــد کلک اقدام وکړ. ده ســمدلاســه د ټولو چرګو ورځنۍ ځيره قطع کړه او فرمان يې صــادر کړ، که د فارم هر ځناور چرګو ته پټې داني ورکړي، نو دغه ځناور ته به د مرګ ســزا ورکول کېږي. ناپولن د فارم ټولو ســپيو ه ماموريت ورکړ چې د هغه د امر د تعميل ډېنګه ځارنه وکړي. چرګو تر پنځه ورځو د لومړي مقاومت وکړ لاکن په شــبه ورځ يې د ناپولن حکم ته غاړه کېښــوده. دوی ټولې د هګيو د اچولو لپاره خپلو ځايونو ته ولاړې.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اعتصـــاب کې نهه چرګې د لوړې څخه مړې شـــوې او د دوی مړي د فارم په باغچه کې ښخ شول. ډېر ژر د خوګانو او سپيو پروپاګنده شروع کړه چې دغه چرګې ټيغکي وژلي دي. ويمپر ترپايه له دې اعتصاب خبر نه شو. د قرارداد ســـره ســـم په اوونۍ کې يو ځل فارم ته واګون راته او دلته د واګون چلوونکي ته څلور سوه هګۍ ورکول کېدې.

په ټوله موده کې هېڅا سـنوبال په سترګو ونه ليد اما په دې ټوله موده کې پرله پسې داګونګوسې روانې وې چې هغه يا په فوکسـروډ او يا د پخفيلډ په فارم کې پټ شـــوی دی. اوس ناپولن دا هڅه کوله چې د ګاونډيو فارمونو ســـره روابط ښـــه کړي. د دې علت دا و چې لس کاله مخکې د فارم غوزان وهلی شـــوي وو او د دغو غوزانو چارتراش د فارم دننه کوټه کې پراته وو او ويمپر ناپولن ته مشـوره ورکړې وه چې دغه چار تراش يا په مسـتر پلکنګيټن او يا په مسـتر فريدرک خرڅ کړي. له ډېر مودې راهيسې دې دواړو وغوښت چې د ناپولن څخه چارتراش واخلي، اما په دغه ټوله موده کې ناپولن دغه فيصـــله نه شوه کولای چې دغه چارتراش په کوم يو خرڅ کړي. ناپولن تل زړه نا زړه و. کله چې به هغه تصـميم ونيو چې چارتراش په فريدرک خرڅ کړي، نو د ده په امر به فوراً دا پروپاګنده چالان شـوه چې سـنوبال په فوکسـوډ کې پټ شـوی دی او کله چې به هغه پلکنيکمنن ته نږدې شـو، نو بيا به دا پروپاګنده شـروع شوه چې سنوبال د پنجضيلډ په فارم کې اوسېږي.

يو ځل بيا د پسـرلي په سـر کې د سـنوبال د خطر اعلان وشـو. په ټول قوت دا پروپاګنده روانه شـوه چې سـنوبال هره شـپه په تياره کې راځي او دلته هر ډول ورانکاري کوي. هغه د فارم غله پټوي، د شـيدو سـتلونه اړوي، هګۍ ماتوي، په کرل شـــويو تخمونو ګرځي او په خپلو داړو د فارم د مېوه لرونکو ونو پوستکي شکوي. په فارم کې چې به هره شی خراب شو، نو خوګانو او سپيو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

به فوراً دې پروپاګنديې ته زور ورکړه چې دغه کار سنوبال خراب کړی دی. که د فارم کړکی به ماته شوه او یا به د اوبو لار بنده شوه، خوګانو او سپیو به ویل چې دغه کړکی سنوبال ماته کړې ده یا دغه لار سنوبال بنده کړې ده.

یوه ورځ د ګودام کلي ورکه شوه ټولو ځناورو عقیده دلوده چې دغه کلي سنوبال پټه کړې ده او په کوهي کې یې غورځولې ده، تر څو ورځو پورې دغه پروپاګنده روانه وه یوه ورځ دغه کلي د غلې د بوجی لاندې پیدا شوه. د کلي په پیداکېدو ټ،ل ځناور حیران شول او هر ځناور به د بل نه په پټه دا پوښتنه کوله. که د ګودام کلي سنوبال پټه کړې وه، نو بیا ولې د غلې د بوی لاندې پیدا شوه؟ بیا هم د سنوبال د خطر له غمه ټول ځناور دومره نارامه وو چې دوی به ټوله شپه په غوجلو کې په ارام خوب نه شوکولای یوه ورځ ټولو غواګانو دا اعلان وکړ: هره شپه سنوبال زمونږ غوجل ته پټ راځي او مونږ په خوب کې لوشي. په دغه ژمي کې د فارم مړو له حده زیات ورانی او خرابي کوله. دوی پسې ګونګوسې کېدې چې دغه مړې د سنوبال سره پټ ارتباط لري او د سنوبال په لمسون یې ورانې او خرابي ته ملا ترلې ده.

ناپولن د سنوبال د فعالیتونو د تحقیق فرمان صادر کړ او هغه د څو ورځو نه وروسته د خپلې کوټې نه راووت. د هغه اصلي ساتونکي د فارم سپي ترښه چاپېره ځغلېدل او نور ځناور د احترام په توګه د هغه تر شاه د یو څوګامونو په فاصله کې روان وو. هغه د فارم د ټولو ودانیو د دقیقې پلټنې دوره پیل کړه. څو قدمه وروسته به هغه ودرېده او د سنوبال د پښو د منډ د تعقیب لپاره به یې ځمکه څو ځله بوی کوله او هر ځل چې به هغه ځمکه بوی کړه فوراً به یې ویل: ((زه سنوبال د هغه د پښو د منډونو څخه معلومولای شم.)) هغه د ټولو ودانیو دننه ټول ګوټونه، لوی ګودام، د غواوو څپر، د چرګو کوټې او د ترکاریو ټول پټې بوی کړل. په کوم ځای کې چې به هغه خپل

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــوندک کښښـــود د څو ځله بوی کولو وروســـته يې په جګ او چغنده اواز وويل: ((د ســنوبال د نوم په اورېدو به ټول ســپي وغړمبېدل او ټولو به خپلې تېرې دارې چينګې کړې.

اوس د سنوبال له نامه څخه ځناور ډارېدل. دوی دا فکر کاوه چې سنوبال په ځمکه او هواکې خپور شوی دی. په سترګو نه ښکاري، خو هر وخت د فارم ځناورو ته تکليف ورکوي. د دې ورځې په مابنـــام ســـکيولر ځناورو ته د راټولېدو اعلان وکړ. مابنام ځناور راټول شول، سکيولر غونډې ته راغی، خو دا ځل د هغه د څېرې نه د يو خطر اثار څرګندېدل. هغه په عصـــبي لهجه ځناورو ته وويل:

((ملګرو! زه دلته راغلی يم چې تاســـو ته يو جدي راپور درکم. مورِ يو ډېر خطرناک شی کشف کړی دی. دغه خطرناک شی دا دی چې غدار سنوبال خپل ځان د پنجفيلد فارم په څښـــتن خرڅ کړی دی. غدار ســـنوبال او د دغه فارم څښـــتن غواړي چې زمورِ په فارم حمله وکړي او فارم راڅخه په زور ونيسي. زمورِ د مستنده معلوماتو له مخې کله چې دغه حمله شـروع کېږي، غدار سنوبال به د يرغلګرو لارښوونه کوي.))

((ملګرو! مورِ له دې خطرناکې دسيسې څخه زيات بل خطرناک شی کشف کړی دی. مورِ او تاســـو فکر کاوه چې ګوندې د ســـنوبال بغاوت به د هغه د غرور او د شخصي قدرت د نيولو په نتيجه کې شوی وي. مورِ او تاسو غلط فکر کاوه. ايا تاســـو پوهېږئ چې د دغه بغاوت اصـــلي علت څه و؟ د دغه بغاوت اصلي علت اوس مورِ ته د هغه اسنادو څخه چې د سنوبال څخه پاتې شوي او مورِ ته په لاس راغلي دي، ښکاره شوې ده. د دغو اسنادو د مطالعې څخه دا واقعيت ښکاره کېږي چې غدار ســنوبال د شـروع نه د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جونز پټ جاسوس و. دغه اسناد د ډېرو نورو شیانو په باره کې هم موږ ته مفصل معلومات راکړي دي.))

((ملګرو! ایا موږ او تاسو په خپلو سترګو ونه لید چې دغه غدار د ((غواوو څپړ)) په جګړه کې میدان پرېښود او وتښتېده؟ اوس له دغو اسنادو څخه ثابته شوه چې جونز هغه ته هدایت ورکړی و چې هغه دې له میدانه وتښتي او موږ ته دې ماتې راکړي. دغه غدار غوښتل چې موږ تباه او بربادکړي، خو له نېکه مرغه د هغه کوښښونه کامیاب نه شول.))

د سکیولر د دې خبرې په اورېدو چې سنوبال د جونز جاسوس و، ټول ځناور هک پک شول. د ځناورو په نظر که رښتیا سنوبال د جونز جاسوس وي، نو بیا خو د ژرندې د رنګېدو په تناسب دا د هغه ډېر لوی جرم دی، ټولو ځناورو سرونه وځندل، یو بل ته یې وکتل او د ډېرو ځناورو باور نه کېده چې سنوبال به دومره ټیټ شخصیت وي. ډېرو ځناورو ته په زړه شو او ځینو ځناورو فکر کاوه چې هغوی ته یاد دي چې ((د غواوو څپړ)) په جګړه کې سنوبال د ټولو ځناورو نه مخکې په یرغلګرو انسانانو حمله وکړه او تر هرې حملې وروسته به یې ځناور راټولول او بلې حملې ته به یې تشویقول. ټولو ځناورو په خپلو سترګو لیده چې جونز هغه زخمي کړ، خو بیا هم هغه خپلو حملو ته دوام ورکاوه. ځناورو د سنوبال د جاسوسۍ خبره نه شوه منلای.

بوکسر چې په غونډه کې به یې هېڅ پوښتنې نه کولې هغه هم د دې نوي کشف په اورېدو حیران شو. هغه پرېوت، سترګې یې پټې کړې او د ډېر کوښښ وروسته یې خپل تیت فکر راټول کړ، هغه سکیولر ته وویل:

((زه خو په دې هېڅ باور نه کوم چې سنوبال دې د جونز جاسوس وي. ما په خپلو سترګو لیده چې هغه د ((غواوو څپړ)) په جګړه کې په پوره زړورتیا

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګېده. ایا تر دغې جګړې وروســـته مورِ ټولو هغه ته ((د ځناورو قهرمان لومړی درجه نښان)) ور نه کړ؟))

((ملګرو! ((ســکیولر جواب ورکړ.)) ســنوبال ته د دغه نښــان ورکول زمورِ لویه تېروتنه وه، هغه پټ اسناد چې زمورِ لاس ته راغلي دي په دې اسنادو کې هر څه واضح لیکل شـوي دي. د دې اسـنادو له مخې اوس دا حقیقت بېخي څرګند شـــوی دی چې ســـنوبال تل زیار ویســـت چې مورِ د تباهی تر حده وغولوي.))

((خو سنوبال په دغه جګړه کې زخمي شو، سره له دې چې د هغه د وجود نه ویني بهیدې خو ترپایه یې جګړې ته دوام ورکړ.)) بوکسر وویل:

((دغه زخمي کول د جونز او ســنوبال ترمنځ د پټې دسیســې یوه برخه وه.)) سکیولر په چیغه خپله وینا داسې پیل کړه:

((ملګرو! زه درته په ټولو مسـایلو رښا نه شـم اچولای، ځکه چې له یوې خوا مورِ ته ((د ستر لارښـوود ملګري ناپولن)) له خوا اجازه نه شته چې په داسې عمومي غونډو کې دې د دغه شـان مهمو اسـنادو اسـرار ووایو او له بلې خوا تاســو دغه شــان مهم اســناد هم نه شــئ لوســتلای. لکه چې مخکې مې درته وویل چې د جونز ډز او د سنوبال زخمي کول د دسیسې یوه مهمه برخه وه. دغه ډز د ســنوبال د تېښــتې لپاره یوه اشــاره وه. جونز غوښــتل چې جاســوس سرسري زخمي کړي، هغه وتښتي او میدان دښمن ته پرېږدي. ایا هغه په دغه حســاســه مرحله کې ونه تښــتېد او میدان یې دښــمن ته پرې نه ښــود؟ نږدې وه چې دغه غدار جاســوس په خپل شــوم پلان کې کامیاب شــي، خو زمورِ ســتر لارښـوود ملګری ناپولن د هغه دغه شـوم پلان شـنډ کړ. ایا تاسـو ته یاد نه دي کله چې جونز سـره د نوکرانو غولي ته راننوت هم په دغه حســاســه مرحله کې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناڅاپه سنوبال د جنګ میدان پرېښود او نور ځناور هم ورپسې وتښتېدل؟ ایا تاسو ته په زړه نه دي چې دغې تېښتې په ځناورو کې څومره ګډوډي او ډار پیدا کړ؟ ایا مورِ داسې فکر نه کاوه چې ګوندې مورِ جنګ وبایله او ماتې مو خوړلې ده؟ ایا تاسو په خپلو سترګو ونه لید چې په دغه حساسه مرحله کې زمورِ زړور ملګري ناپولن ناڅاپه میدان ته راودانګل او د جونز په پندیو یې دارې ورتینګې کړې؟ ایا تاسو وانه وربدل چې په دغه جګړه کې یوازې ملګري ناپولن ((مرګ په انسانیت)) شعار پورته کړ؟ زه پوره باور لرم چې تاسو ملګرو ته به دغه هر څه یاد وي.))

له عادت سره سم سکیولر د وینا په دوران کې یوه او بله خوا توپونه وهل او لکۍ یې تاووله راتاوولې. کله چې هغه د خپلې حافظې په قوت د جنګ صحنه ترسم کړه، نو ځناورو ته په زړه شوه چې واقعاً سنوبال د جنګ په ډېره حساسه مرحله کې میدان پرېښود او وتښتېد. بیا هم د بوکسر باور نه راته، هغه وویل:

((زه په دې عقیده نه لرم چې سنوبال په شروع کې جاسوس یا غدار و، کېدی شي چې ((د انقلاب)) نه وروسته په هغه کې بدلون راغلی وي. زه اوس هم عقیده لرم چې ((د غواو څېر)) په جګړه کې هغه زمورِ ډېر ښه ملګری و.))

((ملګرو! دا زمورِ د ستر لارښود ملګري ناپولن قاطع امر دی چې سنوبال د شروع نه د جونز جاسوس و. زمورِ ((په انقلاب)) لا فکر نه و شوی چې دغه غدار جونز ته جاسوسي کوله.)) سکیولر دغه جملې په کرار اما په ټینګه لهجه څو ځله تکرار کړې.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((واه! دا نو بېخي نوې خبره ده: که دغه د ملګري ناپولن امر وي، نو بيا خو حتماً رښتيا خبره ده.)) بوکسر وويل:

((ملګرو! واقعي روحيه هم دا شـان وي، څه چې موږ ته سـتر لارښـود امر کوي بايد هغم هغه شـان اطاعت وکړو.)) ټولو ځناورو وليد چې سـکيولر په خپلو تنګو او رپنده سترګو بوکسـر ته بد بدکتل. يوه شـپه وروسته سکيولر روان شـو، د يو څو قدمونو وروسـته ودرېد، بېرته يې مخ راوګرځاوه او د يو قومندان په لهجه يې ځناور مخاطب کړل:

((زه تاسـو ټولو ځناورو ته اخطار درکوم چې تر دې وروسـته دې د فارم ټول ځناور خپلې سـترګې او غوږونه خلاص وسـاتي. موږ پوره اسـناد لرو چې په دې وختونوکې د سنوبال پټ جاسوسان زموږ په صفونوکې رانوتي دي. په موږکې پټ شـوي دي او هغوی د غدار او جاسـوس سـنوبال په ګټه کار کوي.))

څلور ورځې وروسـته ناپولن امر وکړ چې د فارم ټول ځناور دې د هغه د اوسـېدو دکور په غولي کې راټول شـي. تر غرمې وروسـته ټول ځناور راټول شـول. ناپولن له کوټې څخه راووت. هغه دواړه مدالونه ((د ځناورو قهرمان لومړی درجه نښـان)) او ((د ځناورو قهرمان دويمه درجه نښـان)) ځړولي وو. دغه دواړه مدالونه هغه په خپله خپل ځان ته ورکړي وو. نهه لويو سپيو د ده چاپېره دانګونه وهل او ټول داسـې خطرناکه غږمېدل چې ټول ځناور يې وډارکړل. د ناپولن د بدغوني او د سـپيو د غږمېدو نه ځناورو د يوې خطرناکې پېښې احساس وکړ.

ناپولن راغی او د ځناورو مخامخ بدغوني ودرېد او ټولو ځناور يې سـرسـري له نظره تېرکړل. تر دې وروسـته په ډېر جګ اواز وسـونګېد. د ده د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

سونکېدو به اورېدو سپیو ناڅاپه منډه کړه دوی مخامخ ولاړ څلور خوګان یې د غوږونو څخه ونیول، خوګانو له درد او ډار څخه په کورنجار شروع وکړه. سپیو دوی په راکښلو د ناپولن پښو ته راوستل، د خوګانو د غوږونو څخه وینې بهیدې او سپیو څټلې. سپیو د وینو څټلو څخه دومره خوند اخیست، نږدې و چې د خوند نه لېونې شي. له دغو سپیو څخه درې سپیو په بوکسر ورودانګل او د سپیو په دغه حرکت ولاړ ځناور هم حیران شول. کله چې بوکسر ولیدچې درې سپي د ده پر لور راځغلي، هغه ډېر ژر د ښي پښې لوی سوم پورته کړ او په هوا یې یو سپی په سوم وواهه، سپی یې پر ځمکه راګوزار کړ او له پاسه یې ورباندې سوم ټینګ کړ. سپي د لاندې څخه کورنجار شروع کړ او دوه نورو سپیو لکی په پندیو کې ورننه ایستلې او په یو تراټ وتښتېدل. بوکسر ناپولن ته وکتل. د ده د کتلو مقصد دا و چې دغه سپی د سوم لاندې مړ کړ یاوکه پرې یې ږدي. د ناپولن غوني لاپسې خراب شو هغه په سخته لهجه بوکسر ته د سپي د پرېښودو امر وکړ. بوکسر د سپي نه سوم پورته کړ. زخمي سپی په کورنجار ګوډ ګوډ روان شو.

تر څو شېبو وروسته شور او ځوږ غلی شو. له ډاره رېږدېدونکي خوګان ولاړ وو او د هغوی د جرم سزا د هغوی په تندیو لیکل شوې معلومېدله. کله چې ناپولن د یکشنبې غونډې له منځه یورې، دې څلور واړه خوګانو د هغه د فیصلې پر ضد احتجاج وکړ. ناپولن څلور واړه خوګانو ته د غونډې پر وړاندې د خپلو جرمونو د اعتراف امر وکړ. رېږدېدونکو خوګانو خپل اعتراف داسې پیل کړ:

((مورۍ د سنوبال پټ جاسوسان یو. مورۍ د هغه سره پټ ارتباط لرو. مورۍ د هغه سره یوځای ژرنده ړنګه کړې ده. مورۍ او سنوبال موافقه کړې وه چې د ځناورو فارم فریدرک ته حواله کړو. مورۍ ته سنوبال اعتراف وکړ چې هغه د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شروع نه د جونز پټ جاسوس دی.)) کله چې دوی اعتراف پای ته ورساوه، سپیو له مریو ونیول او د سترګو په رپ کې یې ورمېږونه ور مات کړل.

((ستاسو څخه نور ځناور اعتراف کوي او که؟)) ناپولن په خطرناکه او قهرجن اواز چیغه کړه. د دې اواز په اورېدو هغو درې چرګو کومو چې د هګیو د خرڅلاو پر ضـد بغاوت کې مشـرتوب او پارونه کوله مخې ته راغلې او ((په خپله خوښه)) یې اعتراف وکړ:

((موږ ته سـنوبال په خوب کې راغی. هغه موږ ولمسـولو چې د ناپولن د امر مخالفت او د هغه پر ضـد بغاوت وکړو.)) دوی هم د خوګانو په لار ولېږل شـوې. بیا یوه بته رامخې ته شـوه او په خپل اعتراف کې یې وویل: ((تېرکال د لو پر وخت زه سـنوبال وغولولم. ما د هغه په لمسـون د غنمو شـپږ وړې پټ کړل او دغه وړې مې د شپې پټ وخوړل.))

بیا یوه مېږه رامخکې شوه او هغې وویل:

((ما د سنوبال په لمسون د ځنباک د اوبو په ډنډ کې متیازې کړي دي.))

تر دې وروسـته دوه نورې مېږې مخې ته راغلې او هغوی په خپل اعتراف کې وویل:

((موږ د سـنوبال په لمسـون ملګري ناپولن ډېر نږدې ملګری یو زوړ مږ وژلی دی. دغه مږ ریزش کړی و. هغه غوښتل چې په موږ سپور شي اما موږ دواړه ورځنې تښـتېدلو. موږ د یو لوی اور چاپېره ځغلېدو او هغه راپسـې منډې وهلې. دغه زوړ مږ وتوخېد او د توخي سـره پر ځمکه راپرېوت او ځای پر ځای مړ شو.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((د خپلې خوښې د اعتراف)) څخه وروسته دغه ټول ځناور ووژل شول او د ((اعتراف)) او وژنې لړۍ تر هغې روانه وه چې د ناپولن د پښـــو مخې ته د مړو ډېرې ودربدله او په هواکې د مړو د وينې بوی خپور شـــو. د جونز تر شړلو وروسته دا لومړی ځل و چې په فارم کې د ځناورو په پوزو د وينې بوی ولګېد.

کله چې د ((اعتراف)) او مرګ ســلســله پای ته ورســېده خوګان او ســپي د قهرمانانو غوندې ودربدل اما نور ټول ځناور له دغه ځای غلي روان شـــول. ټول له ډاره رېږدېدل او د دې صـــحنې د لیدو له امله د دوی حالت ډېر خراب و. دوی په دې نه پوهېدل چې ایا د سنوبال او د سنوبال سره د ارتباط غداري دوی ته لویه صـــدمه ورســـوله او که دغه ظالمانه مرګ ژوبلې؟ ډېرو ځناورو د جونز په دوره کې د دغه شـــان وژلو او وینو تویولو صـــحنې لیدلې وې لاکن ځناورو ته ځکه لویه صدمه ورسېدله چې دغه وژل او د وينې تویول د انسانانو پر ځای اوس په خپله ځناورو وکړه. تر هغې ورځې چې جونز فارم پرېښود تر دې ورځې پورې یو ځناور بل ځناور نه و وژلی.

ټول ځناور په ډله د فارم غوندې ته ولاړل. دلته نیمه جوړه ژرنده ولاړه وه، د دې ژرندې نږدې ټول ځناور یو بل ته داســـې جوخت پرېوتل لکه چې له ډاره یخنې اخیستې ځناور یو بل ته د نږدې او جوخت پرېوتلو په وجه ځانونه ګرموي. دلته کلوور، موریل، بنجامین، غواکاني، مېږې، بټې، چرکې او نور ټول ځناور راپنډ شـــول. په دې ځناورو کې یوازې مړې په نظر نه راتللې. د دې علت دا و، کله چې ناپولن ځناورو ته د راتولېدو امر وکړ د دې امر په اورېدو د فارم ټولې مړې په ســورو ورننوتلې او تر پایه یې ځانونه غیب کړل. تر یو وخته پورې د راپنډ شـــویو ځناورو څخه یو ځناور هم خبرې نه کولې. یوازې بوکســر ولاړ و او اخوا دېخوا یې ډېر نارامه قدم واهه. په شـړک به یې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله توره اوږده لکۍ په یو او بل ډوډي وهله او کله کله به یې له ډېرې حیرانتیا په وجه د خولې نه شـــنار هم ووت. حیران بوکســـر څو ځله ســـر وښوراوه او په پای کې یې وویل:

((زه پرې هېڅ پوه نه شـــوم! ما هېڅ نه منل چې زموږ په فارم کې دې داســې شـیان پېښ شـي. دا به خامخا زموږ د غلطیو او تېروتنو نتیجه وي. زه یو حل لرم او هغه دا چې ((موږ باید لاپســې ســخت کار وکړو.)) له نن څخه به زه هر سهار یو ساعت مخکې راپاڅېږم.))

تر دې وروسته بوکسر په یو تراټ د تېږو کان ته ولاړ. تېږې یې راټولې کړې. له دې تېږو نه یې دوه بارونه جوړ کړل او د مابنـــام د تیارې ترمخه یې دغه دواړه بارونه د یو بل پسې ژرندې ته راکښل.

کلوور ته نږدې ځناور چوپ چاپ پراته وو او د غونډۍ له ســـر نه یې خواو شا سیمې او ((د ځناورو فارم)) دننه تر لوی سړک پورې اوږد پروت مالځړ د وښـو پټې، د غوزانو ونې، د ځښـاک د اوبو ډنډ په ایوه شـویو پټیو کې نوي راټوکېدلې شـــنه اوګڼ غنم او د فارم د ودانیو تک ســره بامونه چې د دوو د کښـــونو څخه یې لکه د مار تاو راتاو تور لوګي وتل، لیدل. دا د پســـرلي د مابنـــام یوه زړه راکښـــوونکې منظره وه. په دې وخت کې د ډوبېدونکي لمر طلایي وړانګو د فارم شـــینیلي او بوټو ته تک ســـور طلایي رنګ ورکړی و. ځناورو له دې ښکلې منظرې څخه خوند اخیست او هر ځناور ((خپل فارم)) ته په حیرانتیا کتل. دلته هر ځناور دا فکر کاوه چې دغه فارم د ده ((خپل فارم)) دی او د دې فارم هره لوښته ځمکه یې خپله ده.

کله چې کلوور کښته د غونډۍ لمنو، فارم ته او د فارم خواوشا سیمې ته وکتل د هغې ســترګې د اوښـکو څخه ډکې شـوې. مغزو ته یې تېر یادونه څپې څپې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلل. په چورت کې ډوبه ولاړه او له ځان سره يې داسې فکرونه وهل پيل کړل:

((کله چې موږ د انسانانو د نژاد د راغورځولو او د له منځه وړلو لپاره هلې ځلې شروع کړې، له دغو هلو ځلو څخه زموږ هدف خو دا خونړی صحنې، ډار او قتل عام نه و! کله چې زوړ ميجر په لومړنۍ شپه په راتلونکي ((انقلاب)) خبرې کولې هغه خو موږ ته د ځناورو راتلونکې ټولنه داسې ترې مې کړه چې په دغه ټولنه کې ټول ځناور به د لوړې وهلو او وژلو څخه ازاد وي! ټول ځناور به مساوي وي! هر ځناور به د خپل استعداد سره سم کار کوي او د کار په مقابل کې به ډېره ځيره اخلي. زورور به کمزوري داسې ساتي لکه ما چې د ميجر د وينا په شپه د بتو بچي ساتل. زه نه پوهېږم چې په موږ ولې دا بدې ورځې راغلې؟ اوس يو ځناور هم د خپل نظر د څرګندولو جرات نه لري! اوس دغه خطرناک او غرمبدونکي سپي هر ځای چکرې وهي! دغه وحشي سپي زموږ په ملګرو په وچ زور او وحشت ((اعتراف)) کوي او د ((اعتراف)) څخه وروسته يې زموږ پر وړاندې ټوټې ټوټې کوي! موږ ورته په رنو سترګو ګورو اما له ډاره هېڅ نه شو ويلای! موږ د ناپولن مشرتوب منو، خو بيا هم ما او زما ملګرو د ناپولن څخه د دغه خونړي قتل عام توقع نه درلوده! موږ خو د دې بدې ورځې لپاره د ((انقلاب)) راوستل نه غوښت! موږ خو د دې بدې ورځې په خاطر ځانونه د جونز د ټوپک په ګولیو وژل نه غوښت! موږ خو د دې بدې ورځې لپاره بادي ژرنده نه جوړوله!))

کلوور چې د خپلو احساساتو د څرګندولو لپاره مناسب الفاظ پيدا نه کړلای شول، نو هغې ((د انګلستان ځناورو)) ترانه شروع کړه او نورو ځناورو هم ورسره په ترانه ويلو پيل وکړ. دوی ترانه پرله پسې درې ځل تکرار کړه. دا

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځل ترانه په دومره غمجنه لهجه په خوند وویل شـــوه چې د دې ترمخه دغه ترانه دومره غمجنه او خوندوره نه وه ویل شـوې، دوی د ترانې درییم تکرار ایله ختم کړی و چې ســکیولر او دوه ســپي د فارم غوندې ته راورســېدل او سکیولر د راتګ سره وویل:

((زه تاســو ته د یو مهم شــي د اعلان لپاره دلته راغلی یم. زمونږ ((د ســتر لارښود ملګري)) ناپولن په امر ((د انګلستان ځناورو ترانه له منځه ولاړه او د نن ورځې نه د دې ترانې ویل منع شـــول. د ملګري ناپولن په امر که له نن څخه وروســته د فارم هر ځناور د دې ترانې د ویلو په جرم ونیول شــو، نو دغه ځناور به د ډېر سختې سزا سره مخامخ شي.))

د ســکیولر د اعلان په اورېدو ټول ځناور هک پک شــول. ((ولې؟)) موریل چیغه کړه.

((ملګرو! ((د انګلســتان ځناورو)) ترانه د ((انقلاب)) لپاره ترانه وه. مونږ دغه ((انقلاب)) کړی دی او اوس زمونږ ((انقلاب)) یو بشــپړ تکاملي پړاو ته رسېدلی دی. نن غرمه تاسو په خپلو سترګو ولیدل چې زمونږ ((ستر لارښود ملګري)) ناپولن ټولو خارجي جاسوسانو او د فارم دښمنانو ته ماتې ورکړه. ســتاســو په مخکې دغو غدارانو ((په خپله خوښــه)) په خپلو جرمونو اعتراف وکړ. او هر غدار ته د مرګ ســزا ورکړل شـــوه. د غدارانو اعدام زمونږ د ((مشـــرتابه)) له خوا د تصـــفیې وروســـتنی عمل دی او اوس زمونږ فارم د جاسوسانو او دښمنانو د چټل وجود څخه ببخي پاک شوی دی.))

((ملګرو! تاسو ته څرګنده ده چې مونږ ((د انګلستان ځناورو)) په ترانه کې د یوې هوســا ټولنې هیله کوله. اوس دغه هوســا ټولنه جوړه شــوې ده او تر دې وروسته مونږ دې زړې ترانې ته هېڅ اړتیا نه لرو.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر غرمې وروسته د خونړۍ صحنې په لیدو ټول ځناور ډارېدلي وو. خو د دې اعلان په اورېدو ځناور راوپارېدل او هغوی غوښتل چې بیا د احتجاج اواز پورته کړي. مېړې پوه شوې او هغوی ډېر ژر ((ځلور بولي ښه دي او که دوه بولي خراب)) په رمبارو شروع وکړه. تر څو دقیقو پورې رمبارې روانې وې او دې رمبارو بحث ته هم خاتمه ورکړه.

تر دې اعلان وروسته ((د انګلستان ځناورو)) ترانه ښېخې وانه ورېدل شوه. د دې ترانې پر ځای یو خوک شاعر چې مینیموس Minimus نومېده یوه بله ترانه جوړه کړه. دا ترانه داسې شروع کېده:

د ځناورو فارمه ! د ځناورو فارمه!

ته به زما له خوا هېڅکله زیان ونه وینې!

د بیرغ تر پورته کېدو وروسته دا ترانه د هرې یکشنبې په سهار یو ځل وید کېده اما ډېر ژر ټولو ځناورو ته ځرګنده شوه چې د دې ترانې الفاظ او تال ((د انګلستان ځناورو)) د ترانې غوندې خوندور نه وو.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم څپرکی

کله چې د اعدامونو دار لږ سور غوندې شو، څو ورځې وروسته شپږم حکم چې ((هېڅ ځناور به بل ځناور نه وژني.)) ځینو ځناورو ته یاد شو او یا دوی فکر کاوه چې دوی ته یاد دی، یو ځناور هم د خوګانو او سپیو په مخکې د دې خبرې جرات نه کاوه خو هر ځناور دا احساس کاوه چې د فارم دننه اعدامونه د شپږم احکم پر ضد عمل و.

((بنجامینه! لطفاً شپږم حکم راته ولوله ((کلوور ترېنه خواهش وکړ.

((زه نه غواړم چې په داسې مسایلو کې ګوتې ووهم.)) بنجامین د خپل زوړ عادت سره سم د شپږم حکم د لوست څخه انکار وکړ. کلوور ژر ولاړه او موریل یې راوستله. موریل ورته دغه حکم ولوست. شپږم حکم داسې وو ((هېڅ ځناور به بل ځناور نه وژني، خو بې له علته. وروستنۍ برخه د ځناورو له حافظې څخه وتلې وه. د شپږم حکم په لوست د ځناورو پوره باور راغی چې ناپولن دغه حکم نه دی مات کړی، بلکې هغه غداران چې د سنوبال په دسیسه کې شریک وو د دوی د اعدام لپاره ((علت)) موجود و.

د تېر کال په مقایسه ځناورو په ټول روان کال کې لاپسې سخت کار وکړ. دا ځل د ژرندې یو په دوه پلن دېوالونه پورته کول او په ټاکلي وخت ژرنده سرته رسول، ببخي ګران کار و. دکار په دوران کې به ځناورو فکر کاوه چې اوس دوی دېر کار کوي. اما د جونز د ورځو نه هم خراب خوراک ورته ورکول کېږي، سکیولر به د هرې یکشنبې په سهار دکاغذ یوه اوږده توته د پښې په پنجې کې نیولې وه او د ځناورو غوندې ته به یې د دېر تولید د ارقامو لیست لوسته. ده به کوښښ کاوه چې غوندې ته د ارقامو څخه اثبات کړي چې د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

جونز د دورې په تناسب د فارم د هر ډول خوراکي خوادو تولید په سلوکې دوه سوه یا دریې سوه یا پنځه سوه اضافه شوی دی. ځناورو هم د سکیولر په ارقامو باندې د شـــک کولو لپاره هیڅ دلیل نه درلود،ځکه چې ((د بغاوت)) نه مخکې شرایط د ځناورو څخه ببخي هېر شوي وو. په دې هم نه پوهېدل چې په فارم کې څومره خوراکي مواد تولیدېدل؟ ځینو ځناورو تش په دې امید ژوند کاوه چې ګوندې په راتلونکي کې به د دوی خوراک څه ناڅه بڼه شي!

اوس د ناپولن ټول امرونه د ســـکیولر اوکله کله د نورو خوګانو پواســـط اعلانېدل. د ځناورو تر اعدام ن وروســـته تر پنځلس ورځو پورې ناپولن بښکاره نه شو. پوره پنځلس ورځې وروسته هغه د فارم د مېنې څخه راووت او د راوتلو پر وخت ټولو ځناورو په خپلو ســترګو ولید چې نهه ســپي د هغه چاپېره ځغلي او یو تور چرګ یې په مخکې په مارش روان دی او د ناپولن د ترومچي دنده اجراکوي. کله چې به د ځناورو په غونډو کې دې تور چرګ اذان وکړ، نو د دې پسې سمدلاسه ناپولن به وینا پیل کوله.

د ځناورو په منځ کې داګونګسی هم روان و چې د ځناورو د اعدام د ورځې راهیسې ناپولن د نورو ځناورو څخه جلا شوی دی، اوس هغه په یوه کوټه کې ببخي ځانله اوسېږي. یوازې ډوډۍ خوري، د ګرد نر په لوښو کې ورته سالون ته ډوډۍ راوړل کېږي او ډوډۍ د خوراک په وخت کې یې تل دوه سپي ساتنه کوي.

سکیولر د یکشنبې د سهار په غونډه کې وویل:

((ملګرو! د خوګانو د مخصوصې کمپټې په وړاندیز او د ستر لارښود مکلري ناپولن په منظورۍ لاندینۍ پرېکړې تاسو ته اعلانېږي:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول: تر دې وروسته به د ستر لارښود ملګري ناپولن د زېږېدنې مبارکه ورځ د فارم د ټوپک په ډزو نمانځل کېږي.

دويم: د دې فارم هر ځناور مکلف دی چې د ناپولن له نوم سره د هغه ټول رسمي القاب ((زمونږ ستر لارښود ملګری ناپولن حتماً واخلي. د القابو پرته ((د ستر لارښود ملګري ناپولن)) نوم اخيستل د دغه ((ستر مقام)) توهين دی. زمونږ ((د ستر شخصيت سپکاوی غداري ده او هر يو ځناور چې دغه غداري وکړي هغه به د يو غدار په صفت محاکمه کېږي او د فارم سپي به دغه غدار ته د مرګ سزا ورکوي.))

پر دې القابو سربېره خوګانو ناپولن ((د ټولو ځناورو پلار)) د انسانيت پر ضد لوی غضب، د مېړو د شپول ساتندوی، د بټو د بچو زړه سواندی ملګری)) داسې په نورو درندو القابو نمانځه، سکيولر به د هرې وينا په شروع کې ويل:

((زمونږ ستر لارښود ملګري ناپولن د نړۍ د ټولو ځناورو څخه ډېر هوشيار او زړه سواندی شخصيت دی. زمونږ ستر لارښود ملګری ناپولن د نړۍ د ټولو ځناورو سره او مخصوصاً د هغو ځناورو سره چې تراوسه د انسانانو په فارمونو کې د ناپوهۍ او غلامۍ ژوند تېروي، له حده زياته مينه لري.))

کله چې سکيولر به په خپله ويناکې د ناپولن هوښيارتيا، زړه سواندۍ او له مينې ډک زړه ته اشاره کوله، نو لومړی به د ده سترګې د اوښکو څخه ډکې شوې او بيا به يې په مخ رڼې اوښکې راروانې شوې.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د ځناورو د فارم د ټولو بريالیتوبونو، نېکمرغیو ســـرلوړیو او نمانځلو افتخار یوازې د ناپولن امتیاز وګڼل شـــو. د مثال په توګه که یوې چرګې به د بلې چرګې سره خبرې کولې، هغې په خبرې داسې شروع کولې:

((ما د ستر لارښود ملګري ناپولن د مبارک مشرتابه په برکت په ټېرو شپږو ورځو کې پنځه ځتې هګۍ واچولې...))

که دوه غواوې به د اوبو د ډنډ پر غاړه ولاړې وې د اوبو د څښلو نه مخکې به یوې غوا بلې ته ویل: ((د ستر لارښود ملګري ناپولن د مبارک مشرتابه په برکت اوس د څښلو اوبه ډېرې خوندورې شوې دي...))

شـــاعر خوک میمنوس د ((ملګري ناپولن)) په نوم شـــعرکې د فارم د ټولو ځناورو او مخصـوصاً د خوګانو احساسات ډېر ښـه څرګندکړي دي. شعر دادی:

نو روح مې سره لمبه شي

او ستا روښنایي ځلېدونکې سترګې

د لمر په څېر په شنه اسمان کې بربښي

ای ناپولن ملګری!

یوازنی بښوونکی

د هغو ټولو نعمتونو چې ستا مخلوق یې غواړي

ته مړوي د ځناورو خبټې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ورځ کې دوه دوه ځلې

تا ځناورو ته پاک بوس ورکړي

او دوی هم رغړي او رارغړي باندې

لوی که وړوکي دي دا ټول ځناور

خپلو غوجلو کې ارام ویدېږي

ته يې ساتنه او پالنه کوې

ای ناپولن ملګری

که مور خوګانو وي ربشتیا مور شیدې رودلې

مخکې له دې چې لوی شو

یا ستا په سیوري کې بوتلو غوندې وپرسېږو

مور به تر هر څه پخوا ستا لپاره

درس د اخلاص او د وفا زده کوو

بلې! هر خوک د زېږېدنې پر وخت

باید په زوره غږ کړي

ای ناپولن ملګری!

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناپولن د دې شـــعر منظوري ورکړه او د ده په امر دا شـــعر د لوی ګودام په دېوال د اوه احکامو مخامخ په لویو تکو ولیکل شـو. سـکیولر په سـپین رنګ د ناپولن د نیم مخ لوی عکس رسـم کړ او دغه عکس هم د دې شـعر له پاسـه وځړېد.

په دې موده کې ناپولن د ویمپر پواسطه د فریدرک او پلکینګټن سره په پېچلو خبرو اترو بوخت و. تراوســه د چارتراش لرګي نه وو خرڅ شــوي او د دې دواړو څخه فریدرک د دې د لرګو د اخیسـتو ډېر لېواله ښـکاره کېده. هغه د لرګو معقول قیمت نه ورکاوه، بلکې دغه لرګي يې ډېر په ارزانه بیه غوښــتل. په دې وخت کې خوګانو او سپیو بیا نوی ګونګسی خپور کړ چې فریدرک او د هغه نوکران غواړي چې د ځناورو فارم باندې یرغل وکړي. د ژرنې بیا جوړېدو هغه په قهر کړی دی. دا ځل غواړي د فارم ژرنده ببخي ورانه کړي. غدار سنوبال تراوسه د پنجفیلډ دننه پټ ګرځي راګرځي.

د دوبي په مینځ کې ځناورو د دې خبر په اورېدو چې د ســنوبال په لمســون دري چرګو د ناپولن د قتل دسیسه کړې ده، حیران شول. د خوګانو او سپیو د وینا له مخې دغو چرګو ((په خپله خوښــه)) د ناپولن د قتل د دســیســې ((اعتراف)) نه وروسـته سـم له لاسـه اعدام شـوي. د دې دسـیسـې ترکشـف وروسـته د ناپولن د حفاظت احتیاطي تدابیر لاپســې ټینګ شــول. د خوګانو مخصوصې کمېټې ځلورو سپیو ته امر وکړ چې ټوله شپه دې د کوټې په ځلورو ګوټونو کې ویښ کښې او ټوله شــپه دې د ناپولن کلک حفاظت وکړي. همدا شان د دښمنانو له خوا ناپولن ته په ډوډۍ کې د زهرو ورکولو ډار ببخي زیات شــو. د زهرو د ورکولو د مخنیوي په خاطر ناپولن بل اعتمادي خوک پینکې ته وظیفه ورکړه چې د خوړلو نه مخکې دې د هغه ټول خوراکي شـیان معاینه او وڅکي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې يکشنبې د سهار په غونډه کې سکيولر وويل:

((ملګرو! زمونږ ستر لارښود ملګري ناپولن تصميم نيولی دی چې د فارم چارتراش په مستر پلکنيګتن خرڅ کړي او غواړي چې د ځناورو فارم او ((فاکسود فارم)) ترمنځ د ځينو توليدي شيانو د تبادلې ټرون لاسليک کړي.))

((ملګرو! تاسو ته څرګنده ده چې زمونږ مشرتابه او پلکينګتن تراوسه يو بل نه دي ليدلي، زمونږ د فارم او فوکسوود فارم ترمنځ خبرې غير مستقيم د مستر ويمپر پواسطه روانې دي، خو بيا هم زمونږ د ستر لارښود ملګري ناپولن او مستر پليکنګتن ترمنځ روابط ډېر صميمانه دي. زمونږ ستر لارښود ملګری ناپولن په دې واقعيت ښه پوهيږي چې پلکينګتن يو انسان دی او تاسو د انسان په حيث د هغه نه نفرت کوئ. زمونږ مشرتابه امر کړی دی چې تاسو د ده پر ځای فريدرک د ډېر ډار او کرکې ور شخص وګڼئ او د دغو دواړو ترمنځ د ښه او بد انسان فرق ته حتماً قايله شئ.))

د دوبي په وروستيو شپو ورځو کې د بادي ژرندې سرته رسېدل نږدې شو. هم په دې موده کې په فارم باندې د يوې ناڅاپي حملې کونکسی لاپسې زيات شو. د يکشنبې په سهار سکيولر غونډې ته وويل:

((ملګرو! غدار فريدرک غواړي چې د شلو وسلوالو نوکرانو سره زمونږ په فارم ناڅاپي حمله وکړي. د دې مقصد په خاطر هغه د دې سيمې قاضيانو او پوليسو ته رشوت هم ورکړی دی. قاضيانو او پوليسو ورته پوره ډاډ ورکړی دی که چېرې دغه يرغلګر ((د ځناورو فارم)) باندې حمله کوي او زمونږ فارم په وچ زور نيسي، دوی به ورته هېڅ نه وايي.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو! ظالم فریدرک په پنجفیلډ فارم کې زموږ په ورونو ځناورو له حده زیات ظلمونه کوي. د دې ظالم یو زیارکښ زوړ اس د غمچینو لاندې مړ کړ.))

دې ظالم په زیارکښو غواو خواړه بندکړل او ډېرې غواوې یې له لوږې مړې کړې!

دې ظالم یو زیارکښ ســـپی ژوندی تنور ته وغورځاوه او زموږ دغه ورور یې په سور تنور کې وریت کړ.

دا ظالم هر مابنـــام د زیارکښـــو چرګانو په ککړوکې تېرې چړې تړي او په جنګ یې اچوي. زموږ د ورونو د چرګانو د ســـرونو ځخه وینې بهېږي او دا ظالم له دغو وینو د تویېدو ځخه خوند اخلي.))

کله چې ځناورو د پنجفیلډ فارم په ورونو ځناورو باندې د ظلمونو کیســـې واورېدې، له ډېره قهره د دوی وینو جوش وکړ. غالمغال یې جوړ کړ او ټولو په یوه اواز وویل:

((موږ له دغه فارم ځخه ظالم انسان شړل غواړو!

موږ د ســـتر لاربښـــود ملګري ناپولن ځخه په پنجفیلډ فارم د حملې اجازه غواړو!

په وړاندې– د زیارکښو ورونو ځناورو د ازادۍ په لور!))

ســکیولر په راپاربدلو ځناورو نظر واچاوه، د ځان ســره ومســکېد او بیا یې د ځناورو د دلاساکېدو لپاره وویل:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ملګرو! تل د ستر لارښود ملګري ناپولن په عملي ستراتيژۍ او تاکتيک ټينګه عقيده ساتئ! تل د بې باکه او بې سنجشه عمل څخه ډډه وکړئ! پام کوئ چې د ستر لارښود د قوماندې پرته په خپل سر هېڅ عمل ونه کړئ!))

په دې موده کې سکيولر کوښښ کاوه چې د فريدرک پر ضد د ځناورو پارټلي احساسات ژوندي وساتي. د يوې يکشنبې په سهار ناپولن د ټولو تشريفاتو سره غونډې ته راغی او د فريدرک پر ضد يې لنډه وينا وکړه.

((فريدرک يو ټيټ او رذيل شخص دی. زه شرمېږم او دا زما د شخصيت توهين دی چې د فريدرک غونډې ټيټ شخص سره ارتباط وساتم او يا په دغه رذيل دې د فارم چاتراش خرڅ کړم.))

زه تاسو هغو ټولو کوترو ته چې د انسانانو په فارمونو کې د ځناورو ترمنځ د ((انقلاب)) پيغام خپروئ، امرکوم چې له نن څخه وروسته به تاسو د ((فاکسوود فارم)) دننه پښه نه ږدئ. زما په امر ((مرګ په انسانيت)) شعار له منځه ولاړ او تاسو کوترو ته امرکوم چې له نن څخه وروسته د ((انقلاب)) لباره ((مرګ په فريدرک)) شعار استعمال کړئ.))

((ما په تېر دوبي کې د غدار سنوبال يوه بله دسيسه کشف کړه. دغه غدار به د شپې فارم ته راته او دلته به يې د غنمو د تخمونو سره د وحشي وښو تخمونه ګډول. همدا علت دی چې سړکال د فارم د غنمو فصل د وحشي وښو نه ډک دی. د سنوبال په دسيسه کې يوه بته هم شريکه وه. کله چې دې بتې سکيولر ته ((په خپله خوښه)) د خپل جرم ((اعتراف)) وکړ، نو بيا يې ډېر ژر ((خودکشي)) وکړه.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د فارم ټول ځناور په دوو ډلو وېشل شوي وو، لوی اکثریت دا عقیده درلوده چې سنوبال ته ((د ځناورو قهرمان لومړی درجه نښان)) هیڅ نه دی ورکړل شوی، بلکې دا یوه انسانه ده چې د ((غواوو څپر)) تر جګړې وروسته په خپله سنوبال د ځان په باره کې خبره کړې ده. دې ځناورو پخه عقیده دلوده چې د ((غواوو څپر)) د جګړې په دوران کې غدار سنوبال د جنګ میدان پرېښود او د دې تېښتې په وجه د فارم ټولو ځناورو ډارن سنوبال په ګډه وغانده.

دویمه ډله ځناور بېخي لږ وو. برعکس دوی د سنوبال په تېښه او ډار باور نه کاوه. یوه ورځ سکیولر دوی راوغوښتل او په ډېر قهر یې ورته وویل:

((تراوسه مورِ ډېره حوصله وکه چې ګوندې تاسو به ټول زاړه عادتونه پرېږدي او د نوو ((انقلابي)) شرایطو سره سم به ځانونه هم بدل کړي. ستاسو دغه شان فکر دوه عوامله لري. یا ستاسو حافظې خرابې شوي دي او یا د غدار سنوبال په لمسون تخریب کوي. که چېرې ستاسو حافظې خرابې دي، نو بیا دا واقعیت ومنئ چې خرابې حافظې تل خراب او غلط فکر کوي. که تاسو د تخریب اراده لرئ نو په دې صورت کې مورِ د ورانکارو په جزا هم ډېر ښه پوهېږو. حوصله هم یو حد لري. تاسو ته دا زما وروستی اخطار دی.))

د مني د لو او درمندونو د سترې کېدونکي کار او زیار سره سره د ژرندې د جوړېدو کار په بېړه روان و. سره له دې چې ځناورو د کار تجربه نه درلوده. د کار ټول اوزار د انسانانو د کار لپاره جوړ وو. ((سنوبال تل خندونه اچول)) او دا شان نور ډېر مشکلات هم موجود وو، خو بیا هم ژرنده د ځناورو د پرله پسې کار او زیار په برکت په ټاکلي وخت سرته ورسېدله. اوس د ژرندې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماشـــینرۍ د ځای پر ځای کېدو وخت راورســـېد او د ویمپر پواســـطه د مشینرۍ د اخیستو خبرې هم پیل شوې. د ډېرکار او زیار له کبله ځناورو تل ډېر زیات ســـترې ښـــکاره کېدل، خو بیا هم دوی د خپلې ژرندې په جوړېدو ډېر افتخارکاوه. دوی به هره ورځ شاهکار چاپېره ګرځېدل او د لومړي ځل په تناسب دا ځل ورته خپله ژرنده ډېره ښکلې ښکاره کېده. سربېره پر دې دا ځل د ژرندې دېوالونه د مخکنۍ ژرندې د دېوالونو په تناســـب یو په دوه پلن وو. دوی پوخ باور درلود چې دغه پلن دېوالونه د چاودېدونکو موادو پرته بل هېڅ شـی له منځه نه شـي وړلای. واقعاً چې دوی ډېر زیار وویســـت او په ډېرو مشـکلاتو یې بریالیتوب وموند. په رښـتیا دوی ډېره ســترې ولیدله او تل ســترې، ســتومانه وو. خو یوازې په دې فکرکولو چې د ژرندې د بادبانونو او ډاینمو ترګرځېدو وروســته به د دوی په ژوندکې په زړه پورې بدلون راشـي، دغه ســترې به له منځه تلله او برعکس دوی به د ژرندې چاپېره د خوشالتیا نه پورته پورته ټوپونه وهل او چیغې به یې ایســـتلې. ناپولن په پوره تشـــریفاتو د ژرندې د لیدو لپاره راغی او د ژرندې د معاینې وروسته یې وویل:

((زه شخصاً په دې لوی بریالیتوب تاسو ټولو ځناورو ته مبارکي درکوم او نن دا اعلان کوم چې ما د دې ژرندې نوم ((د ناپولن ژرنده)) کېښود.))

دوه ورځې وروســته ناپولن د فارم ټول ځناور لوی ګودام ته راوغوښـتل او په دې فوق العاده غونډه کې یې وویل:

((ما د فارم ټول چارتراش په فریدرک خرڅ کړل. ســـبا ته د فریدرک کراچۍ د دې چارتراشو د وړلو لپاره راځي. په تېرې ټوله موده کې زما او د پلکنیکټن دوســـتۍ محض ظـاهري بڼـه درلوده برعکس پـه دغـه ټولـه موده کې مـا د فریدرک ســره ډېر پټ روابط ســاتل. له نن څخه زمونږ او د فوکســوونډ ترمنځ

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول روابط قطع شـول او په دې برخه کې ما پرون پلکنیکټن ته پیغام ورلېږلی دی. زه ((انقلاب)) خپرونکو کوترو ته امرکوم چې د نن نه دې پنجفیلد فارم ته نه ځي او ((مرګ په فریدرک)) شـعار دې ((مرګ په پلیکنکټن)) په شـعار بدل کړي.))

((زه درته ډاډ درکوم چې د ځناورو په فارم باندې د فریدرک د حملې کیسـې ببڅي غلطې وې او دا چې د پنجفیلد فارم په ځناورو باندې فریدرک ظلمونه کړي دي، دا خو ببڅي پوچې خبرې دي. دا پروپاګنډه سـنوبال او د هغه طرفدارانو د دې لپاره کوله چې زما او فریدرک ترمنځ دوستانه اړیکي خراب کړي. اوس دا خبره په اسـنادو اثبات شـوې ده، چې سـنوبال په ټول ژوند کې پنجفیلد فـارم تـه نـه دی تللی، بلکې برعکس دغـه غـدار لـه ډېرې مودې راهیسـې په فوکسـوود فارم کې اوسـېږي او په دې فارم کې د پلکینکټن دغه ځېره خور د مزو ژوند کوي.))

د ناپولن په دې اعلان ټول ځناور حیران شـول او یوازې خوګانو د ده ځیرکتیا او هوښیارتیا په هکله وویل:

((ملګرو! د پلیکنکټن سـره ظاهري ملګرتیا زمونږ د سـتر لارښـود ملګري ناپولن یو ((عالمانه انقلابي تاکتیک)) و. د سـتر لارښـود ملګري ناپولن دې تاکتیک فریدرک مجبور کړ چې د هر چارتراش قیمت دولس روپۍ نور هم جګ کړي. زمونږ د مشـرتابه نبوغ دا واقعیت وښـود چې فریدرک هم په دې تاکتیک تر پایه پوه نه شـو. د دې علت دا دی چې زمونږ مشـرتابه په دې برخه کې د فریدرک په شمول په هېڅا باور نه کاوه.))

((ملګرو! فریدرک غوښـتل چې زمونږ لارښـود ملګري ناپولن ته د کاغذ په یوه پاڼه چې د چک په نوم بلل کېږي د پیسـو د ورکړې وعده لیکلې ورکړي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ((زموږ ستر لارښود ملګري ناپولن)) پنځه روپيز لوټونه ورځخه وغوښتل او دا شرط يې هم ورباندې کېښود چې پيسې به د چارتراشو تر وړلو مخکې نغدې ورکوي. اوس فريدرک دغه نغدې پيسې ورکړي دي او فکر کوم چې دغه پيسې د ژرندې د مشينرۍ د اخيستو لپاره ببخي کفايت کوي.))

دې چټک چارتراش يوړل شول او د چارتراشو تر وړلو وروسته ناپولن د بانک د لوټونو د معاينې په خاطر په لوی ګودام کې د ټولو ځناورو فوق العاده مجلس دايرکړ، ناپولن د لوی ګودام په اوچت ځای د بوسو په بستره غځېدلی پرېوت او په دې ورځ يې دواړه (نښانونه ځړولي وو. د موسکا ډکه خوله يې چينګه نيولې وه. ترځنګ يې په يو چيني لوښي کې د فريدرک لوټونه سر په سر ايښودلې وو. ټول ځناور کتار ولاړ وو او هر يو لوټونو ته په ځير ځيرکتل. بوکسر د لوټونو د بوی کولو لپاره خپل شوندک وراوږدکړ او د ده په تنفس دغه نازک سپين شيان د چيني لوښي ځخه والوت او شاوخوا تيت و پرک پرېوتل.

په فارم کې درې ورځې وروسته لويه هله ګوله پيدا شوه. ويمپر تک زيږ په بايسکل سپور په ځغاسته فارم ته راغی، بايسکل يې يوې خواته په غولي کې وغورځاوه او په منډه نېغ د ناپولن کوټې ته ولاړ، ځو شېبې وروسته د ناپولن دکوټې ځخه غال مغال راپورته شو او د پېښې خبر په ټول فارم کې د ځنګل د اور په شان خپور شو. د ټولو ځناورو په خوله دا يوه خبره وه چې ((د بان کلوټونه جعلي دي! فريدرک چارتراش مفت واخيستل.))

ناپولن دېر ژر د ځناورو غونډه راوغوښتله او غونډې ته يې په قهرجنه لهجه وويل:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((زه غدار فریدرک په مرګ محکوموم. زه غواړم چې دغه غدار ژوندی ونیسم او په جوش اوبو کې یې ژوندی وخوتوم.))

((له ډېر مودې راهیســـې دغه خاین زمونږ په فارم ناڅاپي یرغل کول غواړي، هره شپه د فریدرک او د هغه د نوکرانو د حملې انتظار کوي. دا اوس نه ورته چمتو اوســئ. زه امر کوم چې د فارم په ټولو لارو پیره داران ودروئ. زه غواړم چې د پلکینګټن سره بیا بنــه روابط ټینګ کړم. زه امر کوم چې ډېر ژر دې ځلور کوتري فوکســوونه ته ولاړې شــي او زما له خوا دې پلکینګټن ته د بنو روابطو د ټینګښت هیله او د روغې جوړې پیغام ورسوي.

سبا سهار حمله پیل شوه. ځناورو سبا ناری کاوه چې پیره داران په یو تراټ راغلل او ځناورو ته یې د فارم د لوېې دروازې په لار د فریدرک او د هغه د نوکرانو د رانوتلو خبر ورکړ. ټول ځناور په ډېره زړورتیا مخې ته ورغلل. دا ځل ځناورو ته د ((غواوو څپر)) د جګړې غوندې بریالیتوب اسان نه ښکاره کېده. دا ځل پنځلس تنه د شــپږو ټوپکو ســره راغلل. کله چې انســانان د پنځوس ګامونو په فاصــله ځناورو ته رانږدې شــول، نو فوراً یې ډزې شــروع کړې. ځناورو د ډاروونکو چاودنو او د ټوپکو د ســوزونکو ګولیو مقابله ونه کړلای شوه. ناپولن او بوکسر ډېر کوښښ وکړ چې ځناور د یوې کلکې حمله لپاره راټول کړي، اما انسانانو ډېر ژر دوی په شا وتمبول او د میدان ځخه یې په تېښــته مجبول کړل. ځناورو د فارم په ودانیو کې پناه واخیســته او د دې ودانیو د چاودنو او ســوریو ځخه یې غلي غلي بهر ته کتل. دښــمنانو ډېر ژر مالځړ او ژرنده ونیوله. تر یوې شــپې پورې ناپولن داســې معلومېده لکه چې هر څه یې بایللي دي. چوپ چاپ یې کښــته پورته قدم واهه، لکې یې شــخه پورته نیولې وه او کله به یې په یو او کله به یې په بل ارخ وهله. هغه د امید ستر ګې د فوکسوونو فارم پر لور نیولې وې او د ځان سره به یې ویل: ((که په

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې حساسه مرحله کې پلکینګټن او د هغه نوکران زمو مرستې ته راغلل، نو زمونږ بریالیتوب یقیني دی.)) هم په دې وخت کې هغه ځلور کوترې چې یوه ورځ مخکې فوکسوود ته لېږل شوې وې راغلې. یوې کوترې د پلکینګټن له خوا د کاغذ یوه وړوکې ټوټه په مکوښه کې نیولې وه. په دې کاغذ باندې په پنسل دا عبارت چې ((تا ځناورو سره هم دا جوړېږي.)) لیکل شوي وو.

فریدرک او د هغه نوکران ژرندې ته نږدې ودرېدل. ځناورو د دوی ځار کاوه. د ژرندې په خواکې د دښمنانو د راټولېدو له کبله په ځناوروکې ډار پیدا شو. د فریدرک دوه نوکرانو یو جبل او یو پلک په لاس کې ونیوه دوی غوښتل چې ژرنده له بنسټ ځخه چپه کړي.

((ناممکنه ده!)) ناپولن چیغه کړه. ((دا ځل مونږ د ژرندې دېوالونه دومره پلن جوړ کړي دي چې دوی یې هیڅ نه شي چپه کولای! زه پوره باور لرم چې په یوه اوونۍ کې هم دغه دېوالونه رانسکورولای نه شي. ملګرو! پام کوئ چې ونه ډارېږئ.)) اما بنجامین په ډېر دقت د انسانانو حرکتونه څارل، د فریدرک دوه نوکرانو په جبل او پلک د ژرندې بنسټ ته نږدې سوری جوړوه، بنجامین په ډېره حیرانتیا خپل سر اخوا دېخوا ښوروه راښوروه. بنجامین نورو ځناورو ته وویل: ((ما هم دغه فکر کاوه! تاسو ورته ښه وګورئ چې هغوی څه کوي. هغوی یوه شېبه وروسته په دغه سوري کې چاودېدونکي مواد اچوي.))

ډار شوي ځناور منتظر ولاړ وو او له ډاره د باندې نه شو راوتلای. یو څو دقیقې وروسته یې ولید چې د ژرندې له خوا ځخه انسانانو یوه او بله خوا منډه واخیسته. او یوه شېبه وروسته یو لوی ډز وشو. ددې کنوونکي ډز په اورېدو کوترې هوا ته والوتې، ټولو ځناورو سترګې پټې کړې او یوازې د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناپولن پرته نورو ټولو په ځمکه پروت وکړ. کله چې د ځمکې نه راپورته شول د ژرندې له پاســـه يې تک تور لوګي توره وريځ وليده. شـــمال دغه وريځ په کرار کرار يوړه. ګوري چې ژرنده ببخي له منځه تللې ده.

دې بوګنوونکې منظرې په ټولو ځناورو کې لوی هيجان پيدا کړ. د دې ټيټ او د کرکې وړ عمل پر ضد لوی قهر د دوی ډار او نا اميدي له منځه يوړل. د انســـانانو نه د بدلې چيغه پورته شـــوه، غير له دې چې د ناپولن څخه د امر د اخيســـتو انتظار وکړي، ټولو ځناورو مخامخ په دښـــمنانو حمله وکړه. په دوی باندې لکه د ږلې ګولي ورېدلې اما دوی د دغو ســـوزوونکو ګوليو هيڅ پروا نه کوله. دا ځل ډېره سخته جګړه ونښته. انسانانو وربانديې پرله پسې ډزې کولې خو دوی په ډېره زوږرتيا ورنږدې کېدل. کله چې ورته ببخي نږدې شـــول، نو انســـانانو په کوتکو او په درندو بوټونو وهل پيل کړ. يوه غوا، درې مېږې او دوه بټې ځای پر ځای مړې شوې او تقريباً ټول ځناور زخمي شول. سره له دې چې ناپولن د ځناورو د شا نه د عملياتو قومانده ورکوله، خو د ده د لکۍ سر هم په ګولي والوت. انسانان هم تېې شول.

بوکسر د درې انسانانو سرونه په سومانو ورمات کړل. يوې غوا د يو انسان خټه په ښکرونو سوری کړه او ژيسي او بلو بيل د يو انسان پرتوګ ترانګې ترانګې کړ. ناپولن امر کړی و چې د ده نه ساتونکي سپي دې د بوټو د لاندې پټ ودرېږي. دې سپيو په انسانانو ناڅاپه حمله وکړه او د دې ناڅاپي حملې له ډاره په انســـانانو کې ګډوډي راغله. د فارم ځناورو انســـانان د هرې خوا نه محاصره کړل او د دې محاصرې د خطر له ډاره فريدرک نوکرانو ته د تېښتې غږ وکړ. يوه شـــپه وروســـته ډارن انســـانانو د خوږ ژوند د ژغورلو په خاطر منډې پيل کړې. ځناورو د فارم تر څنډو تعقيب کړل. کله چې انسانان مجبور

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول چې د اغزنو بوټو له لارې ځانونه وباسي، دلته هم ځناورو ته وروستنۍ کلکې لغټې ورکړې.

ځناورو جګړه وکټله، خو ټول ډېر زیات ستړي او په سرو وینو لمبډلي ښکاره کېدل. ټول په کرارګوډ ګوډ فارم ته راستانه شول. کله چې دوی په وښو باندې د ملګرو د خواره واره مړي ولیدل، د ځینو ځناور له سترګو څخه اوښکې راوبهیدې څو شېبې د ژرندې پر ځای باندې ویرژن چوپ چاپ ودرېدل، هوا ژرنده یا په بل عبارت د دوی دکار او زیار د شاهکار ټولې نښانې له منځه تللې وې! دا ځل د ژرندې بنسټونه الوتي وو. د ژرندې د بیا جوړېدو لپاره د تیت و پرک پرتو تیږو څخه استفاده کول ګران کار و. د چاودېدونکو موادو قوت دغه تیږې سلګونه ګزه وړاندې غورځولې وې او اوس داسې معلومېده لکه چې په دغه ځای ژرندې هېڅ وجود نه درلود. د جګړې په دوران کې سکیولر په مرموز ډول پټ شوی و، اما کله چې ځناور فارم ته رانږدې شول، هغه لکې تاووله راتاووله او ډېر خوشاله په ټوپونو ټوپونو ځناورو ته راغی. په دې وخت کې د فارم د ودانیو له خوا د ټوپک ډز وشو او د دې ډز په اوربدو بوکسر پوښتنه وکړه.

((دا ډزې د څه لپاره دي؟))

((دا زمونږ د بریالیتوب د تجلیل ډزې دي.)) سکیولر په چیغه ځواب ورکړ.

((دکوم بریالیتوب؟)) د بوکسر د لینګو څخه سرې وینې روانې وې، یو نعل یې ورک، یو سوم یې چاودلی او یو درجن ګولې یې د وروستنیو پښو په لینګیو کې پرتې وې.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((کوم بریالیتوب ملګری! ایا موږ د ((ځناورو فارم)) د مقدسې خاورې څخه یرغلګر دښمن ونه شاړه؟)) سکیولر وویل.

((موږ پوره دوه کاله د فارم په ژرنده کار وکړ! اما د بنـــمنانو زموږ دغه ژرنده له منځه یوړه! بوکسر ځواب ورکړ.

((ملګری! هیڅ پروا نه کوي! موږ به بله ژرنده جوړه کړو. که موږ یې وغواړو دغه شـان شـپږ ژرندې جوړولای شـو. ایا دا نه منې چې موږ څومره لوی کار کړی دی؟ دا ځمکه چې اوس وربانديې دواړه ولاړ یو دښـــمن راڅخه نیولې وه. دا ځمکه موږ او تاسو د ستر لارښود ملګري ناپولن د مشرتابه په برکت بېرته لاس ته راوړې ده!))

((هم هغه ځمکه مو بېرته کتلې ده، کومه ځمکه چې موږ مخکې درلوده«« بوکسر وویل:

((دغه زموږ بریالیتوب دی!)) سـکیولر چیغه کړه. ټول ځناور کودکود غولي ته ننوتل. د بوکسـر د لینګو د پوسـتکي د لاندې ګولیو سـوزېدونکی درد پیل کړ. بوکسـر په چورت کې ولاړ هغه ته د بنسـټ څخه د ژرندې د بیا جوړېدو کار ډېر درومد اوګرام کار معلوم شـــو. هغه په تصـــور کې خپل ځان په دغه درومد اوګران کار یو ځل بیا بوخت ولید. د اول ځل لپاره د ده په مغزو کې دا خبره راغله. ((زه اوس یولس کلن یم، شاید چې زما د متو او غړو پخوانی قوت نه وي پاتې.))

کله چې ځناورو د شـین بیرغ پورته کېدل، پرله پسـې د توپک اوه ډزې او د بریالیتوب په مناسـبت دناپولن د مبارکی ویناواورېدلې، نو له دې وروسـته د دوی باور وشـــو چې واقعاً د فارم ځناور لوی بریالیتوب ترلاســـه کړی دی.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوکسر اوکلوور د مړو ځناورو مړي په کراچۍ کې راکښل. ناپولن د کراچۍ څخه مخکې او نور ځناور د کراچۍ تر شاه روان وو. په جګړه کې مړه ځناور په ډېر درناوي خاورو ته وسپارل شو.

پوره دوه ورځې ((د لوی بریالیتوب)) جشن تجلیل شو. سندرې ویل کېدې، د خوګانو ویناوې روانې وې، پرله پسې ډزې کېدې هر ځناور ته یوه منه، هرې مرغۍ ته دوه انس غنم او هر سپي ته درې بسکټ ورکړل شول. دا جګړه د ((بادي ژرندې جګړه)) په نوم اعلان شوه. ناپولن د نوي ((شین بیرغ نښان)) د جوړولو امر وکړ. ډېر ژر دغه نښان جوړ شو. او ناپولن د ټولو ځناورو په نمایندګۍ دغه نوی نښان ځان ته ورکړ. په دې عمومي خوشالۍ کېد د جعلي لوټونو مسله بېخي هېره شوه.

څو ورځې وروسته خوګانو د جونز په یوه زېرخانه کې د وسکي شرابو لوی صندوق وموند. په دغه شپه د فارم د مېنې څخه په جګ اواز د سندرو غږ راغی. ټولو ځناور د خوګانو د خولې څخه ((د انګستان ځناورو)) د ترانې په اوربدو حیران شول. د سپوږمۍ شپه وه. ځناورو د شپې په نهه بجو ناپولن ولید چې د مېنې د شا دروازې نه راووت، هغه د مستر جونز یوه زړه شپو په سر کړې وه، د غولې چاپېره یې مندې ووهلې او بیا بېرته په دروازه ننوت. د دې شپې په سهار د فارم د مېنې د ننه بېخي چوپه چوپتیا وه او یو خوګ هم بیدیا په نظر رانغی. د سهار پوره نهه بجې وې چې سکیولر د مېنې بیدیا ولیدل شو. دی ډېر خفه راروان و، سترګو یې چغې نیولې وې، لکۍ یې د ځان پسې راکښله او د وضعې نه ډېر سخت ناروغ معلومېده. ده د فارم ځناور راټول کړل او هغوی ته یې په ژرغوني اواز وویل:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((((ملګرو! ما تاسو ته یو خطرناک خبر راوړی دی! زمونږ ستر لارښود ملګري ناپولن د ځنکدن په حالت کې دی!))

د دې خبر په اورېدو ځناورو ویر او انګولا شروع کړه. د فارم د مېنې د دروازې بیدیا بوس خپاره شول او د دې بوسو له پاسه ځناورو د پښو د ګوتو په څوکو ډېر په کرار تګ راتګ کاوه. د هر ځناور سترګې د اوښکو نه ډکې وې. یو ځناور به د بل ځناور څخه یوازې دا پوښتنه کوله: ((که زمونږ ستر لارښود م شو، نو مونږ به څه کوو.)) ډېر ژر داګونګوسی چې غدار سنوبال د ستر لارښود ملګري ناپولن په خوراک کې زهر اچولي دي، خپور شو. سکیولر پوره په یوولس بجو راووت او هغه بیدیا خفه ولاړ ځناورو ته یې وویأ:

((ملګرو! له دې دنیا نه د تلونکي ستر لارښود ملګري ناپولن وروستنی فرمان دا دی: ((که د فارم هر ځناور شراب وڅښل نو تاسو هغه ته د مرګ سزا ورکړئ.))

د مابنام خواوشا ناپولن لږ ښه شو. سکیولر سهار بې خوبه ځناورو ته د هغه د روغتیا زېرى وکړل. اوس ناپولن ببخي تکړه و او د شپې له خوا هغه په خپل کارونو پیل وکړ. د دوشنبې ورځ وه، ویمپر فارم ته راغی ځناورو واورېد چې ناپولن ویمپر ته به ویلنګډن کې د شرابو د تقطیر رهنما کتابونو د اخیستو فرمایش ورکړ.

یوه اوونۍ وروسته ناپولن دا امر وکړ: تاسو باغچې ته نږدې وړوکی مالځړ چې د تقاعد شویو ځناورو د مالځړ په نوم پرېښودل شویدی، ټول ایره کړئ، ځکه چې د دې مالځړ د وښو تخمونه ببخي زاه شوي دي او زه اوس غواړم چې تاسو په دغه مالځړ کې نوي او تازه تخمونه وکړئ: اما ډېر ژر ټولو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځناورو ته څرګنده شـوه چې ناپولن په دغه وړوکي مالځړکې د وښـو د تازه تخمونو پر ځای وربشې وکرلې.

یوه شپه غجیبه پېښه وشوه. د یو ځناور پرته نور ټول ځناور په دې شپه پوره پوه نه شول. د شپې په دولس بجو د لوی کودام د هغه دهوال څخه چې ((اوه احکام)) پرې لیکل شـوي وو، د یو شـي د ماتېدو لوی اواز تر غوږو شـو، د دې اواز پـه اورېدو ټول ځنـاور د خپلو غوجلو څخـه پـه منـډه راووتـل. د سپوږمۍ شپه ده. ځناور کوري چې د کودام د دهوال په ښېګې یوه زینه توټې توټې پرته ده. د دې ماتې زینې په خواکې سـکیولر خور وور بې سـده پروت دی. د ده ترځنګ یو لاتین، یو د رنګ برش او د سـپین رنګ یو نسـکور لوښی هم پراته دي. د سکیولر چاپېره سپې کړې ولاړ دي. کله چې سکیولر په سـد او د تګ وړ شـو، سـپیو دېر ژر هغه دکړۍ دننه د فارم مېنې ته بدرګه بوت. د زوړ بنجامین نه غیر نور ځناور د دې پېښـې په علت پوه نه شـول. زوړ بنجامین پوه شو، سر یې وښوروه، خو په خوله یې هېڅ ونه ویل.

تر دې پېښې څو ورځې وروسته موریل د ((اوه احکام)) دېول ته ودرېدله او هغې غوښـتل چې دغه احکام له سـره ولولي. موریل د احکامو په لوسـت پیل وکړ. دېر ژر ورته څرګنده شـوه چې د فارم ځناورو یو بل حکم هم غلط زده کړی دی. ځناورو پنځم حکم داسې زده کړی و چې ((هېڅ ځناور به شـراب نه څښـي.)) اما په دې حکم کې دوی دوه ټکي ښځي هېر کړي وو، په دهوال باندې لیکل شـوي اصـلي پنځم حکم داسې و چې ((هېڅ ځناور به - له حده زیات– شراب نه څښي.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم څپرکی

د بوسکر د چاودلي سوم د جوړېدو موده ډېره اوږده شوه، د بریالیتوب د تجلیل په سبا ځناورو د بادي ژرندې د بیا جوړېدو کار پیل کړ. بوکسر یوه ورځ د کار څخه غیر حاضري نه کوله او دا یې هم خپل سپکاوی ګانه چې نور ځناور دې د هغه د سوم په دردونو او تکلیف خبر شي.

((کلوور! دسوم دردونه ډېر تکلیف راکوي!)) بوکسر به هر مابنام کلوور ته پټ اعتراف کاوه. کلوور به ځینې بوټي په خوله کې ژویل، لېټې به یې ترښه جوړه کړه او هره شپه به یې د لېټې پتې د هغه په چاودلي سوم ایښودله.

((بوکسره! دومره سخت کار مه کوه. پام دې وي چې داسې ځیګر ډېره موده کار نه کوي. ((کلوور! او بنجامین دواړو به هره شپه وربانديې ټینګار کاوه. بوکسر به د دوی خبرو ته غوږ نه ایشود او په ځواب کې به یې ورته ویل:

((زه په ژوندکې یوه ارزو لرم. مخکې له دې چې تقاعد واخلم باید بادي ژرنده جوړه وویم.))

کله چې د ځناورو د فارم لومړني قوانین جوړ شول. دې قوانینو د خوګانو او اسونو د تقاعد عمر دولس کلونه، د غواوو لس کلونه، د سپیو نهه کلونه، د مېږو اوه کلونه او د چرګانو او بتو عمر پنځه کلونه وټاکل. قوانین د زوړ عمر تقاعد ته د ډېرې ځیرې حق ورکړی و اما په عمل کې تراوسه په ټول فارم کې نه یو ځناور تقاعدکړی و او نه د تقاعد ځیره ورکړل شوې وه. یو ځل بیا د تقاعد تاوده بحثونه شروع شول. کله چې د باغچې ترڅنګ د وړوکي مالڅر په وربشو وکرل شو، نو ډېر ژر داګونګوسی خپور شو، چې د لوی مالڅر د یوې څنډې نه کتارې تاوېږي او دغه څنډه د تقاعد شویو ځناورو د څر لپاره

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پربښودل کېږي. دا هم ویل کېدل چې د ژمي په موسم کې به تقاعد شوي اسونه د ورځې پنځه پاوه وربشې او پنځلس پاوه وچ وابنه ځیره اخلي او د عمومي رخصتیو په ورځ به یوه ګاډره او یو منه هم ورکول کېږي. بوکسر په راتلونکي دوبي کې دولس کلون کېده.

ژوند ډېر سخت و، دغه ژمی د تېر ژمي غوندې ډېر سور اما د تېر ژمي په تناسب په دې ژمي کې خواړه ډېر لږ وو، خوګانو او سپیو پرته د نورو ټولو ځناورو ځیره یو ځل بیا لږ شوه. سکیولر د ځیرې د لږوالي د ضرورت تشریح په ترڅ کې وویل:

((ملګرو! د ځیرې ټینګ مساوات ساتل او ټولو ځناورو ته مساوي ځیره ورکول ((د ځناورتوب)) د دې اصل چې هر ځناور ته به د هغه د استعداد او کار به مقابل کې ځیره ورکول کېږي، پر ضد عمل دی. زه هېڅکله نه غواړم چې د ځیرې لږوالي ته ((د لږوالي)) اصطلاح استعمال کړم، بلکې زه ((د ځناورتوب)) د واقعي اصولو د روحیې سره سم دې ته د شرایېو سره ((د ځیرې د سمون)) اصطلاح استعمالوم. تاسو ته به خوراک لږ ښکاري، خوکه تاسو خپل اوسني خواړه د جونز د دورې سره مقایسه کړئ، تاسو به راسره دا واقعیت حتماً ومنئ چې تاسو د هېڅ ډول خوراکي موادو قلت نه لرئ. برعکس په فارم کې اوس د خوراکي موادو تولید څو ځله پربمانه شوی دی.))

سکیولر د ارقامو کاغذ راوویست او په چغنده اواز یې ډېر چټک د ارقامو لیست لوست پیل کړ:

((ملګرو! اوس به یې درته د ارقامو تفصیل اثبات کړي چې تاسو د جونز د دورې په مقایسه پربمانه وربشې، پربمانه وابنه، او پربمانه ټیپر لرئ. اوس ستاسو دکار ساعتونه لږ دي، ستاسو د څښاک اوبه ښې دي، ستاسو عمر

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوږد شوی دی، ستاسو د ماشومانو مرینه لږه شوې ده. ستاسو په غوجلوکې بوس پرېمانه دي. غوجلې مو پاکې دي او اوس مو د پخوا شـــان ورږې هم نه په عذابوي. پخوا تاســـو د انســـانانو غلامان وئ او اوس خپلواکه او ازاده، زه درته د جونز او اوســـني وخت فرق په یوه جمله‌کې خلاصـــه‌کوم. د جونز د دورې ټول شیان خراب وو او د اوسنۍ دورې هر شی ښه دی.))

ډېرو ځناورو د سکیولر وینا په هر ټکي باور کاوه. د دې علت دا و چې اوس د ډېرو ځناورو د حافظې څخه په خپله جونز او د هغه د دورې هر څه هېر شـــوي وو. اوس هغوی ((د ځناورو فارم)) کې د اوســـبدو د تجربې په نتیجه کې یوازې په دې پوهېدل چې په دغه فارم‌کې دوی تل خوار، زار ژوند تېروه، تل وږي وو، تل یې ســـاړه کېدل او چې تر څو به ویښ وو، تر هغې به یې پرله پسې شاقه کارونه کول.

اوس په فارم‌کې د خوراک نورې نوې خولې هم پیدا شـــوې. د مني په موســـم کې څلورو خوګانو یو دېر بچي وزېږول، د ټولو بچو رنګ برګ و او په ټول فارم‌کې ناپولن یوازې برګ رنګه خوګ و. دا یوازینۍ نښـــه وه چې د برګ رنګه بچو څخه د هغوی اصـــلي پلار په خپله معلومېده. د یکشـــنبې په غونډه کې سکیولر په نوې اعلامیه کې وویل:

((ملګرو! د خوګانو د مخصوصې کمېټې په فیصله او د ستر لارښود ملګري ناپولن په منظورۍ د خښتو او لرګو د اخیستو وروسته د فارم د مېنې ترڅنګ ډېر ژر نوی مکتب جوړېږي. د مکتب د جوړېدو تر وخته پورې به ســـتر لارښـــود ملګری ناپولن په اشـــپزخانه‌کې د خوګانو بچو ته درس ورکوي. هره ورځ به دغه بچي د فارم په باغ کې ســـپورټ کوي. تر دې وروســـته ســـتاســـو بچي دا حق نه لري چې د خوګانو د بچو سره یوځای لوبې وکړي. همدا شان

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې تاسو په لارکې د خوک سره مخامخ کېږئ، تاسو مکلف یاست چې خوک ته د تېرېدو لومړنی حق ورکړئ. دې فیصـــلې ټولو خوګانو ته دا امتیاز هم ورکړی دی چې هغوی به د یکشنبې په ورځوکې د لکیو پورې شـنې پټی هم ترې.))

په دغه کال کې د فارم حاصل ښـه و، اما اوس د ژرندې د مشـینرۍ د اخیستو برسـېره د نوي مکتب خښـتو، شـګې او چونې د اخیسـتلو لپاره هم پیسـو ته اړتیا وه، سـکیولر د ژرندې د مشـینرۍ او د مکتب د لګښـت لپاره د عمومي سپما به اعلان کې وویل:

((ملګرو! مورږ د ستر لارښـود ملګري ناپولن د لمبې د تېلو، شـمعو، بورې او د سپیو د بکسـټ او د ژرندې او مکتب د نویو ودانیو سامان لکه د مېخونو، سیمانو، جالیو، اوسپنې، تارونو، خښـتو، شـګې او د چونې د اخیستو لپاره د پیسـو سـمپا ته اشـده اړتیا لرو. د پیسـو د لاس ته راوړلو لپاره د وچو وښـو یوه لویه کوټه او د کچالانو ډېره برخه خرڅه شـــوه او په نوي قراردادکې د یوې اوونۍ د ځلور سوه هګیو خرڅلاو شپږ سوه هګیو ته پورته شو.))

د سپما د کمپاین په نوم د دسمبر په میاشت کې لږه شوې ځیره په جنورۍ کې نوره هم لږه شـــوه. ســـره له دې چې خوګانو د مزو ژوندکاوه اما د خاورو د تېلو د ســـمپا په خاطر د نورو ځناورو په ټولو غوجلوکې د لاټین بلول منع شـــول. خوګانو ته هر ډول ارامتیاوې موجودې وې او د فارم هر خوک د یوې ورځې نه بلې ورځ ته څربېده. د فبروري په وروســـتیو ورځوکې ځناور ډېر وړې معلومېدل. یوه ورځ تر غرمې وروســـته د خوګانو په پوزه ډېر خوږ بوی ولګېد او د ټولو وړو ځناورو اشتها راوپارېدله. دغه خوږ بوی د جونز د شراب جوړولو د کارخانې څخه راته. د شراب جوړولو کارخانه د اشپزخانې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترځنګ وه او د جونز تر شړلو راهیسې دغه شرابخانه شاړه پرته وه. ((دا خو د وربشـــو بوی دی!)) یو ځناور نورو ته وویل، ټولو ځناورو دغه خوږ بوی ټینګ تنفس کړ او بیا یې یو بل ته په تعجب وویل: ((کېدی شـــي چې زموږ د مابنـــام د خوراک لپاره به څه خواړه خواړه تیار بوی مابنـــام راغی خو خواړه خواړه هیڅ معلوم نه شـــول. په راتلونکي یکشـــنبه کې دا اعلان چې تر دې وروسته به د فارم ټولې وربشي یوازې د خوګانو لپاره ساتل کېږي وشو. څو ورځې وروســته د فارم ټولو ځناورو ته څرګنده شــوه چې اوس هره شــپه هر خوک یو لیتر شــراب او ناپولن نیم ګیلن شــراب د ګرد نر په لوی کنډول کې څښي.

په بېکاره وخت کې ټول ځناور یوازې د ډېرو کنسـرتونو ویناګانو او مارشـونو پواسـطه مصـروف کېدل. د یوې یکشـنبې د سـهار په غونډه کې سـکیولر د خوګانو دا فیصله ولوسټله:

((ملګرو! د خوګانو د محصوصې کمپټې په فیصله او د ستر لارښود ملګري ناپولن په منظوری تر دې وروسته تاسو د فارم ټول ځناور مکلف یاست چې ((د ځناورو فارم)) د بریالیتوبونو او مبارزو د تجلیل په ویاړ په اوونۍ کې یو ځل ((خود بخودي مظاهري)) او پرتمین مارشـــونه)) وکړي. ((د پرتمین مارش)) په ټاکلي وخت کې به خپل ټول کارونه پرېږدي او د عسکرو غونډې به د فارم تر سـرحدونو پورې ((پرتمین مارش)) کوي. د مارش په سـر کې به ترومچي تور چرګ، ورپسـې به سـتر لارښـود ملګری ناپولن روان وي. د ده سـپي به خوګان، د خوګانو پسـط به اسـونه، د اسـونو پسـې به غواوې، غواوو پسـې به مېږې، مېږو پســط به چرګان او چرګانو پســې به نور ځناور د یو بل پســـط په منظم کتار ځي. ســـپي به د مارش په دواړو اړخونو کې روان وي. بوکسـر او کلوور به په مارش کې هغه شـین بیرغ چې د سـوم او نبکر سـمبول

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

وربانديې انځور شوی دی او ((ژوندی دې وي ستر لارښود ملګری ناپولن)) وربانديې لیکل شـوی دی، وړي. د مارش په بای‌کې به پرتمینه غونډه‌کېږي. په دې غونډه‌کې به لومړی هغه شعرونه چې د ستر لارښود ملګري ناپولن د لوړ مقام، نبوغ او سپېڅلي شخصیت په باره‌کې لیکل شوي دي، ویل‌کېږي او به پای‌کې به سـکیولر تاسـو ته د فارم د خوراکي موادو د ډېر تولید ارقام اوروي او د نویو مسایلو په باره‌کې به درته معلومات درکوي.))

د ټولو ځناورو په تناسـب د مېړو ((پرتمین مارش)) ډېر خوښ و. کله چې به ځناورو ولید چې خوګان او سپي نه شته، نو دوی به د مارش د ستړیا تر ډېره وخته، په سړو کې د ودرېدو او د وخت د ضایع‌کېدو څخه شکایت شروع کړ. مېړو چې به دغه شـکایتونه واورېدل هغوی به ډېر ژر ((ځلور بولي بنـه دي، دوه بولي خراب دي)) پـه رمبـاړو دغـه ځنـاور غلي کړل. ((پرتمین مارش)) ځناورو ته یوه ګټه رسـوله او هغه دا چې ځناورو د مارش په دوران کې د شعرونو، د ارقامو او د ډزو په اورېدو، د ترومچي تور چرګ په نندارې او د فارم د بیرغ د رپېدو په لیدو خپل تش نسوه او لوړه هېروله.

د اپریل د میاشـتې په لومړنۍ یکشـنبه د فارم ټول ځناور چې لوی‌ګودام ته راغلل او دننه په‌کتار ودرېدل له دې وروسـته ناپولن په ټولو تشـریفاتو چې تورمچي تور چرګ یې مخکې مارش‌کاوه، سـپیو تربنه چاپېره مندې وهلې او خوګان ورپسې وو، ک=ګودام ته رانغوت او ټول یوځای د ګودام اوچت ځای ته پورته شـول. په دې وخ ناپولن ((د ځناورو قهرمان لومړی درجه نښـان)) ((د ځناورو قهرمان دویمه درجه نښـان)) او ((د شـین بیرغ نښـان)) ځړولي وو. لومړی ترومچي تور چرګ د غونډې د پیل اذان وکړ، بیا ناپولن مخامخ ولاړ په ټولو ځناورو یو سرسري نظر واچاوه او ورپسې یې وویل:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((اوس زمونږ ((انقلاب)) خپل تکاملي پړاو ته رسېدلی دی. اوس ((د ځناورو فارم)) ((جمهوریت)) او ((جمهور رییس)) ته ضرورت لري. زه نن د ځناورو فارم د ((جمهوریت)) لپاره ((خپل ځان)) د جمهوري ریاست د کاندید په حیث اعلانوم.))

په ټول فارم کې یوازې ناپولن د جمهوري ریاست کاندید و، خوګانو په سونګهار او سپیو په غپا د هغه کاندیدېدل تائید کړل او په دې غونډه کې ناپولن د رایو په اتفاق ((د جمهور رییس)) په توګه وټاکل شو. په دغه ورځ ((د جمهور رییس)) د انتخاب د خوشالتیا په مارچ کې سکیولر وویل:

((ملګرو! اوس مونږ ته د جونز او سنوبال د ګډې دسیسې په باره کې نوي مفصل او مستند اسناد په لاس راغلي دي. دې اسناد مخکنی دا نظر چې سنوبال د جونز سره پټ ارتباط درلود او ((د غواوو څپړ)) په جګړه کې یې مونږ ته ماتې راکول غوښتل، بېخي غلط اثبات کړي دي. مستند اسناد وایي ((سنوبال د جونز په طرفداری د انسانانو په سر کې راغی او هغه د یرغلګرو اسنانانو د لیډر په صفت د دې شعار په ویلو چې ((ژوندی دې وي انسانیت)) د فارم د ځناورو پر ضد جګړه پیل کړه.))

((ملګرو! تاسو ته به د غدار سنوبال په ملا زخمونه یاد وي. دغه غدار زمونږ د غولولو لپاره د ځان پسې دا تبلیغ شروع کړ چې د هغه ملا د جونز د ټوپک په مرمیو زخمي شوې ده. اوسنیو مستن اسنادو په دغه دروغو پوره رڼا اچولې ده. ((د غواوو څپړ)) د جګړې د تفصیل په برخه کې داسې راغلي دي، ((کله چې سنوبال د انسانانو د مشر پحیث د فارم په ځناورو حمله پیل کړه. ((د ځناورتوب د اصولو او ((د ځناورو فارم)) واقعي محافظ ملګري ناپولن په ډېره زړورتیا د جنګ ډګر ته راغی او د راتګ سره ((زړور

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومندان)) ملګري ناپولن د سـنوبال په ملا وروډانګل. ملګري ناپولن د هغه ملا په خپلو تېرو غاښـونو داسې ټینګه ونیوله، چې سـنوبال د زخمونو له درد نه د جنګ میدان پرېښود او په تراټ وتښتېد.))

د دوبي په منځ کې د کلونو ورک کارغه موسـز ناڅاپه بیا فارم ته راغی. په موسـز کې هېڅ تغیر نه و رغلی. هغه د پخوا په شـان اوس هم ټک کار نه کاوه او ټوله ورځ به یې په یوه سـاه د نباتو د غر په باره کې خبرې کولې. دی به د ونې په ښـاخ ناسـت و، خپل تور ځانګونه به یې پرکول او په سـاعتونو به ګرېده. لومړی به یې په اوږده مښـوکه اسـمان ته اشـاره وکړه او بیا به داسې شروع شو: ((ملګرو! تاسو په اسمان کې دغه توره وریځ وینئ. بلکل د دغې وریځ اخوا ((د نباتو غر)) او د دې غر په سیمه کې د شوتلو تل شنه پټي او د دې پټیو چاپېره د کیک او نباتو ونې ولیدلې. یوازې دغه د خوشالۍ او ارامتیا ډکه سیمه ده. په دغه سیمه کې هېڅ کار او بیګار نه شته. کله چې موږ سترې او ستومانه ځناور مړه شو، زموږ د ټولو ارواح دغې سیمې ته ځي او یوازې په دغه سیمه کې ابدي ارام مومي.))

ډېرو ځناورو د موسـز په خبرو عقیده کوله. دې ځناورو په خپل استدلال کې ویل، ((په دې دنیا کې زموږ ژوند د لوړې او مشـقت څخه ډک دی. زموږ د ارواح د ابدي ارام لپاره چېرته داسې دنیا به حتماً وجود لري.))

د موسـز په برخه کې د خوګانو نظر او عمل معلومول ګران کار و. په ښـکاره به خوګانو د موسز څخه نفرت کاوه او تل به یې ځناورو ته ویل چې ((د نباتو غر)) د موسـز د دروغو د فابریکې اختراع ده اما له بلې خوا به خوګانو ډېر پټ ببکاره موسز ته پرېمانه ځیره او د ورځې یو لیتر شراب ورکول.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بوکسر سوم روغ شو او د سوم تر جوړېدو وروسته هغه لاپسې سخت کار شروع کړ. ځناورو ټول کال د غلامانو غوندې کار کاوه. د مارچ په میاشت کې د فارم د کرکیلې او د ژرندې د بیا جوړېدو د کارونو برسېره د خوګانو د بچو لپاره د مکتب د ودانۍ کار هم شروع شو. په وړې خټه پرله پسې کار کول د زغم وړ خبره نه وه، اما په ټوله موده کې یو ځناور هم دا و نه لید چې بوکسر دې ي د لوړې او یا د پرله پسې کار څخه شکایت کړی وي او یا دې بېکاره ناست وي. د بوکسر د خبرو او کار څخه دا نه څرګندېده چې هغه یا زوړ شوی دی او یا ورته د ځوانۍ پخوانی قوت نه دی پاتې. اوس د هغه د پوستکي مخکنۍ تازه ګي له منځه تللې وه او لوی ورنونه یې غونج بنکار کېدل. کله چې به نورو ځناورو د هغه دا حالت ولید، یو ځناور به بل ته ویل، ((که بوکسر د راتلونکي پسرلي شنه وابنه وخوړل، بیا به څورب شي.)) اما پسرلی راغی او بوکسر پربمانه شنه وابنه وخوړل خو بیا هم هېڅ څورب نه شو!

کله چې به بوکسر د تیږو دکان په مخ زوړ کې لوی پرښې ته اوږه ارم کړه، پښې به یې ربړدېدلې، د وجود نه به یې خوله څخېدله او اوس داسې معلومېده لکه چې بوکسر ته د ځوانۍ مخکنی قوت نه دی پاتې. د خپل وخت پهلوان او د کار قهرمان اوس یوازې د خپل ارادې قوت په طاقت کارونو ته دوام ورکاوه. د هغه جګ اواز ناست و، اوس چې به هغه لوی پرښې ته اوږه ارم کړه، د ده شوندې به رپیدې او د شوندو د رپېدو څخه به دا شعار چې ((زه به لاپسې سخت کار کوم.)) ایله معلومېده کلوور او بنجامین ورته بیا اخطار ورکړ:

((بوکسره! صحت لوی نعمت دی او ته د دې نعمت هېڅ پروا نه کوې!))

بوکسر وویل:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((زه څه موده وروسته دولس کلن کېږم. مخکې له دې چې تقاعد شم غواړم چې د ژرندې د بیا جوړېدو لپار د تیږو لویه ذخیره راټوله کړم او تر هغه وخته به ((زه لاپسې سخت کار کوم.)) د دوبي وروستنۍ شپې ورځې دي. یو مابنام ناڅاپه دا اوازه چې په بوکسر څه چل شوی دی، کډه شوه. په دغه مابنام هغه یوازې د تیږو کان ته تللی و. یوه شېبه وروسته دغه اوازه رښتیا شوه. دوه کوترې ډېرې چټکې راغلې او د فارم ځناورو ته یې دا اطلاع ورکړه:

((بوکسر غورځېدلی دی. په یو اړخ پروت دی او له ځایه نه شي پورته کېدلای!

د دې خبر په اوږدو د فارم نیم ځناور په یوه منډه د ژرندې غونډۍ ته ولاړل. ګوري چې بوکسر د کراچۍ د تایرونو ترمنځ پروت دی. اورمېږ یې اوږد غزولی دی او د سر د راپورته کولو توان نه لري. ځناور ترېنه چاپېر ودرېدل، ټولو ولید چې د بوکسر سترګې سپینې اوښتې دي، د ټول وجود نه یې خوله روانه ده او د خولې نه یې وینه لاندې په ځمکه ځاځکي ځاځکي څڅېږي. کلوور ورته په ګونډو شوه او په ډېره وارخطایۍ ترېنه پوښتنه وکړه: ((بوکسره! بوکسره! اوس څنګه یې؟))

((د ځیګر نه په تکلیف یم. پروا نه کوي باور لرم چې ته او بنجامین به بې له ما هم ژرنده سرته ورسوئ. ما درته د تیږو ذخیره راټوله کړې ده. ما اراده کړې وه چې په راتلونکي یوه میاشت کې د ژرندې د ودانۍ ټولې تیږې پوره کړم. که رښتیا درته ووایم زه اوس د تقاعد ارزو لرم. زما مګلرۍ بنجامین هم زوړ شوی دی او هغه به هم زما سره یوځای تقاعد واخلي او د تقاعد په دوره کې به یوځای څرېږو!)) بوکسر ورته په ډېر ضعف اواز وویل.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((بوکسر عاجلي مرستې ته اړتیا لري. یو ځناور دې په منډه ولاړ شي او سکیولر ته دې د پېښې اطلاع ورکړي!)) کلوور په وارخطایي ځناورو ته وویل: یوازې کلوور او بنجامین پاتې شول او نورو ټولو ځناورو د فارم مېنې ته منډه واخیسته. بنجامین د بوکسر ترځنګ پرېوت. په اوږده لکۍ ترېنه مچان شړل اما هېڅ خبرې یې نه کولې. پنځلس دقیقې وروسته سکیولر راورسېد او د بوکسر په حالت یې تشویش او همدردي ښکاره کړه. ویې ویل:

((ملګرو! زموږ ستر لارښود جمهور رییس ملګري ناپولن ته د فارم له ټولو نه وفادار کارګر ملګري بوکسر د دې بدې ورځې د خبر په اورېدو لویه صدمه ورسېدله. زموږ زړه سواندي مشرتابه تصمیم ونیو چې ملګري بوکسر د عاجلي تداوۍ لپاره ویلنګډن روغتون ته ولېږي.))

ځناور د دې خبر په اورېدو نا ارامه غوندې شول. تراوسه د مولي او سنوبال پرته بل هېڅ ځناور د فارم نه باهر نه و تللی هغوی نه غوښتل چې ناروغ ملګری دې د انسانانو روغتون ته ولاړ شي او انسانان دې د هغه درملنه وکړي. سکیولر د ځناورو نا ارامي احساس کړه او د ځناورو د قانع کېدو لپاره یې وویل: ((ملګرو! د ویلنګډن په روغتون کې یوه تکړه بېطار دی او دغه بېطار د جراحۍ اوږده تجربه لري. زموږ ستر لارښود جمهور رییس ملګری ناپولن غواړي چې ناروغ بوکسر دغه بیطار ته ولېږي. تاسو پوره باور وکړئ چې دغه بیطا به د ملګري بوکسر ډېر په زه پورې علاج وکړي.))

تقریباً نیم ساعت وروسته بوکسر لږ ښه شو. هغه په ډېر تکلیف په ښنو ودرېد او څو شېبې وروسته کوډ کوډ غوجل ته ولاړ. کلوور او بنجامین ورته په غوجل کې د بوسو پسته بستره جوړه کړه، تر دوو ورځو بوکسر په دغه

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بستره پروت و. خوګانو په يو صندوق کې دګلابي رنګه دوايي يو لوی بوتل پيداکړ او بوکسر ته يې ولېږه. کلوور د خوراک نه وروسته د ورځې دوه ځله دغه دوايي ورکوله. د شپې له خوا به کلوور او بنجامين د بوکسر ترڅنګ پراته وو. کلوور به ورسره خبرې کولې او بنجامين به ترېنه مچان شړل. په دويمه شپه بوکسر ورته وويل:

((تاسو زما په ناروغتيا مه خفه کېږئ، که له دې ناروغتيا ځخه روغ شوم، درې کلونه نور هم ژوندی پاتې کېږم. لکه چې مخکې مې درته ويلي دي، خپل تقاعد اخلم او راتلونکي درې کلونه د ملګري بنجامين سره يوځای د لوی مالځړ په ځنډه کې په ارام تېروم. فکر کوم چې دغه به زما د ژوند لومړنی فارغه وخت وي. په دې موده کې مطالعه او خپل ذهن ته انکشاف ورکول غواړم. ما تراوسه د الفبا ځخه ايله ځلور ټکي زده کړي دي، تصميم مې نيولی دی، چې پاتې ژوند د ټولې الفبا زده کړې ته وقف کړم.))

کله چې به کلوور او بنجامين د کار نه وزګار شول، هغوی به نېغ بوکسر ته راتلل. د درېيمې ورځې د غرمې پر وخت د بوکسر د وړلو لپاره يوه سر پټې کراچۍ راغله. په دغه ورځ ټول ځناور د تېپرو په للون بوخت وو او يو خوک ورته غمچينه په لاس د نګران په توګه ولاړ و، هغوی وليد چې بنجامين د فارم د ودانيو له خوا په يو تراټ راځغلي او په جګ اواز هنېږي. دا لومړی ځل و چې ځناورو بنجامين دومره هيجاني وليد! دا لومړی ځل و چې ځناورو د بنجامين چار نال ځغاسته وليدله. ټولو ورته حيران کتل. د رارسېدو سره بنجامين چيغه کړه.

((ژر راځئ! هله ډېر ژر راځئ! هغوی زمونږ نه بوکسر وړي)) هر ځومره چې نګران خوک چيغې ووهلې او د غمچينو ګوزارونه يې وکړل، ځناورو د خوک

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د له اجازې پرته د للون کار پرېښـــود او ټول په یوه منډه ودانیو ته راغلل. ګوري چې د ودانۍ په غولي کې یوه ســـر پټې کراچۍ دوه اســـونه یې راکاړي ولاړه ده او د کراچۍ په مخکې ســـیټ باندې یو چالاک کراچیوان چې لویه شـــپو یې په ســـر ده، ناســـت دی. ټول ځناور په منډه غوجل ته ولاړل. ګوري چې غوجل خالي دی. ټول بېرته راغلل او د کراچۍ چاپېر ودرېدل، ټولو په یو اواز چیغه کړه.

((بوکسره په مخه دې بنه شه! بوکسره! په مخه دې بنه شه! ((وا احمقانو! وا احمقانو! ایا تاســـو یې نه وینئ چې په کراچۍ څه لیکل شـــوي دي؟ ایا تاســـو ړانده یاست؟)) بنجامین د ځناورو چاپېره پورتهپورته دانګل، په خپلو وړوکو سومانو یې ځمکه کیندله او چیغې یې وهلې.

د بنجامین د چیغو په اوربدو ټول ځناور چوپ ودرېدل، موریل راوړاندې شـــوه، هغې لا د لیک لوســـت نه و شـــروع کړی چې بنجامین یوه خو پورې وهله او په خپله یې په کراچۍ لیکل شوي ټکي ((سایمند– د اسونو قصاب– د پوستکو، هډوکو او غوښو تجار– ویلنګډن)) په جګ اواز ولوست.))

((ایا تاســـو د دې لیک په مانا پوهېږئ؟ مانا یې بالکل واضـــح ده! دوی زموږ څخه بوکسر قصابخانې ته وړي!)) بنجامین چیغه کړه.

ټولو ځناورو د ډار چیغه پورته کړه! په دې وخت کې کراچیوان اســـونو ته غمچینه ورکړه. کراچۍ د غولي څخه د بیدیا پر لور حرکت پیل کړ. ځناور کراچۍ پسې روان وو او ټولو په جګ اواز یغې وهلې. کلوور له ټولو ځناورو نه مخکې شـــوه. د کراچۍ حرکت چټک شـــو او کلوور هم ورپســـې ګړندۍ شوه.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((بوکسره! بوکسره! واه بوکسره!)) هغې ورته چیغې وهلې. داسې معلومېده لکه چې بوکسر ځناور چیغې او شور واورېد. د هغه وربوز دکراچۍ تر شاه په وړوکې کړکۍ کې ځرګند شو.

((بوکسره! واه بوکسره! راووځه! چټک راووځه! دوی تا حلالولو ته وړي!)) کلوور او نورو ځناورو ورته په یوه اواز غږ وکړ. کراچۍ نوره هم چټکه شوه او ورو ورو د ځناورو او کراچۍ ترمنځ واټن زیاتېده، ځو شېبې وروسته د بوکسر مخ په کړکۍ کې پناه شو او د مخ د پناه کېدو سره جوخت دکراچۍ دننه د لغتو درب پیل شو. هغه کوښښ کاوه چې په لغتو کراچۍ ماته کړي او بیدیا ته راووځي. یو وخت داسې هم و چې بوکسر په ځو لغتو دغه کراچۍ لکه دکوکړ قوتي غوندې خیچ پیچ کړې وای، خو افسوس چې اوس بوکسر ته د ځوانۍ قوت نه و پاتې. ځو شېبې وروسته د لغتو اواز ورو ورو په کرار شو او بیا وا نه وربدل شو.

((ملګرو! واه ملګرو! ودرېږئ، خپل ځناور ورور مرګ ته مه وړئ!) مایوسه او نامیده ځناورو دکراچۍ اسونو ته عذر زاري شروع کړه. اما دغه احمق، وحشي او جاهل اسونو د دوی په عذر او زاري او یا په دې چې څه پېښه شوې ده، هېڅ پوه نه شول. اسونو غوږونه لک ونیول او لاپسې چټک شول. یو ځناور فکر وکړ چې دفارم لویه دروازه بنده کړي. دغه ځناور په منډه دروازې ته ولاړ او تر څو چې هغه دروازې ته رسېده کراچۍ د لوېې دروازې نه بیدیا پر لوی سړک روانه وه. تر دې وروسته بوکسر هېڅ ونه لیدل شو.

دري ورځې وروسته سکیولر راغی، د هغه د تنګو سترګو نه اوښکې روانې وې او په ژړغوني اواز یې ځناورو ته وویل:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ملګرو! په ډېره خواشـــینۍ اعلان کوم چې زمونږ وفادار او کارکړ ملګرۍ بوکسر د ویلنګډن په روغتون کې مړ شو. د روغتون نامتو تجربه کار جراح د ملګري بوکسـر په تداوۍ کې هر ډول کوښـښـونه وکړل، لاکن بریالی نه شـو. زه په خپله د بوکسـر ترځنګ حاضـر وم. د ملګري بوکسـر ځنکدن زما لپاره یوه داســـې زړه درډوونکې خاطره ده چې ما په خپل ژوند دغه شـــان زړه درډوونکې خاطره هېڅ نه درلوده!)) د دې جملې له ویلو ســره ســکیولر په سـلګو لاس پورې کړ. اواز یې ډډ شـو، په مخ یې اوښـکو لیکې جوړې کړې. هغه یوه شـېبه غلی ودرېد، مخکې ښـي پښـه یې راپورته کړه او د مخ اوښـکې یې پاکې کړې. تر دې وروسته خپلې وینا ته داسې دوام ورکړ:

((ملګرو! لکـه چې مخکې مې درتـه وویـل زه تر پـایـه د ملګري بوکســـر ترځنګ حاضـــر وم. ناروغتیا دغه قوي پهلوان دومره ضـــعیف کړی و، چې خبرې یې هم نه شـوې کولای. هغه راته په غوږ کې ډېر په ضـعیف اواز وویل:)) زمـا یواځینی خفګـان دا دی چې د ژرنـدې د جوړېـدو نـه مخکې مرم! ملګرو! مخ پر وړاندې ((انقلاب)) په خاطر! ژوندی دې وي د ځناورو فارم! ژوندی دې وي ستر لارښـود ملګرۍ ناپولن، ستر لارښـود ملګرۍ ناپولن تل رښـــتیا وایي.)) دا دي د ملګري بوکســـر وروســـتني الفاظ چې ما په خپلو غوږونو د هغه له خولې واورېدل.))

د ویان په دې برخه کې د ســکیولر وضــعې ناڅاپه تغې رومونډ هغه یوه شــېبه غلی ودرېد او مخکې له دې چې خبرو ته دوام ورکړي، هغه په تنګو ســترګو په ولاړ ځناورو باندې د شک ډک نظر وځغلاوه. د عادت سره سم یې خپله لکۍ ژر ژر تاووله راتاووله او یوه خوا او بله خوا یې په توپونو شروع وکړه او په قهرجنه لهجه یې ځناور داسې مخاطب کړل:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((زه د بوکسـر د وړلو په وخت کې د یو احمقانه ناوړه کونکسـي څخه هم خبر شـوم. ځینو بې عقله ځناورو چې په کراچۍ د اسـونو قصـاب...)) لیک ولوسـت دوی فوراً د دغه لیک څخه دا نتیجه واخیسـتله چې ګوندې بوکسـر قصـابخانې ته لېږل کېږي. ما تراوسـه دا باور نه درلود چې په دې فارم کې داسـي احق ځناور هم وجود لري! دغه بې عقله ځناورو تر اوسـه زمونږ زړه سـواندی او محبوب سـتر لارښـود جمهور رییس ملګری ناپولن نه دی پېژندلای.))

((ماته د بوکسـر د ناروغتیا او مرینې په باره کې هر څه په تفصـیل معلوم دي. د هغه په علاج زمونږ ستر لارښود جمهور رییس ملګري ناپولن دومره پیسې لګولي دي چې تاسـو یې تصـور هم نه شـئ کولای. که بیطار به د بوکسـر د علاج لپاره هر څومره قیمتي نسخه ولیکله، نو زمونږ زړه سواندي او محبوب لارښود به امر کاوه چې پیسو ته مه ګورئ او ژر دوا اخلئ. پر دې سربېره به یې تل په بیطار دا ټینګار کاوه چې د بوکسـر په علاج باندې خپله ټوله پوهه او انرژي پکار واچاوه.))

((دا احمقانو شـک له دې پیدا شـوی دی چې په کراچۍ باندې ((د اسـونو قصـاب...)) لیکل شوي و، دا یوه ساده موضع ده، ماته پوره معلومه ده چې دغه کراچۍ لومړی د یو قصـاب ملکیت و او څو ورځې مخکې دغه قصـاب خپله کراچۍ په بیطار خرڅه کړه. د روغتون بیطار تراوسـه د کراچۍ څخه دغه پخوانی لیک نه دی پاک کړی او یوازې د بیطار د سـهوې څخه دغه احمقانه شکوک پیدا شوي دي.))

د سکیولر د وینا په اوربدو ټول ځناور قانع شول او د هغوی ټول شکوک له منځه ولاړل. اوس دوی ته د پخوا غوندې د ملګري په مرینه دومره افسـوس

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خواشيني نه وه. اوس ټولو ځناورو فکر کاوه چې خوګانو د بوکسر علاج ته پوره توجه ورکړې ده او د دوی ملګری خوشاله مړ دی.

د راتلونکې یکشنبې د سهار غونډې ته ناپولن په خپله راغی او د بوکسر ستاینې د لنډې وینا په پای کې وویل:

((دا ممکنه نه وه چې د ملګري بوکسر مړی راوړو او دلته په فارم کې یې خاورو ته وسپارو. ما خوګانو ته امر کړی دی چې د فارم د ګلونو نه دې د ګلونو یوه لویه ګډۍ جوړه کړي او زما له خوا دې د بوکسر پر قبر کېږدي. خوګانو ته مې دا هم امر کړی دی چې څو ورځې وروسته دې د بوکسر په یاد یوه لویه مبلمستیا ترتیب کړي. زه خپله وینا د بوکسر د خوښې په دې دوو وجیزو چې ((زه به لاپسې سخت کار کوم.)) او ((ستر لارښود ملګری ناپولن تل رښتیا وایي.)) پای ته رسوم او زه پوره باور لرم چې د فارم ټول ځناور به دغه دوه وجیزې خپل شعار وګرځوي او ترپایه به په دې وجیزو تینګ عمل وکړي.))

د مبلمستیا په ټاکلې ورځ د ویلنګډن یو دوکاندار د لرګیو یو لوی صندوق په کراچۍ کې راوړ او د فارم په مېنه کې یې خوګانو ته ورکړ. په دغه شپه تر دولس بجو د خوګانو د اوسېدو د مېنې څخه په جګ اواز سندرې غال مغال او د شرابو د ګیلاسونو د جنګېدو شرنګار اورېدل کېده. د دې شپې په سبا تر غرمې پورې یو خوک په نظر رانغی. د غرمې نه مخکې په ټولو ځناورو کې داګونګسی خپور شو چې د یو نامعلوم ځای څخه خوګانو پیسې لاس ته راوړي دي او غواړي چې په دغه پیسو د وسکي شرابو یو بل لوی صندوق واخلي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم څپرکی

کلونه تېر شـــول، موســـمونه راغلل او لاړل. په دې موده کې د فارم لږعمره ځناور ټول مړه شـول! دکلوور، بنجامین، موسـز او یو شـمېر خوګانو پرته د فارم نورو ځناورو ته ((د انقلاب)) ترمخه پخوانی وخت هېڅ نه و په یاد.

موریل، بلوبل، ژیســـي او پنچر مړه وو. جونز د دې ســـیمې څخه یوې بلې سـیمې ته ولاړ او هلته یې په شـرابخانه کې سـکته وکړه. سـنوبال او بوکسـر تراوســـه یوازې هغوی ځناورو ته چې دوی یې پېژندل ورته په یاد وو. نورو ټولو ځناورو دوی نه پېژندل. اوس کلوور زړه وه. د پښـــو دبندونو په درد اخته وه او ســـترګو به یې تل چغې نیولې وې. تراوســـه یو ځناور تقاعد نه و کړی. د تقاعد د عمر څخه دکلوور دوه نور کلونه هم تېر شـــوي وو. هغه مخکې تاوده بحثونه چې دمالخړ یوه څنډه د تقاعد شـــویو ځناورو د مالخړ په حیث پرېښودل کېږي اوس ښځې نه اورېدل کېده. اوس ناپولن څلورویشت کلن د پوخ عمر خوک و. سکیولر دومره څورب شوی و چې په تنګو سترګو یې په ډېر مشکل شیان لیدل. په زوړ بنجامین کې هېڅ بدلون نه و راغلی، خو یوازې د وربوز ځینې ویښته یې سپین معلومېدل. د بوکسـر د مړینې راهیسې هغه تل خفه او غلی ګرځېده.

اوس د فارم د مخلوق شمېر زیات و. اما لکه څنګه چې په مخکنیو کلونو کې توقع کېده هومره نه وو زیات شوي. نویو زېږېدلو ځناورو ته اوس ((انقلاب)) په میراث پاتې محض یوه افسانه او عنعنه وه، ځینې داسې ځناور هم اخیستل شـوي وو چې فارم ته د راتګ ترمخه ((د ځناورو انقلاب)) د نوم ذکر قدرې هم نه اورېدلی. اوس فارم دکلوور برســـېره نور درې اســـونه درلودل. درې واړه د فارم مخلص، تکړه اوکاریګر ځناور وو. دوی ډېر ســـاده اما رښـــتیني

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګري ګډل کېدل. ترپایه په درې واړو کې دا اســتعداد پیدا نه شــو چې د ((بي)) نه مخکې نور ټکي دې زده کړي. خوګانو چې به ورته ((د انقلاب)) او ((د ځناورتوب)) د اصــولو په باره کې هر څه ویل، دوی به په پټو ســترګو منل. دوی د کلوور په خبرو پوره باور کاوه او د اولاد غوندې یې د کلوور درناوی کاوه. ایا دوی د کلوور په خبرو پوهېدل او که نه؟ دا ترپایه څرګنده نه شوه.

((مســټر پلنګیټن څخه دوه پټي په نغدو پیســوواخیســتل شــول او د فارم برخه شــوه. اوس فارم په منظم ډول پرمختګ کړی و او ژرنده هم په بریالیتوب سرته ورسېدله. فارم د زراعتي چارو د انکشاف لپاره د فصــل د رېبلو او د دانو د پاکولو ماشین واخیست. د وښو لوی ګودام او نورې ډول ډول ودانۍ جوړې شوې. ویمپر د سورلۍ بکۍ واخیسته. ترپایه ژرندې برق تولید نه کړ، اما فارم په ژرنده باندې د وړو کولو له لارې ډېرې پیســې وګټلې. کله چې ژرنده سرته ورسېدله، ځناورو د خوګانو د نګرانۍ د لاندې یوې بلې ژرندې په جوړېدو بوخت شــول. خوګانو به ســترو ستومانه ځناورو ته ویل: دا ژرنده ژر سرته ورسوئ، ستر لارښود، جمهور رییس، ملګري ناپولن تصمیم نیولی دی، چې په نوې ژرنده کې د برق د تولید ډاینمو نصب کړي.

دویمه ژرنده هم جوړه شوه. اما لکه څنګه چې سنوبال د ژرندې د ډاینمو د ګټورتوب په باره کې ځناورو ته تشــریح ورکړې وه او ځناورو د ډاینمو د نصــب کېدو وروســته په غوجلوکې د برق د رنا، د تودو او ســړو اوبو او د اوونۍ د دریو ورځو د کار خوبونه لیدل اوس په دغه شــیانو هېڅ خبرې نه کېدې. برعکس ناپولن دغه شان مفکوره ((د ځناورتوب)) د روحیې پر ضــد عمل باله. ناپولنن به ویل: ((واقعي خوشــالتیا د پرله پســې ســخت کار او د اقتصادي سمپا سره ارتباط لري.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فارم کې د خوراکي شـــيانو پربمانې وه. دغه پربمانې يوازې د خوګانو او سپيو قسمت و، شتمن فارم نورو ځناورو ته هيڅ ګټه ونه رسوله، بلکې ترپايه د دوی په قسمت کې د سخت کار او ولړې پرته بل هيڅ شی ونه ليدل شول. په فارم کې ډېرو خوګانو او ســـپيو ژوند کاوه، دوی هيڅ توليدي کارونه نه کول. د خوګانو کار د فارم د ځناورو نګرانې او د ســـپيو وظيفه د ځناورو ډارول و.

يو ځناور هم نه و ليدلې چې دوی دې په فارم کې خوراکي شـــيان توليدکړي وي او يا دې د ژرندو او د فارم د نورو ودانيو په کارکې عملي برخه اخيستې وي. دوی يوازې د نورو ځناورو د کار او زيار په برکت د توليد شـــوي خوراکي شـــيانو د خوړلو لپاره ډېره ښـــه اشـــتها درلوده او د فارم ټولې ښـــې ودانۍ يوازې د دوی د ساعت تېرۍ او د استراحت مرکزونه وو.

له بلې خوا ســـکيولر د خوګانو له خوا د فارم د نګرانۍ او تنظيم په صـــفت نه سترې کېده. د مثال په ټګه ده به نورو ځناورو ته ويل: ((که تاسو توليدکوئ، نو موږ خوګان د فارم د نګرانۍ او تنظيم لپاره دومره مهم کارونه کوو چې تاســـو ســـاده او ناپوه ځناور ددغه کارونو په اهميت نه پوهېږئ. تاســـو د فارم ((جسمي کارګران)) ياست او موږ ((ذهني کارګران)) موږ ستاسو په تناسب ډېر کار او ډېره انرژي خرڅوو. د ټولو خوګانو په نمايندګۍ زه خپل کار د مثال په توګه وړاندې کوم. تاســـو يې په خپله وينئ چې زما وظيفه او مســـوليت څومره درومند دی. زه هره ورځ راپورونه ليکم. د غوندو يادښـــتونه ثبتوم. وړانديزونـــه وړاندې کوم. ارقـــام راټولوم او بيـــا دغـــه ټول شـــيان پـــه خپلو مخصـــوصـــو دوســـيو کې ږدم. اوس تاســـو فکر وکړئ چې دا څومره درانده او مهم کارونه دي او داکارونه د فارم د هوســـا ژوند لپاره څومره زيات اهميت لري!))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو ځناورو ته د سکیولرکار ډېر ښه معلوم و. دوی په خپلو سترګو لیده چې هغه هره ورځ په سپینو کاغذونو څه لیکي او کله چې سپین کاغذونه تور کړي، بیا دغه کاغذونه پټ اور ته اچوي.

اوس ځناور په دې واقعیت ډېر ښه پوهېدل چې دوی تل وړي وو، په غوجلو کې په بوسو ویده کېدل، د ډنډ چټلې اوبه یې څښلې، په ژمي کې د یخنۍ او په دوبي کې د مچانو له لاسه سخت په تکلیف وو. کله به د فارم رړو ځناورو په خپلو حافظو زور اچاوه چې دا واقعیت ځانونو ته معلوم کړي، چې ایا ((د انقلاب)) د لومړنیو ورځو په تناسب د دوی ژوند ښه شوی او که لاپسې خراب شوی دی؟ حافظو ورسره هېڅ کومک نه کاوه. د ډېرو فکرونو باوجود د دوی سره یو داسې اساسي معیار وجود نه درلود چې د دغه معیار له مخې د پخواني او اوسني ژوند ترمنځ مقایسه وکړلای شي اوس یوازې د سکیولر د ارقامو لستونه د دوی معیار و او کله چې به سکیولر لستونه لوستل نو د ارقامو په زور به ده ثابتوله چې د جونز تر شړلو راهیسې د فارم په ټولو شیانو کې له حده زیات ډېروالی راغلی دی او د فارم ټول شیان له حده زیات ښه شوي دي.

د نورو ځناورو لپاره دا موضوع د حل وړ نه وه، د دې علت دا و چې د فارم ټول ځناور په سختو کارونو مصروف وو او په دغه شان مسایلو باندې دوی د فکر کولو لپاره وخت نه درلود، یوازې زور بنجامین به کله کله نورو ځناورو ته پټ ویل: په دې فارم کې ما د ټولو ځناورو نه ډېر ژوند تېر کړی دی.ما د خپل اوږد ژوند په دوران کې ډېرې تودې سړې لیدلې دي. زه د هر څه تجربه لرم. ماته د ژوند ټولې پېښې ښې یادې دي. زه په هر څه بوهېږم. زه ورته د ژوند د تجربې څخه وایم چې د فارم ژوند تر دې نه ښه کېږي او نه خرابېږي. د دې خراب ژوند نه به نور څه خراب شي. تاسو دا واقعیت ومنئ

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د دې فارم د ځناورو په ژوندکې لوړه، مشکلات، کار بیکار او نا امیدي نه بدلېدونکی قانون دی.))

د ټولو مشکلاتو باوجود ځناورو امید او حوصله له لاسه ور نه کړه، زړو ځناورو یوازې د تېرو خاطرو په یاد چې دوی لومړني ځناور وو چې د انسان پر ضد یې ((انقلاب)) وکړ، په ټوله سیمه کې یې د لومړي ځل لپاره ((د ځناورو)) فارم تاسیس کړ. ټول فارم د دوی په ملکیت کې راغی، د خپل فارم چارې په خپله چلوي او ((د خپل ازاد او مستقل فارم)) غړي دي افتخار کاوه. همدا شان ((د انقلاب)) نه وروسته زېرېدلو ځوانو ځناورو او فارم ته نویو راغلو ځناورو خپل فارم یوه معجزه ګڼله. کله چې به دوی د ټوپک ډزې واورېدې او د فارم د بیرغ رپا به یې ولیدله، نو د دوی زړونو به د ډېر غرور او افتخار څخه هوا وکړه. دوی به د مشرانو د قهرمانۍ، د جونز د شړلو اوه احکامو او د د هغو لویو جګړو په باره کې چې انسانانو ته یې پرله پسې ماتې ورکړې، خوندور بحثونه کول. دوی په دې زوړ خوب یا د زوړ میجر په دې وړاندوینې چې د ځمکې په سر د اوسېدونکي ټول انسانان حتماً له منځه تلونکي دي او تر دې وروسته ((د ځناورو جمهوریت)) حتماً راتلونکی دی، پخه عقیده درلوده. تلقین شویو ځناورو به یو بل ته ویل:

((هغه ورځ حتماً راتلونکي ده چې د ځناورو د ((جمهوریت)) خوب حتماً عملي جامه اغوندي! هېڅ قدرت د دې ((جمهوریت)) مخه نه شي نیولای. احتمال لري چې ((دغه ربښتینی او واقعي جمهوریت)) ژر را نه شي. یا اوسني ژوندي ځناور په خپل ژوندکې ((دغه جمهوریت)) په سترګو ونهګوري اما ((دغه راتلونکی جمهوریت)) حتماً راځي!))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

تراوسه د فارم ځناورو ته ((د انګلستان ځناورو)) ترانه یاده وه او دوی به دېره پته دغه ترانه یوځای او بل ځای زمزمه کوله، لاکن د فارم یو ځناور هم دا جرات نه درلود چې دغه ترانه د خوګانو او سپیو له ډاره په جګ اواز ووایي. بېچاره ځناور د ژوند په دېرو مشکلاوکې ښکېل شوي وو. د دوی د ژوند دېر امیدونه نیمګړي وو، خو د پرله پسې تلقین په وجه دوی ته دا شعور ورکړل شوی و، چې د فارم ځناور د نورو ځناورو غوندې نه دي او د نورو په تناسب دوی خپل ځانګړی هویت او ماهیت لري. دوی به تل د پرله پسې تلقیاتو له کبله ځانونو ته داسې قناعت ورکاوه:

((که موږ په خپل فارم کې وړې شیې ورځې تېروو، نو اوس دغه ولږه په ټولو ځناورو کې یو شان ده. پخوا خو به موږ یوازې د مستبد انسان خپته مړوله او په خپله به وړي وو. اوس موږ دغه ټول ګران کارونه د ځان لپاره کوو. زموږ په فارم کې یو ځناور هم په دوو پښو نه ګرځي. یو ځناور ته ((بادار)) نه وایې. بلکې اوس ټول ځناور مساوي دي.))

د دوبي په پیل کې یوه ورځ سکیولر د فارم ټولې مېږې د فارم په لرې څنده کې پروت د بوټو ځنګل ته بوتلې. دلته مېږو ټوله ورځ د سکیولر د نګرانۍ له لاندې په څر تېره کړه. په مابنام کې سکیولر د فارم مېنې ته راغی او مېږې هلته پاتې شوې. تر یوې اوونۍ ځناورو دغه مېږې په سترګو ونه لیدلې. که یو ځنور به د سکیولر څخه د مېږو په باره کې پوښتنه وکړه، نوهغه به ورته فوراً دا ځواب ورکاوه چې زه مېږو ته یوه نوې ترانه ورزده کوم او د ترانې د زده کړې لپاره هغوی ته د یو ځانله ځای ضرورت دی.

په یو ښکلي مابنام کې ځناورو د کار څخه د فارم د ودانیو پر لور راغلل چې په دې وخت کې د یوې اوونۍ وروسته مېږې هم راغلې. په دې وخت کې د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ترهبډلي اس د شـنبډو اواز د فارم د مېنې له غولي څخه واورېدل شـو. د دې اواز په اورېدو ټول ځناور تر یوې شـېبې په لاره کې ودرېدل. دا د کلوور اواز و، هغه بیا وشنېدله، ټول ځناور په یو تراټ غولي ته رانوتل او هغه نداره یې په خپله وکړه څه چې هغې مخکې لیدلي و.

یو خوک په دوو پښـو ولاړ په غولي کې روان و. دغه خوک سـکیولر و. دی اوس ډېر څورب شـوی و او ډېر په سـختۍ په دوو پښـو په لار تللو. د څوربتوب له کبله ورته د وجود موازنه سـاتل ګران و، خو سـره له دې هم د غولي د یوې څنډې نه بلې څنډې ته یې ورو ورو ځان ورسـاوه. یوه شـېبه وروسته د فارم د مېنې له دروازې څخه په دوو پښو روان د خوګانو اوږدکتار راووت. ځینې خوګان د ځینو په تناسـب ښـه مزل کاوه. یو یا دوه خوګان ډېر شـوار او نامنظم روان وو. داسې څرګندېدله لکه چې دوی د تګ لپاره امسا ته اړتیا درلوده. ټول خوګان په پوره بریالیتوب د غولي چاپېره وګرځېدل راوګرځېدل. په پای کې د سپیو غړمېدل او د تور چرګ اذان تر غوږ شو. په دې وخت کې ناپولن په ډېره لویه دبدبه بېخي په دوو پښـو نېغ ولاړ له دروازې څخه راووت. د مخکنۍ ښـې پښـې په پنجه کې غمچینه نیولې وه، یوه او بله خوا یې په ډېرغرور کتل او ددې محافظ سـپیو ترښـه چاپېره د خوشالتیا ټوپونه وهل.

حیران، ډار شـویو او یو بل ته جوخت ولاړ ځناورو چوپ چاپ د غولي چاپېره د خوګانو دکتار مارش نداره کوله. ځناورو ته د خوګانو په دوو پښـو تګ دومره لویه صدمه ورسوله، لکه چې ځمکه وربانديې په په بل مخ اوښتي وي. او یا اسـمان ددوی په سـرونو راپرېوتی وي. سـره له دې چې د اوږدو کلونو په دوران کې ځناور په دې تلقین شـویو چې هېڅکله به شـکایت نه کوي، په هېڅشي به تنقید نه کوي او د سپیو څخه هم ډېر زیات ډارېدل، خو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هم دوی د خوګانو په دوو پښــو تګ باندې احتجاج شــروع کړ. دوی د احتجاج اواز پورته کاوه چې ســکیولر مېړو ته اشــاره وکړه او د دې اشــارې سره سم دلاســه ټولو مېړو یوځای په ډېر اوچت اواز ((ځلور بولي ښــه دي، دوه بولي لا ښــه دي، ځلور بولي ښــه دي، دوه بولي لا ښــه دي.)) رمبارې شــروع کړې. د دوی رمبارو پوره پنځه دقیقې دوام وکړ او کله چې د دوی رمبارې غلې شــوې په دې دوران کې خوګان د فارم مېنې ته ببرته ننوتل. دا ځل هم ځناورو د خوګانو پر ضد احتجاج موقع له لاسه ورکړه.

یو ځناور د زور بنجامین په څټ پوزه وسولوله. ده مخ راوګرځاوه ګوري چې کلوور د هغه ترڅنګ ولاړه ده. هغې چوپ چاپ د بنجامین د څټ ویښــته راکش کړل او په کرار یې د لوی ګودام په طرف بوته. د دې ګودام په دېوال ((اوه احکام)) کښــل شــوي وو. دوی دلته درې دقیقې ودرېدل او په قیر دېوال لیکل شویو سپینو تکو ته یې په ځیر کتل.

((بنجامینه! زما د سترګو نظر ډېر ضعیف شوی دی، په ځوانۍ کې هم ما دغه لیک نه شو لوستلای، ماته خو داسې څرګندېږي لکه چې د دېوال په شکل او لیک کې ډېر زیات بدلون راغلی دی. ایا دا هم هغه ((اوه احکام)) دي، کوم چې د ((بغاوت)) نه وروسته سم د لاسه ولیکل شول؟)) کلوور وویل:

دا لومړی ځل دی چې بنجامین د خپل ژوند اصــول ماتوي او کلوور ته په دېوال لیک لولي. اوس په ټول دېوال باندې د ((یو حکم)) پرته بل هېڅ شــی نه و، دغه یو حکم دا و:

((ټول ځناور مســاوي دي، خو ځینې ځناور د نورو ځناورو نه ډېر مســاوي دي.))

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې وروسته تلقین شویو ځناورو ته هیڅ شی د تعجب او حیرانتیا ور نه ښکاره کېده.

دوی د دغې شېې په سبا په خپلو سترګو ولیدل چې د فارم نګران خوګان په دوو پښو ولاړ دي او د بنې پښې په پنجوکې يې غمچپنې نیولي دي، دوی هیڅ تعجب ونه کړ!

ځناورو ته معلومه شوه چې خوګانو یوازې د خپل ځان لپاره يې سیم اخیستی دی او یو تلیفون يې نصب کړی دی او د فارم ټولو خوګانو په مجلو او ورځپاڼو کې ګډون هم کړی دی! په دې هم دوی حیرانتیا ونه ښودله!

دوی په خپلو سترګو ولیدل چې ناپولن پایپ په خوله د فارم دمپنې په باغ کې چکر وهي! دوی په خپلو سترګو دا هم ولیدل چې خوګانو د مستر جونز د الماری څخه جامې راوویستلې او ټولو دغه جامې واغوستلې، دوی ورته کتل چې ناپولن د جونز تور بالاپوش واغوست او د هغه د څرمن پتاوې يې وترلې! دوی دا هم ولیدل چې د ناپولن معشوقې او ګرانې خوکې د مېرمن جونز ورښمینې ښکلې جامې اغوستې دي او د خپل عاشق سره لاس په لاس چکر وهي! په دې هم دوی هیڅ تعقب ونه کړ.

یوه اوونۍ وروسته په مانښام کې یو شمېر بکۍ فارم ته راغلې. ناپولن خواوشا د ګاونډیو زمینداړو یوې ډلې ته د فارم د معاینې بلنه ورکړې وه. راغلې ډله په ټول فارم کې وګرځېده، خوګانو ورته د فارم ټول شیان وښودل او دوی له ډېرې مودې وروسته د فارم دننه ټول شیان په خپلو سترګو ولیدل. دوی د فارم د هرش ي او مخصوصاً د بادي ژرندې له حده زیاته ستاینه وکړه. په دې شپه ځناورو د سپورمۍ په رنا کې د تیېرو په پتیو کې للوند کاوه. دوی په خپل کار سخت بوخت وو او ترپایه يې د ځمکې نه سرونه راپورته نه کړل. د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې په علت هېڅوک پوه نه شول چې ځناور د خوګانو څخه وډار شول اوکه د راغلو انسانانو څخه.

راغلې مېلمانه د فارم مېنې ته راغلل. کله چې ځناورو د مېنې ترځنګ تېرېدل د خندا او سندرو اوازونه د دوی تر غوږ شول. دوی د باغ په لویه دروازه کې غلي ودرېدل. یو ځناور هم مېنې ته د ننوتلو جرات نه کاوه. کلوور رامخکې شوه، نورو ځناورو هم جرات پیداکړ. دوی چوپ چاپ او د پښو په څوکو دمېنې کړکیو ته راغلل. ګوري چې د مېنې په سالون کې یو لوی ګرد مېز پروت دی او دا لومړی ځل دی چې شپږ انسانان او شپږ نامتو خوګان په مساوي ډول په څوکیو ارام ناست دي او ناپولن د مېز سر ته ځای نیولی دی. د انسانانو او خوګانو ترمنځ قطعه بازي روانه ده او داړه ډلې د قطعه بازې څخه ډېر خوند اخلي.

دوی دش رابو د څښلو او د یو بل په سلامتۍ د جامونو د پورته کولو په خاطر قطعه بازي پرېښوده. د شرابو ډکه صراحي لاس په لاس ګرځېده او د مېز په سر پراته لوی جامونه ډکېدل او تشېدل. بیدیا ولاړ ځناورو د کړکیو څخه دننه په ځیر ځیر کتل او د دوی په مخونو د تعجب او حیرانتیا نښې اوچتې معلومېدلې. له بلې خوا دننه ناست مست خوګان او انسانان دومره نشه وو چې دوی تر پایه په بیدیا ولاړ یو ځناور هم ونه لیده. د شرابو ډک لوی ګیلاس په لاس د فوکسووډ فارم څښتن له څوکۍ راپورته شو او ویې ویل:

((زه د درنو حاضرینو څخه هیله کوم چې د حاضر مجلس په سر سلامتۍ جامونه پورته کړي او دا هم خپل فرض ګڼم چې د درنو حاضرینو په اجازه یو څو ټکي عرض کړم.))

((ښاغلو خوګانو! دا زما او د راغلو مېلمنو لپاره د ډېرې خوشالۍ ځای دی چې د نن نه زمونږ د انسانانو او خوګانو ترمنځ د بې اعتمادۍ د غلط فهمۍ اوږده موده پای ته ورسېدله. زه درته رښتیا وایم ما او راغلو نورو مېلمنو د

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوګانو پر ضـد د مخالفت او دوښـمنۍ هیڅ ډول احسـاس نه درلود، لاکن د دې فارم ځینو ګاونډیو انسـانانو د دې فارم د درنو ځناورو ښـه سـلوک ته د اشتباه په نظر کتل. په ټبره موده کې ځینې بدمرغه پیښې شوې دي چې د دغو پیښـو په نتیجه کې انسانانو د ځناورو په برخه کې ځینې غلطې مفکورې خپلې کړې. مورِ انسـانانو دا احسـاس کاوه چې دا فارم چې سـتاسـو د ټولو ځناورو ملکیت دی او ښاغلي خوګان د دې فارم چارې چلوي، شاید چې په ګاونډیو فارمونو کې ګډوډي پیدا کړي او دا ګډوډي د فارمونو په ځناورو ناوړه غیر طبیعي اغیزه وکړي. په دې برخه کې انســـانانو پوره تحقیق ونه کړ او غیر له کوم ثبوت څخه ډېرو زمینـدارو دا فکر کاوه چې ((د ځناورو فارم)) کې هر ډول بد اخلاقي او بې ډسـپلیني روانه ده او د ګاونډیو فارمونو خاوندانو د خپلو فارمونو په ځناورو او نوکر انســـانانو باندې د دې بداخلاقۍ او بې ډسـپلینۍ د ناوړه اغیزې څخه ډېره وېره ښـودله. دوی واقعاً وارخطا وو. اما اوس دغه ټول شکونه بېخي له منځه ولاړل.))

((درنو خوګانو! نن ما او زما ملګرو سـتاسـو ((د ځناورو فارم)) لوښـت لوښـت په خپلو سـترګو ولید. مورِ سـتاسـو په فارم کې بېخی نوي معاصـر میتودونه، مطلق ډسپلین او هر اړخیزه ښه تنظیم ولید او زه پوره باور لرم چې مورِ انسانان به ستاسو د مثالي فارم څخه ډېر شیان تقلید کړو. د مثال په توګه سـتاسـو په فارم کې ((کښـته طبقه)) ځناور له حده زیات کارکوي او د دې سـیمې د نورو فارمونو د ځناورو په تناسـب ډېره لږه ځیره اخلي او ډېر لږ خواړه خوري. برعکس زمورِ د فارمونو ځناور ډېر لږ کارکوي او ډېره ځیره اخلي او وله ورځ چټي په خوړلو تېروي، دغه شان نن ما او زما ملګرو ستاسو د فارم نور ډېر ښـه خصـوصـیات ولید او د نن نه مورِ اراده لرو چې دغه ډول ښه شیان ډېر ژر په خپلو فارمونو کې رواج کړو.))

((ګرانو خوګانو! زه یو ځل بیا په دې واقعیت ټینګار کوم چې ((د ځناورو فارم)) او د ګاونډیو فارمونو ترمنځ د دوستۍ او مینې احساسات په اینده کې

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم باید ژوندي وساتو. زما په عقیده د خوګانو او انسانانو دګټو ترمنځ تضاد او اختلاف وجود نه درلود او نه په اینده کې دغه شـــان بېځایه اختلاف ضـــرورت لري. زه پوره باور لرم چې د خوګانو او د ګاونډیو فارمونو د خاوندانو هلې ځلې او مشـکلات یو شـان دي. د مثال په توګه ایا د دې فارم او د نورو فارمونو دکارکشاله یو شان نه ده؟))

د وینا په دې برخه کې داســې څرګنده شــوه لکه چې مســتر ویلنیګټن په ډېر احتیاط د مخکې نه جوړې څه ټوکې کول غواړي، اما په دې وخت کې ډېر نشه و. څو ځله د هغه ژبه بنده رابنده شوه، تر یوې شېبې وروسته هغه خپله ټوکه داسې پیل کړه:

((ګرانو خوګانو! ما په خپلو ســترګو ولید چې ســتاســو په فارم کې ((دکښــته طبقې)) ځناور هېڅ ډول نازولتوب او امتیاز نه لري. زه تاســو درندو خوګانو ته د دې مبارکي درکوم چې تاسـو ((دکښـته طبقې)) په ځناورو ډېر ســاعتونه کارکوئ او په مقابل کې لږه ځیره ورکوئ. نوکه تاسـو دکښـته طبقې ځناورو پر ضد دغه شان مبارزه کولای شئ، نو بیا خو مورږ ته هم د خپلو فارمونو دننه دکښته طبقې د ځناورو او انسانانو پر ضد د مبارزې حق ته قایله شي.))

((ډېرو ښاغلیو! لطفاً ودرېږئ خپل ګیلاسونه ډک کړئ او ماسره د ناپولن د صــحت او ((د ځناورو فارم)) د بریالیتوب او نېکمرغۍ په شــعار کې ملګرتیا وکړئ!))

د ویلنیګټن د وینا په پای کې به زوره چک چکې او د خوشــالۍ چیغې ووهل شوې. ناپولن ډېر خوشاله شو. هغه له ډېرې خوشالۍ راپورته شو. ویلنیګټن یې ډېر کلک په غېږ کې ونیو او خپل ګیلاس یې ورسره په زوره وجنګاوه. کله چې چک چکې او چیغې غلې شوې ناپولن بالکل نېغ په دوو پښو ودرېد او د غوندې نه یې د خبرو اجازه واخیســتله. د ناپولن د ټولو ویناګانو غوندې دا وینا هم ډېره لنده او پر ځای وه:

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

((بنـاغلیو مېلمنو! زه او زما ملګري خوګان ډېر خوشـاله یو چې نن زمونږ او ستاسو ترمنځ د غلط فهمۍ دوره پای ته ورسېدله. مونږ خوګان په دې خبر یو چې له ډېرې مودې راهیسـې ځینو خطرناکو دښـمنانو د ځناورو او انسـانانو ترمنځ د مخالفت او غلط فهمۍ د راپیداکولو په لاره کې ډېر کار کاوه. دې خطرناکو دښـمنانو به سـتاسـو په فارمونو کې مونږ پسـې تل دا پروپاګنده کوله چې ګوندې زه او زما ملګري خوګان دا اراده لرو چې د انسـانانو په فارمونو کې ځناور د انسـانانو پر ضـد ((بغاوت)) ته ولمسـوو او په دغه فارمونو کې تخریب وکړو. او ((انقلاب)) ته لار جوړه کړو. زه ورته ښـتیا وایم چې د دښمنانو دغه شان پروپاګنډې هېڅ حقیقت نه لري! بلکه زمونږ واقعي ارزو دا وه. ده او دوی به چې د خپلو ګاونډیو انسـانانو سـره په سـوله ژوند وکړو. د یو بل په چاروکې هېڅ ډول مداخله ونه کړو او د دې فارم او د انسـانانو د فارمونو ترمنځ تجارتي روابط ډېر ټینګ وسـاتو. دا فارم چې زه یې دکنترول افتخار لرم په واقعیت کې یوه ((تجارتي پروژه)) ده او دا پروژه د خوګانو د ډله ییز لیدر شپ پواسطه اداره کېږي.))

((درنو مېلمنو! زه پخـه عقیـده لرم چې د نن نـه د خوګـانو او د ګـاونـډیو فارمونو د خاونداتو ترمنځ ټول پخواني شـــکونه ببڅي له منځه ولاړل. د خوګانو ډله ییز لیدرشـــپ د فارم په ورځني او عادي مســـلوکې بدلون راوســـتلای دی او زه پوره باور لرم چې دغه بدلون به د ځناورو او انســـانانو ترمنځ زیات اعتماد ته ډېره وده ورکړي. تراوسـه د دې فارم ځناورو یو بل ته د ((ملګري)) خطاب کاوه او زمونږ په نظر دا یو احمقانه رواج و. زما په امر دغه رواج ختم شـو. په دې فارم کې یو بل عجیبه احمقانه رواج هم و. د باغ دننه د یوې ستنې پورې د یو خوک کوپرۍ مېخ شوې وه، د هرې یکشنبې په سهار به د فارم ټولو ځناورو د دغه خوک ترکوپرۍ مارش کاوه. د دې رواج منشـا تراوسـه راته معلوم نه شـوه. زما په امر دغه کوپرۍ ښـخه شـونه او دغه رواج مې هم له منځه یوړ. تاســو د فارم په جنډو رپانده شــین بیرغ په خپلو

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګو ولید. مخکې په دغه بیرغ په سپین رنګ د ځناورو سوم او ښکر رسم شوي وو. زما په امر دغه رسم پاک شو او تر دې وروسته به دغه بیرغ یوازې ساده شین رنګ لري او بس.))

((ګرانو مېلمنو! مستر ویلنیګټن د انسانانو او ځناورو ترمنځ د ښه ګاونډیتوب په برخه کې ډېره اعلی وینا وکړه. خو زه د ده په وینا باندې یوازې یو تنقید لرم. دغه تنقید دا دی چې مستر ویلنیګټن د خپلې وینا په دوران کې څو ځله زمونږ فارم ته ((د ځناورو فارم)) په نوم اشاره وکړه. فکر کوم چې دی تراوسه په دې نه دی خبر چې ما د فارم نوم بدل کړی دی. یو ځل بیا ستاسو د ټولو د خبرتیا لپاره اعلان کوم چې ((د ځناورو فارم)) نوم له منځه تللی دی او اوس د دې فارم نوم ((مانور فارم)) دی. د ازمونږ د فارم سم او اصلي نوم دی.))

((ډېرو ښاغلیو انسانانو! خپل ګیلاسونه تر خولې ډک کړي. زما سره په دې شعار کې - بریالي او خوشاله دې وي د مانور فارم!- برخه واخلي.))

د ناپولن د وینا په پای کې څو دقیقې چک چکې، چیغې او په پښو باندې د ځمکې دربول روان وو او د شرابو ډک لوی ګیلاسونه تر وروستني څاڅکي پورې وڅښل شول. څو ځله ګیلاسونه ډک او تش شول. خوګان او ځناور دومره نشه شول چې ځینو ته یو مخ پنځه مخونه، ځینو ته یو مخ څلور مخونه او ځینو ته یو مخ درې مخونه ښکاره کېدل. باهر ولاړ ځناورو دې صحنې ته په ځیر ځیر کتل. کله چې د انسانانو او خوګانو چک چکې او چیغې غلې شوې، راغلو مېلمنو او خوګانو بیا قطعه بازي شروع کړه.

بیدیا ولاړ ځناور ډېر غلي باهر ته روان شول. دوی لا شل قدمه نه وو تللي چې د فارم د مېنې نه ځوږ راپورته شو. د شور په اوربدو ځناور ځای پر ځای ودربدل. دوی ببرته رامنډه کړه او بیا کړکیو ته ودربدل ګوري چې د خوګانو او انسانانو ترمنځ سختې ناندرې روانې دي. په زوره چیغې وهل کېږي، مېزونه ډبول کېږي، یو بل ته د شک په نظر شان شوي وو! باهر ولاړ مخلوق

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

به کله خوک او کله انســـان او کله انســـان او کله خوک ته کتل راکتل! اوس ځناورو ته د خوک او انسان ترمنځ فرق کول ګران ښکاره کېدل.

zia_2zia@yahoo.com

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروفیسور رسول امین

پروفیسور رسول امین پر (۱۹۳۹ م) کال دکونړ ولایت په وټه پور ولسوالۍ کې د محمد امین خان په کور کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې په افغانستان کې ترسره کړې دي. د منځنيو او لوړو زده کړو لپاره پر (۱۳۳٤ل) کال پېښور ته ولاړ، هلته يې يو کال د انګرېزي او اردو ژبې لپاره او بيا د منځنيو زده کړو لپاره په فارورډ ښوونځي او کالج کې شامل شو. پر (۱۹٦۰م) کال له همدې ښوونځي او کالج څخه فارغ او د لوړو زده کړو لپاره د پېښور په اسلامیه کالج کې شامل شو. پر (۱۹٦٦م) کال يې د ماسټرۍ سند ترلاسه کړ او بېرته کابل ته راستون شو.



کابل ته په راستنېدو يې د پښتو ټولنې غړيتوب ترلاسه کړ او د دې ترڅنګ د کابل پوهنتون په ادبياتو او بشري علومو پوهنځي کې د اجتماعي علومو د استاد په توګه وټاکل شو.

پروفیسور امین پر (۱۳۵۸ل) کال کې د وخت د رژيم د مخالفت له کبله زندان ته ولېږدول شو او له زندانه تر خلاصېدو وروسته پر افغانستان باندې د سرو لښکرو له راتګ سره سم بېرته پېښور ته کډه شو. پروفیسور امین له (۱۹۸۰م) کال څخه تر (۱۹۸۵م) کال پورې په پېښور کې د اسلامي محاذ په تنظيم او افغان اطلاعاتي مرکز کې کار کاوه او پر (۱۹۸۵م) کال د ده او يو شمېر نورو افغانانو له خوا (د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه) يا (وفا) رامنځته کړه او پروفیسور رسول امین د دې ټولنې د رييس په توګه وټاکل شو. وروسته

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاده ټولنه د افغانستان د مطالعاتو پر مرکز بدله شوه، چې بیا یې هم پروفیسور امین مشـــري کوله. رســـول امین د کډوالۍ پر مهال یو لږ ملي او نړیوال ســـیمینارونه جوړ کړل او د (خپلواکۍ) په نوم مجله، د (وفا) په نوم اخبار او افغان جریدې په نامه جریده چاپ او خپاره کړل، د دې ترڅنګ یې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا په سلګونو کتابونه هم چاپ او خپاره کړل. پروفیسور امین د افغانستان د مسالې په اړه په ډیرو ملي او نړیوالو سیمینارونو کې ګډون کړی دی، چې د هغې په ترڅ کې د امریکا متحده ایالاتو، انګلستان، فرانســه، المان، مرکزي اسیا، ډنمارک، هالنډ، بلجیم، ســویس، یونان، ایټالیا، ناروې، مصـــر او نورو هېوادونو ته ســـفرونه کړي دي. کله چې په روم کې افغانان د افغانســتان د مســالې په اړه ســره راټول شــول، نو رســول امین یې د مخکښـــانو له ډلې څخه و، چې بیا د بن کنفرانس تر پرېکړې وروســـته په افغانستان کې لنډمهاله اداره رامنځته شوه، نو پروفیسور امین د همدې اداري د پوهنې وزیر په توګه وټاکل شو. د پروفیسور رسول امین یو شمېر خپل او له نورو ژبو څخه ژباړل شــوي اثار هم چاپ شــوي دي، یوه مهمه رســاله یې (افغانســـتان تر یو خطرناک پېچومي تېرېږي) په نوم هم چاپ شـــوې ده. پروفیسور رسول امین د لنډمهالې اداري تر شپږ میاشتني وزارت وروسته د افغانســتان د مطالعاتو مرکز د رییس په توګه خپله موســســه پر مخ وړله او له دې لارې یې د خپلو افغانانو خدمت کاوه.

پروفیسور رسول امین د (۲۰۰۹م) کال د اکتوبر میاشتې پر (۳۱)مه نېټه د اســترالیا په میلبورن ښــار کې د ورپېښــې ناروغۍ له امله له دې نیمګړې دنیا څخه د تل لپاره سترګې پټې کړې. روح یې ښاد.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پروفیسور رسول امین کورنۍ

(لنډه پېژندنه)

مرحوم غازي محمد امین خان

(د پروفیسور رسول امین پلار)

مرحوم غازي محمد امین خان د مرحوم نورمحمد خان زوی، چې له نن څخه (۱۱۲) کاله مخکې د کوزې پښتونخوا په باجوړ سیمه کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي. د ماشومالي دوره یې په باجوړ کې تېره کړه، وروسته له خپلې کورنۍ سره کونړ ته راغی او په وته پور ولسوالۍ کې مېشت شو. مرحوم محمد امین خان د هغه وخت مروجه زده کړې د جومات له

ملایانو څخه وکړې. مرحوم محمد امین خان په لومړیو کې له بزګرۍ سره دېره مینه درلوده، وروسته په تجارت بوخت شو او له دې لارې یې دېره

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

شتمني ترلاسه کړه. کله چې د امیر امان الله خان په دوره کې په کور دننه یو لړ بغاوتونه پیل شـــول، امیر امان الله خان خپل نږدې دوســـت او پیاوړی جنرال خان میرزمان خان چې د مرحوم محمد امین خان ســـکه ماما و، د بغاوتونو د خاموشه کولو لپاره بېلابېلو سیمو ته ولېږه. له دې جملې څخه د منګلو جنګ ته چې په هغې کې مرحوم محمد امین خان هم حضـــور درلود. باغیان یې وځپل او فاتحانه کابل ته راستانه شول، چې په کابل کې د امیر امان الله خان له تود هرکلي ســره مخ شـــول او په ډېرو ډالیو یې ونازول، ورســـره یې اعزازي کنډک مشـــرۍ رتبه مرحوم محمد امین خان ته ورکړه او هم د غازیانو په ډله کې د غازي لقب هم ورکړ شو.

مرحوم محمد امین خان د عمر په وروستیو کې د یو لړ ناروغیو سره مخ شو او په پای کې پر (۱۳۵۱ل) کال وفات شو. باید ووایم په خپله مرحوم محمد امین خان کم ســواده و، خو له تعلیم ســره یې ډېره مینه وه، د نوموړي د مینې له برکته د پروفیســور رســول امین کورنۍ په تعلیمیافته کورنۍ تبدیله شـوه، په علم سمبال او پوه اولاد یې ټولنې ته وړاندې کړل. روح یې ښاد.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروابنـاد محمد رسول غيرت

(د پروفيسور رسول امين ورور)

اروابنـاد محمد رسـول غيرت امين د محمد امين خان زوی او د نورمحمد لسـمی دی. نومورې پر (۱۳۳۷ل) کال په حوت میاشـت کې د کونړ ولایت وټه پور ولسـوالی په شـامیدکوټ کلي د خانانو په کورنۍ کې زېږېدلی دی. اروابنـاد خپلې لومړنۍ، منځنۍ او ثـانوي زده کړې د عمراخان په عالي لېسه کې بشپړې کړې او په اعلی درجه تړې پر (۱۳٤۹ل) کـال فـارغ شـو. د دولسـم ټولګي تر فراغت وروسـته د نظامي زده کړو لپاره کابل ته ولاړ او هلته يې نظـامي زده کړې وکړې او په بريـاليتوب يې پايته ورسـولې. پر (۱۳٦۰ل) کال کابل ته کډوال شـو او هلته مېشـت شـو، له تګ سـره سـم يې خپله لومړۍ دنده د کابل په چهلسـتون کې د لومړۍ حوزې د قومندان په توګه ترسره کړه.



محمد نوروز خان
(د پروفيسور رسول امين ورور)

ډګروال محمد ظاهر شاه
(د پروفيسور رسول امين ورور)

احمدشاه امين
(د پروفيسور رسول امين ورور)

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوست محمد امین

(د پروفیسور رسول امین وراره)

دوســـت محمد امین د مرحوم محمد نوروز خان زوی او د مرحوم محمد امین خان لمسی دی، پر (۱۹٤۸م) کال دکونړ ولایت په وټه پور ولسوالۍ کې زېږېدلی دي. نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د جوزجان ولایت په فیض اباد ولســوالۍ کې ترســره کړې دي، منځنۍ زده کړې يې د کابل په ابن سینا منځنۍ ښــوونځي کې او د دولســم ټولګي د فراغت ســند يې د کابل ښــار دکرنې له لېســې څخــه ترلاســـه کړی دی. لوړې زده کړې يې د کــابــل پوهنتون دکرنې پوهنځي کې ترســره کړې او لــه همــدې پوهنځي يې د لیسانس سند يې ترلاسه کړی دی. په همدې برخه کې يې د ماسټرۍ سند د ایران له تهران پوهنتون څخه ترلاسه کړی دی.

دوســـت محمد امین د (۱۳٤۸ل) کال را پدېخوا دکرنې وزارت په لاندې پوستونو رسمي کار کړی دی:

د ننګرهار د زراعت ریاســت د ترویج د امر، دکرنې وزارت د عالي تعلیماتو د امر، دکرنې او مالدارۍ د انســټټوت د مشــر، د لوړ زده کړو وزارت د مســلکي زده کړو د مســول، د لوړو زده کړو وزارت د پلان عمومي امر په توګه دندې ترسره کړې دي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر (۲۰۰۲ م) کال د اوبو لګولو وزارت د پلان د معین، پر (۲۰۰٤ م) کال د اوبو لګولو، د اوبو د زېرمو او د ژوند د چاپېريال ساتنې د وزارت مسلکی معین، پر (۲۰۰۸م) کال د چاپېريال ساتنې د ملي او خپلواکې ادارې د معین، پر (م۲۰۱۲) کال د ژوند د چاپېريال ساتنې د خپلواکې ادارې معین او د نوموړې ادارې سرپرست عمومي ریس په توګه دندې ترسره کړې دي.

باید ووایم دوست محمد امین د چاپېريال ساتنې ملي ادارې موسس او د چاپېريال ساتنې د قانون طراح هم پاتی شوی دی. د دې ترڅنګ نوموړی په اداره، کرنې او چاپېريال ساتنې کې اوږده تجربه لري.

دوست محمد امین د ژوند چاپېريال ساتنې په اړه یو شمېر نړیوالو کنفرانسونو او سیمینارونو کې چې په بېلابېلو هېوادونو لکه : المان، سینیګال، روسیه، سویس، جنوبي افریقا، سنګاپور، بوتان، سیریلنکا، ایران، هندوستان، فیلیپین او یو شمیر نورو کې جوړ شوي وو، ګډون کړی دی.

د دوست محمد امین چاپ شوي اثار:

- (د افغانستان او نړۍ د ژوند د چاپېريال ننګونې او رغونې) په پښتو ژبه.
- (حفاظت محیط زیست افغانستان و جهان) په دري ژبه.
- (د جلال اباد د کانال بیا رغونې او انکشاف لارې چارې) په پښتو ژبه.
- (د مېوه جاتو د قورې سمبالښت او د اصلاح شویو مېوه جاتو روزنه) په پښتو ژبه .

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر شمیم اکبر د پروفیسور رسول امین مشره لور ده، لومړنۍ زده کړې یې په ښوونځي کې کړې دي. نومورې خپلې منځنۍ زده کړې په علیشـام لېسـه کې پر (۱۹۷۶م) کال پای ته ورسـولې. ډاکټر شـمیم اکبر پر (۱۹۹۱م) کال د پېښـور خیبر میډیکل کالج څخه د MBBS سـند پای ته ورسـاوه، نومورې لومړنۍ افغان میرمن په توګه وپېژندل شوه، چې د خیبر میډیکل کالج پېښـور څخه یې د MBBS سـند پای ته ورسـاوه، ډاکټر شـمیم اکبر له (۱۹۹۱م) کال څخه تر (۱۹۹۳م) کال پورې په پېښـور کې د افغان مېرمنو په روغتون کې د عمومي ډاکټرې په توګه دنده ترسـره کړې ده. پر (۱۹۹۳م) ډاکټر شمیم استرالیا ته مهاجره شوه او د افغان کورنیو مېرمنو لپاره یې د کډوالۍ همغږي کونکي په توګه کار پیل کړ. ډاکټر شمیم اکبر په پنځو ژبو تفسیر کوي: دري، پښتو، فارسي، هزارګي او اردو.

ډاکټر یاسـمین امین چې د پروفیسـور رسـول امین لو ده، خپلې ثانوي زده کړې یې په پېښور کې سر ته رسولې دي تر منځنیو زده کړو وروسـته یې د پېښـور خیبر میډیکل کالج څخه د MBBS سند ترلاسه کړی دی، ماسټرۍ یې په استرالیا کې د ایمبریولوژۍ په برخه کې کړې ده او دري کاله یې د افغانستان د روغتیا په وزارت کې د ستړي سلاکارۍ په توګه کار کړی دی.

تاتره زماني د پروفیسور رسول امین لور ده، چې په کابل ولایت کې زېږېدلې ده. ثانوي او لوړې زده کړې یې په پېښـور کې پای ته رسـولې او د ماسټرۍ سند یې په اسټرالیا کې د نړیوالو اړیکو په برخه کې ترلاسه کړی دی، اوس مهال د استرالیا په دولت کې کار کوي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایمل امین د پروفیسور رسول امین مشر زوی دی، لومړنۍ زده کړې یې د پېښور په اسلامیه کالجیټ لېسه کې او ثانوي زده کړې یې د پېښور په اسلامیه کالج کې پای ته رسولې. بیا یې پر (۱۹۸۶م) کال د پېښور د انجینرۍ او ټیکنالوژۍ له پوهنتون څخه د الکتریکل انجینرۍ سند بشپړ کړی دی. ایمل امین له (۲۰۰٤م) کال څخه تر (۲۰۰۵م) کال پورې د افغانستان د بنار جوړونې په وزارت کې د ستر سلاکار په توګه کار کړی دی.

اتل امین د پروفیسور امین زوی دی، چې منځنۍ زده کړې یې په پېښور کې پای ته رسولې، اتل امین د سوداګرۍ په اداره کې د لیسانس سند ترلاسه کړی، نومورې د امنیتي خطر مدیریت کې ډیپلوم هم لري، اتل امین د ATAL واچز بنسټ ایښودونکی هم دی. په افغانستان کې یې د پروفیسور رسول امین بنسټ هم رامنځته کړی، چې له بېوزلو کورنیو سره مرسته او همکاري کوي. اتل امین په استرالیا کې یو بریالی سوداګر دی او اوس د استرالیا په میلبورن بنار کې امنیتي کمپنۍ چلوي. اتل امین له (۲۰۱۲م) کال څخه تر (۲۰۱۳م) کال پورې د افغانستان له پانګونې څخه د ملاتړ اداري (آیسا) کې د تمویل کوونکو د اړیکو د همغږي کوونکي په توګه کار کړی او له (۲۰۱۳م) کال څخه تر (۲۰۱٤م) کال پورې د افغانستان د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون د ستر سلاکار په توګه کار کړی دی.

کوچی امین د پروفیسور رسول امین تر ټولو کوچنی زوی دی، لومړنۍ زده کړې یې پر (۱۹۹۳م) کال په پېښور کې پای ته رسولې، نورې زده کړې یې د پېښور په ایډوارډز کالج کې بشپړې کړې دي، چې اوسمهال په استرالیا کې د مهاجرت د استازي په توګه دنده ترسره کوي.

Collected by: zia ur Rahman zia

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډګروال نېک محمد امین
(د پروفیسور رسول امین وراره)

پیلوټ جمال آمین
(د پروفیسور رسول امین وراره)

ډګروال خوشحال امین
(د پروفیسور رسول امین وراره)



رحمت الله امین
(د پروفیسور رسول امین وراره)

(د پروفیسور رسول امین لمسی)
خیبر امین د کونړ ولایت په وته پور ولسوالی کې زېږېدلی دی. لومړنی او منځنۍ زده کړې یې په کابل کې بشپړې کړې او بیا یې د کابل له پولیسو اکاډمۍ څخه د لیسانس سند ترلاسه کړ. د خپل علمي افق په تعقیب یې له امریکایي پوهنتون څخه د سوداګرۍ اداره کې د ماسټرۍ سند ترلاسه کړ. په مسلکي توګه بنـاغلی خیبر له تېرو (۲۵) کلونو راهیسې د نړیوالو بشري سازمانونو په څانګړې توګه د ملګرو ملتونو په دفترونو کې کار کوي.

(د پروفیسور رسول امین زوم)
فاروق زما ني د سلیمان خان زمانی زوی د لوی خان غازي میرزمان خان لمسی دی. په کونړ ولایت کې زېږېدلی دی. لومړنی زده کړې یې د کونړ ولایت وته پور ښوونځي کې او منځنۍ زده کړې یې د کابل په عمر شهید لیسه کې بشپړې کړې دي. د لیسانس سند یې د کابل پوهنتون له کرنې پوهنځي څخه ترلاسه کړی دی.

Collected by: zia ur Rahman zia

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library